دافغانستان اسلامی جمهوریت

د پوهنی وزارت

جمهوری اسلامی افغانستان

وزارت معارف

ISLAMIC REPUBLIC OF AFGHANISTAN
MINISTRY OF EDUCATION

# د افغانستان د پوهنې ملي ستراتيژيک پلان

# مسوده

# 1393-1389

**15م، چنګاښ 1388ل**

Download from:aghalibrary.cm

# لړليک


د پوهني د وزير پيغام ........ ۳
د ستراتيژيک پلان لنډيز ........ ۵
لومړی څپرکی: د ستراتيژيکو پاليسيو چوکاټ ........ ۲۴
دوهم څپرکی: د وضعيت څيړنه ........ ۳۰
دريم څپرکی: لومړيتوب لرونکي پروګرامونه ........ ۶۴
لومړی پروګرام: اسلامي او عمومي زده کړې ........ ۶۴
فرعي پروګرام ۱,۱: عمومي زده کړې ........ ۶۴
فرعي پروګرام ۱,۲: اسلامي زده کړې ........ ۷۴
دوهم پروګرام: د ښوونکي د روزني او تعليمي نصاب پراختيا ........ ۷۹
فرعي پروګرام ۲,۱: د تعليمي نصاب پراختيا ........ ۷۹
فرعي پروګرام ۲,۲: د ښوونکي روزنه ........ ۸۵
فرعي پروګرام ۳ , ۲: د ساينس او تکنالوجی زده کړې ........ ۹۳
دريم پروګرام: مسلکي او تخنيکي زده کړې ........ ۹۷
څلورم پروګرام: د سواد زده کړې ........ ۱۰۴
پنځم پروګرام: د پوهني او روزني مديريت ........ ۱۱۱
فرعي پروګرام ۵,۱: د پوهني د بيخبنا پراختيا ........ ۱۱۱
فرعي پروګرام ۵,۲: د پوهني د اداري پراختيا ........ ۱۱۸
فرعي پروګرام ۵,۳: د ستراتيژيک مديريت پراختيا ........ ۱۲۶
څلورم څپرکی: تطبيق، څارنه او ارزونه ........ ۱۳۴
پنځم څپرکی: لګښتني او بوديجه ........ ۱۴۱
د ماخذ لړليک ........ ۱۴۵

## د پوهنې د وزير پيغام

که د انکشاف، ملي هويت د تقويې، مؤثرې ادارې، په هيواد کې د دايمي سولې او بالاخره د يوې غښتلي او عاملې ټولنې د جوړښت هوډ لرو، نو تعليم او تربيه بايد د لومړني اساسي شرط په توګه ومنو.

تعليم او تربيه په ولس کې برده باري زياتوي، مساوات او مشارکت ته لاره پرانيزي او په ټولنه کې فرهنګي تحرک او خوځښت رامنځ ته کوي.

تعليم دامربالمعروف اونهي عن المنکرپلويان زياتوي، خلك خپلونيمګړتياوو ته متوجه کوي او په تعليم يافته ټولنه کې د ژوندانه چارې په ټولو برخو کې د بهبود په لور ګامونه اخلي.

په اتو تيرو کلونو کې ښوونځيو ته د ميليونونو ماشومانو ورتګ له زده کړې او تعليم سره د افغانانو د علاقې او ذوق ښه ثبوت دی، کورنۍ او ماشومان دواړه د باکيفيته تعليمي نظام غوښتونکي دي او دا هغه تقاضا ده چې د افغانستان د راتلونکي انکشافي او پراختيايي پلان په لومړي توبونو کې ځای ورکړل شوی دی.

سره له دې چې په تيرو څو کلونو کې ښوونځيو ته د نويو ماشومانو د شموليت، او هغوی ته د د ښوونيزو امکاناتو د برابرولو په برخه کې بې ساری پرمختګ شوی دی، مګر لاهم تعليم او تربيې ته لاس رسی مساويانه نه دی او د پوهنې کيفيت د هيواد په مختلفو برخو کې يو له بله زيات تفاوت لري.

د يو زيات شمير ښوونځيو د جوړيدو او بيا رغونې سره سره تر اوسه هم د هيواد په کچه په دې برخه کې د ولس غوښتنو او اړتياوو ته د قناعت وړ ځواب نه دی ورکړل شوی او د يوه باکيفيته ښوونيز نظام د وړاندې کولو لپاره کافي او مسلکي ښوونکي نه دي موجود.

د ۱۳۸۹ل او ۱۳۹۳ل کلونو لپاره د پوهنې وزارت ملي ستراتيژيک پلان، د افغانستان په وړاندې د پوهنې په برخه کې له ننګونو او خنډونو سره د يوه واحد او جامع چال چلند ښکارندوی دی.

په دې برخه کې شته ستونزې بايد په مؤفقانه ډول له منځه يوړلي شي څو په دې توګه د پوهنې هغو زريزو اهدافوته ورسيږو چې د هيواد په اساسي قانون، او تر ۱۳۸۲ل کال پورې د افغانستان د ملي انکشاف په ستراتيژۍ کې په نښه شوي دي.

په دغه ستراتيژيک پلان کې د پوهنې عمده اهداف په ګوته شوي او د يوه متوازن تعليمي نظام د رامنځ ته کولو لپاره يکې جامعې تګلارې طرحه شوې دي.

د پوهنې دغه ملي ستراتيژيک پلان په هيواد کې د راتلونکي تعليمي نظام تګ لوری په ګوته کوي او په ټولو برخو کې له افغانانو سره د يوې شريکې مشورتي پروسې، او د پوهنې وزارت له انکشافي همکارانو سره د دغه وزارت د انکشافي بورد له لارې تهيه او تدوين شوی دی.

د پوهنې وزارت مصمم دی څو افغان ماشومانو او لويانو ته، د دوی له اړتياوو سره سم باکيفيته او متناسب تعليم او تربيه برابر کړي، نو له همدې کبله د تعليم او تربيې د برخې ټولې هغه برنامې چې د دولت له لوري وړاندې کيږي، بايد د يوه رڼه او شفاف مالي او اداري سيستم له لارې حمايه شي.

د څار او ارزونې سيستمونه بايد په ټولو برخو کې تقويه شي او له ولس، مدني ټولنې، خصوصي سکتور او حکومت سره يې رابطه لاپسې مستحکمه شي.

د دې لپاره چې د هيواد په کچه زده کړې ته لاس رسی عام شي او د زده کړې کيفيت او مديريت غښتلی شي د پوهنې په ملي ستراتيژيک پلان کې پنځو برنامو ته ځای ورکړل شوی دی، چې دريو هغو ته يې بايد جدي پاملرنه وشي.

اول: تعليم ته دلاس رسي او تعليمي اداري د بهبود لپاره ماشومانو، په خاصه توګه نجونو ته د زده کړې کافي او مناسبه فضا برابره شي.

تقريباً نيمايي ښوونځي ودانۍ نه لري او يو زيات شمير موجود تعميرات زيانمن او د استفادې لپاره نا امن دي، زياتره ښوونځي د دوو وختونو لپاره کارول کيږي څو په دې توګه د تعليم او تربيې په برخه کې د زده کوونکو اړتياوې پوره کړي.

دوهم: د باکيفيته تدريس او علمي مفاهيمو د ښه انتقال لپاره بايد د ښوونکو تحصيلي سويه او تدريسي مهارتونه لوړ کړای شي.

دريم: د پوهنې وزارت د ساختماني او اداري کيفيت بايد لوړ شي ترڅو اهدافو ته د رسيدو لپاره له لازمو بشري، مالي او فزيکي منابعو څخه استفاده وشي او پاليسی په مناسب ډول تطبيق شي.

څيړني او تجربې راښيي، کومې ټولنې چې په خپلو لومړنيو انکشافي مراحلو کې يې د تعليم او تربيې په برخه کې زياته پانګونه کړې ده په وروستيو پړاوونو کې يې هم برياوې زياتې دي.

افغانستان هم د دې لپاره چې د بيارغونې د دورې چلنجونو ته د حل لارې پيدا کړي، بايد ماهر بشري ځواک وروزي او د دې لپاره په خپل تعليمي سيستم منظمه پانګونه وکړي.

د پوهنې دغه ملي ستراتيژيک پلان په دې سربيره چې يو ژوندی سند دی او په منظم ډول به بيا بيا پرې کتنه کيږي، خپلو اهدافو ته د رسيدو لپاره له لازمو اجرائيوي امکاناتو هم برخمن دی.

تعليم او تربيې ته د زياتره نړيوالو مرستو تخصيص او له ستراتيژيک پلان سره يې همغږي، له دې کبله اړينه ده، څو د تعليمي خدماتو د عرضه او تقاضا ترمنځ فاصله راکمه کړي.

د پوهنې د ملي ستراتيژيک پلان تصويب، د دې ثبوت دی چې دولت او ملت دواړه په هيواد کې د يوه باکيفيته او متوازن ښوونيز نظام د ايجاد لپاره متعهد دي.

په درناوی،

ډاکټر فاروق وردګ

د پوهنې وزير

## د ستراتیژیک پلان لنډیز

### موخه

د ۱۳۸۹-۱۳۹۳ کلونو د پوهنې د ستراتیژیک پلان د افغانستان د پوهنې د راتلونکي پنځه کلونو لپاره د پالیسیو او ستراتیژیو لرونکی دی. دغه پالیسي او موخې د افغانستان د ملي او نړیوالو تعهداتو په اساس او د پوهنې د نظام د موجوده اړتیاو په اساس چمتو شوی دی. دغه پلان چې د افغانستان د خلکو او د ښوونځیو د زده کوونکو د هیلو او ارزوګانو استازیتوب کوي د ۱۳۸۵-۱۳۸۹ کلونو د ستراتیژیک پلان د تطبیق د لاسته راوړنو او د لوستل شویو زده کړو د نتایجو په اساس تدوین شوی دی. دغه پلان د پنځو لومړیتوب لرونکو پروګرامونو درلودونکی دی چې د پوهنې وزارت سره د افغانستان د پوهنې د نظام د اصلي موخو د ترلاسوه کولو لپاره چمتو شوی دی، او هیله کیږي د هغه په پلي کولو سره به وزارت د هیواد په ټولنیز او اقتصادي پرمختیا او سیاسي او امنیتي ثبات کې موثر رول ولوبوي.

### د پوهنې وزارت لیدلوری

د ملي او نړیواله ژمنو ، د بشر د حقونو په درناوی او د اسلام د سپیڅلی دین له اساساتو سره سم د بشري سرچینو پراختیا، ، د مساوي او عادلانه لاسرسیو د آسانولو له لارې د هیواد ټولو وګړو ته د با کیفیته ښوونې او روزنې د اسانتیاوو د برابرول ، ترڅو وتوانیږي د هیواد په همیشنی پراختیا، اقتصادي پرمختګ او ثبات او امنیت کې رغنده ونډه واخلي.

ددې کار د تحقق لپاره ، د پوهنې وزارت باید د یوه مډرنه، هدفمنده، موثره ،حسابورکوونکې او د بودیجې لرونکې اداري ته بدل شي ترڅو په ټول افغانستان کې د زده کړې آسانتیاوې د ماشومانو او مشرانو لپاره بغیر له هیڅ نوع تبعیض څخه برابره کړي.

### د ۱۳۹۹ل کال لپاره د وزارت موخې

په دغه ستراتیژیک پلان کې ټاکل شوي موخې ، ښوونې او روزنې نظام ته د لاسرسی په منظورد افغانستان د دریمي زریزې د پرمختیایي موخو د ۱۳۹۹ل کال او د وزارت د اوږدمهاله موخو لپاره په پام کې نیول شوی دی.

**تر ۱۳۹۹ل کال پورې:**

- په اساسي زده کړو دوره کې د ناخالصه شمولیت کچه به د هلکانو لپاره تر ۱۰۴٪او د نجونو لپاره تر ۱۰۳٪ پورې زیاتیږي ، او هلکانو او نجونو لپاره خالصه شمولیت به ۹۸٪ ته زیاتیږي.
- د اسلامي زده کړو د زده کوونکو شمیر به ۸۶۰ زرو ته ورسیږي.
- لږترلږه به ۹۵٪ ښوونکي په بریالیتوب سره د لیاقت ملي ازموینه ترسره کوي
- د سواد کچه به په ټول هیواد کې ۵۰٪ ته ورسیږي.
- د اساسي زده کړو ۱۲٪ فارغان د خپلې زده کړې د دوام لپاره په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې شاملیږي.

**د پوهنې وضعيت په ۱۳۸۰ل کال کې**

- په ۱۳۸۰ل کال کې له يو ميليون څخه لږ نارينه زده کوونکي د ۲۰۷۰۰ نارينه ښوونکو لخوا په ۳۴۰۰ ښوونځيو کې په خپلو عمومي زده کړو بوخت وو. د پوهنې او روزنې نظام د زده کوونکو د ښوونيزو اړتياو ځواب ورکوونکی نه وو او د نجونو لپاره د ښوونې او روزنې امکانات موجود نه وو او لږ شمير هلکان ښوونې او روزنې ته لاسرسي درلول.
- ۴ د ښوونکي د روزنې مرکزونه د ۵۰ تنو نارينه ښوونکو سره په ۴ ولايتونو کې وجود درلود چې د ۱۹۰ پورې نارينه زده کوونکي په کې شامل وو.
- په ۱۳۸۰ل کال کې ۳۸ تخنيکي او مسلکي ښوونځي د ۵۵۰ تنو ښوونکو سره فعاله وو چې ۱۵۱۰ تنه نارينه زده کوونکي په کې زده کړې کول.
- په هغه کال کې يواځې ۲۰۰۰ د سواد زده کړې کورسونه د ۲۲۰۰۰ تنو ته داير شوي وو.
- ښوونيز نصاب پخوانی او ډير سياسي و، درسي کتابونه د مختلفو شکلونو سره په ښوونځيو کې د تاوتريخوالی د کلتور د زياتوالی په موخه د استفادې وړ گرځيدل.

**د پوهنې وضعيت په ۱۳۸۷ل کال کې**

- د عمومي زده کړو د زده کوونکو شمير په ۱۳۸۱ل(۲۰۰۲ز) کال کې له ۲،۳ ميليونو څخه په ۱۳۸۷ل (۲۰۰۸) کال کې ۶،۲ ميليونو ته (۳۶٪ ښځې) زيات شوی دی. امنيتي ستونځې ، فقر او د ښوونځي يا د ښوونيزو خدمتونو لږوالي د زده کوونکو د شموليت د زياتوالي د مخنيوي له اصلي لاملونو څخه شميرل کيږي.
- په ۱۳۸۷ل کال کې له ۱۵۸ زرو ښوونکو څخه ، يواځې ۲۹٪ يې ښځې تشکيلوي. د ښځينه ښوونکو لږوالی د نجونو د شموليت د ښکته والي له اصلي دلايلو څخه شميرل کيږي.
- د عمومي ښوونځيو شمير په ۱۳۸۱ل (۲۰۰۲ز) کال کې له ۶۰۳۹ څخه په کال ۱۳۸۷ل(۲۰۰۸ز) کې ۱۰۹۹۸ ته رسيدلی دی.
- په ۱۳۸۸ل کال کې د پوهنې وزارت د امنيت د رياست د معلوماتو په اساس ۴۸۱ ښوونځي د دولت د مخالفينو لخوا سوزول شوي او يا هم مسدود شوي دي ، په نتيجه کې ۳۰۰ زره زده کوونکي له ښوونې او روزنې څخه محروم شوي دي.
- تر ۱۳۸۷ل کال پورې ۵۱۱ اسلامي زده کړو نهادونه ( د ۴۱ دارالعلومونه، ۳۶۹ مدرسې ، ۸۴ دارالحفاظونه او ۱۴ الحاقيه مدرسې په شمول) رامنځته شوي دي چې مجموعا ۱۰۶ زره زده کوونکي په دغه مرکزونو کې شامل دي.
- وزارت د عمومي او اسلامي زده کړو لپاره د نوي نصاب او درسي مفرداتو چوکاټ ته پراختيا ورکړې ده. د نوي نصاب په اساس ، د لومړنۍ دورې کتابونه تدوين، چاپ او ويشل شوي دي. د ثانوي او اسلامي دورو د کتابونو پراختيا دوام لري او هيله کيږي چې ددغو دورو کتابونه په ۱۳۸۸-۱۳۸۹ل کلونو کې پوره او چاپ شي.
- د ښوونکي د روزنې په مرکزونو کې د ښوونکو شمير په ۱۳۸۷ل کال کې ۳۳۰۶۲ محصلو ته رسيږي چې ۱۲۸۳۶تنه (۳۸٪) يې ښځينه زده کوونکي جوړوي.

- په تخنيکي او مسلکي زده کړو په ښوونځيو کې د شامليدو کچه په ۱۳۸۵ل کال کې له ۹۰۰۰ تنو څخه په ۱۳۸۷ ل کال کې ۱۶۰۰۰ تنو ته زياتي شوي دي چې ۲۵۰۰ تنه (۱۶٪) يې نجونې جوړوي.
- په ۱۳۸۷ل کال کې ۱۵۴۸۱ د سواد زده کړې کورسونه جوړ شوي دي او ۷۸ د سواد زده کړې ښوونځي د ۲۹۰۰ دايمي ښوونکو (۳۴٪ ښځې) په درلودلو سره جوړ شوي دي. د سواد زده کړې د نوي پاليسي په اساس ، ډيرې پاملرنه هغو کليوالو سيمو ته اړول شوی دی چې د بې سوادۍ کچه په کې لوړ دي.
- د ۱۵ کلونو او له هغه د زياتو عمر لرونکو د سواد کچه ۲۴٪ ته (۳۲٪ نارينه او ۱۳٪ ښځينه) رسيدلی دی. د اټکلو په اساس د افغانستان د ټولو وګړو څخه ۱۱ ميليونه يې په ۱۳۸۷ل کال کې بې سواده دي.
- د دريو وروستيو کلونو په اوږدو کې د ۱۹ زره ټولګيو د رغوني او بيارغوني سره سره ، يواځې ۵۵٪ د افغانستان ښوونځي په ۱۳۸۷ل کال کې د ګټې اخيستنې وړ ودانۍ لري.
- د افغانستان د پوهنې نوی قانون تيار او په ۱۳۸۷ل کال کې د کابينې لخوا تصويب شوی او د افغانستان پارلمان ته به هم د تصويب لپاره وليږل شي.
- د ښووني او روزنې د اداري معلوماتي سيستم پراختيا مونډلی او د افغانستان د ښوونځيو لومړنی سروې په ۱۳۸۶ل کال کې بشپړ او په ۱۳۸۷ل کال کې بيانوی شو.
- د وزارت د نوی جوړښت او د رتبو او معاشاتو د سيستم پلي کيدل پيل شوی دی.

**د پوهنې وضعيت په ۱۳۹۳ل کال کې**

- د ۱۰ ميليونو په شمير زده کوونکي د افغانستان په عمومي ښوونځيو شامل شوي دي او د ښوونځيو شمير به ۱۶۵۰۰ ته ورسيږي. په اساسي زده کړوکې د نجونو او هلکانو خالص شموليت ۶۰٪ او ۷۵٪ ته زيات شوی دی او د هغوي ناخالص شموليت به ۷۲٪ او ۹۰٪ ته به ورسيږي.
- د اسلامي او عمومي زده کړو نصاب، درسي مفردات او درسي کتابونه بياکتل کيږي ترڅو د اوسنيو اړتياو سره سمون ولري
- په مدرسو او دارالعلومونو کې د زده کوونکو شمير ۲۰۰ زرو ته او د مدرسو شمير به ۱۰۰۸ ته ورسيږي.
- لږترلږه ۸۰٪ ښوونکي به د لياقت ملي ازموينه ترسره کوي
- تخنيکي او مسلکي زده کړو ته لاسرسي د تخنيکي او مسلکي زده کړو د سيمه ييزو موسساتو د پراختيا سره له ۱۶ څخه ۳۲ ته، د ولايتي تخنيکي او مسلکي ښوونځي له ۳۲ څخه ۱۰۲ ته به زياتيږي. همدارنګه به ۳۶۴ تخنيکي او مسلکي ښوونځي په ۳۶۴ ولسواليو کې جوړيږي.
- په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د زده کوونکو شمير به ۱۵۰۰۰۰ ته ورسيږي.
- د ۳،۶ ميليون سواد زده کوونکو (۶۰٪ ښځينه) په شمير به د سواد زده کړې په کورسونو کې زده کړې کوي. کليوالو سيمو، معلولينو، کوچيانو او نورو ګروپونو ته د ځانګړو اړتياوو سره به خاصه پاملرنه کيږي.

- ۷۵٪ عمومي ښوونځي او اسلامي مدرسې ، ۱۰۰٪ تخنيکي او مسلکي او ۷۵٪ د ښوونکي د روزنې مرکزونه به د ګټې اخستنې وړ ودانۍ ولري.
- کافي عادي او پراختيايي بوديجه ( ۶۸٪ معاشونه او ۳۲٪ نور مصارف) د پوهنې د لومړيتوب لرونکو پروګرامونو په اختيار کې ورکول کيږي.
- د معارف نوی جوړښت د اداري اصلاحاتو په اساس د مرکزي ، ولايتي او ولسواليو په سطحه به پلي کيږي.
- د پوهنې د اداري د معلوماتو سيستم (EMIS) د مرکز، ولاياتو او ولسواليو په کچه به فعال وي ترڅو د ښوونې او روزنې د خدمتونو د غتو پلانونو د تصميم نيونې، شفافيت او حساب ورکونې پروسې آسانې کړي.

## لومړی پروګرام: اسلامي او عمومي زده کړې

### ۱،۱ فرعي پروګرام: عمومي زده کړې

**کلي موخه**

د ښوونځي عمر لرونکي ټول ماشومان له انډول پرته او په مساوي توګه په ټول هېواد کې باکيفيته ښوونې او روزنې ته لاسرسی ولري، څو د فردي، کورنۍ او ټولنيز سالم او بريالي ژوندانه وړتيا او د لوړو زده کړو تحصيلاتو ته لار پيدا کړي.

موخې:

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې ، د زده کوونکو د شموليت کچه ۱۰ ميليونو ته ( ۸،۷ ميليونه په اساسي دوره کې ، ۱،۳ ميليونه په منځنۍ دوره کې ) زياتيږي او ښوونې او روزنې ته د نجونو ، کوچي ماشومانو او د ځانګړو اړتياو لرونکي ماشومانو د لاسرسي زمينه به پراختيا مومي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې ، ۴۶۹۰ نوي ښوونځي جوړ شوي او ولايتي ، ښاري او کليوالو سيمو ترمنځ د توپيرونو لړوالي ته ځانګړي پاملرنه اړول شوې ده.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې، د عمومي زده کړو په ښوونځيو کې د زده کړې د پريښودلو کچه ۳٪ ته او د بياتکرارولو کچه ۱۱٪ ته کميږي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې، په ټولو عمومي ښوونځيو کې مناسبه ښوونيز چاپيريال د زده کوونکو د ذهني ، فزيکي او رواني پراختيا په منظور رامنځته کيږي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې، د والدينو او سيمه ييزو مشرانو ګډون د ښوونځي په اداره او مديريت کې د ټولو عمومي زده کړو د ښوونځيو د شوراګانو د روزلو او جوړولو له لارې پياوړی کيږي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې، د عمومي زده کړو د ښوونځيو د څارنې سيستم پياوړی کيږي او د عمومي زده کړو ټول څارونکي روزل کيږي.

په ۱۳۸۱ل کال کې د ۲،۳ میلیونو په پرتله ، د عمومي زده کړو د زده کوونکو شمیر ۶،۲ میلیونو ته (۳۶٪ نجونې) زیات شوی دی . ددې سره سره ، تر اوسه د ۴۶٪ په شاوخوا کې د ښ،ونځي د عمر زده کوونکي اساسي زده کړو ته لاسرسي نه لري. د وړیا او کیفیت لرونکي زده کړې برابرول د پوهنې وزارت یو له اصلي موخو څخه شمیرل کیږي. نو ددې په اساس، وزارت پلان نیولی ترڅو د زده کوونکو شمیر ۱۰ میلیونو ته ورسوي- وزارت په لومړنۍ دوره کې د هلکانو د شمولیت کچه له ۶۵٪ څخه ۷۵٪ ته او د نجونو خالص شمولیت له ۴۰٪ څخه ۶۰٪ ته په ۱۳۹۳ل کال کې رسوي. ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره ، وزارت پلان نیولی ترڅو ۴۶۹۰ نوي لومړنۍ ښوونځي جوړې او ۳۰۰۰ لومړنۍ ښوونځي منځنی ښوونځي ته لوړه کړي. همدارنګه وزارت پلان نیولی چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې به ۱۰۰ زره نوي ښوونکي وګماري.

د منځني زده کړو ته د لاسرسي د پراختیا په موخه ، وزارت په پام کې لري چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۱۹ زره نوي ښوونکي د ثانوي دورې لپاره وګوماري او ۲۲۰۰ منځني ښوونځي لیسو ته لوړه کړي. وزارت پلان نیولی ترڅو د هغو زیاتو عمر لرونکو ماشومانو لپاره چې د زده کړې څخه محروم پاتې دي د ښوونې او روزنې آسانتیاوې برابرولو په منظور ۳۲۰۰ د چټکو زده کړو مرکزونه رامنځته کړي. همدارنګه وزارت د عامه پوهاوی یو ستراتیژي د نجونو د ښوونې او روزنې په برخه کې په پام کې نیولی ترڅو د نجونو شمولیت ته زیاتوالی ورکړي. وزارت به ښوونې او روزنې ته د کوچي ماشومانو او د ځانګړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لاسرسي زیاته کړي. د ښوونکي د روزنې د داخل د خدمت د څو پروګرامونو د پلي کولو سره سره ، د درسي ټولګیو ښوونه په طوطي وار ډول او د مرکزي- ښوونکو د طریقو په اساس ترسره کیږي.

وزارت کوښښ کوي توڅو د داخل د خدمت او له خدمته مخکې پروګرامونو له لارې د ښوونکو مهارتونو ته د فعاله زده کړو او د مرکزي- زده کوونکو له طریقو څخخ په استفادې سره پراختیا ورکړي. همدارنګه وزارت په پام کې لري ترڅو د رتبو او معاشونو د سیستم په پلي کولو سره د کلیوالو ښوونکو شمیر ته زیاتوالی ورکړي او د پوهنتونونو او دارالمعلمینونو تکړه او با احساسه فارغ التحصیلان د ښوونکي دندې ته جذب کړي.

د وزارت د کیفیت د لوړتیا یو د اصلي پالیسیو څخه د ښوونځیو ساتنه او اداره کول او د ښوونځیو د شوراګانو رامنځته کول دي. تر ۱۳۸۸ل کال پورې د ۱۰۹۹۸ ښوونځیو له مجموعي څخه ۸۰۰۰ ښوونځیو ته د ښوونځیو شوراګانې جوړې شوي دي. وزارت په پام کې لري ترڅو لازیاتې شوراګانې تاسیس او ددغه شوراګانو غړو ته روزنه ورکړي.

**۱،۲ فرعي پروګرام: اسلامي زده کړې**

**کلي موخه:**

د اسلامي زده کړو نظام د بشري قوې د روزلو په منظور چې د ښوونې ، تبلیغ ، امامتې، په دولتي او غیر دولتي او خصوصي ادارو کې د دندو د ترسره کولو او په لوړو زده کړو موسسو کې د خپل تحصیل د پراختیا او پرمختیا د موخو لپاره وي.

**موخې :**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې، د اسلامي زده کړو د مدرسو د شموليت کچه تر ۱۹۰ زرو پورې بـه زياتيږي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې، د دارالعلومونو په ۱۳ او ۱۴ ټولګيو کې د شموليت کچه تر ۱۰ زرو پورې به زياتيږي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پـورې ، پـه مدرسو او دارالعلومونـو کـې د ښـځو د شموليت کچـه بـه تـر ٪۴۰ زياتيږي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې ، د مدرسو او دارالعلومونو څخه د څارنې سيستم به پراختيا او پرمختيا ومومي.

د اسلامي زده کړو ښوونيز نصاب چې د اسلامي زده کړو او عمومي زده کړو لکه د رياضياتو، ساينس ، اجتماعيات، دري او انګريزي ژبې له جملې څخه دي د بياکتنې لاندې قرار لري. ددې سره سره، نوی نصاب د افغانستان د دوو رسمي مذهبونو ( حنفي او جعفري) په اساس پراختيا موندلی چې په هيوادکې د اسلامي زده کړو د کيفيت د لوړوالي سبب ګرځي.

وزارت پلان نيولی تر څو د اسلامي زده کړو ښوونځي او زده کوونکي د ټول هيواد په کچه ورزياته کړي. تر ۱۳۸۷ ل کال پورې د اسلامي زده کړو د ښوونيز موسساتو شمير ۵۱۱ ته او د اسلامي زده کړو د زده کوونکو شمير د ټول هيواد په کچه له ۵۸ زرو څخه په ۱۳۸۵ل کال کې ۱۰۶۰۰۰ ته په ۱۳۸۷ل کال کې رسيدلی دی. په اوسمهال کې ، يوازې ٪۵ د اسلامي زده کړو زده کوونکي نجونې جوړوي ، وزارت پلان نيولی چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې دغه شمير ٪۴۰ ته زيات کړي. دغه کار د ۳۲ ښځينه دارالعلومونو د جوړونې له لارې تر ۱۳۹۳ل کال پورې ترلاسه کيدای شي.

په ۱۳۸۷ل کال پورې د اسلامي زده کړو د استاذانو مجموعي شمير ۴۱۴۴ (۵۲ تنه يي ښځې) ته زيات شوی ولې تر اوسه د مسلکي او با کيفيته ښوونکو شمير ټيټ دي. نو پدې اساس ، وزارت پلان نيولی چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ۲۸۳۰ په شمير مسلکي ښوونکي استخدام کړي.

د اسلامي زده کړو عالي شورا په ۱۳۸۶ل کال کې جوړ شوی دی ترڅو د اسلامي زده کړو د نظام بيا کتنه او اصلاح وکړي او د هغوي پر فعاليتونو څارنه ولري. همدارنګه وزارت په پام کې لري چې تر ۱۳۸۹ل کال پورې د اسلامي زده کړو يو بورډ تاسيس کړي. دغه بورډ په ټول هيواد کې د اسلامي زده کړو د کيفيت د لوړولو په منظور د څيړنو او پيشنهاداتو د ورکولو مسؤل وي.

# دوهم پروګرام: د نصاب ، ښوونکي روزنه او ساينس او ټکنالوجۍ د زده کړو پراختيا

دغه پروګرام د دريو فرعي پروګرامونو لرونکی دی : د نصاب پراختيا ، د ښوونکي روزنه او د ساينس او تکنالوجی زده کړې.

### ۱،۲ فرعي پروګرام: د نصاب پراختيا

**کلي موخه:**

د نوی ښوونيز نصاب په اساس د درسي کتابونو ، درسي ممدو توکو او کيفيت لرونکو روزنيزو توکو برابرول د اسلامي اساساتو او ملي ارزښتونو په لرلو سره د معاصره علمي معيارونو او د ټولنې د اوسني او راتلونکي اړتياو په نظر کې نيولو سره.

**موخې:**

- د اسلامي او عمومي ښوونځيو درسي او روزنيز توکي او ښوونيز نصاب په منظم ډول پراختيا موندلی او د بياکتنې لاندې نيول کيږي.
- تر ۱۳۹۳ل کل پورې، د ثانوي او لومړی دورې د ټولګيو د زده کوونکو د ښوونيز پرمختګ د ارزونې سيستم د ټول هيواد په کچه پراختيا موندلی او تطبيق کيږي.
- د اسلامي او عمومي ښوونځيو ټول زده کوونکي له ۱۳۸۹ل کال څخه د درسي کتابونو پوره ټولی ته لاسرسي لري.
- تر ۱۳۹۰ل کال پورې، د ټولو ښوونکو لپاره د ښوونکي لارښوود کتابونه برابريږي.

د اسلامي مدرسو او لومړنی او منځنی دورې لپاره د نوي نصاب چوکاټ پراختيا موندلی دی. د لومړنی دورې نوي کتابونه پراختيا موندلی ، چاپ او ويشل شوي دي. د منځنې دورې د نوي کتابونو پراختيا د پوره کيدو په حال کې دی ، ولې اوسمهال پخواني کتابونه وروسته له لنډ اصلاحاتو او لږې بيا کتنې څخه بيا چاپ شوي او ښوونځيو ته ويشل شوي دي.

د درسي کتابونو تدوين او د ښوونکي لارښودونه د اسلامي زده کړو لپاره هم د اجرا په حال کې ده. وزارت په دوامدار ډول د پوهنې کيفيت ته د نصاب او درسي کتابونو د بياکتنې او نوي کوونې له لارې پراختيا ورکوي.

د وزارت د نصابونو د ټوليز کيفيت زياتوالي په منظور چې پراختيا ورکول کيږي، د نصاب د پراختيا يو ملي انستيتيوټ به په ۱۳۹۰ل کال کې جوړ شي . دغه انستيتوټ د اسلامي او عمومي زده کړو د نصاب د پاليسيو د جوړونې دنده به تر سره کوي او د ښوونکي د روزنې، مسلکي او تخنيکي زده کړو او سواد زده کړې د نصاب د پراختيا پروسي به همغږې کوي.

همدارنګه د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست په نوی تشکيل کې دوه نور بخشونه هم رامنځته شوي دي ترڅو د خاصو ، هر اړخيزو زده کړو او له ښوونځي مخکې زده کړې د درسي توکو اړونده چارې پرمخ بوځي.

د نصاب د پراختيا رياست به په ۱۳۸۹ل کال کې د سوالونو په يو بانک باندې کار شروع کوي چې د ملي ازموينو د سيستم لپاره پکارېږي. دغه سيستم به په ۱۳۹۰ل کال کې د نهم ټولګي لپاره په آزمېښتي ډول ترسره کيږي. دغه سيستم به په ملي کچه لومړی د نهم ټولګي د زده کوونکو لپاره په ۱۳۹۳ل کال کې او په وروستيو کلو کې د دريم او شپږم ټولګيو لپاره پلي کيږي.

### ۲،۲ فرعي پروګرام: د ښوونکي روزنه

### کلي موخه:

د ديني مدرسو او عمومي ښوونځيو د نارينه او ښځينه ښوونکو د اساسي وړتياو لوړول د زده کوونکو د ښوونيز پرمختيا او د ښوونې د کيفيت د لوړتيا په منظور.

### موخې:

- د موجوده ښوونکو او د ليرو پرتو سيمو د۱۲م ټولګي د فارغانو لاسرسي د ښوونکو ملاتړ مرکزونو او دارالمعلمينونو ته د له خدمته مخکې، داخل د خدمت او د هغوی د تحصيلي درجو د لوړوالي چټکه روزنې ته به زياتوالی وربخښل کيږي.
    - o د ۶۰ زرو موجوده ښوونکو تحصيلي درجې ۱۴م ټولګي ته لوړتيا موندلی او د هغوی تدريسي مهارتونو او مضموني پوهې ته پراختيا ورکول کيږي.
    - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې، ۵۰ زره د هغو ولسواليو د ۱۲م ټولګي ښوونکي ( ۴۵٪ ښځې) چې مسلکي ښوونکو ته اړتيا لري جذب او روزل کيږي.
- تر ۱۳۹۲ل کال پورې لږترلږه ۸۰٪ ښوونکي د قابليتونو آزموينې په بريالیتوب سره سرته رسوي.
- د ټولو ښوونکو او اداري کارکوونکو لپاره د هميشني مسلکي پراختيا سيستم ( د مسلکي لوړتيا د مراتبو د سلسلې په شمول-Teacher Career Ladder ) رامنځته کيږي. دغه سيستم د داخل د خدمت د لنډمهاله روزنو درلودونکی دی چې د هغوی د حالت د تغير د اړتياوو د لمنځه وړلو لپاره وي.
- د تشويقيو او د اعاشې او اباتې امکانات د ولايتونو او ولسواليو د ښوونکي د روزنې په مرکزونو کې د ښوونکو او محصلينو د لازياتو جذبولو لپاره ، د نجونو د لومړيتوبونو په پام کې نيولو سره برابريږي.
- د ښوونې او روزنې د کيفيت د دوامداره پراختيا او د محصلانو د روزنيز نتايجو د لوړتيا په منظور د درسي او کيفيت لرونکو کتابونو او معاصر روزنيزو توکو درلودل د محصلينو او استاذانو د لنډمهاله او اوږدمهاله روزنو لپاره برابريږي.

- د زده کوونکو د نتايجو د پرمختيا د پراختيا او د ښوونکو د تدريسي وړتيا او د ښوونکي د روزنې د استاذانو د وړتياو د لوړتيا د پراختيا په منظور، د ښوونکي د روزنې د استاذانو او د ارامعلمينونو او د ښوونکي د روزنې د کارکوونکو د وړتيا د لوړتيا سيستم رامنځته کيږي.

د ښوونکي د روزنې ملي اکاديمی په ۱۳۸۶ل کال کې د ښوونکي د مربيانو د روزنې لپاره جوړ شوی دی ولې لا تر اوسه د يو مناسب درسي نصاب لرونکی نه دی او تراوسه د بهرنيو استاذانو پورې تړلی دی. وزارت ۳۸ د ښوونکي د روزنې مراکز د نجونو او هلکانو لپاره د مجهزه ليليو سره ، او د ۴۷ د ښوونکي د روزنې الحاقيو سره په ولسواليو او د کابل په ښار کې جوړ کړی دی.

وزارت د ښوونکي د روزنې پروګرامونو او د ښوونکو د پوهنيز سويو د وړتيا لوړوالي ته د ښوونکو د لاسرسی د پراختيا لپاره ، پلان نيولی ترڅو ۴ نور د ښوونکي د روزنې مرکزونه په ولاياتو او لرترلره يو د ښوونکو څخه د ملاتړ مرکز (TRC) په ولسواليو کې جوړ کړي.

د ښوونکو د لا زياتو کيفيت لرونکو مربيانو رامنځته کول په ځانګړي ډول په ولسواليو او په ليرې پرتو سيمو کې ، د ښوونکي د روزنې رياست په پلان کې نيولی ترڅو ۲۲۱۸ هميشني استاذان تر ۱۳۹۳ل کال پورې استخدام کړي.

په ۱۳۸۷ل کال پورې ،  د هغو ښوونکو کلي شمير چې د ښوونکي د روزنې په مراکزو کې شامل دي ۳۳۰۶۲ تنو (۳۹٪ ښځې ) ته رسيدلی دی او د ۸۴۹۷ په شمير ښوونکي (۳۳٪ ښځې) د ښوونکي د روزنې د مرکزونو څخه فارغان شوي دي. په ولسواليو او ليرې پرتو سيمو کې د ښوونکي لړوالي ته د رسيدو لپاره، وزارت پلان نيولی ترڅو د ځينو ولايتونو لپاره د تشويقيې او د اعاشې او اباتې د سهولتونه برابر کړي.

د نصاب د محتواو او د تدريس د طريقو سره د ښوونکو د آشنايي او د تدريس د کيفيت د لوړوالي په منظور، د ( د يو او دوه انست) د پروګرامونو لپاره روزنيز توکي پراختيا مونډلی او د (۳م او ۴م انست) لپاره د توکو پراختيا دوام لري. تر ۱۳۹۳ل کال پورې ټول عمومي او اسلامي ښوونځي د (۱،۲او ۳م انست ) پروګرامونه بشپړ کړي او لږترلږه د هغوي ٪۵۰ د ۴م انست پروګرامونه بشپړوي.

د پنځو راتلونکو کلونو په اوږدو کې په مرکز او ولايتونو کې به د پلان جوړونې، اداره کوونه او د ښوونکي د روزنې د فعاليتونو څخه د څارنې د پراختيا په منظور، ۶۰۰ دايمي او قراردادي کارکوونکي استخدام شي.

## ۳،۲ فرعي پروګرام : د ساينس او ټکنالوجۍ زده کړې

## کلي موخې:

د ښوونکو او ښوونځيو د وړتياو لوړوالی د نو آورۍ، ساتنې او د ساينس او ټکنالوجۍ د لابراتوارونو او توکو څخه ګټه اخيستنه د ساينس او ټکنالوجۍ د ښوونې د کيفيت د لوړتيا په موخه

### موخې:

- د اسلامي او عمومي زده کړو ښوونځي به په لابراتوارونو او نورو ساينسي کټونو او نورو روزنيزو توکو سمباليږي.

- د ساينس، رياضياتو او معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ ښوونکي د لابراتوار او نور سيمه ييز روزنيز توکو د ګټي اخستني اړوند د ساينس او رياضياتو او همدارنګه د لابراتواري ازميښتونو د ترسره کولو په موخه روزل کيږي.

د ټول هيواد په کچه د ساينس او ټکنالوجۍ د روزني د کيفيت د لوړتيا په منظور وزارت پلان نيولی ترڅو د ساينس او ټکنالوجۍ د زده کړو يو ملي مرکز او په ولياتو کې د هغه د الحاقيو سره رامنځته کړي. دغه مرکزونه او الحاقيې د ساينسي ازميښتونو لار ښودونو ته پراختيا ورکوي او د ښوونځيو او ښوونکو سره د ساينس د لابراتوارونو په رامنځته کولو کې تخنيکي مرسته کوي، او ښوونکو ته د آزميښتونو او توکو څخه د ګټې اخيستنې لارې چارې د ښوونې د پروسې د يو جزوي عنوان په شکل روزي. دغه مرکز د ساينس او رياضياتو د تدريس او زده کوونې يو منظم ميکانيزم د څارني او ارزونې په منظور رامنځته کوي او د رياضياتو او اړيکتيايي او معلوماتي ټکنالوجۍ د علومو په برخو کې د نويو پرمختګونو او د تدريس د طريقو د پراختيا په منظور څيړنې کوي .

د يو لړ کيفيت لرونکو روزنيزو پروګرامونو د ارايې له لارې ، وزارت د ساينس او ټکنالوجۍ د زده کړو د ملي مرکز او په ولايتونو کې د هغه د الحاقيو د کارکوونکو وړتيا ته لوړوالی ورکوي.

## دريم پروګرام : تخنيکي او مسلکي زده کړې

**کلي موخه:**

ښځينه او نارينه زده کوونکو ته د مناسبو او کيفيت لرونکو تخنيکي او مسلکي زده کړو تيارول ترڅو اړين مسلکي مهارتونه د هيواد او سيمې د کاري بازارونو په معيار او ستندرد لاسته راوړي او وکولای شي چې د هيواد په عادلانه پرمختګ کې مهمه ونډه واخلي.

**موخې:**

- تخنيکي او مسلکي زده کړو ته لاسرسی ، د سيمه ييزو تخنيکي انستيټيوټونو د شمير لوړول له ۱۶ څخه ۳۲ ته، ولايتي تخنيکي ښوونځي له ۳۸ څخه ۱۰۲ ته او د ۳۶۴ تخنيکي ښوونځيو منځته راوړل په مختلفو ولسواليو کې.
- د زده کوونکو د ښوونې او روزنې او جذبولو زياتول په مسلکي او تخنيکي زده کړو کې له ۱۹۵۰۰ تنو څخه په ۱۳۸۸ل کال کې ۱۵۰ زرو ته په مسلکي او تخنيکي زده کړو کې.
    - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ښځينه زده کوونکو د شمير لوړوالی ۳۰٪ ته په مسلکي او تخنيکي زده کړو کې.
    - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې د معيوبينو او معلولينو زده کوونکو شمير ۱۰۰۰ تنو ته رسول په مسلکي او تخنيکي زده کړو کې
- د ښځينه او نارينه ښوونکو د اساسي وړتياو لوړول ترڅو وکولای شي چې د تدريس کيفيت لوړ کړي ، د زده کوونکي د ښوونې او د هغوي په ښوونيز پرمختګ کې مثبته پايله رامنځته کړي.

- د نصاب او عصري کیفیت لرونکو ښوونیزو موادو برابرول ترڅو د ښوونې کیفیت لوړ شي او له بلې خوا د کاري بازارونو مطابق د زده کوونکو په تعلیمي پرمختګ کې ونډه ولري
- د مسلکي او تخنیکي زده کړو د عصري معیارونو په اساس د تخنیکي او مسلکي ښوونځیو او مرکزونو تجهیزونه
- د تدریسي او اداري کارکوونکو د وړتیاو لوړول
- د هغه خاص اهمیت په دلیل چې تخنیکي او مسلکي زده کړې یې د پوهنې وزارت ته لري ، د تخنیکي او مسلکي زده کړو ریاست په معینیت بدل شوی دی چې درې ځانګړې ریاستونه ددغه معینیت لاندې کار کوي : تخنیکي او مسلکي پروګرامونه، د تخنیکي او مسلکي ښوونکي روزنه، او د تخنیکي او مسلکي نصاب پرمختګ.

د پوهنې وزارت د کار او ټولنیزو چارو د وزارت په مرسته د کار د بازار په اړه څیړنې کوي ترڅو د تخنیکي او مسلکي څانګو او د کاري بازار د ضرورتونو ترمنځ له تناسب څخه ډاډ ترلاسه کړي . همدارنګه وزارت د خصوصي تخنیکي او مسلکي مرکزونو د جوړولو ملاتړ کوي ، او د هیواد عمده صنایع ( لک تجارت ، معدن، ساختمان او تولیدي سکتور) هڅوي ترڅو د نهم ټولګي زده کوونکو ته د ښوونې لپاره د یو ښوونیز واحد په ډول رامنځته کړي.

وزارت هڅه کوي ترڅو د ښځینه زده کوونکو د شمولیت شمیر په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د عامه پوهونې له لیارې ، د نجونو لپاره د مناسبو څانګو پرانیستل او د لیرې سیمو هغو ته د اباتې او اعاشې او نورو آسانتیاو په ورکولو سره زیات کړي.

تر ۱۳۸۷ل کال پورې د هیواد په ۲۲ ولایتونو کې ۵۱ تخنیکي او مسلکي ښوونځي فعالې شوي دي. د مدیریت او عامه ادارې ملي انستیتیوټ (نیما) په کابل کې تاسیس شوی دی. ددې لپاره چې نجوني او هلکان تخنیکي او مسلکي زده کړو ته لاسرسي ولري وزارت پلان لري چې په هره ولسوالۍ کې یو تخنیکي او مسلکي ښوونځی تاسیس کړي . همدارنګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو د کیفیت لوړولو په منظور د تخنیکي او مسلکي ښوونکو لپاره د ښوونې لنډمهاله کورسونو زیاتوالی په نظر کې نیول شوی ترڅو د ښوونکو ښوونیز میتودونه لوړ شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو په پروګرامونو کې د ( د پالیسۍ اصلاح او بیا کتنه، د تخنیکي او مسلکي زده کړو په اړه مقررې او لارښوونې ، د نظارت ، راپور ورکونې او د ډیټبیس پرمختګ) میکانیزمونو اصلاح د تخنیکي او مسلکي زده کړو د کیفیت د ښه کولو په برخه کې د ستراتیژۍ یوه برخه ده.

# څلورم پروګرام: د سواد زده کړه

## کلي موخه:

د هغو کسانو لپاره چې عمر يې له ۱۵ کلونو څخه ډير وي د سواد زده کړې خدمتونو تيارول چې د هغوي پوهه او باالقوه استعدادونه لوړ شي ترڅو وکولای شي چې د هيواد او ټولنې په ودانۍ کې پراخه فعاله ونډه ولري.

### د پروګرام موخې:

- تر ۱۳۹۳ ل کال پورې د ۱۵ يا تر دې د زياتو عمر لرونکو کسانو د شمير لوړول ۴۸٪ ته چې ۴۳٪ به يې نارينه وي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې لږ ترلږه د ۳ ميليونو بې سوادانو روزل
  - o لږتر لږه ۶۰٪ سواد زده کوونکي به ښځې تشکيلوي
  - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۳۶۰ زرو سواد زده کوونکو ته ( چې د ټولو سواد زده کوونکو ۱۰٪ جوړيږي) د حرفوي زده کړو ورکول.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د سواد زده کوونکو فارغانو ت ښوونيز نتيجو پرمختګ له ۵۰٪ څخه ۸۰٪ ته.

د EFA يا ( ښوونه او روزنه د ټولو لپاره ) د پريکړو په اساس بايد تر ۱۳۹۴/۲۰۱۵ کال پورې د سواد کچه ۵۰٪ ته لوړ شي. ددې هدف د ترلاسه کولو لپاره وزارت په ټول هيواد کې د ۱۴۰ زرو د سواد زده کړې کورسونو جوړولو له لياري ۳،۶ ميليونو ( د تقريبا ۱۱ ميليونو بې سوادو له جملې څخه) کسانو ته د سواد زده کړه ورکړي، ددې لپاره چې ددغو سواد زده کوونکو غټه برخه د هيواد په وروسته پاتې سيمو کې ژوند کوي نو وزارت دغو سيمو ته ځانګړې پاملرنه کوي. وزارت به هڅه وکړي ترڅو خصوصي سکټور، سيمه ييز خلک، مسجدونه، علما او د نفوذ لرونکي خيرې وهڅوي چې ډير سواد زده کوونکي راجذب کړي. دا چې د ښځو د سواد کچه ډيره ټيټه ده (۱۳٪ ښځې او ۳۲٪ نارينه) نو د هغوي د ګډون لوړول د سواد زده کولو په لور د عامه پوهاوي له لارې عملي کيږي او د ښځينه ښوونکو شمير به د سواد زده کوونکو په پروګرام کې لوړ کړل شي. همدارنګه وزارت په نظر کې لري چې د نورو تشويقي پروګرامونو له لارې لکه غذا، صحي خدمتونه او د کرنيزو غلو او دانو په ورکولو سره د ښځو ګډون د سواد په زده کولو کې عملي کړي.

د سواد زده کولو نصاب پرمختګ کړی ، درسي کتابونه او د ( ښوونکي د سواد زده کولو لارښود) چاپ او خپور شوي دي، ترڅو چې وزارت د سواد زده کولو د پروګرام لپاره يو واحد نصاب عملي کړي او د نويو درسي توکو د پرمختګ له لارې به هڅه وکړي ترڅو د سواد زده کولو پروګرام د سواد زده کوونکو د ورځني ژوند سره تناسب ولري او هغوي وکولای شي چې د سواد او حساب زده کولو نه پرته هغه مهارتونه زده کړي چې په ژوند کې ورسره مخ کيږي. په همدې توګه به د زده کړې توکي د ځانګړو اړو سواد زده کوونکو ډلو لکه ښځې ، دوکانداران او بزګرانو څخه برابر کړل شي.

وزارت پلان لري چې ۲۴۵۰ د سواد زده کړې دايمي ښوونکي استخدام کړي. پدې توګه ۱۱۰۰۰ قراردادي ښوونکي بايد استخدام شي ترڅو وزارت وکولای شي چې خپلې موخې ته يانې ۱۴۰ زره د سواد زده کولو کورسوونه د روانو پنځو کلونو په اوږدو کې حتمي کړي. د سواد زده کولو په کورسونو کې د تدريس د کيفيت لوړولو لپاره د سواد زده کولو په معينيت کې د ښوونکي د روزنې د سواد زده کولو په نامه يو رياست جوړ شوی او وزارت پلانو لري چې د سواد زده کولو د ښوونکي د روزنې لپاره ځانګړی انستيتيوټ تاسيس کړي. د يو ډيټابيس پرمختګ ، د څارنې او ارزونې ميکانيزمونه ددې پروګرام له نورو موخو څخه دی چې د سواد زده کولو په پروګرام کې به موثريت ورزيات کړي.

## پنځم پروګرام: د پوهنې اداره

دغه پروګرام د دريو فرعي پروګرامونو مجموعه ده چې عبارت دي له: د پوهنې د بيخبنا پراختيا، د پوهنې د ادارې پراختيا، د ستراتيژيک مديريت پراختيا څخه.

### ۵,۱ فرعي پروګرام: د معارف د بيخنا پراختيا

**کلي موخه:**

په ټول هيواد کې د معارف د متوازن بيخبنا د پراختيا له لارې ټولو زده کوونکو او د ښوونې او روزنې کارکوونکو ته د ښوونې ، مناسبې ادارې او امن چاپيريال رامنځته کول .

**د پروګرام موخې:**

- پاليسی ، سټندردونه ، ډيزاينونه ، د کار د اندازې برآورد، د پوهنې د ساختماني ودانيو تقريبي بيه او د کارونو د اجرا د لارښوونو پرمختګ.
- د پوهنې اداري او ښوونيزو مرکزونو ودانول او تجهيزول
  - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې لږترلږه ۷۵٪ د عمومي او اسلامي زده کړو درسي شعبې به د استفادې وړ ودانيو لرونکي شي.
  - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې به ۱۰۰٪ د تخنيکي او مسلکي زده کړو درسي شعبې د استفادې وړ ودانيو لرونکي شي.
  - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د پوهنې ټولې اداری د استفادې وړ ودانيو لرونکي وي .
- رغول شوي يا نوي ودانۍ به څارل او ساتل کيږي.
- د ښوونځيو د جوړولو په اړه د ډاډ حاصلول چې په کې به ټاکل شوي معيارونه او سټندردونه مراعات شوی وي.
- د پوهنې د بيخبنا د پراختيا پروګرام د اړونده رياستونو سره په نږدې همغږۍ کې پلي کيږي.

ټولو زده کوونکو ته د مناسب چاپيريال رامنځته کول د پوهنې وزارت يو له مهمو موخو څخه ده چې وزارت زيار باسي ترڅو د ټولو شته امکاناتو او پراختيايي همکارانو په مرسته، خصوصي سکټور او د محلي خلکو په ملاتړ او مرسته نوموړی موخې ته ورسيږي. په را روانو پنځو کلونو کې د کار او ټولنيز وزارت د ۶۵ زرو نويو درسي ټولګيو طراحي او ځارنه، ۲۰۰۰ د ساينس او ټکنالوژۍ لابراتوارونه، د ۱۶ زرو موجودو ټولګيو بيارغول او د ۲۰۰۰ عمومي ښوونځيو د ديوالونو او احاطې جوړونه پرمخ بيايي. د اسلامي زده کړو په برخه کې هم د بيخبنا د پرتختيا پروګرام ۳۵۰۰ نوي ټولګي ، ۲۲۰ ديوالونو او احاطو جوړونه او د ۱۸۰ مدرسو او ۳۲ دارالعلومونو لپاره د ليليو جوړول به پوره کړي. همدارنګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو د بيخبنا د پراختيا رياست په پام کې لري چې ۱۱۰ تخنيکي او مسلکي مرکزونه جوړ او د ۳۴ تخنيکي او مسلکي کمپلکسونو بيارغول ، په ۳۶۴ ولسواليو کې د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو او ۱۲۱ د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو د ليليو جوړونه تر سره کړي. همدارنګه د کار او ټولنيزو چارو وزارت به د ښونکي د روزنې ۴۸ مرکزونه جوړ، ۴۱۲ د ملاتړ مرکزونه او د ۵۵ ليليو ځارنه وکړي. نوري ساختماني پروژې عبارت دي له ۲۰ ولايتونو د پوهنې رياستونو جوړول او همدارنګه په ولايتونو او ولسواليو کې د ګودامونو د جوړولو څخه.

د بيخبنا پراختياپروګرام به د ټولو پرژو لپاره لارښوونې او ساختماني سټندردونو ته انکشاف ورکړي او په ټولو ولايتونو کې د انجنيرۍ ټيمونه تشکيل کړي ترڅو ددغو سټندردونو د پلي کولو نظارت وکړي. دغه رياست په دوامدار ډول خپل د پلان جوړونې او ځارنې سيستمونه غښتلي کوي ترڅو يو آرام او مناسب ښوونيز چاپيريال ته د ماشومانو لاسرسي ريښتينی شي.

### ۲،۵ فرعي پروګرام: د پوهنې اداري پراختيا:

**کلي موخه:**

په ټول هيواد کې د پوهنې د پروګرامونو د بريالي کولو او پلي کولو لپاره د آسانتياو او د موثرو ، اقتصادي او شفافو خدمتونو تيارول.

**موخې:**

- په لوجستيکي سيستمونو او تدارکاتو ، بشري قواو ، اجرايوي او اداري جوړښتونو کې د اصلاحاتو پلي کول ترڅو د ادارې او پرسونل موثريت لوړ شي چې په ترڅ کې يې د ښوونې او روزنې پروګرام په برياليتوب سره عملي شي .
- په مرکز او ولاياتو کې د پروګرام په اساس د کوښښونو دوام د يو شفاف او موثر مالي سيستم د پرمختګ لپاره د بوديجې د جوړونې د پروګرام په منظور ، په ټاکلي وخت د مالي تاديو آسانتياو برابرول او د څيرنيز مالي راپورونو ورکول د ښه پريکړې نيونې لپاره.
- د پوهنې په نظام کې د معاصرې ارتباطي او معلوماتي ټکنالوجۍ معرفي او شاملول ددې لپاره چې د پوهنې ادارې، کارکوونکي او د کار مؤثريت لوړ کړي ترڅو د ښوونې او روزنې پروګرامونه په برياليتوب سره سرته ورسيږي.
- د پوهنې د ښوونيز مرکزونو د جوړولو لپاره د ځمکو اخيستل او د ملکيت لپاره د ټولو قانوني مراحلو طی کول او د پوهنې د ټولو جايدادونو ثبت په يو مرکزي ډيټابيس کې.

- د احتمالي خطرونو څخه د خبريدنې يو سيستم رامنځته کول او غښتلي کول او همدارنګه د محلي خلکو او امنيتي ارګانونو سره همغږي تر څو د حادثاتو څخه باخبر او د ادارو ، ښوونيز مرکزونو، کارکوونکو او د زده کوونکو ساتنې ته تياری ولري.

وزارت ژمن دی چې د اختياراتو تفويض او د غيز مرکزي کولو پروسه او همدارنګه د اداري او مالي پروسيجر اصلاح او ساده کول عملي کړي، په همدې منظور وزارت د افغانستان د بوديجې جوړولو او د مالي او اداري سيستم معلومات ولايتونو او ولسواليو ته ورکوي ترڅو وکولای شي چې د پروګرامونو مصرفونه وڅاري او راپور يې تيار کړي. همداراز وزارت د ارتباطي او معلوماتي ټيکنالوجی څخه د استفادې زياتوالی غواړي چې په ترڅ کې به يې د ښوونې او روزنې په نظام کې مؤثريت راشي.

د وزارت د لومړيتوبونو څخه يو دادی چې وزارت مرسته کوونکي هيوادونه د مرستې پرځای او دقيق عملي کولو لپاره تشويقوي او د دولت د اصلي بوديجې پر ځای د خارجي دولتونو بوديجځ مصرفوي. دا به ددې لامل شي چې مؤثرې بهرنې مرستې زياتې پاتې شي او وزارت به ددې جوګه شي چې د بوديجې په ځانګړې کولو سره د وزارت لومړيتوبونه ترلاسه کړي لکه د پوهنې کيفيت او د نابرابرۍ لاسرسي څخه به په ولايتونو کې مخنيوی وشي. خصوصي برخې هم کيدای شي چې وهڅول شي ترڅو د پوهنې د ستراتيژيک پلان په عملي کولو کې مهمه ونډه ولري.

د ملکي خدمتونو قانون ، د استخدام پروسيجر او د ټولو معاشونو سيستم تصويب شوې ده او وزارت د معاشونو د نوي سيستم او نوی تشکيل پر اساس د پرسونل په استخدام لاس پورې کړی دی. د مالي محدوديتونو او د وزارت د ټيټ ظرفيت په اساس په ۱۳۸۸ل کال کې به يواځې ۴۶ زره ښوونکي او کارکوونکي د معاشونو د نوی سيستم پراساس استخدام شي. د وزارت د ۲۰۶ زرو کار کوونکو پاتې برخه به د ۱۳۹۱ل کال تر پايه پورې به د همدې پروسې له لارې استخدام شي . د ښوونکو د استعداد ملي ازموينه به هم د همدې پروسې د يوې برخې په توګه تطبيق شي .

په دريو ورستيو کلونو کې په ښوونځيو ، ښوونکو او زده کوونکو باندې حملې زياتې شوې دي، وزارت بايد د ټولو ښوونځيو ، ښوونکو او زده کوونکو امنيت وساتي. وزارت به د امنيتي ارګانونو او محلي خلکو سره په ګډه مرسته د هغه خطراتو پيژندګلوی وکړي چې ښوونځيو ته متوجه وي او لازم حفاظتي اقدامات به اخلي. د امنيتي مسؤلينو استخدامول د همدې تصميم يوه برخه ده چې له وزارت سره پدې اړه ملګرتيا کوي.

## ۳،۵ فرعي پروګرام: د ستراتيژيک مديريت پراختيا:

### کلي موخه:

په ستراتيژيکه سطحه د پوهنې د وزارت د مؤثريت ، ګټورتوب، حساب ورکونه او د شفافيت زياتول د ملي قوانينو په چوکاټ کې او د نړيوالو تعهداتو مطابق

### موخې:

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به ټولې پاليسۍ، مقررې ، تګلارې او ټول تقنيني سندونه د بياکتنې له پروسې څخه تير شي.

- په هغو پروژو کې چې د بهرنيو پراختيايي بوديجو لـه لارې تمويليږي د پوهنې وزارت دنده به د لومړيتوبونو پر بنسټ لوړه شي ، او وزارت به بهرني مرسته کوونکي هيوادونه وهڅوي تـر څـو خپلـې مرسـته کوونکي بـوديجې د اصـلي بـوديجې لـه لارې وزارت تـه ورکړي .
- پوهنې وزارت به د ټولو مراجعينو شکايتونو ته په مناسبه وخت کې رسيدګي وکړي.
- ملـي عمليـاتي او ولايتـي پلانونـه بـه پـه کلنـي شـکل پرمختـګ وکـړي او د وزارت مهـم فعاليتونه ارزول کيږي.
- په مرکز او ولايتونو کې به و پوهنې د اداري معلوماتي سيستم قوي او پرمختګ وکړي.
- معياري راپورونه به په کلني او ربعوار شکل جوړ او خپور شي.

د افغانستان د پوهنې قانون پـه ۱۳۸۷ل کـال کـې جوړ او د کـابينې پـه واسطه تصـويب شـو او اوسـمهال د پارلمـان لخـوا وارسـي کيـږي. همدارنګـه د خصوصـي ښـوونيز موسسـو مقـرره د ۱۳۸۵ل کال په پای کې چمتو، تصويب او منظـور شـو. د پـوهنې د لوايحـو او تګلارو بياکتنـه هم د پوهنې د قانون مطابق په جريان کې ده.

د عملياې پلانګذارۍ پروسه په مرکز او ولايتونو کـې پيـل شـوې ده . وزارت پـه پـام کـې لـري چې دغه پروسه غښتلې کړي او تر ۱۳۹۳ل کال پورې ټول رياستونـه ، ولايتونـه او ولسـوالۍ خپل کلني عملياتي پلانونه او بوديجې د خپلو مشخصو اړتياو پر اساس پخپله غاړه اخلي.

د پلان او ارزونې لوی رياست هم پدې موده کې لازمې مرستې ورکـوي. پدغو پروسو کـې د وزارت د اصلي پروګرامونو د فعاليتونو ټاکل او د هغو د خرڅ اټکلول شامل دي.

دا به ددې لامل شي چې د پلانونو پرمختګ به د معياري پروپوزلونـو او د فعـاليتونو پـه عملـي کولو کې اسانتاوې رامنځته کړي.

د پوهنې او روزنې د اداري معلومـاتي سيستم پرمختـګ کـړی او پـه ۱۳۸۶ او ۱۳۸۷ل کلونـو کې هر اړخيزې سروې ګانې شوي دي. د ټولـو ښـوونيزو موسسـو پـه اړه د ډاډ حاصـلول چـې دوي وکوالی شي د خپلو ضرورتونو سره برابر معلوماتو ته لاسرسی ولري وزارت د پوهنې او روزنـې د اداري معلومـاتي سيسـتم پـه ټـول هيـواد کـې مـروج کـوي. همداراز وزارت بـه د راپوروکونې ، څارنې او ارزونې يو هر اړخيز سيستم جوړ کړي ترڅو د افغانسـتان د پوهنې د ملـي ستراتيژيـک پـلان پـه تطبيـق کـې د دوامداره څـارنې او د پـوهنې د اصـلي فعـاليتونو پـه ارزونه کې ورڅخه ګټه واخيستل شي.

د بهرنيو مرستو د همغږي کولو واحد (يونټ) غښتل کيږي او استازي به يې پـه ولايتونـو کـې وګومارل شي ترڅو د پوهنې د پروژو په کافي تمويل باندې ډاډمن شـي، دا بـه ددې لامـل شـي چې د وزارت او پراختيـايي ملګـرو تـرمنځ همغږي لاپسـې ښـه شـي او د هغـو فعاليتونـه بـه د پوهنې په ملي ستراتيژيک پلان کې يو شان وي.

د رسنيو سره د اړيکو ټينګښت ترڅـو د وزارت د لاسته راوړنـو او نـورو فعـاليتونو پـه هکلـه معلومات خپاره شي او د وزارت يو له لومړيتوبونو څخه همدا دی چې معلومـات عـامو وګـړو ته ورسوي. د وزارت رسمي ويبپاڼه پـه دوامدار ډول نـوی کيږي ترڅـو د قوانينـو ، مقررو ، پلانونو او نورو اړينو معلوماتو په برخه کې عام وګړي خبر وساتل شي.

# تطبیق ، څارنه او ارزونه:

د وزارت اصلاح شوی جوړښت د ستراتیژیک پلان له جوړښت سره مطابقت لري. د پوهنې د وزیر تر رهبرۍ لاندې هر یو له پنځو معینانو څخه د ستراتیژیک پلان د یو پروګرام مسؤلیت په غاړه لري.

هر یو د مرکزي رئیسانو او د ولایتونو د پوهنې د رئیسانو څخه د پلان د یوې برخې په اجرا کولو سره مسؤل دي. عام محلي وګړي ، غیر دولتي ارګانونه او خصوصي سکتورونه به د ستراتیژیک پلان په تطبیق کې ونډه ولري. په ټول هیواد کې د موجودو فعالیتونو د تطبیق په منظور کلني عملیاتي پلانونه پرمختګ وکړي . په ملي ، ولایتي او د ولسوالیو په کچه به د مسؤلو کسانو لخوا د پروګرامونو د تطبیق څارنه وشي. د ښوونې او روزنې د اداري معلوماتي سیستم غښتلی شوی او د ولایتونو په کچه رامنځته کیږي ترڅو د معلوماتو د راټولونې پروسه د پلان د څارنې او ارزونې د فعالیتونو په منظور اسانه کړل شي.

وزارت د پلان په تطبیق کې د شته ستونزو ، خطرونو او محدودیتونو څخه خبر دی او ددې عناصرو د مخنیوی لپاره د ځانګړو پلانونو د پرمختګ لارې چارې لټوي.

وزارته به د پوهنې د پرمختګ له بورډ سره په ګډه شپږ میاشتنی ناستې ولري ترڅو د هغو پروګرامونو عملي کول وارزسي کړي چې د پوهنې وزارت ، غیر دولتي سازمانونو ، خصوصي سکتور او نورو ګډونوالو له خوا تطبیق کیږي. پدې پروسه کې به د وارزسی دوه شپږمیاشتنی ناستې وي ، چې په اوله ناسته کې به د تیر مالي کال د پروختګ لاسته راوړنې وارسي شي او دویمه ناسته به د روان کال بودیجه او کاري پلان وارسي کړي.

د ستراتیژیک پلان د تطبیق پروسه په پرله پسي ډول د څارنې لاندې نیول کیږي او دوره یي راپورونه ورڅخه تیاریږي. د پلان د تطبیق څارنه به د دریو عنصرو لرونکی وي: د ټاکل شوی هدف په لور د پرمختګ څارنه، د سرچینو مصرفونو د لارو څخه څارنه، د پراختیایي ملګرو د ونډې اخستنې څارنه چې په افغانستان کې د پوهنې پروګرامونه د بهرنیو بودیجو له لارې تمویلوي. همداراز د هغو مستقلو څیړنو او وارسی پایلې چې د موجودو پروګرامونو او د پوهنې له ساحو څخه لاسته راغلي هم په ستراتیژیک پلان کې تطبیق شي. په ستراتیژیک پلان کې به منځمهالې او نهایې ارزونې هم صورت ونیسي.په نهایي ارزونه کې ، د پوهنې د کلي وضعیت په پام کې نیولو سره د ستراتیژیک پلان څخه لاسته راوړل شوي نتیجې د ارزونې لاندې نیول کیږي او د پلان د تطبیق څخه زده کړل شوي درسونه د وارسی لاندې نیول کیږي، او ددغو ارزونو له پایلې څخه به د وروستی پلان په پرمختګ کې ګټه واخیستل شي.

## مصارف او بوديجې

هغو موخو ته لاسرسي چې د پوهنې په ملي ستراتيژيک پلان کې نغښتل شوي دي ، د دريمې زريزې پراختيايي موخو (MDGs) او ښوونه او روزنه د ټولو لپاره(EFA) موخو ته د رسيدو لپاره ډيرو مصارفو ته اړتيا ده. د ښځو مخکينيو کلونو په پرتله د زده کوونکو ناڅاپي ډيروالی او يوائې د پوهنې د کيفيت لوړوالي په لور ټولو پام ګرځيدل د وزارت مخې ته لازياتې غوښتنې کيښودې.

وزارت بايد نوي زده کوونکي ښوونځيو ته شامل کړي ، نوي ښوونځي جوړ کړي ، زيات نوي ښوونکي وګوماري او د ښووني او مهارتونو د لوړو ستندردونو مطابق روزنه ورکړي. په عين حال کې وزارت بايد داسي لندمهاله تغيرات اداره کړي چې اوږدمهاله اثرات ولري. همدارنګه د رتبو او معاشونو د دولتي سيستم تطبيق پراخو مصارفو ته ضرورت لري . په هر حال زده کړه ددغه هيواد د ټولو ماشومانو او غټانو لومړی حق ګڼل کيږي او د يوې ديموکراتيکي او د خلکو د ګډون په پروسه کې دا يو اړين ګام ګڼل کيږي.

ښوونه او روزنه د اړينې اقتصادې غښتلتيا لپاره د بشري قوې بنسټيزه غښتلتيا ده او د سولې او يووالي په راوستو ک مهمه ونډه اجرا کوي.

د زده کوونکو د شموليت د زياتوالي او ددغه زياتوالي په پرتله د ښوونکو د نسبت د معيار په اساس به په راتلونکو پنځو کلونو کې ۱۶۵ زره نوي کارکوننکي استخدام شي. د راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې به يو وړانديز وشي چې د غير معاشي مصارفو ( د ۲۲او ۲۵ کوډ بوديجه) ( تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۳۲٪ غير معاشي مصارف) په نسبت کې زياتوالی راشي ، ترڅو ښوونځيو او زده کوونکو ته کافي درسي توکي برابر شي. نوې وداني وداني او شته ودانی بياورغول شي . او همدارنګه د څارنې او ارزونې د پياوړتيا لپاره د څارونکو سفر خرڅ هم برابر شي. د کورنيو سرچينو د نه شتون په دليل، د افغانستان دولت به ونتوانيږي چې د معارف ټول مصرفونه د خپلې عادې بوديجې له لارې برابرې کړی. نو پدې اساس د مرسته کوونکو هيوادونو همکاري د ستراتيژيک پلان د دريمې زريزې دپراختيايي او د ښووني او روزني د موخو د ترلاسه کولو لپاره لازمي او حتمي دي.

| د پوهني وزارت | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پوهني ملي استراتيژيك پلان (1389 – 1393)/۲۰۱۴-۲۰۱۰ | | | | | | | | |
| **تول ۵ پروگرامونه** | **مليون افغاني (000,000: افغاني)** | | | | | | | |
| ***د لگښتونو لنډيز*** | **1387 واقعي** | **1388 اټکل شوي** | **1389 تخمين شوی** | **1390 تخمين شوی** | **1391 تخمين شوی** | **1392 تخمين شوی** | **1393 تخمين شوی** | **مجموع 1389-1393** |
| **عادي لگښتونه** | | | | | | | | |
| تنخواګاني (21) | 11,307 | 12,749 | 21,262 | 26,980 | 31,408 | 35,892 | 40,407 | 155,948 |
| اجناس او خدمات (22) | 1,465 | 1,319 | 3,827 | 5,396 | 6,910 | 8,614 | 10,506 | 35,253 |
| اخيستني (25) | 338 | 42 | 850 | 1,349 | 1,885 | 2,512 | 3,233 | 9,829 |
| *د تولو پروګرامونو د عادي بوديجي مجموعه* | *13,110* | *14,110* | *25,940* | *33,725* | *40,203* | *47,018* | *54,145* | *201,030* |
| *پراختيايي بودجه* | *3,030* | *9,929* | *35,802* | *37,318* | *41,761* | *44,749* | *45,128* | *204,758* |
| *د تولو ۵ پروګرامونو مجموع* | *16,140* | *24,039* | *61,742* | *71,043* | *81,964* | *91,767* | *99,273* | *405,788* |

| **د هر پروګرام په اساس د مصارفو لنډيز( عادي او پراختيايي بوديجه)** | **ميليون افغاني (000,000: افغاني)** | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | **1387 واقعي** | **1388 اټکل شوي** | **1389 تخمين شوی** | **1390 تخمين شوی** | **1391 تخمين شوی** | **1392 تخمين شوی** | **1393 تخمين شوی** | **مجموع 1389-1393** |
| ۱ پروګرام: عمومي او اسلامي زده کړې | 11,223 | 13,298 | 25,632 | 32,506 | 38,595 | 44,688 | 51,300 | 192,721 |
| ۲ پروګرام: د ښوونيز نصاب، د ښوونکي د روزنې او د ساينس او ټکنالوجی د روزنې پراختيا | 1,261 | 4,213 | 7,207 | 6,696 | 7,469 | 8,608 | 6,824 | 36,805 |
| ۳ پروګرام: تخنيکي او مسلکي زده کړې | 447 | 1,281 | 1,137 | 1,583 | 2,006 | 2,451 | 3,009 | 10,187 |
| ۴ پروګرام: سواد زده کړه | 234 | 543 | 2,695 | 3,105 | 3,486 | 4,008 | 4,287 | 17,580 |
| ۵ پروګرام: د پوهني د اداري پراختيا | 2,975 | 4,704 | 25,071 | 27,152 | 30,409 | 32,012 | 33,853 | 148,496 |
| **د ۵ پروګرامونو مجموعه** | **16,140** | **24,039** | **61,742** | **71,043** | **81,964** | **91,767** | **99,273** | **405,788** |

# لومړی څپرکی: د ستراتيژيکو پاليسيو چوکاټ

په دې څپرکی کې د پوهنې وزارت ليد لوری او اساسي پاليسۍ په دريو برخو: لاسرسي، څرنګوالي او مديريت کې مطرح شوې دي. لانديني پاليسي د پوهنې د وضعيت د ارزونې، د افغانستان د اساسي قانون (۱۳۸۲ل)، د پوهنې قانون (۱۳۸۷ل)، د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژۍ (۱۳۸۷ل - ۱۳۹۱ل)، په لندن کې د افغانستان په اړه تړون (۱۳۸۴ل) (Afghanistan Compact)، د افغانستان د دريمې ميلادي زريزې د پراختيايي موخو(MDGs)، د ښوونه او روزنه د ټولو لپاره(EFA) موخو، د پاريس د کانفرانس پريکړې (۱۳۸۷ل) او د پوهنې د ملي ستراتيژۍ (۱۳۸۵ل - ۱۳۸۹ل) د پلان سره سم، د اغيزمنې او هميشنې پرمختيا په موخه پراختيا وکړل شوې ده.

**د پوهنې ليد لوری**

د ملي او نړيواله ژمنو ، د بشر د حقونو په درناوی او د اسلام د سپيڅلی دين له اساساتو سره سم د بشري سرچينو پراختيا، ، د مساوي او عادلانه لاسرسيو د آسانولو له لارې د هيواد ټولو وګړو ته د با کيفيته ښوونې او روزنې د اسانتياوو د برابرول ، ترڅو وتوانيږي د هيواد په هميشنۍ پراختيا، اقتصادي پرمختګ او ثبات او امنيت کې رغنده ونډه واخلي.

ددې کار د تحقق لپاره ، د پوهنې وزارت بايد د يوه مدرنه، هدفمنده، موثره ،حسابورکوونکې او د بوديجې لرونکې اداري ته بدل شي ترڅو په ټول افغانستان کې د زده کړې آسانتياوې د ماشومانو او مشرانو لپاره بغير له هيڅ نوع تبعيض څخه برابره کړي.

د افغانستان پوهنه بايد د اسلامي روحيې، ملي يووالي، خپلواکۍ، د قانون حاکميت ، د بشر د حقونو او ديموکراسۍ د درناوي، زغم او عاجزۍ، او د سولې او ثبات د غښتلي کولو او د فقر او غريبۍ، زور او زياتي او نشه يي توکو د له منځه وړلو لامل شي.

د ښوونې او روزنې نظام د اخلاقي، عاطفي، ذهني، جسمي، د ټولنيزې روحيې د تقويت، د ابتکاري مهارتونو د لوړولو، د انتقادي تفکر ،او د استعدادونو د روزنې لپاره د علمي تفکر لازم او اړين شرائط د معلولو او معيوبو زده کونکو په ګډون ټولو زده کوونکو ته برابر او په هيواد کې اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا، د فقر د کچې راټيټول، د تلپاتي ثبات او امنيت رامنځته کول او په ځان بسنه کول او خودکفايي رامنځته کړي.

د ستراتيژيکو پاليسيو چوکاټ په لاندينيو دريو برخو کې چمتو شوی: ښوونې او روزنې ته لاسرسي، د ښوونې او روزنې کيفيت او دښوونې او روزنې مديريت. د پوهنې وزارت ژمن دی ترڅو د افغانستان د پوهنې نظام اداره او حساب ورکونې ته وده ورکړي او په نتيجه کې شفافيت ته زياتوالی ورکړي او د زده کونکو تحصيلي پرمختيا ته زياته پاملرنه وکړي.

**ښوونې او روزنې ته لاسرسي**

د پوهنې وزارت پاليسي، له هر راز توپير پرته د ښځو او نارينه وو لاسرسي د ټولنيز عدالت د اصل د خپرولو او د باکيفيته ښوونې او روزنې ده.

د اساسي قانون د دري ځلوېښتمي مادې او د پوهنې د قانون د څلورمې مادې پر اساس د پوهنې وزارت دنده لري، چې د هيواد د ماشومانو او ځوانانو لپاره د وړيا ښوونې او روزنې زمينه برابره کړي. همدا راز د اساسي قانون له مخې اساسي زده کړې (د لومړنۍ او منځنۍ دورې زده کړې) اجباري دي. د افغانستان د دريمې زريزې د پراختيايي موخو پر بنسټ، په کال۱۳۹۹ل (۲۰۲۰ز) کې به د هلکانو او نجونو په ګډون د هيواد ټول ماشومان د لومړنۍ دورې زده کړې بشپړې کړي.

دې موخې ته په رسيدو، د پوهنې وزارت بايد تر ۱۳۹۳ل کال پورې پر اساسي زده کړو کې د هلکانو او نجونو د ګډون او شموليت سوچه کچه، ۷۵سلنې او ۶۰سلنې ته ورسوي. د پوهنې وزارت په پام کې لري، چې د زده کونکو د جذب وړتيا ته د ثانوي دورې لپاره زياتوالی ورکړي.

د پوهنې وزارت خپل ځان د نجونو په ګډون د ټولو ماشومانو د نجونو په شمول، د ځانګړو او خاصو غوښتنو ماشومانو، کوچيانو، لږه کيو (اقليتونو) او د تيز هوشو ماشومانو لپاره د هر اړخيزه زده کړو د برابرولو په برخه کې ژمن بولي. د پوهنې وزارت سربيره د رسمي پوهنې د نظام د پراختيا لاسرسی ته د پرمختيا له لارې ، له نورو پروګرامونو لکه سيمه ييز ښوونځي ، د پوهنې څخه د محرومو زده کوونکو لپاره د چټکو زده کړو ( د کارګرو ماشومانو له جملې څخه) ، د کوچيانو لپاره ګرځنده ښوونځي او له ليرې زده کړې څخه ملاتړ کوي.

له دې سربيره به د پوهنې وزارت له ښوونځي تر مخه ښوونيز پروګرامونه د ۴-۵ کلنو ماشومانو ته پراختيا ورکوي ترڅو هغوي وکولی شي د ښه تيارۍ سره د لومړنۍ دورې ته شامل شي. دغه تکميلي پروګرامونه د ټولو ځوانانو او ماشومانو لپاره د ښوونې او روزنې د لازياتو لاسرسيو ته زمينه برابروي.

د ښځينه ښوونکو زياتوالی د وزارت له اساسي پاليسيو څخه يوه ده چې نجونو ته د ښوونځيو د لاسرسي په برخه کې مهم رول لري. د ښځينه ښوونکو شمير په ځانګړي توګه په هغو ولسواليو او ولايتونو کې چې د زياتو کميو سره مخ دي ، د متعددو پاليسيو او ستراتيژيو څخه په استفادې سره ، لکه په دارالمعلمينونو کې ښځينه محصلانو په جذب کې زياتوالی ، د ښځينه ښوونکو د تحصيلي سويې د لوړولو لپاره د چټکو زده کړو پروګرامونه او د هغو نجونو لپاره چې له ۱۲ ټولګې څخه د ښکته تحصيل لرونکي دي د ښوونکي د روزنې د ټولګي اصولو ځانګړو پروګرامونو ته زياتوالی وربخښل کيږي.

په ۱۳۸۷ل کال کې تر ۸۵۰۰ پورې له دار المعلمينونو څخه د فارغانو شمير په ۱۳۸۸ل کال کې دوه چنده (۱۵۰۰۰) ته رسيدلی دی. دغه زياتوالی به تر ۳ راتلونکو کلونو پورې دوام کوي او له ۵۰ سلنه څخه زياته به يې ښځينه وي.

د ښوونکو روزنه د هر ولايت د مشخصوغوښتنو سره سم، د هر دارالمعلمين د روزنيزو پروګرامونو د عيارولو له لارې په هغه شکل چې د هماغه ولايت ځانګړو ضرورتونو ته ځوابګوی وي او د ښوونکو د مسلکي لوړتيا او تحصيلي سويې لوړتيا د هغوي د کورونو او ښوونځيو سره په نږديو سيمو کې ، د هيواد په ټولو ولسواليو کې د ښوونکي د روزنې د الحاقيو د جوړولو له لارې د پوهنې وزارت د پاليسيو له جملې څخه ګڼل کيږي.

ددې پاليسيو سربيره، مسلکي ښوونکي په ځانګړي توګه ښځينه د رتبو ، معاشاتو او ستراتيژيو د پلي کيدو له لارې په ښوونځيو کې د پوهنتونونو او دارالمعلمينونو د فارغينو د لا زياتو ګمارلو لپاره په عادلانه ډول محرومو ولاياتو او ولسواليو ته ويشل کيږي.

ښوونې او روزنې ته د لاسرسي د زياتوالي او پرمختګ په موخه د پوهنې وزارت د خصوصي ځانګې او سکتور ګډون د افغانستان د پوهنې د نافذه قانون پر اساس او د پوهنې وزارت د لوايحو او مقرراتو سره سم د هغوي د ښوونيزو او روزنيزو خدمتونو د وړاندې کولو هرکلی او ملاتړ کوي. سربيره پر دې له هيواده بهر د افغان مهاجرينو ښوونيزې مؤسسې ثبت او ارزوي او ملاتړ يې کوي.

هغه ماشومان او ځوانان چې د اسلامي زده کړو غوښتونکي دي، بايد د هيواد په داخل کې با کيفيته مدرسو، دارالعلومونو، دارالحفاظونو ته لاسرسی ولري. نو له همدې امله د پوهنې وزارت لږ تر لږه په هره ولسوالۍ کې يوه مجهزه مدرسه او د هر ولايت په مرکز کې يو دارالعلوم او يو مجهز دارالحفاظ جوړوي. پيدا ګوژيکي او حرفوي زده کړې هم د اسلامي زده کړو په نصاب کې، په ځانګړي ډول په ۱۳م او ۱۴م ټولګيو کې به ځای په ځای شي.

د پوهنې وزارت په پام کې لري څو د زده کوونکو د جذب ميزان په تخنيکي او مسلکي ښوونيزو مرکزونو کې د ښوونيز کيفيت د کچې له لوړولو سره سم زيات کړي. ددې په اساس ، تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۹سلنه د تخنيکي او مسلکي زده کړو ته جذب کړي او تر ۱۳۹۹ل کال پورې ۱۲ سلنه د هغوي ځخه په دغه زده کړو کې به جذب شي. تخنيکي او مسلکي زده کړو ته د بازار، د داخلي او سيمه ييز کار د غوښتنو سره سم پراختيا ورکول کيږي. د پوهنې وزارت په پام کې لري چې په تخنيکي او مسلکي ښوويزو مرکزونو کې د زده کونکو د جذب ميزان د ښوونيز کيفيت د لوړولو سره زياته کړي.

د افغانستان د پراختيا د ملي ستراتيژۍ (ANDS) سره سم د مسلکي مهارتونو ملاتړ او تقويت د کرنې، انرژۍ، معلوماتي او اړيکتيايي (مخابراتی) ټکنالوجۍ، د انجينرۍ ځانګې، اداره او مديريت، اقتصاد او حسابداري، د نفت او ګازو صنايع، وړې صنايع او هنرونو په برخه کې د دې وزارت له لومړيتوبونو شميرل کيږي.

د لوړو او مؤثرو ستنډردونو په منځته راوړلو سره د تخنيکي او مسلکي زده کړو د کچې لوړول او پرمختګ د پوهنې وزارت په کاري لومړيتوبونو کې راځي او د تمويلونکو سرچينو د مرستو په رڼا کې د پوهنې وزارت په پام کې لري يو شمير باکيفيته ښوونيزې مؤسسې د اداري او مديريت د ملي انستيټيوټ د تجربې پر اساس چې په ۱۳۸۷ل کال کې جوړ شوی ، جوړې او فعالې کړي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو د مرکزونو د پراختيا د اړتيا د اصل په پام کې نيولو او زيات شمير ځوانانو ته د امکاناتو د پيدا کولو پر اساس به د هيواد د بيلابيلو زونونو او ولايتونو په کچه يو شمير تخنيکي او مسکلي بيلابيلې ځانګې لرونکي ښوونيز مرکزونه تاسيس او جوړ شي.

وزارت په پام کې لري ترڅو د سواد زده کړې پروګرامونو ته د ولسواليو او کلو په سطحه زياته پراختيا ورکړي. د پوهنې د قانون په اساس ، د حياتي سواد زده کړه د دولتي او غير دولتي- غير انتفاعي عامه موسساتو بې سواده اجيرانو او کارکونکو لپاره اجباري وي.

د (ښوونه او روزنه د ټولو لپاره)، د موخو سره سم به تر ۱۳۹۴ل کال (۲۰۱۵ز) د هيواد له وګړو د باسواده نفوس کچه ۵۰سلنې ته ورسيږي. نو پدې اساس ، پوهنې وزارت د سواد زده کړې ښوونيز توکي او طريقې د وارسۍ لاندې نيولی او بيا کره کتنه يې کوي ترڅو د سواد زده کړې ښوونيز فرصتونه د سواد زده کړې د زياتو عمر لرونکو زده کونکو د عينې اړتياو په اساس برابر شي او د هغوي د شامليدو د ميزان کچه زياته او د هغوي موثريت ته وده ورکړي.

**د ښووني او روزني کيفيت**

د افغانسان د ښووني او روزنې د نظام موخو ته د لاسرسي او د هيواد د خلکو د ورځنيو ټولنيزو او کلتوري غوښتنو د حل په موخه به د پوهنې وزارت کوښښ وکړي ترڅو په افغانستان کې د پوهنې کيفيت ته پراختيا ورکړي. د پوهنې د ټولو بخشونو د استفادې وړ نصاب بيا کتل کيږي ترڅو په هغو کې د زده کړې محتوا د زده کوونکو د اړتياو سره سمون وخوري. همدارنګه وزارت د ماشومانو د هراړخيزه او مناسبې ښوونې او روزنې د پراخولو سره ، د ښوونې او روزنې کيفيت ته پراختيا او د پوهنې په نظام کې تبعيض له منځه وړي.

اوسمهال (۱۳۸۷ل) شاوخوا ۵۵سلنه د ښوونځيو تعميرونه د ګټې اخيستنې وړ دي او په کال (۱۳۹۳ل) کې به د ۷۵سلنې په شاوخوا کې د ښوونځيو تعميرونه د ګټې وړ وګرځي. همدا راز د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې د لا ښه والي او پرمختګ په موخه نور مسائل لکه: مصؤنيت، روغتيا ساتنه او د زده کوونکو هوساينه د ښوونيزو سټنډرونو او معيارونو سره سم د ښوونځيو د تعميرونو په جوړېدو او طرح کېدو کې په پام کې نيولي څو يو ارام او ډاډمن ښوونيز چاپيريال او فضا رامنځته شي. د اقتصادي مؤثريت په منظور د پوهنې وزارت د بيارغونې پروژې د مصؤنيت او لاسرسي د کيفيت په پام کې نيولو سره، سره طرحه او تطبيقوي، څو وکولای شي د خاصو او ځانګړو غوښتنو لرونکو ماشومانو اسانتياوو ته پکې ځواب وويل شي.

د پوهنې وزارت په مستمره توګه نصاب، درسي کتابونه، د ښوونکي د لارښود کتابونه، د لابراتوارونو لارښود د ځارنې لاندې نيسي. مشترک موضوعات لکه: د سولې، د بشر حقوق، د ماشومانو او ښځو پر وړاندې تاوتريخوالي، د چاپيريال ساتنې، د نشه يي توکو او د ايډز د ناروغۍ د مخنيوي په اړه به هر اړخيزه پوهاوی او ښوونې د درسي کتابونو په پاڼو کې ځای به ځای پر ځای کيږي.

د پوهنې وزارت د ساينس او ټکنالوجۍ زده کړې ته پراختيا ورکوي او ښوونځي به په مجهزو لابراتوارونو سمبالوي، څو د ساينس او رياضياتو زده کړې لا زياته اغيزمنې او عملي او تطبيقي بڼه خپله کړي. وزارت د زده کوونکو د بدني، ټولنيز، عاطفي او اخلاقي پياوړتيا او پرمختيا په منظور د ښوونې وړاندې او سپورتي فعاليتونه به په ښوونيز موسساتو کې ترويجوي.

د پوهنې وزارت ، په پای کې ۶۱ ميليونه د ۱ څخه تر ۱۲ ټولګي درسي کتابونه چاپ کړي او ويش يې روان دی. د لومړنۍ دورې درسي کتابونه چې د نوی ښوونيز نصاب په مطابق تيار شوي ، چاپ او ويشل شوي دي. د پوهنې وزارت په پام کې لري چې د د ثانوي دورې درسي کتابونه هم د نوی تعليمي نصاب په اساس تاليف کړي. د ثانوي دورې نوي کتابونه به په ۸۹-۱۳۸۸ کلونو کې چاپ او توزيع کيږي. د زده کونکو د بيړنيو اړتياو د پوره کولو لپاره، د ثانوي دورې د مخکينيو کلونو درسي کتابونه تصحيح ، چاپ او توزيع شوي دي.

د دار المعلمينونو او د الحاقيه مرکزونو کيفيت به د نړيوالو معيارونو په رڼا کې د نصاب د معياري کولو، د استاذانو د وړتياوو د دوامداره پرمختګ د سيستم په جوړولو، د محصلانو د روزنې او د بشپړو څېړنو او ارزونو په رڼا کې پرمختګ مومي.

د ټولو ښوونکو پيدا ګوژيک او مضموموني وړتياوې او د هيواد د ټولو ښوونځيو د ادارو مؤثريت او اغيزمنتيا به د لنډ مهاله، چټک، د ژمي او دوبي موسمي زده کړو له لارې پرمختګ ومومي.

د ښوونکي د روزنې پرواګرام ، له ښوونځي وړاندې او خاصو زده کړو د ښوونکو لپاره د هيواد په ټولو دارالمعلمينونو کې طرحه، تدوين او په لاره اچول کيږي، همدا شان ښوونکو ته به د هر اړخيزو ښوونو او د ماشومانو د زده کړې او تدريس په اړه لازمي او مناسبې ښوونيزې زده کړې ورکړل شي، څو د ماشومانو په ګډون د ټولو زده کوونکو لپاره ښوونځي او ټولګي د هغوی د ځانګړو غوښتنو او ، مذهبي لړه کيو، توکمي او ژبنې اړتياوو ځواب ويونکي وي.

له ليرې زده کړې ښوونيز کورسونه او پروګرامونه ( د تحريري توکو، سمعي او بصري وسايلو، انټرنټ او نورو په استفادې سره) ) د ښوونکو، د ښوونځيو د چارواکو او د ښوونکي د روزنې د ادارو د محصلانو او استاذانو لپاره ، په ځانګړي توګه په ناامنه او ليرې سيمو کې د اوږدمهاله زده کړو ( د تحصيل لوړتيا) ، منځنې زده کړو او لنډمهاله زده کړو(مسلکي لوړتيا )جوړيږي.

د مسلکي دوامداره سيستم پياوړتيا او د تدريس د کيفيت مرتبطول د تنخواګانو د زياتوالي پر اساس، د وړتياوو د ملي ازموينې د پلي کولو له لارې رامنځته کيږي. ددې سره سره ، د ښوونکو او ښوونيزو

مؤسسو د چارواکو د ټاکل شوي او متغيرو اړتياو سره سم به د هيواد په ټولو سيمو کې لنډ مهالي ښوونيز کورسونه جوړ کړل شي.

د ښوونکي د روزنې له مؤسسو د مسلکي ملاتړ او د تدريس د کيفيت او کچې د ښه کولو او د ښوونيزو پاليلو په موخه د ښوونکي د روزنې ملي انستيټيوټ به د کورنيو او بهرنيو د لوړو زده کړو مؤسسو په مرسته پراختيا مومي. ددې سره په ځنګ کې به وزارت ، د څارنې او ارزونې سيستم په ملي او د ولايتونو په کچه د مسلکي پرمختيا او د زده کړو د څرنګوالي، مؤثريت او اغيزمنه کيدو په موخه جوړوي او د معلوماتو بانک به، چې د هر ښوونکي او کارکونکي د زده کړو او نتائجو د معلوماتو په اړه وي تقويه او نوی کيږي.

په لندن کې د افغانستان د تړون پر اساس، د اساسي زده کړو (منځنې زده کړو) د دورې په پای کې به د پوهنې وزارت د زده کوونکو د زده کړې د پرمختګ ميزان او اندازه په منظمه توګه سرته رسوي.

دغه سيستم به له ۱۳۹۱ل کال څخه کله چې د پوهنې وزارت يوه ملي آزموينه په نهم ټولګي کې په کار اچوي فعاليږي. د ارزونې نتائج به د زدکړې د سطحې او معيار معلومولو او اغيزمنې ګټې اخيستنې په برخه کې مرسته کولای شي، همدا شان به د عمومي او اسلامي زده کړو، د ښوونکي روزنه، تخنيکي او مسلکي زده کړو په لور په هيواد کې د ښوونيزو او تحصيلي مؤسسو د اړتياوو او امکاناتو په پام کې نيولو سره د زده کوونکو په هڅونه او جذب او جلب کې ترې لازمه ګټه اخيستل کيږي.

د پوهنې وزارت په پام کې لري ترڅو د ټولنو او مؤسسو (لکه د ښوونکي د روزنې د عمومي رياست، دار المعلمينونو او ښوونځيو) د ښوونې کيفيت د پلانونو د طرحه کولو، خورولو او د پلانونو د ټوليزه پراختيا د پلي کولو له لارې پراختيا ورکړي.

همدارنګه وزارت، د څارنې او ارزونې يوه پراخه سيستم را منځته کوي ترڅو د ستراتيژيک پلان د ټاکل شوو شاخصونو په اړه د وزارت د پرمختګ څارنه وکړي او د زده کوونکو د ښوونيز پرمختيا او د موسساتو د کړنو لاسته راغلي نتيجې اندازه کړي.

څيړنې د لومړيتوب لرونکو پروګرامونو يو له نه جلا کيدونکو برخو څخه ګڼل کيږي. د وزارت په تشکيلاتو کې يو ځانګړی چوکاټ د ښوونيزو او روزنيزو څيړنو لپاره او د پاليسيو د ارزونې لپاره پياوړی او رامنځته کيږي. له بلې خوا، ددغه څيړنيز مرکز او نورو ملي او بين المللي څيړنيزو مرکزونو ترمنځ د دوامداره ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره به اړيکې رامنځته کيږي.

د څيړنو نتيجې د پاليسيو د ارزونې ، ښوونيزو پروګرامونو ته د لاسرسی او کيفيت د پراختيا او د ښوونې ترټولو غوره طريقې د پلي کولو په منظور د استفادې وړ ګرځي.

**د ښوونې او روزنې مديريت**

د پوهنې وزارت نوی تشکيل د نويو اړتياوو په اساس وارسي شوی دی. ددې سره سره، وزارت هغه طرزالعملونو ته پراختيا ورکړې ده چې ترڅو د کارکونکو ګمارل، د داوطلبانو لپاره د عادلانه او برابر فرصتونو برابرول او د هغوې ګمارل د وړتيا د اصل په اساس وشي. همدارنګه ټول کارکونکي د کلنۍ فعاليتونو د ارزونې سيستم په اساس د ارزونې لاندې نيول کيږي.

د وزارت يو له اصلي پاليسيو څخه د پوهنې د کارکوونکو، ښوونکو او اداري کارکوونکو لپاره په مرکز ، ولايات او ولسواليو کې د وړتيا د لوړتيا د پروګرامونو زياتوالی دی. د پوهنې وزارت به د کارکوونکو د مؤثره او د ګټې وړ لوړتيا د پراختيا لپاره د وړتيا د لوړتيا يو جامع پلان ته پراختيا ورکړي.

د پوهنې وزارت په لومړیتوبونو کې د اداري، مالي، استخدام، پلان جوړونې، څارنې او ارزونې ، راپوررکونې، او تفتیش د سیستمونو اصلاح او پراختیا نغښتل شوې ده. دارنګه اصلاحات د یو شفافه، ګټې وړ، مؤثر، ځواب ورکونکې او د نتیجې-اړوند پوهنې وزارت لپاره ضروري ګڼل کیږي. د پوهنې وزارت د خپل تدریسي او اداري پالیسیو د صحیح او په وخت پلې کیدو د هوساینې لپاره ، د څارنې او ارزونې میکانیزمونو ته پراختیا او لوړتیا وربخښلې ده او د لازیاته موثریت او ګټې اخیستنې لپاره لازم آسانتیاوې برابروي. وزارت به زیار باسي ترڅو لازیات صلاحیتونه په ځانګړې ډول د مالي ، استخدام، تدارکات، پلان جوړونې ، څارنې او ارزونې په چارو کې د غیرمرکزي ، ولایاتو او ولسوالیو په برخو کې تفویض کړي. دغه اختیارات په تدریجي ډول د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ، د ولسوالیو د پوهنې مدیریتونو او ښوونیز موسساتو ته تفویض شوي او په عین حال کې به د مرکز له لورې به څارنه او ارزول کیږي.

د پوهنې وزارت په پام کې لري څو د نړیوالې معلوماتي او اړیکتیایي ټکنالوجۍ په ملتیا د اداري، مالي او اکاډیمیکو سیستمونو د ظرفیت او وړتیا په لوړولو او غښتلي کولو کې پوره او هر اړخیزه ګټه واخلي. د (پوهنې د اداري د معلوماتو سیستم) د بدایني او پراختیا او په همیشنۍ توګه یې د معلوماتو زیاتول او نوي کول، چې د پلان جوړونې او ښه مدیریت په برخه کې د تصمیم نیونې ښه جوګه ده، د وزارت له پالیسو شمیرل کیږي، چې دا سیستم اوسمهال د وزارت په مرکز کې کې فعال او په راتلونکې کې به د ولایتونو او ولسوالیو او ښوونیزو مؤسسو تر بریده رسول کیږي.

د پوهنې وزارت په پام کې لري، چې خپل اداري سیستم د پخوا څخه نور هم اغیزمن، ګټور او ښه ځواب ویونکې کړي یا په بل عبارت د وزارت سیستمونه باید خپل خدمات او طرزالعملونه او اداري طی مراحل په اسانه او ساده توګه برابر کړي. او د مراجعینو د شکایتونو د اوریدو په موخه دې یو کاري سیستم ته پراختیا ورکړي.

د پوهنې وزارت د افغانستان د ښوونې او روزنې د نظام په غښتلي کولو او پرمختګ کې د مدني ټولنې، ملي او نړیوالو بنسټونو د ګډون هر کلی کوي. د ښوونیزو او روزنیزو فعالیتونو په تطبیق او عملي کولو کې د پوهنې وزارت د ملي او نړیوالو مرستندویو په مرستو، ګډون، همغږۍ او څارنه کې د هغې د ښه اغیز او ګټورتیا په موخه مرکزي رول په غاړه لري.

په کال ۱۳۸۷ل کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د بودیجې ۱۳سلنه د پوهنې سکتور تشکیلوله. پوهنه د ټولنې اساسي او کلیدي سکتور دی او باید بودیجوې ونډه یې زیاته شي. د تنخواګانو نه پرته د بودیجې سهم په تدریج سره د راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې د ټولې بودیجې ۳۲ سلنې ته به ورزیاته کړي. د پوهنې وزارت په پام کې لري څو خپل لګښتونه د پراختیایي بیخبیناو له لګښتونو پرته په تدریجي توګه له خپلې عادي بودیجې تمویل کړي. او د نړیوالو د مرستو ډیره برخه د دولت د پراختیایي بودیجې له لارې تنظیم او وکاروي.

د هیواد په ځینو سیمو کې امنیتي ستونځې د ښوونې او روزنې د پرمختیا د مخنیوۍ یو ډیر لامل دی. د پوهنې وزارت ددغه ستونځې د حل لپاره د ټولنې ګډون په ځانګړې توګه د والدین ، علمای کرام او سپینږیري مشران ګډون ته هڅووي او د طبیعي او غیز طبیعي حوادثو د مخنیوۍ لپاره د دولتي او نا دولتي ادارو سره خپل همغږي او همکاري زیاتوي.

د پوهنې وزارت د ولایت ، ولسوالیو او ښوونځیو د ( والدینو ، علمای کرامو او مشرانو) شوراګانې د پریکړې نیونې او د پریکړو پر تطبیق څارنې ته هڅوي.

دغه شوراګانې به د ښوونځیو په ملاتړ او ساتنه کې مهم رول لوبوي او د پوهنې وزارت د فعالیتونو او شفافیت په پرمختیا کې به ګډون کوي.


# دوهم څپرکی :د وضعيت څيړنه

## عمومي زده کړې

### ښوونې او روزنې ته لاسرسي:

د عمومي زده کړو د زده کوونکو شمير په ټول هيواد کې په کال ۱۳۸۱ل کې له ۳,۲ميليونو څخه ۲,۶ ميليونو ته په ۱۳۸۷ل کې رسيدلی، چې دا شاوخوا ۴ميليونه زياتوالی ښايي. اوسمهال ۴ ميليونه هلکان او ۲,۲ ميليونه نجونې په ښوونځيو کې شامل دي . (لومړی شکل وګورئ)

لومړی شکل- د ښځينه او نارينه زده کوونکو شمير له ۱۳۸۱ل څخه تر ۱۳۸۶ل کال




مأخذ: د پوهنې وزارت د ۱۳۸۷ل کال شميرنه

پتيل شوې، چې په کال ۱۳۸۷ل کې د هلکانو او نجونو د شموليت دقيق نسبت به پر اساسي دوره کې په ترتيب ۴۰سلنه او ۶۵سلنه وي. او نا خالصه اټکلي نسبت به يې په ۱۳۸۷ل کې پر اساسي دوره کې په ترتيب ۴۸سلنه او ۷۹سلنه وي. (۱)د شموليت ناخالص ميزانونه په ولايتونو کې يو له بل سره زيات توپير لري . (فوت نوت۱-)

(۱) د شموليت د نسبت د محاسبې په ټاکنه کې د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو له اټکلي نفوس څخه کار اخيستل شوی. د هيواد د وګړو سرشميرنه مخکينۍ ده او د هيواد د ملي سرشميرنې د سازمان اټکل کښته دی په دې برخه کې د ملګرو ملتونو د سرشميرنې له اټکل کار اخيستل شوی، چې د افغانستان نفوس يې په ۱۳۸۷ل کال کې د ۳۳ميليونو شاوخوا ښودلی، دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د سرشميرنې ملي سازمان په ۱۳۸۷ل کال کې د هيواد نفوس شاوخوا ۲۵ميليونه اټکل کړی.

د شموليت د خالص نسبت د محاسبې لپاره د زده کونکو دقيق عمر ته اړتيا ده، خو دا چې اوسمهال د ډيری زده کوونکو د تذکرو د نه لرلو پر اساس د هغوی د عمر دقيق اټکل شونی نه دی، نو د شموليت خالص نسبت په دقيقه توګه د محاسبې او اندازې وړ نه دی، يوازې کولای شو اټکلي يې وشمير و. د ۱۳۸۷ل کال د شميرنې له مخې د زده کوونکو د عمر اندازه د ښوونځيو د مسؤولينو د معلوماتو له مخې اټکلي اخيستل شوې او د وزارت اوسنی اټکل هم د همغو معلوماتو په بنا ولاړ دی.

. فوت نوت(۲)۲-پدی پلان کې عمدتا د ۱۳۸۶ل د شميرنې د ارقامو څخه ګټه اخستل شوې ده ليکن په هغه مواردو کې چې د ۱۳۸۷ل د شميرنې معلومات په لاس کې دي .


د ۱۳۸۶ل کال د شميرنې پر اساس په ابتدائي دوره کې د ناخالص شموليت لوړ نسبت په هرات او ننګرهار کې، په ترتيب سره ۱۳۶سلنه او ۱۳۲سلنه او په ابتدائي دوره کې د ناخالص شموليت ټيټ نسبت په کندهار او هلمند کې، په ترتيب سره ۵۶ سلنه او ۶۰سلنه دي . پدې ولايتونو کې د ټيټ شموليت اصلی لامل نـاامنې بلل کيدای شي . د نجونو د ناخالص شموليت نسبت د نورو ولايتونو په پرتله په بلخ ولايت کې زيات دي.

په لومړنۍ دوره کې د زده کوونکو شمیر د ټولو زده کوونکو ۸۲سلنه جوړوي او د منځنۍ دورې ۱۳سلنه او د عمومي زده کړو د ټولو زده کوونکو ۵سلنه د ثانوي دورې زده کوونکي جوړوي.

د ۱۳۸۶ل کال د شمیرنې معلومات ښيي چې د زده کوونکو زیات شمیر له ۱ټولګي تر ۴م ټولګي پورې زده کوونکي دي او له ۵م ټولګي وروسته ډېر لړوالی ښودل کیږي(۲م شکل وګورئ). ښايي دا پروګرام دوام وکړي او داسې انګیرنه کیږي چې ښايي په ۱۳۸۹ل کال کې د زده کوونکو شمیر تر اووم ټولګي لوړ وي، چې بیا بیرته به په اتم ټولګي کې کښته رالویږي، او په څو راتلونکو کلونو کې به د لومړنۍ دورې زده کوونکي په تدریج سره منځنۍ او ثانوي دورې ته ځي، چې احتمالا دغه د لومړنۍ دورې څخه د زده کوونکو ننوتل منځنۍ او ثانوي دورې ته د پوهنې وزارت به له یوې غټې ستونځې سره مخامخوي.او وزارت باید له اساسي دورې څخه وروسته پروګرامونه پراخه کړي.

۲


م شکل- په ۱۳۸۶ل کال کې د ټولګي پر اساس د شمولیت توازن




مأخذ: د پوهنې وزارت د 1386ل کال شمیرنه

په کال۱۳۸۷ل کې د ښوونکو شمیر شاوخوا ۱۵۸زرو ته رسیدو، چې ۲۹ سلنه یې ښځینه ښوونکي جوړوله. ۳مه شمیره جدول د ۱۳۸۱ل – ۱۳۸۷ل کلونو د ښځینه او نارینه ښوونکو شمیر په ګوته کوي. ددې زیاتوالي سره سره ، د پوهنې وزارت د وړاندلیدنې پر اساس د دریمې زریزې پراختیایي موخو ته د رسیدو او د ټولو ولایتونو تر منځ د انډول د ساتلو په موخه باید ددغه ۵ کلن پلان په دوره کې هر کال ۲۳،۸۰۰ نوي ښوونکي وګومارل شي، خو د مالیې وزارت هر کال ۱۲۵۰۰بستونه د پوهنې وزارت ته ځانګړي کوي، چې همدا بستونه بیا د ښوونکو په ګډون د نورو اداري کارمندانو لپاره هم ځانګړي شوي وي.

۴م شکل- د نارينه او ښځينه ښوونکو شمير د ۱۳۸۱ل څخه تر ۱۳۸۷ل پورې




مأخذ: د پوهنې وزارت د ۱۳۸۷ل کال شميرنه

د ۱۳۸۶ل او ۱۳۸۷ل کلونو په اوږدو کې د هيواد په کچه ۲۶۰۰نوي ښوونځي جوړ شوي دي، چې په نتيجه کې د عمومي زده کړو د ښوونځيو شمير په ۱۳۸۱ل کال کې له ۶۰۳۹ څخه ۱۰۹۹۸ ښوونځيو ته په ۱۳۸۷ل کال کې رسيدلي دي (لومړی شميرې جدول ته وګورئ)

۱ جدول- په ۱۳۸۱ل څخه تر ۱۳۸۷ل کلونو پورې د ښوونځيو شمير

| کال | 1381 | 1382 | 1383 | 1384 | 1385 | 1386 | 1387 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ښوونځيو شمير | 6039 | 7137 | 8254 | 8398 | 8398 | 9062 | 10998 |

مأخذ: د پوهنې وزارت د 138۷ل کال شميرنه

د عمومي زده کړو د ۱۰۹۹۸ښوونځيو څخه ۶۰۷۱ لومړني، ۳۰۶۱ منځنۍ او ۱۸۶۶ يې ثانوي ښوونځي او ليسې دي. د پوهنې وزارت د شميرنې پر اساس په ۱۳۸۷ل کال کې شاوخوا ۱۵سلنه د نجونو ښوونځي او ۳۵سلنه د هلکانو ښوونځي او ۵۰سلنه ګډ او مختلط ښوونځي دي. په ډيرئ ګډو ښوونځيو کې نجونې او هلکان په ځانګړي وختونو کې زده کړه کوي. له ۴۱۲ ولسواليو څخه اوسمهال په شاوخوا ۱۵۱ولسواليو کې د نجونو منځنۍ ښوونځي شته او په ۱۵۱نورو ولسواليو کې د نجونو منځنۍ ښوونځي نشته.

همدا راز د پوهنې وزارت د ۱۳۸۶ل د شميرنې پر اساس شاوخوا ۸۳سلنه ښوونځي په کليوالي سيمو او ۱۷سلنه په ښاري سيمو کې دي. د يادولو وړ ده چې کليوالي ښوونځي د ښاري ښوونځيو په پرتله لږ شمير زده کوونکي لري.

د ۱۳۸۸ل کال د مرکزي سرشميرنې د اداري د راپور پر اساس شاوخوا ۷۷سلنه د هيواد نفوس په کليوالي سيمو کې ميشت دي، خو په دې سيمو کې يوازې ۶۵سلنه د ښوونځيوو زده کوونکي ژوند کوي. په منځني دوره کې دغه تفاوت ډېر زيات دی او پدغه سيموکې يوازې ۳۹سلنه زده کوونکي په منځنۍ ښوونځي کې شامل دي.

همدا ډول د نجونوشامليدو ميزان په کليوالي سيمو کې د ښاري سيمو په پرتله کمې دي. د جنسيت د برابرۍ شاخص په کليوالو سيمو کې د ښوونځي په لومړنۍ دوره کې( ۰،۵۳ ) او په ښاري سيمو کې په لومړني دوره کې (۰،۷۱) دي (۳م فوټ نوټ) دغه توپير په منځنۍ او ثانوي دورو تر دې هم زيات دی. (۲م شميره جدول ته وګورئ).

۱,۰ د جنسيتي برابرۍ شاخص دا ښايي چې هلکان او نجونې په مساوي نسبت د ښوونځي په يوه معينه سطحه شامل شوي دي. د ۱،۰۰ څخه ښکته شاخص ښايي چې د نجونو شميره په ښوونځي کې د هلکانو څخه لږ دي

۲م جدول- کليوالي او ښاري سيمو د نسبت پرتله، 1386ل کال

| ښوونيزه دوره | ښاري | کليوالي | مجموع |
|---|---|---|---|
| ابتدائي | 0.71 | 0.53 | 0.59 |
| منځنۍ | 0.53 | 0.25 | 0.38 |
| ثانوي | 0.47 | 0.14 | 0.33 |

مأخذ: د پوهني وزارت د 1386ل کال شميرنه

د هيواد په ځينو سيمو کې د مناسب امنيت نشتوالی او په ښوونځيو بريدونه په ښوونځيو کې د ماشومانو د شامليدو د مخنيوي لامل ګرځي، د ۱۳۸۶ل او ۱۳۸۷ل کلونو په اوږدو کې د امنيتي ستونزو له امله له ۴۸۱زيات ښوونځي تړل شوي، چي په نتيجه کې شاوخوا ۳۳۶ زره زده کوونکي له ښوونې او روزنې بې برخې شوي دي. د يادوني وړ دی چي د ۲۲۰ ښوونځيو په شاوخوا د خلکو او د پوهني وزارت په هلو ځلو باندې له سره پرانستل شوي دي.


په ۱۳۸۷ل کال کې۳۳۵۵۴۰ زده کوونکي په ۶۰۱۵ درسي ټولګيو کې د هيواد په لرې پرتو سيمو کې په محلي ښوونځيو (الحاقيه ټولګيو) کې تر ښوونې لاندې وې، چې دغه سيمه ييزې ښوونځي د غير دولتي موسساتو لخوا په لاره اچول شوي دي. همدارنګه ۶۹۴ د ښوونکي بستونه په همدې محلي ښوونځيو کې د الحاقيه شعبو په نامه ورکړل شوي دي.

**د نجونو ښوونه او روزنه:**

ښوونې او روزنې ته د نجونو د هڅونې په اړه د عامه پوهاوي پروسه د سيمينارونو، د پوسترونو د چاپ او د رسنيو په ملتيا د تبليغ له لارې په برياليتوګه دوام لري . همدا راز يوه اړيکتيايي ستراتيژي د نجونو د ښوونې او روزنې په اړه د افغانستان د نجونو د ښوونې او روزنې د طرحې (AGEI) په چوکاټ کې د پراختيا په حال کې ده.

د پوهني وزارت د شميرنې په اساس د ښځينه زده کوونکو شمير په کال ۱۳۸۱ل کې له ۶۷۴زرو تنو څخه ۲،۲ميليونو ته په کال ۱۳۸۷ل کې رسيدلی (۴م شکل وګورئ) ولې تر اوسه ۶۰٪ ښځينه زده کونکي په ښوونځيو کې شاملې نه دي.

۴م شکل- په ښوونځيو کې د شامل شوي ښځينه زده کوونکو شمير له 1381ل څخه تر 1387ل





مأخذ: د پوهني وزارت د ۱۳۸۷ل کال شميرنه

په هر ولايت کې د زده کوونکو جنسيتي نسبت توپير لري. د هرات او بدخشان په ولايتونو کې د نجونو د ښوونې او روزنې وضعيت د نورو ولايتونو په پرتله ښه دي (د هرو ۱۰ هلکانو پر وړاندي شاوخوا ۸نجوني دي) او د زابل، ارزګان او هلمند په ولايتونو کې دغه وضعيت د نورو ولايتونو په پرتله ډېر

خراب دي (د هرو ۱۰ هلکانو پر وړاندې ۱نجلۍ ده). لکه څنګه چې په ۵مه شميره جدول کې ليدل کيږي په ناامنه ولايتونو کې د نجونو د ښوونې او روزنې وضعيت ډېر خراب دی.

۵م شکل- د ولايتونو پر اساس د زده کوونکو جنسيتي نسبت




مأخذ: د پوهنې وزارت د 138۷ل کال شمېرنه

په ښوونځيو کې د ښځينه ښوونکو ټيټه سلنه هم د ښځينه زده کوونکو د جذب د کموالي له لاملونو څخه شميرل کيږي. د ۱۳۸۷ل کال د پوهنې وزارت د شميرنې په اساس ښځينه ښوونکې د ټولو ښوونکو پر وړاندې يوازې ۲۹سلنه جوړوي. (۴مه شميره جدول وګورئ). په داسې حال کې چې دغه فيصدي په هر ولايت کې توپير لري. د پکتيکا ، ارزګان او زابل ولايتونو کې د ټولو ښوونکو يواځې ۳٪ ښځينه ښوونکې تشکيلوي. حال دا چې د کابل او بلخ په ولايتونو کې په ترتيب سره شاوخوا ۶۰٪ او ۴۹٪ ته رسيږي.

که څه هم په تيرو کلونو کې د ښځينه ښوونکو شمير زيات شوي خو په دی وروستيو کلونو کې د ښځينه ښوونکو د شمير پراختيا د ستراتيژيک پلان د ټاکلو موخو په اساس د منولو او قناعت وړ نه ده.

د ښځينه ښوونکو د کمښت سره سره په ځينې سيمو کې نا امنی ، د نجونو پر وړاندې بيلابيل محلي او سيمه ايز منفي دودونه او کلتور، د هيواد په ځينو سيمو کې د امنيت نشتوالی او د نجونو د هستوګنځيو په خوا کې د ښځينه ښوونځيو نشتوالی د هغه لاملونو له جملې څخه دي چې په ښوونځيو کې د نجونو د شامليدو د مخنيوی سبب ګرځي. د نجونو ښوونې او روزنې ته د هڅونې د ستراتيژيو څخه يو هم د هغوي لپاره د غذايي توکو مرستې دي، نړيوال خوراکي سازمان ۲۲۵ زره نجونو ته د (د کورته د وړلو غذا) مرستې کړي دي. او د ښوونکې د روزنې پروګرام د داخل د خدمت له ۴۰ زرو شاملو نجونو سره يې د غذايي توکو مرستې کړي دي.

**ځانګړې /هر اړخيزه زده کړې:**

په ټول هيواد کې د ړندو ماشومانو لپاره يوازې يو ښوونځی په کابل کې موجود دی، دا ښوونځی د پوهنې وزارت لخوا اداره کيږي او پکې ۱۵۰څخه زيات ړانده ماشومان شامل دي. څلور ځانګړي ښوونځي د کڼو لپاره (په هرات کې دوه ښوونځي، په کابل او جلال آباد کې يو، يو ښوونځي) موجود دي، چې په ټوليز ډول يې د زده کوونکو شمير ۹۰۰تنو رسيږي.

د پوهنې وزارت د ملګري ملتونو او نورو نړيوالو سازمانونو په همکارۍ سره په کابل کې۲۹
د هراړخيزې زده کړې امتحاني ښوونځي جوړ کړي، چې په دغو ښوونځيو کې معلول ماشومان او
نور د ځانګړو اړتياوو لرونکي ماشومان زده کړه کوي.د دا ډول ښوونځيو لړۍ به په تدريج سره په
ټول هيواد کې وغځول شي.

د دې ډول ښوونځيو له جوړولو او تاسيس اوږدمهاله موخه دا ده چې د هيواد په ټولو ښوونځيو کې د هر ډول اړتيا لرونکو ماشومانو غوښتنو ته په مختلفو طريقو ځواب ورېل شي او د هيواد په کچه ټولو ماشومانو ته د درس ويلو زمينه برابره شي.

همدارنګه په افغانستان کې د مدغمو ښوونځيو زيات شمير شته دي چې په هغوي کې زده کوونکي د ځانګړو اړتياوو په لرلو سره په ټولګيو او ځانګړو واحدونو کې د عادي ښوونځيو په داخل کې په زده کړه بوخت دي. د پوهنې وزارت د( هر اړخيزو زده کړو د هماهنګۍ د ګروپ) په همکارۍ سره د هر اړخيزو زده کړو د پرمختګ لپاره يوه طرحه تياره کړې ده. مناسبه او هراړخيزه زده کړې د ماشومانو د اړتياو د لپاره د( زده کړه د ټولو لپاره) د اهدافو د لاسته راوړنې يو ضرورت دی. هر اړخيزه زده کړې د ذکر شوي طرحې مطابق چې د ۱۳۸۸ ل کال د هراړخيزه زده کړو په تحليل او اړتيامعلومولو کې راغلی دی اجرا کيږي.

د فرانسي د معيوبينو او معلولينو د نړيوال سازمان (Handicap International ,France) د اټکل پر اساس په (۲۰۰۵ز کال) کې ۷۷سلنه معيوب او معلول ماشومان ښوونې او رزونې ته لاسرسی نه لري، حال دا چې ۸۵سلنه معلولې او معيوبې نجونې ښوونځي ته لاسرسی نه لري. خو د پوهنې وزارت د هڅو پر اساس اوسمهال ۲۶۰۰ معلول او معيوب ماشومان (په عمدتا کانه او ړانده) په ټول هيواد کې د هر اړخيزې زده کړې په ښوونځيو کې شامل شوي دي.

د روزل شوو ښوونکو او ښوونيزو توکو لړوالي د ځانګړي او هر اړخيزه ښوونې او روزنې د زده کړو په برخه کې د هر اړخيزه زده کړو د پراختيا تر ټولو ستر خنډ دی.

د خطرونو او پيښو د ملي ارزونې د (۲۰۰۵ز کال) د راپور پر اساس د کوچيانو د ماشومانو او نجونو کچه په ښوونځيو کې ډېره ټيټه ده او په ترتيب سره ۱۱سلنه او ۶سلنه ده. په ښوونځيو کې د دې ماشومانو د شامليدو د کچې د لوړوالي په موخه د پوهنې وزارت له دريو پاليسيو څخه حمايت کوي، لومړی: په رسمي ښوونځيو کې د ښوونځي د عمر لرونکو کوچي ماشومانو داخله، دوهم: د کوچيانو لپاره ځانګړي او ثابت ښوونځي جوړول او دريم: ګرځنده ښوونځي جوړول، چې په دې لړ کې تر اوسه د کوچيانو د ماشومانو لپاره په ۲۸ولايتونو کې د ۶۸ښوونځيو د تاسيس اجازه ورکړل شوې ده.

د ناامنه سيمو او کوچيانو د زده کوونکو لپاره تر اوسه اته ليليې جوړې شوې او د ۲۳۲۰شاوخوا زده کوونکي ترې ګټه اخلي.

د چټکو زده کړو د پروګرام لړۍ له ۵۱زرو نه زيات له ښوونځي پاتې زده کوونکو ته د نادولتي مؤسسو په مرسته د پوهنې وزارت تر نظارت لاندې پر مخ ځي. دغه زده کونکي چې عموما د شامليدو په وخت کې يې عمرونه د ۱۳ څخه لوړ وي د معمولې اندازې څخه په لنده موده کې خپلې اساسي زده کړې سرته رسوي.

لا تر اوسه هم د معلولو او معيوبو، ذهني کمزوتيا، کوچي او د نورو ځانګړو اړتياوو لرونکو زده کوونکو د معلوماتو دقيقه شميره په لاس کې نشته. همدا لامل دی چې د پوهنې وزارت د دې اړتيا د حل په موخه نه شي کولای ددغه ډول ماشومانو لپاره يو منظم پلان ولري، خو د۲۰۰۸ز کال په نومبر کې د ښوونې او رزونې نړيوال له کنفرانس وروسته د پوهنې وزارت ژمنه کړيده، چې ټولو ماشومانو ته به مناسب او هر اړخيز ښوونيز چاپيريال چمتو کړي.

د پوهنې وزارت په خپل نوي پلان يا نقشه کې ځانګړو زده کړو ته د رسيدو لارې لپاره د (د هر اړخيزې پوهنې او روزنې د همغږۍ کاري ګروپ يا IECWG ) په همکارۍ سره جوړه کړې ده. د

ماشومانو مناسبه او هر اړخيزه پوهنه او روزنه د ( ښوونه او روزنه د ټولو لپاره) د اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د ښو ګامونو څخه شميرل کيږي. ددې په اساس ، هر اړخيزه ښوونه او روزنه ددې پلان او نقشې په مطابقت سره ، لکه څنګه چې د ( د ضرورتونو د ارزونو او د هراړخيزه ښوونې او روزنې د حق –NRAAIE ) د ۱۳۸۸ل کال لپاره طرحه شوی او پلې کيږي. د پراختيايي بسپنه ورکونکو/ همکارانو هم اوسمهال ددغه پلان څخه ملاتړ کړی دی.

د پوهنې وزارت په خپل نوي تشکيل کې د ځانګړو زده کړو رياست او ځانګړي ښوونځي په پام کې نيولی دی. همدا راز د ځانګړو او خاصو اړتيا لرونکو زده کوونکو د ښوونيزو توکو د پراختيا په موخه د تعليمي نصاب د پراختيا په رياست کې د ځانګړو زده کړو د پراختيا امريت هم په پام کې نيول شوی.

## له پولو اخوا او خصوصي ښوونځي:

د خصوصي ښوونځيو مؤسسو مقرره چمتو او منل شوې، چې تر اوسه ۱۵۹ د عمومي زده کړو خصوصي ښوونځي جوړ اوپه کار اچول شوي دي، چې د دې ښوونځيو په فعال کيدو سره د ۳۷۱۸۰ تنو زده کوونکو ته د ښوونې او روزنې زمينه برابره شوې ده. همدا راز د خصوصي ښوونځيو د جوړولو او څارنې په موخه له پولو اخوا او د خصوصي ښوونځيو امريت جوړ شوی دی.

تر اوسه له پولې اخوا ۱۵۳ښوونځي په ايران او ۳۳۸ښوونځي په پاکستان کې ثبت او راجستر شوي، چې د ۱۳۱۲۴۰ زده کوونکي په دغو ښوونځيو کې د ښوونې او روزنې لاندې دي.

## له لرې زده کړې:

ښوونيز او روزنيز راديو تلويزون د عامه پوهاوي د پروګرامونو سربيره د زده کوونکو، ښوونکو او سواد زده کوونکو لوپانو لپاره ښوونيز پروګرامونه هم لري. د ښوونيز او روزنيز تلويزون ځينې پروګرامونه عبارت دي له : تدبير منزل، د ښوونځي زنګ، زده کړو چې ورزده کړو، د پوهنې غږ. ښوونيز او روزنيز تلويزون يوازې د کابل په ښار او ولايت کې د ۶ساعتونو لپاره خپرونې لري، په داسې حال کې چې ښوونيزه او رزونيزه راديو ۲۴ساعته ښوونيز او روزنيز پروګرامونه خپروي.


## له ښوونځي مخکې زده کړې :

د پوهنې وزارت په نوي جوړښت کې، د ښوونځي مخکې زده کړې د روزنيز پراختيايي پروګرامونو لپاره د ښوونځي مخکې زده کړې د ښوونيز نصاب د پراختيا آمريت ورزيات شوی دی.

## کيفيت ( څرنګوالی) :

د ۱۳۸۶ل کال د شميرنې پر اساس د ټولو زده کوونکو نسبت د ښوونکو پر وړاندې په ملي کچه ۴۰دي، چې دا نسبت د پوهنې وزارت له معياري نسبت سره نږدې دی. د يادولو وړ ده چې د ۱۳۸۶ل کال شميرنې پر اساس د ۴۶سلنې شاوخوا د ښوونځي وړ ماشومان ، له ښوونځي څخه بهر وي او د دې ماشومانو د جذب په صورت کې د زده کوونکو نسبت له ښوونکو لوړيږي. د ولايتونو په کچه د زده کوونکو نسبت د ښوونکي په پرتله ډير توپير لري، او په ځينو ولايتونو کې لکه هلمند، ننګرهار او بادغيس کې بيا د زده کوونکي نسبت ښوونکي ته ډېر لوړ او په ترتيب سره ۷۰ او ۶۰ او ۵۶ دي (۶مه شميره شکل وګورئ) په تيرو کلونو کې د نا انډوله بستونو وېش ، امنيتي ستونزې اوليرو سيمو ته د کار لپاره د ښوونکو زړه نا زړه توب د دې ناانډولی اصلي لاملونه دي.

۶م شکل – د ولايتونو په ترتيب د زده کوونکي او ښوونکي نسبت، 1386ل کال




مأخذ: د پوهنې وزارت د 1386ل کال شميرنه

اوسمهال د زده کړې د پرېښودلو او د ټولګي د تکرار ميزان ډېر لوړ دی، اټکل کيږي چې د افغانستان په ښوونځيو کې په منځنی توګه د زده کړې د پرېښودلو ميزان ۶سلنې او د تکرار ميزان په منځنی توګه ۱۹سلنې ته رسيږي. د پوهنې وزارت پاليسي دا ده چې هميشني ناسوب زده کوونکي (محرومين) تر دريو کلونو پورې د ښوونځيو د سوبتيا په دفترونوکې وساتل شي او دا زده کوونکي د هغو زده کوونکو په جدول کې راځي چې هماغه ټولګی بيا تکراروي، چې په همدې دليل د تکرار ميزان لوړ وي. په اصل کې د زده کړې د پرېښودلو سلنه له ۶ زياته ده ځکه ډيری هغه کسان چې نوی يې ښوونځی پرېښی وي لا تراوسه د ښوونځي د سوبتيا په کتاب کې د زده کونکي په توګه پاتې دي.

په افغانستان کې د زده کړې پرېښودلو بيلابيل لاملونه دي، چې له هغې څخه کولای شو د اقتصادي ستونزو، د ښوونځيو ټيټ کيفيت، امنيتي ستونزو او د محلي او کليوالي رواجونه د ستونزو په توګه ياد کړو.

**د زده کوونکو لپاره خدمتونه:**

زده کوونکو ته د خدمتونو د وړاندي کولو په موخه، پر ټولو زده کوونکو قرطاسيه وېشل شوي دي، همدا راز د روغتيايي خدمتونو په موخه په ۸۰ښوونځيو کې روغتيايي ځانګې پرانيستل شوي دي او په ۵۴۰ښوونځيو کې د لومړنيو مرستو خدمتونه فعال دي او د دې ښوونځيو ښوونکي د لومړنيو مرستو د وړاندي کولو په برخه کې روزل شوي دي. همدا شان يو ګرځند پولي کلينيک، چې د غور، ستوني، پزې، غاښونو او سترګو ځانګې لري په مرکز کې فعاله دي او يو ډاکټر او يو مجهز موټر د روغتيايي سامانونو په لرلو سره تل د کابل د ښار او ولايت لپاره د تيارسی په حال کې دی، سربيره پر دې په هر ښوونځي کې دري کسان د لومړنيو مرستو د تر سره کولو په موخه روزل شوي دي.

د ښوونځيو په نوي تشکيل کې د لارښود ښوونکي بست زيات شوی دی، او د دې لارښود ښوونکي دنده دا ده چې زده کوونکو ته د هغوی د چار چلند، اخلاقو او زده کړو په اړه سلا مشورې او لارښوونې وکړي. همدا راز وزارت ددې ښوونکو لپاره د پاليسی چوکاټ او د سلا مشورو او لارښود ښوونيزې توکي ته پراختيا ورکړې ده.

**ښوونيزه ځارنه :**

وزارت د ولسواليو په کچه ۲۳۴۳تنه د څارنې او نظارت په موخه ګمارلي او د څارنې غړي په ټوليز ډول تر ۳۶۰۰تنو رسيدلی دی. د ښوونيزې څارنې کاري سيستم او د اصلاحي نظرونو د راپور ورکونې او ټولونې منظم سيستم وجود نه لري. د څارنې غړي د څارنې په وخت کې د ښوونځيو په اداري چارو، په ځانګړې توګه په فورمو، د ښوونځيو په اداري کتابونو له حده زيات ټينګار کوي، د ولسواليو د مديريتونو، د ولايتونو د رياستونو او د مرکز د رياستونو د څارنې او نظارت د غړو دندې واضح نه دي او ټول يو ډول کار تر سره کوي. د څارنې د غړو د راپورونو دقيقه څېړنه او مطالعه نه تر سره کېږي. د څارنې غړي په ځانګړې توګه په کليوالو سيمو کې ترانسپورتي خدمتونو ته لاسرسي نه لري. همدا راز په عمومي ډول د څارنې غړي د ښوونکو د مسلکي لارښوونې او څارنې وړوالی د ښوونې د طريقې او نورو ښوونيزو او روزنيزو مسايلوپه اړه نه لري. د عمومي زده کړو څخه د څارنې سيستم د ښوونکي د ښوونې او روزنې له نصاب سره له همغږۍ او همکارۍ پرته عمل کوي او د څارنې نتائج د ښوونکي د ښوونې او رزونې له نصاب سره په هيڅ ډول نه دي يو ځای شوي.

**د همغږۍ او مديريت:**

د پوهنې وزارت په پام کې لري چې په ټولو ښوونځيو کې د ښوونځيو شوراګانې جوړې کړي . د ۱۳۸۷ل کال تر پايه له ۸۰۰۰ زياتو ښوونځيو کې ۸۰۰۰ شوراګانې جوړې شوې دي، چې له روزنې وروسته ، د ېيار رغونې او د ښوونځي د کيفيت د پراختيا پلان يې عملا پلي کړي دي. او تر اوسه د ښوونځيو دغو شوراګانو تر ۵,۱۱ ميليونه ډالر تر لاسه کړي، چې د ښوونځيو د ودانيو په پراختيا، د ميزونو او څوکيو د برابرولو، لابراتوارونو، کمپيوټرونو، د ښوونکو د روزنې او د نورو ښوونيزو تجهيزاتو په برابرولو کې يې لګولي دي. د ياده ولو وړ ده چې لا تر اوسه هم د ښوونځيو ډېرۍ شوراګانې روزنيزو پروګرامونو ته اړتيا لري. د ولايتونو د مستوفيتونو له لارې د پيسو سست ليږد، د ښوونځيو د شوراګانو د مرستې په توزيع کې د ستونزو لامل ګرځيدلی دی.

همدا راز له ولايتي شوراګانو سره د مرستو په لړ کې د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې ته د عامو خلکو د هڅونې په برخه په هر ولايت کې يو عالم ګومارلی ترڅو خلکو ته د اسلام د مبارک دين د لارښوونو په رڼا کې د ښوونځيو د خونديتوب او ساتنې او د ښوونې او روزنې پر لور د هڅونې لړۍ پر مخ بوځي. د ښوونځيو مشورتي او حمايتی شوراګانو په ډيرو سيمو کې د ښوونځيو په ساتنه او د مسائلو په درک او کابو کې مهم رول لوبولی او د امنيتي پيښنو کچه يې را ټيټه کړې ده.

په نوي تشکيل کې د وزارت په مرکز کې يو رياست او په ولايتونو کې د ساتنې او مصؤنيت مديريتونه جوړ شوي، چې د ښوونځيو، زده کوونکو او د پوهنې وزارت د منسوبينو مصؤنيت او ساتنه تامين کړي. کورنې او بهرنې هغه مسائل چې په ساتنه او مصؤنيت کې رول لري وڅيړي. همدا راز په نوي تشکيل کې په هر ولايت کې د امنيتي چارو يو همغږی کوونکی د پوهنې په رياست کې ټاکل شوی دی، دغه امنيتي همغږي کوونکي د امنيتي پيښنو د څيړنې او راپور ورکونې او ښوونکو او سر ښوونکو ته په امنيتي چارو کې د ښوونې مسؤل دي. دا ستراتيژي نه يوازې امنيتي مسائلو ته ځانګړی شوی بلکې د طبيعي او عمومي پيښنو لکه د روغتيا او د پاکې او صحي اوبو او داسې نورو مسائلو ته هم پکې اشاره شوی ده.

## اسلامي زده کړی:

**اسلامي زده کړو ته لاسرسی:**

تر اوسه ۴۱دارالعلومونه (دوه ښځينه)، ۳۶۹مدرسې، ۸۴دارالحفاظونه او ۱۷الحاقيه تاسيس شوي دي، چې په نتيجه کې د اسلامي زده کړو د مؤسسو عمومي شمير ۵۱۱ ته رسيږي. اوسمهال په هر ولايت کې لږ تر لږه يو دارالعلوم شته دی، خو په کابل، پروان، پنجشير او بدخشان کې له يوه زيات

دارالعلومونه  شته دي. اوسمهال د نجونو لپاره دوه دارالعلومونه شته، چې يو يې په کابل او بل يې په پروان کې دی. سربېره پر دې په هره ولسوالۍ کې يوه مدرسه شته. همدا راز په کابل، هرات، بلخ، پنجشير او بدخشان کې ۱۰خصوصي مدرسو د فعاليت اجازه تر لاسه کړي او له وزارت سره ثبت دي.

اوسمهال يو زيات شمير محلي ديني مدرسي شته  چې پکې د قرآن کريم زده کړې او ديني ضروري مسئلو ښوونه په رواجي شکل تر سره کيږي، چې دا مدرسي اوږدې سابقي لري.  دا ډول ښوونه په جوماتونو کې د ملا امامانو په واسطه تر سره کيږي. دا مدرسي چې د رسمي مدرسو له نصاب سره سمي وي، د خپل غوښتنليک پر بنسټ کولای شي د رسمي فعاليت جواز د خصوصي مدرسي په توګه د پوهني له وزارت څخه تر لاسه کړي.

په ۱۳۸۸ل کال کې د پوهني وزارت او د عربي هيواد مصر د الازهر پوهنتون تر منځ د شوي تړون پر بنسټ د الازهر انستيټيوټ دکابل په ښار کې جوړ شوی دی، چې پکې د تدريس په موخه ۴۵تنه مصري استاذان د نوموړي پوهنتون په مرسته هيواد ته راغلي. په دې انستيټيوټ کې اوسمهال ۲۴۰تنه زده کوونکي په اتو ټولګيو کې زده کړې تر سره کوي.

د اسلامي زده کړو (مدرسو او دار العلومونو) د زده کوونکو شمير په کال ۱۳۸۵ل کې له شاوخوا ۵۸زره زده کوونکو څخه څه د پاڅه ۱۰۶زرو ته په کال ۱۳۸۷ل کې رسيدلی دی، چې ۵سلنه يې نجوني دي. د دارالعلومونو (۱۳م او ۱۴م ټولګيو) د زده کوونکو شمير په کال ۱۳۸۷ل کې ۱۷۹۱تنو ته رسيدلی دی، چې نږدې ۶سلنه يې نجوني دي. (۳م شميره جدول ته وګورئ)

۳م جدول- د اسلامي زده کړو د مؤسسو، زده کوونکو او  ښوونکو شمير


| د اسلامي زده کړو د مؤسسو شمير | | | | | د زده کوونکو شمير | | | د ښوونکو شمير | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مدرسي | دارالحفاظ | دارالعلوم | الحاقيه | مجموع | نارينه | ښځينه | مجموع | نارينه | ښځينه | مجموع |
| 369 | 84 | 41 | 17 | 511 | 100857 | 5299 | 106156 | 4092 | 52 | 4144 |

مأخذ: د ۱۳۸۷ل کال د پوهني وزارت شميرنه

په اسلامي زده کړو کې د ښځينه زده کوونکو شمير ډير ټيټ دی، چې شاوخوا ۵سلنه دی. دا کار بيلابيل لاملونه لري، لکه د نجونو د ښووني او روزني په اړه د کورنيو مينه نه درلودل او همدا راز په دارالعلومونو کې د ښځينه ښوونکو د شمير ټيټوالی، چې اوسمهال په شته مدرسو دارالعلومونو کې د اسلامي زده کړو له استاذانو څخه يوازې ۱سلنه ښځينه ښوونکي دي.

له ۱۳۸۵ل کال څخه تر ۱۳۸۷ل کال پورې له دوه زرو زيات نوي ښوونکي ګمارل شوي دي او د اسلامي زده کړو د ښوونکو ټوليز شمير ۴۱۴۴تنو ته (چې يوازې ۵۲يې ښځينه دي) رسيږي، چې يوازې د مدرسو او دارالعلومونو لپاره د مسلکي استاذانو (د ۱۴م فارغين او يا له هغه څخه لوړ) شمير لږ دی. لکه څنګه چې لاندينی  ۷ م ګراف ښايي، په ۱۳۸۷ل کال کې يوازې ۲۲سلنه ښوونکي د ۱۴م ټولګي فارغين او شاوخوا ۶۸سلنه يې د ۱۲م ټولګي فارغين دي. د شرايط وړ ښوونکو د ساتني او جذب په منظور ۷۵۰ تنه د ليسانس د درجې لرونکي ښوونکي او يا د ۱۴ ټولګي فارغ التحصيل اضافي معاش لاسته راوړي.

۷م شکل- د ښوونکو تحصيلي وضعيت




مأخذ: د ۱۳۸۷ل کال د پوهني وزارت شمیرنه

**د تعلیمي نصاب پراختیا او روزنیز توکي:**
اوسمهال په دیني مدرسو کې هغه کتابونه چې د دیني علماوو لخوا پخوا تالیف شوي وو لوستل کیږي. دا کتابونه درسي کتابونه نه دي او د یوه منظم نصاب پر بنا نه دي برابر شوي. دا کتابونه له آزاد بازار څخه پیرودل شوي او پر مدرسو وېشل شوي دي.

د اسلامي زده کړو د ښوونیزنصاب او روزنیز توکو پراختیا د ښوونیز نصاب د پراختیا د فرعي پروګرام په غاړه دی چې دا کار د اسلامي زده کړو د پروګرام په همغږئ سره کیږي. په ۱۳۸۶ل کال کې د نصاب او د دیني مدرسو له ۷م څخه تر ۱۴م ټولګیو پورې د درسي مفرداتو چوکاټ د هیواد د دوارو رسمي مذهبونو پر بنسټ د هیواد د دیني علومو د متخصصینو په مرسته د یوې ملي مشورتي پروسې له لارې جوړ شو. په نوي نصاب کې په دیني علومو سربیره، ریاضي، ساینس، خارجي ژبې او د کمپیوټر زده کړه هم شامله ده.

له ۷م څخه تر ۱۴م ټولګي پورې د کتابونو تالیف، چې له ۲۰۰څخه زیات دي په عربي او ملي ژبو د اسلامي علومو د ۶۵متخصصینو لخوا دوام لري او شاوخوا ۷۵سلنه یې پر مخ تللي، چې څه برخه به یې په ۱۳۸۸ل کال کې چاپ ته چمتو شي. د اسلامي زده کړو متخصصین د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې په کار بوخت دي، څو د هغو متخصصینو په مرسته چې د عمومي زده کړو د ښوونځیو د درسي کتابونو د تالیف په برخه کې کار کوي، د اسلامي زده کړو درسي کتابونه تالیف کړي.

د اسلامي زده کړو د درسي کتابونو د تالیف د متخصصینو کموالی، د نصاب د پراختیا د متخصصینو د سویې ټیټوالی، د چاپ د بودیجې لږوالی، د درسي کتابونو اخستنه او وېش، د کتابونو د چاپ د تدارکاتو اوږده پروسه او د متخصصینو ګمارنه د اسلامي زده کړو د درسي کتابونو د پراختیا، چاپ او وېش پر وړاندې له اساسي ستونزو څخه دي.

**د اسلامي زده کړو د ښوونکي روزنه:**

د دارالعلومونو په نوي تعلیمي نصاب کې پر اسلامي مضمونونو سربیره د پیداګوژۍ، اروا پېژندنې او د ښوونې لارې چارې، ساینس ، ریاضیات او بهرنۍ ژبو او د کمپیوټر ښوونه هم په پام کې نیول شوې ده، او د څوارلسم ټولګي له فارغانوڅخه هیله کیږي چې د ښوونې مهارتونه هم ولري او له فراغته وروسته وکولای شي د یو ښوونکي په توګه دنده تر سره کړي. د یادولو وړ ده چې لا تر اوسه

په موجوده دارالعلومونو کې د ښوونکي د روزنې د داخل د خدمت  پروګرامونه د مدرسې د ښوونکو د سويې د لوړولو په موخه نشته.

که څه هم د مسلکي ښوونکو د سويې د لوړولو او پرمختګ په اړه عامه پروګرامونه نشته، خو په دې اړه بيلابيل فعاليتونه تر سره شوي دي. ۵۰ تنه ښوونکي د تدريسي ميتود د زده کړې په موخه د ايران هيواد ته ليږدول شوي دي. د ۳۴ولايتونو د مدرسو مديرانو ته د اداري او منجمنټ په اړه ښوونيز سيمينار جوړ شوی دی. د ولايتونو د مرکزي دارالعلومونو۳۴تنو ښوونکو د ښوونکي د روزنې د رياست په مرسته ۱۰ورځې ميتوديکه روزنه تر سره کړي دي. د تحصيلي بورسونو په مرسته ۱۲۳تنو د تحصيل د پرمختګ په موخه د ليبيا، کويت او مصر هيوادونو ته استول شي دي او ۴۵ تنه د مصري الازهر پوهنتون استاذان د تدريس په موخه د مرکز په دارالعلومونو کې ګمارل شوي دي.

**ښوونيزه څارنه :**

څارنه د ښوونې او روزنې د مديريت يو له مهمو اصولو څخه بلل کيږي. د مدرسو او دارالعلومونو د تدريسي او اداري ستونزو د حل په موخه به د اسلامي زده کړو د څارنې غړي په کال کې دوه يا درې ځلې د مدارسو څخه د اړتيا سره سم کتنه کوي او د مدرسي ښوونکي، مديران او اداري مسؤلين به له لوايحو او مقرراتو خبروي او د اداري او تدريسي کړنو په اړه به ورته لازمي مشوري ورکوي. اوسمهال شاوخوا ۴۰تنه د مسلکي غړي په توګه د اسلامي زده کړو په رياست کې د څارنې دنده تر سره کوي.

اوسمهال له مدرسو او دارالعلومونو څخه د څارنې او نظارت کاري سيستم نشته او په مرکز کې د څارنې د غړو شمير بسنه نه کوي، چې په نوي تشکيل کې د ولايتونو د پوهنې په رياستونو کې د اسلامي زده کړو د څارنې په موخه دوه تنه مسلکي غړي په پام کې نيول شوي دي.

**مديريت او همغږي:**

په مدرسو او دارالعلومونو کې بايد ښوونه  د پوهنې وزارت له پروګرامونو سره سم په يوه بڼه تر سره شي، نو د اسلامي زده کړو د پروګرام همغږي او مديريت  په کاري لومړيتوب کې موجوديت لري،ترڅو د ټول هيواد په کچه د اسلامي زده کړو پروګرام په يوه او متوازن بڼه تر سره شي.

د اسلامي زده کړو عالي شورا د اسلامي زده کړو د نظام د تنظيم او سمونې او له اسلامي زده  کړو د څارنې په موخه  په ۱۳۸۶ل کال کې جوړه شوې ده او له هيواده  بهر او خصوصي مدرسو زده کوونکو ته د تصديق پاڼو مقرره چمتو شوې ده.

ډيرئ عالمانو خصوصي زده کړې تر سره کړې او د پوهنې له وزارت سره د خپلې تعليمي سويې د ثبتولو او ارزونې غوښتونکي دي، چې تر اوسه له  ۵۱۵۳۲ تنو څخه په مرکز او ولايتونو کې د سويې د تثبيت آزمويني اخيستل شوې او ۷۰۹۲تنه د ۱۲م ټولګي په سويه او ۳۰۴۰تنه د ۱۴م ټولګي په سويه ثبت او منل شوي ، او ورته تصديق پاڼې ورکړل شوي دي. دا ډول خلک کولای شي د ښوونکي يا د دولت د مامور په توګه په دولتي ادارو کې دندې تر سره کړي.

هغه ګډونکونکو ته چې د شرايطو سره برابر نه وو مشوره ورکړل شوه چې خپل مهارتونه غښتلي کړي ترڅو په راتلونکي آزموينه کې بريالي شي .

د پراختيايي بوديجي لږوالي د دې پروګرام يو له سترو ستونزو څخه ده، چې د پروګرام د پراختيايي پلان مخه يې نيولې ده، تر دې چې اسلامي هيوادونه هم د اسلامي زده کړو د پروګرام په پراختيا کې فعاله ونډه نه اخلي.

# د ښوونيز نصاب پراختيا

**د ښوونيز نصاب او درسي کتابونو پراختيا او بيا کتنه**

د تعليمي نصاب رياست د عمومي او اسلامي زده کړو د پروګرامونو د نصاب د پراختيا مسؤل دی. ددې رياست دوه واحدونه د هر اړخيزه زده کړې، ځانګړې زده کړې او له ښوونځي مخکې زده کړو ته نصاب تياروي.

د لومړنۍ دورې نوي درسي مفردات او نصاب پراختيا کړې او ۱۰۹ عنوانه درسي کتابونه د اول څخه تر ۶ټولګي پورې تاليف شوي وو. دا کتابونه چاپ او وېشل شوي دي، او په ښوونځيو کې تطبيقيږي. د ښوونکي لارښود ۸۹ عنوانه کتابونه د اول څخه تر ۶ټولګيو پورې تاليف شوي دي.

د عمومي زده کړو د ۷ څخه تر ۱۲ټولګيو لپاره د نوي تعليمي نصاب او د درسي مفرداتو چوکاټ چمتوشوی دی او د ۴۰۰ عنوانه درسي کتابونو تاليف او د ۷ څخه تر ۱۲ ټولګي پورې د ښوونکي د لارښود کتابونه د نوي تعليمي نصاب سر سم پر مخ ځي، چې ۴۰سلنه پرمختګ يې کړی دی د ۷ څخه تر ۹ ټولګي پورې کتابونه به په ۱۳۸۸ل کال کې چاپ ته ورسيږي. او د لابراتوار ۶ لارښوده به ډېر زر تيار او ښوونکو ته به په لاس ورسيږي. د يادولو وړ ده چې د عمومي زده کړو د ۷ څخه تر ۱۲ ټولګيو لپاره د ۱۴۷ عنوانه درسي کتابونو ايډيټ او سمونه تر سره شوې، او چاپ او ووېشل شول.

همدا راز د ديني مدرسو لپاره (د حنفي او جعفري فقهې پر بنسټ) له ۷څخه تر ۱۴ټولګيو پورې تعليمي نصاب او درسي مفردات ترتيب شوي او ۲۹۸درسي کتابونه تاليف او همدې ټولګيو ته د ښوونکي د لارښود کتاب چارې رواني دي، چې ۵۰سلنه کار يې بشپړ شوی دی.

د پوهنې په نوي نصاب کې معاصر علمي معيارونه په پام کې نيول شوي دي او پکې د روزنې له فعالو ميتودونو کار اخيستل شوی، چې هر لوست د موخو، درسي متن، فعاليت او ارزونې برخې لري. همدا راز هر اړخيزه او عام موضوعات لکه: د بشر حقونه، د جنسيت يووالی، روغيتايي پوهاوي، د ساري ناروغيو او نشه يي توکو ضررونه او د پاک چاپېريال ساتنې په نوي تعليمي نصاب کې شامل شوي دي.

د دريمې ژبې د ښوونې او د ښوونکو د لارښود د کتابونو تاليف دوام لري، چې تر اوسه يې ۱۶کتابونه بشپړ شوي او ۶۸يې تر کار لاندې دي. دا کتابونه په پاميري، ازبکي، ترکمني، بلوچي او نورستاني ژبو تاليفيږي.

په ځينو ځانګو کې د نصاب د پراختيا د کدرونو د سويې ټيټوالی او د تعليمي نصاب د پراختيا د رياست د ځينو مؤلفينو د علمي استعداد کم والی او له بهرنيو مراجعو د ګټې اخيستنې نه توان د نصاب د پراختيا پر وړاندې يو لړ ستونزې پيدا کړې دي. همدا راز په ټولو ځانګو کې د مناسبو او اړو مراجعو نه شتون يا دا چې ډېرئ مؤلفين او متخصصين کمپيوټر او انټرنيټ ته لاسرسی نه لري او يا په بهرنيو ژبو نه پوهيږي، ځکه نشي کولای چې له بهرنيو سرچينو څخه ګټه واخلي.

**د زده کوونکو د روزنې د پرمختګ د ارزونې د سيستم پلي کول او پراختيا:**

په هر ښوونيز کال کې د څلورم ټولګی څخه د پورته ټولګيو زده کونکي د خپلو اړونده ټولګيو د ټولو مضامينو دوه ازموينې ترسره کوي چې يو ازموينه يې د کال په مينځ او دوهم ازموينه يې د کال په پای کې وي. د ازموينې پوښتنې د اړونده ښوونځيو د ښوونکو لخوا جوړيږي، د ښوونکو لارښود کتابونه د ښوونکو سره مرسته کوي ترڅو د هغه زده کوونکو شمير چې په هر درس کې د ټاکل شويو اهدافو ته لاسرسي پيدا کړی وي وپيژني. په هغه صورت کې چې زده کونکی له دوو څخه په زياتو مضامينو کې له ۵۰ څخه ټيټه نمره ترلاسه کړی وي بايد اړونده ټولګی بيا دسره ووايی. ولې هغه زده کونکي

چې په يو يا دوو مضامينو کې د ۵۰ څخه کمې نمرې ترلاسه کړي وي وروسته له يو ۳-۲ مياشتو تيارۍ دورې څخه د اړونده مضامينو ازموينه بيا ترسره کوي او د بريالیتوب په صورت کې لوړ ټولګي ته ځي .

په اوسني حالت کي د زده کوونکو د زده کړې د ارزوني کچه د هغه ازمويني له لارې معلوميږي، چې په محلي کچه په هر ښوونځي کي طرحه او پلي کيږي او دا معياري نه دی، او د يو ښوونځي د ازمويني طريقه د بل ښوونځي څخه توپير لري. په نتيجه کي د زده کونکو د پرمختګ حقيقي سطحه په سمه توګه نه پيدا کيږي او د زده کونکو د پرمختګ سطحه په مختلفو سيمو کې د هغوی د نمراتو په نظر کې نيولو سره س يوشان نه وي . او په نتيجه کې معياری ارزونو ته اړتيا ده ترڅو د زده کونکو د زده کړې واقعي سطحه معلومه شي.

د تعليمي نصاب د پراخيتا د رياست په نوي تشکيل کي د معيارونو، څيړني او ارزوني رياست جوړ شوی، ترڅو د زده کوونکو د زده کړې د پرمختګ اړوندو مسايلو ته لاسرسي وکړي او د ملي ارزوني د سيستم دپراختيا چي د سوالونو د تيارولو په بانک کې شامل دی ، د درسي کتابونو د تاليف د پوره کيدو وروسته به ترسره کيږي.

**د کتابونو او درسي ملو توکو چاپ او وېش:**
د پوهني وزارت د پوهني په تاريخ کي د لومړي ځل لپاره په کال ۱۳۸۷ل کي په ډيرزيات شمير کتابونه چاپ او وویشل. ۱۰۰عنوانه نوي کتابونه يي له ۱څخه تر ۶ ټولګي پورې ۳۸ميليونه ټوکه چاپ او د لومړنی دورې پر زده کوونکو يي وویشل همدا راز ۱۴۷عنوانه کتابونه يي د ثانوي دورې لپاره بيا ځلي وکتل او ۲۳ميليونه ټوکه يې چاپ او وېشل شوي. ۲۵زره ټوکه د څلورم ټولګي د ساينسي تجربو لارښود کتابونه په پښتو اودري ژبو چاپ او وېشل شوی، او ۱۵زره ټوکه د ساينسي مضمونونو چارتونه په مرکز او ولايتونو کي پر ښوونځيو د وېش لپاره چمتو دي.

د درسي کتابونو د وېش او ترتيب په موخه د زده کوونکو منظمه او دقيقه شميره د دې رياست په لاسرسي کې نشته( د معارف د ادارې د معلوماتی سيستم اړونده برخي ته مراجعه وکړئ) . معياري معلوماتي بانک د درسي کتابونو د تسليمی او وېش په موخه د پراختيا پر لور د ازمويني په ډول تر کار لاندې دی.

**په درسي او ښوونيزو توکو د ښوونځيو او مدرسو سمبالښت:**
همدا راز تر اوسه ۳۷۹۲تنو ښوونکوو د ساينس او رياضياتو په برخه کې د لابراتوارونو او نور ښوونيزو توکو په برخه کې روزنه تر سره کړې او همدارنګه ۱۸۵۰تنو مستحضرو ښوونکي د زده کوونکو د ساينسي څيړنو او تجربو په برخه کې د روزني او لارښووني په موخه ګومارل شوي دي.

په ۱۳۸۷ل کال کې تر ۱۲سلنې منځني او ثانوي ښوونځي په لابراتوارونو او لس سلنه د عمومي زده کړو ښوونځي په کتابتونونو سمبال شوي دي. د بوديجې کموالی د دې لامل شوی چې وزارت دې ټول ښوونځي په دې توکو سمبال کړي.

اوسمهال له يو پلوه د رياضي او ساينسي مضمونونو د تدريس په اړه د ارزوني اغيزمن سيستم نشته او له بل پلوه د ولايتونو په کچه د ساينس او رياضياتو د څارني مسلکي غړي کم دي.

**د وړتيا لوړوالی:**
ډيری ښوونکي د نوي درسي نصاب له کتابونو د ښووني سره اشنا نه دي ، نو له همدې امله لږ تر لږه له هر ولايت څخه څلورو تنو لارښوونکو د لومړنی دورې له نويو کتابونو څخه د ګټې اخيستې په موخه زده کړې کړې او دا لارښوونکي د ولايتي لارښوونکو په مرسته ټولو ښوونکو ته نوي کتابونه ورپيژنلی دی.

د تعليمي نصاب د پراختيا منسوبين د ارزونې دقيق سيستم نه لري، همدا راز د تعليمي نصاب د رياست او د ساينس دمرکز د کارمندانو د وړتيا د لوړوالي لپاره هر اړخيز اوږدمهاله پروګرام په پام کې نه دی نيول شوی. او د وړتيا د لوړوالي لپاره کافي بوديجه نشته، خو لـه دې سره، د کارمندانو او مؤلفينو د وړتيا لانديني بيلابيل فعاليتونه تر سره شوي دي:

- د نصاب د پراختيا ۷۲ مؤلفين اوکارمندان د درسي کتاب ليکنې، د ښوونکي د لارښود جوړونې او د ګرافيک او ډيزاين په برخه کې د دوه نيمو مياشتو لپاره د ايران په هيواد کې علمي زده کړې تر سره کړې، چې تر اوسه يې د ۷- ۹ ټولګيو لپاره نوي درسي کتابونه تاليف کړي دی.
- د نصاب د پراختيا ۴۳ کارمندانو د درسي کتابونو د مفرداتو د جوړونې په برخه کې د اردن په هيواد کې زده کړې تر سره کړې ده.
- همدا راز ۶۲ تنو د کتاب ليکنې په برخه کې د يوې مياشتې لپاره د اردن په هيواد کې زده کړې سرته رسولې ده.
- د نصاب د رياست ۲۰۰تنه کارمندان او ښوونځيو ښوونکو د درسي کتابونو د معيارونو او جوړښت په برخه کې په کابل کې د دوو اونيو لپاره زده کړې تر سره کړې ده. د دريمې ژبې ۴۵متخصيصينو د دريمې ژبې د زده کړې د مفرداتو د جوړولو په موخه د ۲۰ورځو لپاره په کابل کې زده کړه کړې، چې له هغې ډلې نه۳۰ تنو د۲۰ورځو لپاره د ترکيې په هيواد کې زده کړې تر سره کړې.
- د پښتو او دري څانګو ۵۰ غړو د درسي کتابونو د املا او د کلمو د واحد ليکدود په دري ورځني ورکشاپ کې د کتابونو د ليکنې په موخه ګډون کړی دی.

## د ښوونکي روزنه

**د دارالمعلمينو او الحاقيه شعبو جوړول :**

تر ۱۳۸۷ل کال پورې ۳۸ دارالمعلمينونه (د نارينه او ښځينه) د ليليو په شمول جوړ شوي دي. په هر ولايت کې به يو دارالمعلمين په منځنی توګه د زرو محصلينو د منلو وړتيا ولري. همدا راز د ولايتونو په ولسواليو او د کابل ولايت او د ښار په حوزو کې ۴۷ الحاقيه دارالمعلمينونه جوړ شوي دي.


اوسمهال يوازې ۱۷ دارالمعلمينونونه مناسبې تدريسي ودانۍ او ۲ دارالمعلمينونـه ښځينه ليليـې او ۱۲ دارالمعلمينونـه د نارينـه ليليـې لـري. د يـادولو وړ ده چـې د ۱۷تدريسـي تعميرونـو او ۱۷ښـځينه ليليـو او ۱۰نارينه ليليو د جوړولو په اړه ژمنې شوې، چې د ځينو کار يې پخوا پيل شوی دی. پـه هغو ولايتونـو کې چې لا د دارالمعليمنونو لپاره اساسي ودانۍ نشته د کرايي ودانيو څخه کار اخيستل کيږي.

د ځينو دارالمعليمينونـو لپـاره د مناسبو درسـي ودانيـو د کرايـې د بـوديجې کمښت او د دارالمعلمينونـو د چارو د اسانتيا او جوړولو په اړه د تدارکاتو سست او د ولايتونو د پوهنې رياستونو او دارالمعلمينونـو تر منځ د همغږې نشتوالی ، د نوموړو دارالمعلمينونو د ښوونکو کمښت او د هغوی نـا کـافی معاشـونه د دارالمعليونونو او الحاقيه شعباتو د پرمختيا د مخنيوی سبب شوی دی.

**د ښوونكي روزنه له خدمت مخكې او په دوه كلن داخل د خدمت كې :**

په اوسني وخت کې لـه ۱۵۸زره ښوونکو څخـه يـوازې ۲۴سلنه د ۱۴م ټولګي يـا تـر هغـې لـوړې زده کړې تر سره کړې او ۷۴سلنه له ۱۴م ټولګي ټيټي زده کړې لري. دا پـه دې مانـا ده چـې لږترلږه هر درې پرڅلورم ښوونكي د ښوونكيتوب لازم تحصيلات نه لري.( ۸شکل وګورئ)


۸م شكل- د ښوونكو تحصيلي وضعيت




سرچينه: د پوهنې وزارت د ښوونكي د روزني عمومی رياست، ۱۳۸۷ل كال

د افغانستان په ولايتونو كې د ښوونكو وضعيت زيات توپير لري. د كابل په ولايت كې (د كابل ښـار پـه شـمول) ۶۰سلنه ښـوونكي لـه ۱۴م ټولګي فـارغ شـوي يـا تـر هغـې لـوړ دي، پـه داسـې حـال كـې چـې د دايكندي په ولايت كې له يوې سلنې ټيټ (ياني ۱۰ تنه) د ۱۴م ټولګي فارغين دي يـا تـر هغـې لـوړ. (۹م شكل دې وكتل شي)

۹م شكل - د ولايتونو په كچه د مسلكي ښوونكو سلنه




مأخذ: د پوهنې وزارت د 138۷ل كال شميرنه

د ښځينه ښوونکو شمير له ۲۲زرو څخه په کال ۱۳۸۱ل کي نيژدې ۴۵زرو ته په کال ۱۳۸۷ل کې رسيدلی، چې د ټولو ښوونکو شاوخوا ۲۸،۵ سلنه جوړوي، چې د منلو وړ نه ده. په مرکزونو او ښارونو کې د ښځينه مسلکي ښوونکو ويش د کلو او باڼدو په نسبت متوازنه نده او د ښځينه ښوونکو د شمير فرق يوه بله ستونزه ده، ۹۵سلنه ښځينه ښوونکي ليسانسه، ۸۴سلنه د ۱۴م ټولګيو فارغاني په ۹لويوښارونو (کابل، هرات، ننګرهار، بلخ، بغلان، بدخشان، تخار، جوزجان او فارياب) کې ښوونه کوي. په ۱۰۹ولسواليو کې يا هيڅ ښځينه ښوونکي نشته او يا هم يوازې يوه ښوونکي لري.

**د ښوونکي د روزنې مرکزونه (دارالمعلمينونه):**

په کال ۱۳۸۷ل کې د دارالمعلمينو د ټولو محصلينو شمير ۳۳۰۶۲تنه وو، چې ۳۹سلنه ياني ۱۲۸۳۶تنه يې ښځينه محصلاني وې. د ټولو محصلينو د مجموعي څخه ، ۵۹ سلنه يې د مخکې له خدمت په دوو پروګرامونو کې او ۴۱ سلنه يې د خدمت په موده کې په تحصيل بوخت وې. د داخل خدمت د دوه کلن پروګرام د ټولو محصلينو شمير ۱۸۴۸۹تنه او له خدمت مخکې د دوه او پنځه کلن پروګرام د ټولو محصلينو شمير ۱۴۶۰۳ تنه دي. چې له دې جملې ۱۳۶۴۳تنه په دوه کلن پروګرام او ۹۳۰تنه به په پنځه کلن پروګرام کې وي. (۴م جدول وګورئ)

۴م جدول د ۱۳۸۷ل کال د ښوونکي د رزوني د پروګرام له مخي د دارالمعلمينو د محصلينو شمېر

| د ښوونکي د روزنې پروګرام | ښځينه | نارينه | مجموعه |
|---|---|---|---|
| پنځه کلن مخکې له خدمته | 265 | 665 | 930 |
| دوه کلن مخکې له خدمته | 4032 | 9611 | 13643 |
| داخل د خدمت | 8539 | 9950 | 18489 |
| د مختلفو پروګرامونو د زده کوونکو مجموعه | 12836 | 20226 | 33062 |

مأخذ: د پوهني وزارت د ښوونکي د روزني رياست

**د دار المعلمينونو فارغين:**

د دار المعلمينونو د فارغينو ټول شمير په کال ۱۳۸۷ل کې ۸۴۹۷تنو ته ورسيد، چې له هغې ۲۷۴۰تنه ياني۳۲سلنه يې له خدمت مخکې پروګرام له مخې او ۵۷۵۷ تنه ياني ۶۸سلنه يې د داخل د خدمت د پروګرام سره سم فارغ شول. په کال ۱۳۸۷ل کې د ښځينه فارغينو شمير ۲۸۰۵تنو (ياني ۳۳سلنه) وو. همدا راز د ښوونکي د روزني له خدمت مخکې پروګرام د ښځينه فارغينو شمير په کال ۱۳۸۷ل کې ۷۳۷تنه و.

په اړوندو ولايتونو کې د نوي نارينه او ښځينه فارغينو په اړه د پوهني وزارت حکم (۱۳۸۸ل کال په لومړی مياشت کې) په ولايتونو کې د پوهني ټولو رياستونو استول شوی څو د ۱۳۸۷ل کال فارغين په خالي بستونو کې او يا هم د غير مسلکي ښوونکو په ځای وګمارل شي.

په مخکينيو کلونو کې د ولايتونو په کچه د ښوونځيو رښتيني اړتياوو ته په کتو په دارالمعلمينونو کې زده کوونکي نه شامليدل ، خو د ۱۳۸۸ل کال له پيل سره سم د نوي محصلينو وېش د هر ولايت د اړتيا سره سم تر سره شو، چې په دې لړ کې د لوړو زده کړو له وزارت سره يو تړون هم لاسليک شو، چې له مخې به يې نوموړی وزارت ولايتونو ته د دولسم د فارغينو وېش د کانکور پر بنسټ تر سره کوي،

نه د تصادف له لارې. تر اوسه پورې د دولسم ټولګي فارغين چې په كانكور كې ټيټې نومرې اخلي دارالمعلمينو ته ورپيژندل كيږي او د ښوونې د حرفې سره يې علاقه ډيره كمه وي، چې د ښوونكو د تنخواګانو د زياتوالي په صورت كې به دا چلند بدل شي. په دې وروستيو دو كلونو كې هغه شمير د دولسم ټولګي فارغينو ته چې د ښوونكي دندې ته ليواله دي په دارالمعلمينونو كې له كانكور پرته د داخليدو اجازه وركړل شوې ده، چې په دې كار سره به د هغو فارغينو سلنه پورته شي كوم چې فارغيدو وروسته ښوونكي كيږي.

په ولسواليو كې د خدمت پر مهال د پروګرامونو د نه شتون له امله د كليوالو سيمو ښوونكي د داخل د خدمت دوه كلن پروګرام ته لاسرسى نه لري. د يادولو وړ ده، چې دې ډلې ښوونكو ته ځانګړى نصاب چمتو شوى، چې پلي كول يې په ١٣٨٨ل كال كې پيل شوي. دا پروګرام ددې لامل ګرځي چې هغوي وكولاى شي د دولسم ټولګي سويه ترلاسه او دارالمعلمين ته د تحصيل زمينه ورته برابره شي.

**ددارالمعلمينونو استاذان:**

په ١٣٨٧ل كال كې ٨٢٠ تنه د دارالمعلمينونو استاذان په تدريس بوخت دي، چې ٢۴سلنه يې ښځې جوړوي. دا استاذان له ٩٩سلنې زيات ليسانسه دي. (۵م جدول وګورئ). د لوړو زده كړو سره سره د ښوونكو لارښوونكو ته د ښوونې او ارواه پوهنې په برخه كې ضرورت دى.

۵م جدول ـ د دارالمعلمينو د استاذانو تحصيلي وضعيت

| ماسټران او دوكتوران استاذان | ليسانسه استاذان | له ١۴م ټولګي فارغ شوي استاذان | ټول استاذان |
|---|---|---|---|
| 36 | 762 | يوازې يو تن په كندز كې | 820 |

سرچينه: د ښوونكي د روزنې عمومي رياست، ١٣٨٧ل كال

**د ښوونځيو د ښوونكو او د اداري پلاوي مسلكي پياوړتيا :**

د ١٣٨۶ل او ١٣٨٧ل كلونو په اوږدو كې د خدمت پر مهال د ملي پروګرام (DT3) له مخې په يوولسو ولايتونو كې ١۶۴٠تنه لارښوونكو، ۵٠زره ښوونكو د تدريسي ميتودونو او د مضمونونو د محتوا په اړه روزنه تر سره كړې، چې د تدريس پر مهال يې عملي ګټې ليدلې. د همدې ملي پروګرام له لارې ٣۶۴٠تنه ليسانسه (د هرې ولسوالۍ لپاره لږ تر لږه لس تنه) د لارښوونكي په توګه ګومارل شوي، څو وكولاى شي په اړوندو ليسو كې د تدريس كيفيت پر مخ بوځي او د ښځينه ليسو په جوړولو كې مرسته وكړي. همدا راز ١١زره د ليسو مديرانو او سرښوونكو په ١١ولايتونو كې د ادارې او مديريت زده كړې تر سره كړې، چې په خپلو ادارو كې يې مثبتې پايلې ليدلې. دا روزنې به د خدمت پر مهال د ملي پروګرام له مخې په ٢٣پاتې ولايتونو كې د نادولتي مؤسسو د ګروپونو پر مټ ټولو ښوونكو او مديرانو ته ورسول شي. د ښوونكو او اداري پلاوي لپاره زده كړېز توكي د تدريس روش، د مضموني مهارت (ښوونكو ته) او اداري او مديريت د چال چلند (اداري پلاوي ته) په موخه چمتو شوي، چې په لنډ مهاله روزنيزو پروګرامونو كې به ترې ګټه اخيستل كيږي.

شاوخوا ٢٠٠تنه ښوونكو د لارښوونكو په توګه روزنه ليدلې، څو وكولاى شي زده كوونكو ته په اخلاقي، رواني، ناسته پاستې، د نشه يي توكو او ساري ناروغيو د مخنيوي په مسائلو كې لارښوونې وكړي، او په دې اړه نورو ښوونكو ته هم روزنه وركړي. سربيره پر دې يو شمير ښوونكو د نشه يي توكو، ساري ناروغيو او ايډز د مخنوي په اړه روزنه تر سره كړې.

د تدريس د روشونو په اړه د خدمت پر مهال د روزنو پروګرامونه د ١٠۴ سمعي- بصري پروګرامونو ته تبديل او د څو راډيوګانو او تلويزونو له لارې په منظمه توګه خپاره شوي. د راډيويي پروګرامونو د ټولې توليد د بشپړيدو په حال كې ده.

د داخل د خدمت د ملي پروګرام د پلي کولو يوه اساسي ستونزه دا ده چې د دې پروګرام وړ او اړوند اشخاص کم دي په ځانګړي ډول ښځينه نه غواړي د ښوونکي د لاربښوونکي په توګه په لرې پرتو ولسواليو او نا امنه سيمو کې دنده تر سره کړي، چې په پايلې ۲۳ولايتونو کې د دې پروګرام د وروستوالي لامل همدا کار بللی شو. همدا راز په ټولګي کې د ښوونکي په تدريسي خوی او سلوک او د پراختيايي پروژو له پای وروسته د دې پروګرام پر دوام اغيز او اثر په موخه لازمې ارزونې نه دي تر سره شوې.

د هغو ښوونکو چټکې روزنه چې د تحصيل سويې يې له ۱۲ټولګي کښته دي د خدمت پر مهال د پروګرام يوه مهمه او اساسي برخه ده، همدا راز هغه ښوونکي چې د دارالمعلمينونو د شموليت د شرايطو لرونکي نه دي ، د هغوی د ۱۲ټولګي او ۱۴ټولګي ته د سويې د لوړوالي لپاره د چټک پروګرام له لارې د دوبي او ژمي په رخصتيو کې تحصيلي پروګرامونه په پام کې نيول شوي دي.

**ښوونکو او زده کوونکو ته مالي هڅونې :**

په ۱۸ولايتونو کې چې مسلکي ښوونکو ته يې ډېره اړتيا ده، د استاذانو لپاره د سيمه ايز امتياز په توګه له ۱۶۰ تر ۲۰۰ډالرو مياشتنی امتياز منل شوی.

د مخکې له خدمته دورې په دارالمعلمينونو کې د نجونو د داخلې د زياتوالي په موخه په ۲۵ولايتونو کې کومو کې چې د ښځينه ښوونکو شمير کم دی هرې محصلې لپاره ۶۰ډالر د مياشتنی مرستې په توګه د دوو کلونو په اوږدو کې ورکول کيږي، چې دا لړۍ د تدارکاتي ستونزو له کبله تر اوسه نه ده پيل شوې. همدا راز په ۱۳۸۷ل کال کې د ۶۰۱۱محصلينو لپاره د ليليې او بدل اعاشې اسانتياوې برابرې شوې دي.

**د ښوونکي د روزنې د درسي کتابونو او نصاب پراختيا:**

په دارالمعلمينونو کې د تدريس د کيفيت د ښه والي په موخه د دارالمعلمينونو نصاب چمتو شوی، چې پکې تفصيلي درسي مفردات، درسي کتابونه، د استاذ لارښود او د زده کړيز ملاتړ توکي ځای په ځای شوي دي. ددی تعليمي نصاب څخه د دارالمعلمينونو له ۴۰۰څخه زياتو استاذانو ته روزنه ورکړل شوی ده.

درسي توکي پراختيا پيدا کړې، او په ۱۳۸۷ل تعليمي کال کې د ټولو دارالمعلمينونو په لومړي او دوهم سمستر کې پلي شوي دي. تر اوسه ۷۵درسي کتابونه د لومړي او دوهم سمسترونو لپاره چمتو شوي او ۳۰درسي کتابونه د دريم او څلورم سمسترونو لپاره تر تصحيح، ژباړې او سمونې لاندې دي.

د ښوونکي د روزنې پروګرام د ښوونځي مخکې زده کړې، ځانګړي زده کړې، او د کمپيوټر زده کړې، او د بدني روزنې پروګرامونه، لا تر اوسه پراختيا نه دی موندلی.

د ښوونکي د روزنې د نصاب د پراختيا پر وړاندې له شته ستونزو يوه هم په نوموړي رياست کې د داخلي متخصصينو نه شتون دی. اوسمهال د پوهنتون استاذانو د بهرنيو متخصصينو په مرسته، يوه وړه برخه د ښوونکي د رزونې د نصاب چمتو کړې.

**د ښوونکي د روزنې د مرکزونو د استاذانو د وړتيا لوړول:**

د ښوونکي د روزنې ملي اکاډيمی، د دارالمعلمينونو د استاذانو د روزنې په موخه په کال ۱۳۸۶ل کې افتتاح شوه. نوموړې اکاډيمی په لومړۍ ۸ مياشتنۍ دوره کې ۱۳۷تنه استاذان چې ۲۷سلنه يې ښځينه وو، په مسلکي وړتيا کې وروزل. او له بده مرغه دا اکاډيمي لا تر اوسه هم منظم نصاب او پروګرام نه لري او پر بهرنيو استاذانو تړلې ده.

**د ښوونکو د اړتيا او د هغوی د وړتياوو ټاکنه:**
د ښوونکو د ثبت او راجستر ملي سيستم چمتو شوی او نيژدې ټول ښوونکي په يوه ځانګړي ډيټابيس کې ثبت او راجستر شوي دي، په ۳۴ولايتونو کې د ۱۵۸زرو ښوونکو (بشپړه پيژندنه، عکس، د تحصيل رشته، هغه ښوونځی او ځای چې پکې ښوونه تر سره کوي، د تحصيل درجه او نور) معلومات راغونډ شوي او په يوه ډيټابيس کې ثبت شوي دي. د خصوصی ښوونځيو ښوونکي په دې ډيټابيس کې ثبت شوي نه دي. د ۱۴۸زرو ښوونکو د وړتياوو او تحصيلي سويې ارزونه او نورو اړوندو معلوماتو کار يې په ۱۳۸۷ل کال کې تر سره شو. شاوخوا ۵زرو ښوونکو ته د جدي روزنې اړتيا وليدل شوه، چې له هغې د ۵۰۰تنو ښوونکو سملاسي او دقيقه روزنه دوام لري.

د ښوونکو وړتياوې د مضمون او د هغه ټولګي چې پکې تدريس کوی پر اساس ټاکل شوې، چې پر بنسټ يې د وړتياوو ملي ازموينه چمتو شوې او تر ازميښت لاندې نيول شوی .

# تخنيکي او مسلکي زده کړې

د تخنيکي او مسلکي زده کړو اهميت او اړتيا ته په پام سره د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو لوی رياست معينيت ته لوړ کړ، چې دری رياستونه لکه د تخنيکي او مسلکي زده کړو پروګرامونه، د ښوونکي روزنه او د نصاب پراختيا پکې شامل دي. د نوي جوړښت په پلي کيدو سره به د مسلکي زده کړو د پروګرام د ښې اجرا او پرمختګ لپاره لاره هواره شي.

**تخنيکي او مسلکي زده کړو ته لاسرسی:**

په ۱۳۸۷ل کال کې د هيواد په ۲۲ ولايتونو کې ۵۱ تخنيکي او مسلکي ښوونځي فعال وو. دا ولايتونه عبارت دي له کابل، ارزګان، باميان، بدخشان، بغلان، بلخ، پروان، جوزجان، خوست، دايکنډي، سمنګان، فارياب، فراه، کندهار، کاپيسا، کندز، کنړ، ميدان وردګ، ننګرهار، هرات، هلمند او بادغيس. همدا راز په دې کال کې د کنړ لپاره هم يو مسلکي ښوونځی په هرات ولايت کې پرانيستل شو چې د مسلکي او تخنيکي زده کړو د معينيت لومړی اړوند ښوونځی دی او همدا راز د ړندو لپاره هم په کابل کې يو ښوونځی شته چې په دې معينيت پورې تړلی دی.

په ۱۳۸۷ل کال کې د اداري او مديريت ملي انسټيټيوټ په دې وروستيو کې په کابل ښار کې جوړ شو چې د ۲۵۰۰ زده کوونکو لپاره به د باکيفيته زده کړو زمينه په ټول هيواد کې برابره کړي. اوسمهال په دې انسټيټيوټ کې کابو پنځه ويشت سلنه ښځينه محصلين دي.

اوسمهال د هيواد په ۱۲ولايتونو کې هيڅ تخنيکي او مسلکي ښوونځي نشته. له ټولو ۴۸ ښوونځيو څخه ۱۵يي په کابل کې دي او ۵۸ سلنه زده کوونکي يې په کابل کې دي او يواځې ۴۲سلنه زده کوونکي يې په نورو ولايتونو کې دي چې دا هم د انډول د نشتوالي ښودنه کوي.

په تيرو کلونو کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو شموليت زيات شوی او په ۱۳۸۷ل کال کې د زده کوونکو شمير ۱۶زرو تنو ته چې ۲۵۰۰ تنه (۲۵٪) يې نجونې جوړوي ورسيد، په عين حال کې د مسلکي زده کړو د جذب وړتيا هم ټيټه ده. په داسې حال کې چې ګڼ شمير ځوانان غواړي د لازمو مهارتونو د تر لاسه کولو لپاره د کار بازار ته داخل شي خو په ۱۳۸۷ل کې مسلکي ښوونځيو وکولای

شو چې د لیسو د نهمو ټولګیو ۲۲۰۰صرف فارغین لسم ټولګي ته جذب کړي. همدا راز د تخنیکي او مسلکي ښوونځیو د (۱۲-۱۰) ټولګیو زده کونکو نسبت د عمومي زده کړو لیسې ته ۴سلنه ده چې په ۱۳۹۳ل کال د وزارت موخه ٪۱۰ ده چې دا ډیر ټیټ حد دی .

د مهارتونو د پرمختګ د ملي پروګرام (NSDP) له مخې د ملي، سیمه ایز او نړیوال کار د بازار د اړتیاوو څیړنه د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ته ور په غاړه ده، خو له بده مرغه، چې تر اوسه د هیواد په بیلابیلو ولایتونو کې د کار د بازار اړتیاوې پر اساسي ډول نه دي په ګوته شوې څو د هغو اړتیاوو له مخې ښوونځي ودان شي. په ۶شمیره جدول کې د ولایتونو په کچه د هرې څانګې د زده کوونکو شمیر او رشتې په ګوته شوې.

۹م جدول - د تحصیلي رشتې له مخې د مسلکي او تخنیکي زده کړو د زده کونکو او ښوونځیو شمیر

| شمیره | ولایت | د ښوونځیو شمېر | تحصیلي څانګې | د زده کونکو شمېر: نارینه | ښځینه | ټول | د لیلیه زده کوونکو شمېر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | کابل | 15 | د موټرونو، راډیو او ټلویزیون، ماشین، برېښنا، اوبو رسوني، د تودوخې د مرکزونو رغول، د فلزاتو تورل، د تصدي اقتصاد، مالي کریډیټ، بودیجې، مدني صنعت، جیویزي، اوبدل، کمپیوټر ساینس، رنګول، اګرانومي، ځنګلونه، حیواني علوم، وترنري، مهندسي، ودانۍ، د صنعتي ماشینونو رغول، اداره او منیجمنټ، سوداګری، اداره او اقتصاد | 7684 | 1632 | 9316 | 2967 |
| 2 | هرات | 4 | د موټرونو ترمیم، برېښنا، ماشین، مهندسي، ودانۍ، اګرانومي، حیواني علوم، ارت، موسیقي، سرامیک | 922 | 301 | 1223 | 450 |
| 3 | هلمند | 2 | ترکاني، د موټرونو ترمیم، پیاوړې برېښنا، د ودانیو بسته کول او اګرانومي | 216 | 0 | 216 | 225 |
| 4 | فراه | 1 | کرهنه او وترنري | 153 | 0 | 153 | 130 |
| 5 | کندز | 2 | اګرانومی، سوداګري | 209 | 100 | 309 | 157 |
| 6 | بغلان | 2 | بریښنا، ماشین، د موټرونو ترمیم، اګرانومی، اقتصاد او د کرهني دودول | 452 | 1 | 453 | 167 |
| 7 | فاریاب | 1 | اګرانومی، حیواني علوم | 212 | 0 | 212 | 100 |
| 8 | کنړونه | 1 | ترکاني | 132 | 0 | 132 | 85 |
| 9 | کندهار | 1 | ماشین، بریښنا، د موټرونو ترمیم، ترکاني، پښتوب یا آهنګري | 86 | 0 | 86 | 115 |
| 10 | خوست | 1 | بریښنا، د موټرونو ترمیم، ماشین | 146 | 0 | 146 | 115 |
| 11 | ننګرهار | 3 | اګرانومی ، حیواني علوم، بریښنا، د موټرونو ترمیم | 760 | 189 | 949 | 337 |
| 12 | سمنګان | 1 | اداره او منجمنت | 0 | 217 | 217 | 0 |
| 13 | پروان | 2 | د موټرونو ترمیم ، میخانیک ماشینری، ترکاني، ساختمان، فلزی کاری، اګرانومی، حیواني علوم | 353 | 2 | 355 | 120 |
| 14 | میدان وردک | 1 | اګرانومی | 85 | 0 | 85 | 65 |
| 15 | بامیان | 1 | اګرانومی | 13 | 0 | 13 | 0 |
| 16 | بلخ | 3 | د سختو او ګټو کانونو ایستل، د تېلو او ګازو له ځاګانو استخراج او ګټه اخیستنه، د تېلو او ګازو د چاڼ فابریکې او تجهیزات، جیولوجي، د تیلو او ګازو د چاڼ کمیاوي تکنولوجي، اګرانومي، د اندازه ګیری واحدونه، کنټرول او اتومات، د بریښنا انرژي، او د غیر عضوي او سنتیز توکو تکنالوجي. | 824 | 34 | 858 | 377 |
| 17 | جوزجان | 2 | د برمې ماشین الات، د موټرونو ترمیم، اګرانومي | 365 | 0 | 365 | 235 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 18 | دایکنډي | 1 | اګرانومي | 30 | 0 | 30 | |
| 19 | بادغیس | 1 | اګرانومي | 30 | 0 | 30 | 30 |
| 21 | بدخشان | 1 | اګرانومي | 121 | 0 | 121 | 80 |
| 22 | ارزګان | 1 | اګرانومي | 66 | 0 | 66 | 75 |
| 23 | کاپیسا | 1 | د موټرونو ترمیم، ماشین، بریښنا، تعمیرات، کرهنه | 640 | 0 | 640 | 170 |
| | | | | 13499 | 2476 | 15975 | 6000 |

ماخذ: مسلکي او تخنیکي معینیت، 1387ل کال

په ۱۳۸۳ل کال کې د ښوونکو شمیر د ۱۲۸ ښځینه وو په ګډون له ۶۳۵ څخه په ۱۳۸۷ل کال کې د ښځینه ښوونکو ۲۲۷ کسانو په ګډون ۹۴۶ تنو ته رسیدلی.د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو د ټولو ښوونکو څخه ۵۶ سلنه يې د کابل په ولایت کې وي. تخنیکي او مسلکي ښوونځیو ته د نجونو د شاملې د ډیرو محدودیتونو سره سره په کابل کې ۷۵ سلنه ښځینه ښوونکي په کابل کې موجودې دي.

د نارینه زده کوونکو لپاره په مرکز او ولایتونو کې د ۶ زرو کسانو په وړتیا سره لیلیې جوړې شوې خو تر اوسه د نجونو لپاره هیڅ لیلیه نشته او یوازې ۶۵ نجونې د کابل پوهنتون په لیلیه کې ځای پرځای شوې دي. د نارینه او ښځینه زده کوونکو لپاره د لیلیې وړتیا ټیټه ده. په داسې حال کې چې د مسلکي او تخنیکي زده کړو د اندول او عادلانه پراختیا په برخه کې لیلیې ته، په تیره بیا د ښځینه وو د لیلې لپاره مهمه اړتیا لیدل کیږي.

د لومړي ځل لپاره په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې خصوصي سکتور هم برخه اخیستې چې تر اوسه په کابل او بلخ ولایتونو کې اووه خصوصي انستیټیوټونه جوړ شوي دي.

ډیرى مسلکي ښوونځي او انستیټیوټونه لازمي وړتیاوې نه لري ، په پایله کې ښوونکي هم د نصاب په پلي کیدو کې له ستونزو سره مخ کیږي. تر ۱۳۸۷ل کال پورې د کابل کرهنیز او وترنري انستیټیوټ، دهرات تخنیکي انستیټیوټ او د خوست ولایت میخانیکي انستیټیوټ پر اساسي تجهیزاتو پښول شوي دي.

**د درسي او ښوونیزو توکو او د نصاب بیاکتنه او پرمختیا:**

په ډیرو برخو کې د سټنډرډ نصاب، کتابونه او نور درسي توکي نشته. د دې ستونزې د له منځه وړلو لپاره د بریښنا، موټرونو د ترمیم، کرهنې او وترنرۍ، راډیو تلویزون، مهندسۍ، تعمیرات، مدني صنعتونو، جیودیزي، محاسبه، اداري، اقتصاد او سوداګرۍ په برخه کې درسي مفردات برابر شوي او وسمهال د کرهنې، وترنرۍ، بریښنا، ماشین، راډیو او تلویزون او اداري او مدیریت او حسابدارۍ او بانکدارۍ په برخه کې د درسي کتابونو د لیکلو کار دوام لري .

د ښوونیز نصاب او درسي توکو اصلي ستونزه د مسلکي نصاب د متخصصینو لږوالی دی .او په خواشینۍ سره چې د متخصصینو د استخدام لپاره کافي بودیجه نشته. له همدې امله د دې ستونزې د حل لپاره ۱۸ مسلکي غړي په درسي پرورګرام کې د ۲۰ ورځو لپاره د درسي مفرداتو په برخه کې په ایران کې وروزل شول او د ۲۶ ښوونکو او مسلکي غړو لپاره چې د تالیف امکان لري په ۱۳۸۸ل کال کې به د یوې میاشتې لپاره یو ورکشاپ جوړیږي.

**د ښوونکو، اداري کارکوونکو او د څارنې د غړو روزنه:**

د ليسانس د سند درلودل، د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ښوونکو لپاره مهم شرط دی، خو اوسمهال کابو ۵۸ سلنه ښوونکي له ليسانس لږ زده کړې لري. ولې په اوس مهال کې د ۵۸ سلنې شاوخوا اد تخنيکلی او مسلکی زده کړې استاذان د ليسانس د درجې څخه لږ تحصيلات لري. که څه هم چې ولايتي ليسي او ښوونځي د څوارلسم ټولګي فارغ ښوونکي لري، په عين حال کې په يو شمير ولايتونو کې د څوارلسم ټولګي فارغين موندل هم ګرانه خبره ده چې په تخنيکي او مسلکي معينيت کې د ښوونکي د روزنې رياست کولای شي د ښوونکو د وړتيا په لوړوالي او په تيره بيا د ښوونکو د پروګرامونو په چوکاټ کې څوارلسم ټولګي پورې په يو شمير ولايتونو کې د زده کړو زمينه برابره کړي.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو د پروګرام بله ستونزه دا ده چې د هغو څانګو لپاره چې د کار د بازار اړتياوې پکې دي او فارغان يې کولای شي په بازار کې جذب شي مسلکي ښوونکي لږ دي او په دولتي تنخوا نه حاضريږي چې په ښوونځيو کې تدريس وکړي او د هغو څانګو لپاره چې په بازار کې ورته اړتيا نشته ښوونکي زيات دي او له همدې امله په آسانۍ سره په ولايتونو کې د پرمختيا او غوړېدنې وړتيا لري.

د ښوونکو د وړتيا ټيټوالي ته په پام سره د وړتيا د لوړوالي لپاره منظم پروګرامونه ډېر اړين بريښي، خو له بده مرغه سره چې تر اوسه په بيلابيلو برخو کې د مسلکي ښوونکو د وړتياوو د لوړولو لپاره منظم پروګرامونه نه دي برابر شوي څو يې له مخې د اوسنيو ښوونکو د وړتيا له مخې جاج او څېړنه تر سره شي. په عين حال کې د ښوونکو د وړتيا د ښه کولو لپاره بيلابيل پروګرامونه شته چې په دې ډول برابر شوي دي:

- د ماشين، برېښنا، کمپيوټر او انګليسي په برخو کې د ښوونکو د روزنې لپاره په ۱۳۸۷ کال کې ۱۴۲ کسان ورزول شول
- د کرهنې په برخه کې د ۵۸ تنو ښوونکو لپاره ښوونيز سيمينار د انسان په غربت کې (P.I.N) مؤسسې لخوا جوړ شو
- د کرهنې د ۲۶ ښوونکو لپاره د تاجکستان د هيواد ښوونيز بورسونه ورکړل شول
- د تخنيکي او مسلکي زده کړو د معينيت د ۸۸ کارکوونکو لپاره د کمپيوټر او انګليسي کورسونه جوړ شول
- د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو ۴۸ تنو تدريسي مرستيالانو ته ورکشاپ جوړ شو
- 100تنه کارکوونکي د اداري او منجمنټ کارکوونکي هندوستان ته
- ۳۰تنه فليپين، بنګله ديش او ترکيې ته او ۱۸کسان نور د نصاب په برخه کې ايران هيواد ته او همدا راز ۸ کارکوونکي د ځانګړي تخنيک په برخه کې هسپانيې او يو تن هم د پلان جوړونې په برخه کې فرانسې ته واستول شول
- د زده کړو د معينيت ۲ کارکوونکي د ماسټرۍ د دورې لپاره هندوستان هيواد ته واستول شول

**مديريت او همغږي:**

د تخنيکي او مسلکي زده کړو د مقرراتو، لوايحو او طرزالعملونو په ګډون تقنيني اسناد زاړه دي او بيا کتنې ته اړتيا لري. که څه هم د طالبانو پر مهال يو شمير مقررې بيا چاپ شوې خو په ډېرو برخو کې دا لايحې له اړينو واقعيتونو لرونکي نه دي. له بلې خوا تخنيکي او مسلکي زده کړې پاليسۍ او کلي

موخې يې له عمومي زده کړو سره او د نورو هيوادونو د تجاربو پر اساس وشي او د هغی له مخې د تخنيکي او مسلکي زده کړو پاليسی او موخې بيا وکتل شي او پرمختګ وکړي.

د مسلکي او تخنيکي زده کړو اړوند له نورو ارګانونو سره د ډېرې همغږۍ په برخه کې له کار او ټولنيزو چارو او لوړو زده کړو وزارتونو سره ناستې شوي او په راتلونکي کې به دغه همغږۍ او مرستې ګړندۍ شي. په عين حال کې لازمه ده چې له دې ارګانونو سره د منظمې همغږۍ لپاره له دې ارګانونو سره پرمختللي مکانيزم پلی شي.

تخنيکي او مسلکي ښوونځيو د څارنې اوسنی سيستم بشپړ اغيز او کارندوالی نه لري او اصلاحاتو ته اړتيا لري. يو شمير ستونزې په دې برخه کې معتبر او کافي معلومات نه لرل دي ، د همدې لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت هڅه کوي چې په تخنيکي او مسلکي معنيت کې د يو ډيټابيس سيستم رامنځته کړي. په دې ډيټابيس کې د پلان جوړونې، پريکړې او د تخنيکي مسلکي زده کړو په اړه د راپور چمتو کول شامل دي.

## د ليك لوست (د سواد) زده کړه

**سواد ته انډوليز لاسرسی:**

د مخکنيو کلونو په نسبت اوسمهال سواد زده کړې ته لاسرسي ښه شوې ده . په ۱۳۸۷ ل کال کې ۱۵۴۸۱ کورسونه او ۷۸ ښوونځي د سواد د زده کړې لپاره د پوهنې وزارت په ملاتړ په هيواد کې فعال دي. کابو ۲۹۰۰ هميشني ښوونکي د پوهنې له وزارت څخه په هره ولسوالۍ کې ۵ کسان د سواد د زده کړې په کورسونو کې په ښوونه او روزنه بوخت دي چې ۳۴سلنه يې ښځې جوړوي . د نوي پاليسي په اساس په کليوالو سيمو کې د سواد زده کړې د مرکزونو رامنځته کولو ته ډيره پاملرنه شوی ده. په ۱۳۸۷ل کال کې څه د پاسه ۳۷۸۵۲۰ بې سواده هيوادوال د سواد د زده کړو د معينيت او نادولتي مؤسسو په کورسونو کې په زده کړو بوخت دي. د سواد د زده کړې په کورسونو کې د ښځو د شموليت کچه لوړه شوې او ۷۲ سلنه جوړوي چې له ټاکل شوې موخې ياني د پوهنې د ملي ستراتيژيک په پلان کې له ټاکل شوې ۱۲ سلني زيات دي (۷ شکل ته دی وکتل شي).

د ښوونې او زده کونې لپاره ښوونيز نوي او ابتکاري لاری د LIFE ( د سواد زده کړې نوښت د ژوندانه د وړتيا لپاره ) ، LCEP1-LCEP2 ( سواد زده کړه او د ټولنې غښتلتيا) ، او د پوهنې وزارت د نورو نوښتونو لکه د سيمې د خلکو او د ديني مشرانو ګډون د سواد زده کړې د پروګرامونو د شموليت په زياتوالي کې مؤثر رول لوبولی دی.

7 جدول -په 1385-1387 کلونو کې د سواد زده کړې شمير د جنسيت پر اساس

| په دريو وروستيو کلونو کې د سواد زده کونکو شمير د سواد زده کړې په پروګرامونو کې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کال | نارينه | ښځينه | مجموعه | د ښځو سلنه |
| 1385 | 105446 | 147645 | 253091 | %58 |
| 1386 | 98581 | 226451 | 325032 | %70 |
| 1387 | 104134 | 274386 | 378520 | %72 |

مأخذ: د پوهنې وزارت د سواد زده کړې معينيت شميرنه، 1387

د ګواښ او زيانمنښت يا (NRVA) د ارزونو د ملي راپور له مخې په ۲۰۰۵ز کال کې د ۱۵کلونو عمر لرونکو اشخاصو د سواد کچه شا وخوا ۲۴سلنه لوړه شوې (۳۲سلنه نارينه او ۱۳سلنه ښځينه) اټکل شوې، چې په۱۳۸۷ل کال کې د هيواد څه د پاسه ۱۱ ميليونه وګړي بې سواده دي.

په افغانستان کې د سواد کچه د نورو هيوادونو په پرتله ډېره ټيټه ده که چيرې د سواد زده کړې دا پروګرام همداسې دوام پيدا کړي او د سواد زده کوونکو شمير په همدې توګه پاتې شي په هيواد کې به د سواد په فيصدۍ کې د پام وړ بدلون و نه ليدل شي.

د سواد زده کړې ګڼ شمير مرکزونه د اړتيا او ضرورت څخه کم دي. د سواد زده کړې کورسونه ډېرى په ښارونو کې جوړېږي په داسې حال کې چې د بې سواده وګړو ګڼ شمير په لرې پرتو سيمو او کليو کې دی او د سواد زده کړې کورسونو ته لاسرسی نه لري. د سواد د زده کړې د کورسونو لپاره د وړ ځای کمښت او په ولسواليو کې د ښوونيزو سيمييزو مرکزونو او دفترونو نشتوالی په تيره بيا په کليوالو سيمو کې ستونزمن کار دی.

همدا راز د سواد د زده کړې لپاره د کورسونو جوړول په سمه توګه نه تر سره کيږي په داسې حال کې چې څه د پاسه ۱۱۰۰۰ ښوونځي په ټول افغانستان کې د عمومي زده کړو لپاره شته. د سواد زده کړې د کورسونو او ښوونځيو تر منځ هيڅ اړيکې نشته او هغوی د سواد د زده کړې د کورسونو لپاره د عمومي زده کړو ښوونځي د کورسونو لپاره نه کاروي.

د سواد د زده کړې کورسونو ته په بيلابيلو دلايلو لکه د کورني اقتصاد ټيټوالي، په ټولنه کې د ناوړو دودونو شتون او د سواد د اهميت نه درک په تيره بيا د ښځو لپاره يې ستر لاملونه دي. همدا راز د سواد زده کړې لپاره د تبليغاتو د استراتيژۍ او د پروګرامونو د وړاندې کولو لپاره له رسنيو هم پوره ګټه نه ده اخيستل شوې.

د ۲۰۰۸ز کال د سواد د زده کړې د اړتياوو د راپور له مخې چې د پوهني وزارت او د يونسکو لخوا شوې په پوهنه وزارت سربيره يو شمير نور وزارتونه هم د سواد د زده کړې پلانونه پلي کوي. دفاع، کورنيو چارو او عامې روغتيا وزارتونه هم د سواد زده کړې کورسونه د خپل کارکوونکي لپاره لري. همدا راز د کليو د بيا رغوني او پراختيا، کرهنې، ښځو چارو او عدليې وزارتونه هم د خلکو لپاره د سواد د زده کړې پروګرامونه پلي کوي.

افغان نادولتي او نړيوالې مؤسسې او د ملګرو ملتونو اداري هم د سواد زده کړې معينيت تر څار لاندې د سواد د زده کړې تر (LIFE) نړيوال پروګرام لاندې د (ښوونه او روزنه د ټولو لپاره ) د اهدافو د لاسته راوړنې لپاره پروژې پلي کوي.

د مسلکي پرسونل لږوالی او د بوديجې تخصيص او مالي سرچينې د سواد د زده کړې د پروګرامونو د نه ودې او پرمختيا بل لامل دی. د دولت لخوا ددې پروګرام لپاره په ۱۳۸۷ل کال کې هيڅ پرمختيايي بودېجه نه وه او عادي بوديجه يې په ۱۳۸۸ل کال کې ۲۲۷ ميليونه افغانۍ (د ۴,۵ ميليونه ډالرو په شاوخوا) وه.

**د ښوونيزو توکو او درسي کتابونو چمتو کول:**

د سواد د زده کړې ښوونيز نصاب وړاندې جوړ شوی. د سواد د زده کړې نصاب په دوه پړاوونو کې پلی کيږي: اساسي سواد زده کړه په شپږو مياشتو کې او د وروستنی سواد زده کړه په دريو مياشتو کې دي. همدا راز د ښوونکي او سوپروايزرانو لارښود کتاب هم د سواد زده کړې ښوونکو ته برابر شوی دی. د اساسي سواد زده کړې او له سواد وروسته زده کړې کتابونه ، د ښوونکي لارښود او د سوپروايزرانو لارښود په دري او پښتو ژبو ليکل شوي او چاپ شوي دي. په ۱۳۶۸ل کال کې ۵۵۰ زره ټوکه د اساسي او وروستې سواد د زده کړې او ۱۳زره ټوکه د ښوونکو لارښود کتابونه د سواد زده کړې د پروګرام د پراختيا د يوې برخې تر نوم لاندې تدوين، چاپ او ويشل شوي دي.

د اساسي قانون د حکمونو له مخې ښوونيز نصاب او درسي توکي دهيواد په دريم رسمي ژبو، ترکمني او نورستاني برابريږي او همدا راز د سواد د زده کړو کتابونه په ازبکي ژبه هم چمتو او چاپ ته تيار دي. د کوچيانو لپاره هم تعليمي نصاب چمتو شوی دی.

د سواد زده کړې درسي کتابونه او ښوونيز نصاب د سواد او حساب زده کړې لپاره دی او د بزګرانو ، ښځو ، دوکاندارانو او نورو ځانګړو ګروپونو د اړتياو مطابق نه دی. وزارت په پام کې لري چې د LCEP1-LCEP2 د پروګرامونو له لارې د خاصو ښوونيزو او زده کړنيزو توکي توليد کړي. ددې سره سره بايد دغسې پروګرامونه د سواد زده کړې د معينيت سره په پوره همغږۍ سره پلي شي ترڅو دغه توکي بالاخره د وزارت د ښوونيز نصاب يوه برخه وګرځي.

**د سواد د زده کړو د ښوونکو روزنه:**

د سواد د زده کړې د ښوونکو د روزنې او د هغوی د فعاليتونو د برابرښت لپاره د سواد د زده کړې د ښوونکو د روزنې رياست په نوي تشکيل کې زيات شوی او همدا راز د ښوونکي د روزنې تخصصي انستيتيوټ هم برابر شوی دی.

تر ۱۳۸۷ل کال پورې ۸۰۰ کسان د سواد د زده کړو ښوونکي (۲۸٪ ښځينه ښوونکي) له ۱۰ ورځنيو ميتوديکو کورسونو څخه برخمن شول. همدا راز ۵۰ تنه ښوونکي د کورنيو چارو وزارت د ملي پوليسو د سواد زده کړې له کورسونو څخه او ۲۰۰ ښوونکي هم د دفاع وزارت د سواد زده کړې د کورسونو څخه په ميتوديک کورسونو کې وروزل شول.

اوسمهال ۷۰ تنه سر لارښودان په ولايتونو کې په کورسونو کې ښوونکو ته د کورسونو او ښوونې په حال کې دي. دا ټول لارښوونکي په ۱۰ ورځنيو ميتوديکو کورسونو کې روزل شوي دي.

اوسمهال د ليک لوست (سواد) زده کوونکو او د سواد د زده کړو د کورسونو د کيفيت د څار لپاره منظم سيستم نشته، خو د کورسونو کيفيت او د زده کوونکو د زده کړې کچې ته په پام سره شوې څېړنې په بيلابيلو دلايلو د خوښې وړ نه دي.د سواد زده کړې لپاره د ۹ مياشتو موده کمه ده. د سواد د زده کړې لپاره د کتابونو نشتوالی محسوس دی. د سواد د زده کړې پروګرام د ليک لوست لپاره لږ په مسلکي زده کړو او مهارتونو کې شامل دی او بالاخره جذابيت يې لږ دی. په ټوليزه توګه د سواد د زده کوونکو ليوالتيا دغو پروګرامونو ته کميږي او له بلې خوا دا پروګرامونه د هغوی د لوړ تحصيل لپاره هم امکانات نه برابروي.

د مسلکي ښوونکو په تيره بيا ښځينه ښوونکو نشتوالی د هيواد په بيلابيلو سيمو کې هغه ستونزه ده چې په دې سيمو کې يې د سواد د زده کړې کيفيت ټيټ کړی. د پوهنې وزارت د نوې پاليسی او په کليوالو سيمو کې د سواد زده کړې ته د پام له امله په د سواد د زده کړو پروګرامونه په ښاري سيمو کې څه د پاسه ۲۷۵۰ ښوونکي له لاسه ورکړل ځکه هغوی په هغو برخو کې چې ښوونکو ته يې اړتيا درلوده جذب شوي دي. په کليوالو سيمو کې د ښوونکي موندل کيدل سخته چاره ده ځکه چې په دې سيمو کې د بيسوادۍ کچه ډيره لوړه ده. همدا راز په کليو کې د سواد د زده کړو اوسني ښوونکي کافي لوړې زده کړې نه لري او ډېرې روزنې ته اړتيا لري څو د سواد د زده کړې کتابونه تدريس کړي. د سواد د زده کړې معينيت نوی نصاب او روزل شوي ترينران نه لري نو له همدې امله په پام کې ده چې په کليوالو سيمو کې د ښوونځي ښوونکي له رسمي وخت وروسته د سواد د زده کړو په کورسونو کې هم درس ورکړي.

**ښوونيزه څارنه:**

اوس مهال افغانستان د ( سواد زده کړه د ټولنې د غښتلتيا لپاره- LIFE ) تر نړيوال پروګرام لاندې قرار لري چې د سواد زده کړې د پروګرام د پراختيا لپاره د يو ستراتيژيک نوم لاندې ترې ګټه اخستل کيږي. ۲ نورو پروګرامونو هم د ( د سواد زده کړې ۲م پروژه د ټولنو د غښتلتيا لپاره LCEP2 ) او (په افغانستان کې د سواد پراختيا ELA ) په ۱۳۸۷ل کال کې پيل شوي دي.

د سواد د زده کړې پروګرام د کابل ښار په هره ناحيه کې او د ولايتونو په ښارونو کې او د هرې ولسوالۍ پر سر دوه د څارنې غړي لري او د ولايتونو د مرکز په سويه هم دوه تنه څارونکي. همدا راز په معينيت کې ۱۲ کسان څارونکي غړي لري. د ښې څارنې لپاره د سواد د زده کړې د پروګرامونو او د ښه والي او د سواد د زده کړې د معلوماتي سيستم د جوړولو لپاره يو شمير فورمې ټولې شوي او له څارنې او بيا کتنې وروسته ولايتونو ته د معلوماتو د را ټولولو په موخه استول شوي دي. دا فورمې ولايتونو ته د معلوماتو د راټولولو په موخه استول شوې دي. په دې برخه کې ولايتونو ته د فورمو د ويش په اړه هم يو سيمينار جوړ شوی دی. د سواد د زده کړې معلوماتي سيستم د پراختيا په حال کې دی.

**مديريت او همغږي:**

افغانستان (د سواد زده کړې د پياوړتيا لپاره (LIFE) ) د نړيوال پروګرام غړی دی او د هغه څخه د ټوليزو فعاليتونو د ستراتيژيک چوکاټ په توګه د سواد د زده کړې د پروګرامونو د ښه والي لپاره ګټه اخيستل کيږي. په ۱۳۸۷ل کال کې ۲ غټې پروژې د ( سواد زده کړه د ټولنې د غښتلتيا لپاره-LCEP2 ) او (په افغانستان کې د سواد زده کړې پراختيا ELA) په کار پيل کړی دی. د LCEP2 د نصاب د ګټه اخستنې په پروژه کې د ليک ، لوست، حساب او د نيوکې د تفکر وړتيا ښوونيز مهارتونه شامل دي.

همدارنګه دغه پروګرام د سواد زده کوونکو لپاره واړه پورونه تياری کړي او د پور ورکونې واړه بانکونه يې رامنځته کړي او د توليد مهارتونه پياوړی کړي. دغه پروګرام به ۳۰۰ زره سواد زده کوونکي په ۱۸ ولايتونو کې د ۵ کلونو لپاره د خپل پوښښ لاندې راولي. ددې پروګرام ۶۰ سلنه سواد زده کوونکي ښځې جوړوي. په دغه پروژه کې هره دوره به د ۱۸ مياشتو موده په بر کې نيسي.

په افغانستان کې د سواد د لوړاولي(ELA) پروژه د سواد د زده کړې د پروګرام له اوسني نصاب څخه ګټه اخلي او په پنځو کلونو کې ۶۰۰ زره بې سوادان په کورسونو کې جذبوي. دا پروژې د ۱۸ ولايتونو په ۵۰ ولسواليو کې خپل فعاليتونه پيل کوي او هر پړاو يې ۱۲ مياشتې وخت اخلي. له ۹ مياشتې سواد زده کړې وروسته د ۳ مياشتو لپاره حرفه ای او د وړې پور ورکونې زده کړې هم لري.

دا پروژې د مسلکي ښوونکو لړوالي ته په پام سره غواړي چې د ۱۲ ټولګي څخه د ټيټو تحصيلاتو لرونکي ښوونکي هم وګوماري او د هغوی لپاره د اعتبارنامې يا تصديقنامې سيستم د پوهنې وزارت په موافقې سره رامنځته کړي.

د بوديجوي او د نا کافي بشري قواو د ستونځو سره سره د سواد زده کړې معينيت د سواد زده کړې په برخه کې د خصوصي موسساتو د کړنو څخه کافي معلومات نه لري. هغه موسسې چې په ولايتونو کې د سواد زده کړې کورسونه پرمخ وړي د سواد زده کړې د معينيت او د ولايتونو د پوهنې د رياستونو سره کافي همغږي نه لري. د خلکو د ونډې اخيستنې سيستم د سواد زده کړې د پروګرامونو د پلې کولو لپاره د ولايتونو او ولسواليو په سطحه نه دی رامنځته شوی. که څه هم د ولسواليو د سواد زده کړې ډيرئ دفترونه تجهيز شوي ولې بيا هم د بوديجې د نه اجرا له امله د سواد زده کړې بعضې دفترونه د اړتيا وړ تجهيزات نه لري.

# د پوهنې د بيخبنا پراختيا


### د عمومي زده کړو د ښوونځيو جوړول او تجهيز:

د پلان له پلي کيدو د پيل څخه تر اوسه ۱۹۷۱۸ درسي ټولګي په ۱۷۵۲ښوونځيو کې بشپړ شوي او د ۱۸۷۰۶ ټولګي جوړول په ۱۸۴۸ ښوونځيو کې تر کار لاندې دي .

د پوهنې وزارت د ۸۸ سلنه ښوونځيو لپاره د څښلو د اوبو او روغتيايي چارو اسانتياوې او د ۴۳ سلنه ښوونځيو لپاره ميز او څوکۍ برابرې کړې دي . په ۱۳۸۷ل کال کې به کابو ۵۵ سلنه ښوونځي ودانۍ ولري او اوسمهال ۴۵ سلنه ښوونځي د ګټې وړ ودانۍ نه لري.

د هغو زده کوونکو اوسط چې په ۱۳۸۷ل کال کې يې درسي خونې درلودې ۱۴۴ته رسيده خو دغه نسبت په بيلابيلو ولايتونو کې ډېر توپير لري او تر ټولو لږ يې په پنجشير کې دي چې ۷۳ زده کونکي يو درسي خونې ته دي او زيات يې په غور کې دي چې د يوې خونې لپاره ۲۸۷زده کوونکي دي. (۱۰م شکل وګورئ)

۱۰م شکل ـ د ولايتونو په کچه په ټولګيو کې د زده کوونکو نسبت




مأخذ: د پوهنې وزارت شميرنه، ۱۳۸۶ل

د وزارت د ودانوني پروګرامونه د مهمو ستونځو سره مخ دی چې د هغې د پرمختګ مخنيوی کيږي. د ښوونځيو د رغولو لپاره د بوديجې کمښت، په تيرو کلونو کې د پارلمان او کابينې له خوا د بوديجې په تصويبولو کې ځنډ، د انکشافي بوديجې په برخه کې د ماليې وزارت او نورو دولتي ارګانونو ترمنځ کاري ستونزه، د مستوفيتونو لخوا د ولاياتو د پوهنې رياستونو ته د بويجې په ورکولو کې وروسته والی له مهمو ستونزو څخه دي. ددی په خوا کې په هرکال کې له کب تر چنګاښ مياشتې (له مارچ تر جون) پورې د بانکي حسابونو تړل، د مرکز او ولايتونو د پوهنې د رياستونو ترمنځ نه همغږي (په ځانګړي توګه د درسي ټولګيو د رغونې لپاره د ځای په ټاکلو کې) د مرکز او ولايتونو د پوهنې د رياستونو د کار پر وړاندې د بوديجې د تحويلولو لپاره د مستوفيتونو له خوا د ستونزو جوړول، د دولت د تدارکاتو اوږده پروسه، په درېيمه درجه ولايتونو کې د ودانيزو شرکتونو نشتوالی لکه په(دايکندي، نورستان، زابل او نوو ولايتونو کې ) ټول د پوهنې وزارت د جوړونې د پروګرامونو د پرمختګ د خنډ لامل ګرځيدلی دی.

**د مدرسو او دارالعلومونو ودانول او تجهيز:**

د 65 دارالعلومونو او مدرسو د ودانولو کار روان دی او 19دارالعلومونه او ديني مدرسې، چې څو کاله وړاندې يې کار پيل شوی وو، بشپړې شوې او ګټې اخيستنې ته چمتو شوي دي .اوسمهال يوازې ۵سلنه د مدرسو او دارالعلومونو درسي شعبې د استفادې وړ دي .

**د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو ودانول او تجهيز:**

د پنځو تخنيکي ښوونځيو (د فارياب او بغلان ولايتونو د کرهني د ليسو په ګډون) په تيرو دريو کلونو کې بشپړې شوې دي. په پای کې 80 سلنه يې درسي شعبې ګټې اخيستنې ته چمتو دي.

د تخنيکي ثانوي ښوونځي د بيا جوړوني چارې، د کابل د صنايعو د ليسې، ميخانيکي ليسې، د مسلکي تدريساتو رياست د اداري تعمير، د مالي او حسابدارۍ د انستيټيوټ بيا رغونه او د کابل د اوتو ميخانيک انستيټيوټ د ليليو د ترميم چارې بشپړې شوي دي.

**د دار المعلمينونو د ودانيو او د هغوي د شعبو جوړول په ولسواليو کې:**

اوسمهال يوازې ۱۷ دارالمعلمينونه مناسبه تدريسي ودانۍ لري، او ۲ دار المعلمينونو د ښځو لپاره ليليه او 12دار المعلمينونو د نارينه وو لپاره ليليې چمتو کړې دي .البته د 17تدريسي ودانيو د ودانولو چارې، د نجونو لپاره د 17ليليو او د هلکانو لپاره د ۱۰ليليو د برابرولو چارې له مخکې نه پرمخ رواني دي .د يادو شويو ودانيو کار مخکې پيل شوی وو. د ۹ دارالمعلمينونو د ودانيو کار د بدخشان، باميان، دايکندي، غزني، کندوز، د کابل ښار، کاپيسا او پروان په ولايتونو کې پيل شوی دی.

**په ولايتونو او ولسواليو کې د پوهنې د ادارو ودانول :**

په کابل ښار، کابل ولايت، پکتيا، پکتيکا، پنجشير، پروان، ميدان وردګ او سمنګان ولايتونو کې د پوهنې د رياستونو ۹ودانۍ جوړول په 1387کال کې بشپړې شوي دي او د دايکندي، کاپيسا، خوست، لوګر، ارزګان او زابل ولايتونو د پوهنې د رياستونو د ودانيو د کار چارې په 1386کال کې پيل او لا هم رواني دي. د ۱۰ ودانيو د ودانولو چارې بشپړې شوي دي او ۵ نور ودانۍ د ۱۳۸۸ل کال تر پايه به بشپړ شي.

**مديريت او همغږي:**

د پوهنې د ادارو او د ښوونځيو د ودانيو د ودانولو او طارحی خوندي استندردونه د سيمه ييزو توکو او ښيګڼو څخه په ګټې اخستنې سره پراختيا موندلی او د ګټې اخستنې وړ ګرځيدلی دی.د دغه معيارونو څخه د ودانيو د ودانولو او ارزولو د پروسې څخه د څارنې لپاره ګټه اخيستل کيږي. ولې په ځينو ولايتونو کې د ښوونځيو د ودانيو د جوړولو د څرنګوالي څخه کنټرول کمزورې ده او په پای کې د ودانيو څرنګوالي د خوښۍ وړ نه دی.

د انجنيرانو شپږ کسيزه ډلې (يو مشر انجنير او پنځه نور انجنيران) په هر ولايت کې ټاکل شوي دي چې د ودانيو د څرنګوالي څارنه وکړي . هر يو له دې اجينرانو څخه د ځانګړو ودانيو د څرنګوالي د کنټرول د څارنې مسول دي .که چيرې د ودانۍ کومه برخه له معيار سره برابره نه وي، قراردادي ته لاښوونه کيږي چې له معيار سره يې برابره کړي .البته د انجنيرانو لپاره د نړيوالو کوډونو په برخه کې معياري روزنه يا (ICB)ضروري ده .

دغو ډلو ستونزې د ساحوي انجنيرانو لپاره د ودانيو د څارنې په برخه کې د ترانسپورتي وسايلو کمښت د يادولو وړ خبره ده.

په ځينو ولايتونو کې د پراختيايي مرستندويو او د پوهنې وزارت په منځ کې د ښوونځيو د ودانولو په برخه کې کافي همغږي نشته. همدارنګه د درسي ټولګيو د ځای د ټاکلو په اړه د تعميراتو او ودانيو د رياست او د ولاياتو د پوهنې ترمنځ کافي همغږي نشته.

د افغانستان په لسو ولايتونو (ننګرهار، خوست، کندز، بلخ، جوزجان، هلمند، باميان او د کابل ښار او ولايت کې) د ښوونکو لپاره د دولت له خوا د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت په مرسته د ښارګوټي ودانول پيل شوي چې تر اوسه پورې 102129جريبه ځمکه د ښوونکو د ښارګوټي لپاره ځانګړې شوې ده.

## د پوهنې د ادارې د پراختيا او حمايوي خدمتونه

**د اداری اصلاح او د بشری سرچينو پراختيا :**

د ۱۳۸۷ل کال د شميرنې په اساس د پوهنې ټولو کارکوونکو شميره ۲۰۶ زره ده، چې ۲۷سلنه يې ښځې جوړوي .ښوونکي ۱۵۸ زره يانې د پوهنې د ټولو کارکوونکو۷۷سلنه جوړوی. محلی دود او راوجونه ، او د ښځو پروړاندی تبعيض لرونکی کلتور او په ځينو سيموکې د امنيت نه شتون د ښځو د شتون پر وړاندی د پوهنې په برخه کې يو خنډ دی. همدا راز د ښځو دګمارلو لپاره د جلب او جذب يو خاص لاربنود او پروسيجر نشته. ګمارنه د جنسيت له مخی نه تر سره کيږی. د پوهنې وزارت په تشکيل کې له زياتوالي سره ، د بستونو ټاکنی د جنسيت له مخی نه دی ترسره شوی .همدا رنګه د پوهنې وزارت د جنسيت پاليسي د ګومارنې د ډيپارتمنت په کړنلارو او لايحو او نورو ډيپارتمنتونو کې شامله شوې نه ده.

د ديپارتمنتونو او کارکوونکو نوی تشکيل او د دندو لايحه د پوهنې د ملي ستراتيژيک پلان په رڼا او د اداری اصلاحاتو په معيارونو کې نهايی شوی دی. ۶۲۱ تنه کارکوونکي پخوا د اداري جوړښت او اصلاحاتو يا( PRR ) په سيستم سره وګمارل شول. د ملکي خدمتونو قانون او د ګمارلو او د رتبی او تنخواګانو د لوړوالي کړنلاره تصويب شوې ده .د خپلواک او داوطلبانه ګمارلو د ستونزو له جملی څخه ، سياسی فشارونه او لاس وهنې او د کيفيت لرونکو بشري ځواک کمښت دی.

ټاکنې او ګومارنې پروسه د نوي تشکيل پر اساس او د رتبی او معاشاتو له سيستم سره سم شروع شوې. د بوديجې محدوديتونو ته په کتنی سره ، يوازې د کارکوونکو او ښوونکو د ۴۶ زره بستونو ګمارل او معادلت تر ۱۳۸۸ کاله پوری به بشپړ شي، چې د ښوونکو د وړتيا ازموينه هم د هغه يوه برخه ده .د هغو ښوونکو تنخواوو ته چې تحصيلی رتبی يی لوړی دی خاصه کتنه شوی ده .د ښوونکو تنخواوې د تحصيل په پام کې نيولو ، وړتياوو او د خدمت تر کلونو ، د دوولسم ټولګي فارغينو ته ۶۵۰۰ تر ۲۱۴۰۰ افغانيو د دوکتورا تر رتبو پورې ټاکل شوې، چې دغه د ښوونکو د پخوانې امتيازاتو په نسبت د پام وړ مسئله ده .

د پوهنې د ادارو د کاري وړتيا د لوړوالي په موخه، وزارت ۱۱۹۱ تنه تخنيکي کارکوونکي ګومارلي دي. د ۱۳۸۷ل کال په پای کې د پوهنې وزارت د تخنيکي کارکوونکو د ارزونې لپاره يو کميسيون په لاره واچوه، دغه کميسيون هر تخنيکي کارکوونکي وارزوه او د هغه پر اساس په کارکوونکو او د هغوی په کاري لړۍ کې يو لړ تغيرات او تعديلات راغلل.

د ريښتينو کارکوونکو د تثبيت، د اداري فساد د مخنيوي او د بانک له لارې د تنخواوو د ورکولو په لړۍ کې د اسانتياوو لپاره، د پوهنې وزارت دکارکوونکو د ثبت لړۍ په ۲۴ولايتونو او د کابل په ښار کې بشپړه شوې، او تفصيلي معلومات د شته کارکوونکو په اړه په ډېټابيس کې ثبت کړی شول.

له ۱۳۸۶ل کال څخه تر اوسه ۶۰۰۰ کارکوونکو ته د مرکز او ولايتونو په کچه، د اداري، مالي، معلوماتي ټکنالوجی، د کمپيوټر زدکړه، انګريزي ژبې زده کړې او د استخدام د کړنلارو په برخه کې زدکړه ورکړل شوې ده. د تشويقيې لړوالي او د ګډون کوونکو مالي غوښتني د هغو ستونځو له جملې څخه دي چې د وړتيا ړ لوړوالي د پروګرامونو د اغيزتيا مخه يې نيولې ده. ددې سره سره د پوهنې وزارت لا تر اوسه د وړتيا د لوړوالي جامع پروګرام نه لري.

**د مالي سيستم پراختيا :**

د پوهنې وزارت يو له هغو دريو وزارتونو څخه دی، چې په لومړي ځل په هيواد کې يې د بوديجې نوی سيستم د يوه پروګرام له مخې پلی شوی دی. د بوديجې سيستم د پروګرام پر اساس، د دې لامل کيږی چې مالي سرچينې هغو پروګرامونو ته ځانګړې شي چې د مشخصو او واضحو موخو درلودونکي وي، او د بوديجې د لګښت پايله دغِوښتنې سره سمه وی.

د پوهنې وزارت د مالي برخو د وړتيا د لوړوالي په موخه، ۵۰ تخنيکي او مسلکي کارکوونکي په مرکز او ولاياتو کې ګمارلی دي. همدارنګه مالي سيستم يې د مرکز په سطحه کمپيوټري کړي او د معلوماتي مالي سيستم د ټرمينالونو (AFMIS) د پراختيا څخه د ماليې وزارت لخوا د پوهنې په وزارت کې کار اخيستل کيږي.

د کارکوونکو د معاشاتو ويشل د معاش ورکوني د انفرادي سيستم (VPP) له لارې شروع شوی او ۲۱سلنه کارکوونکي خپل معاشونه د بانکونو له لارې تر لاسه کوي. تر اوسه زيات شمير د محاسبې د ديپارتمنت کارکوونکي د معاش ورکوني د انفرادي د نوي سيستم (VPP) په برخه کې زده کړه نه دي کړې او د هغه سره آشنا نه دي .

يو ګټور او کار ورکوونکی سيستم د مالي او حسابداری د رياست او څيرونو او مرکزي او ولايتي سيستمونو تر منځ شتون نه لری، د بيلګې په توګه د مالي لګښتونو راپور پر خپل وخت د پروګرامونو لاسته نه ورځي. او د اړونده آمرينو د پيسو صلاحيتونه د تدارکاتو د نوي قانون په برخه کې په ولايتي بخشو کې واضحه نه وي.

**په معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجی د پوهنې د ادارو سمبالول:**

د پوهنې ټولې مرکزي اداري او د ولاياتو د پوهنې د رياستونو اداري، ۲۰سلنه د ولسواليو د پوهنې مديريتونه، او ۱۵سلنه د ښوونيزو مؤسسې په ټيلفونونو سمبال شوي دي.

شاوخوا۴۰ سلنه د پوهنې مرکزي اداري او د ولاياتو د پوهنې اداري په کمپيوټر او پرينتر سمبال دی. خو د ولسواليو د پوهنې مديريتونه او ښوونيزې مؤسسې لا تر اوسه دې وسايلو ته لاسرسی نه لري.

همدارنګه د پوهنې ټولې مرکزي اداري او ۵۰ سلنه د ولاياتو د پوهنې د رياستونو اداري د انټرنت اسانتياوو ته لاسرسی لري، خو د ولسواليو د پوهنې مديريتونه او ښوونيزې مؤسسې دغه تجهيزاتو ته لاسرسي نه لري.

ددې امکاناتو د راوستلو سره سره، ۵سلنه د پوهنې وزارت کارکوونکي د معلوماتي ټکنالوجی په برخه کې زدکړه کړي دي.

هر يوماشوم ته د يو لپ ټاپ کمپيوټر د پروژی پلي کول په دې وروستيو کې د پوهنې وزارت لخوا پيل شوي دي .دغه پروژه د خپلو همکارانو په همکاری ۵۰۰۰ xo پايي لپ ټاپونه د هيواد په مرکز او ولايتونوکي د ځلورم څخه تر شپږم ټولګې زدکوونکوته به په وړيا توګه وويشي.

دغه پروژه په ننگرهار ولایت کې پلی او ۴۰۰ پایه xoلپ ټاپونه یی ددغه ولایت ماشومانوته ویشلی او همداراز ۲۰۰۰ پایی په کابل ولایت کې ویشل شوي دي .

د دغې پروژی موخه ، د کمپیوټر زدکړه زده کوونکو ته او د اسانتیاوو لړی په زدکړه کې دی .دغه کمپیوټرونه له انټرنت سره وصل دي چې ماشومان کولای شي ترې گټه پورته کړي. ددې پروژې پلي کول به والدین دیته وهڅوي ترسو خپلو ماشومانو ته د لپ ټاپ کمپیوټرونه تیار کړي.

**املاک او جایدادونه :**

تر اوسه پورې ۱۰۲۱۲۹ جریبه ځمکه د رهایشي کورونو او د ښوونکو د ښارګوټی لپاره د هیواد په مرکز او ولایاتو کې تثبیت شوی دی.

د ښوونکو د ښارګوټي د جوړولو پروتوکول په ۲۴۰جریبه ځمکه کې چې د کابل په ده سبز ولسوالۍ کې ده د پوهنې وزارت او د کرهنې، اوبو لګونې او مادارۍ وزارتونو تر منځ لاسلیک شو. د ښوونکو لپاره د ښارګوټي دځمکو د نمرو د ویشلو په مقصد د ښارونو د پراختیا وزارت لخوا ۱۱۰۱ رهایشي ځمکو باندی نمری ولګول شوی چې د یوی لویې غونډی په ترڅ کې د جمهور رئیس ، د کابینې غړو ، پارلمان او ځینی دولتی ټولنو لخوا د رهبرۍ په سطحه ښوونکو ته موقت اسناد ویشل شوي دي .ددغو ځمکو له جملی څخه ، ۵۳۹ جریبه ځمکه د خلکو لخوا د ولایتونو او ولسوالیو د ښوونځیو د جوړلولو لپاره اهدا شوي دي.

**مدیریت او همغږی:**

پوهنې وزارت پورې اړونده اداري پروسیجرونه ، مرکزي دي او ډیر وخت نیسی او ورو روان دي او د پوهنې وزارت ډیری مراجعین له دی برخی څخه سر ټکوي. له کومه ځایه چې دغسې پروسیجرونه په یو شان د دولتي وزارتخانو لپاره د اجر وړ ګرځي ، باید د هغه اصلاحات د لوړو سطحو څخه پلي شي.

# د ستراتیژیک مدیریت پراختیا

**د پالیسو وده او اصلاح :**

د افغانستان د پوهنې قانون په ۱۳۸۷ل کال کې چمتو او د کابینې له خوا تصویب شو، چې اوسمهال د پارلمان تر وارسې لاندې دی. همدا راز د خصوصي زده کړو مقرره هم د ۱۳۸۵ل کال په پای کې چمتو، تصویب او منظوره شوې ده. د لوایحو او کړنلارو بیا کتنه هم د پوهنې د قانون له مخې په جریان کې ده.

د پوهنې په وزارت کې ګڼې برخې شته چې لا تر اوسه هم مدونه پالیسي نه لري لکه د پوهنې د انډولیزې پرمختیا پالیسي، د هر اړخیزو زده کړو د پالیسي، له ښوونځی مخکې زده کړې او تخنیکي او مسلکي زده کړې. همدارنګه د پوهنې ډیرۍ پالیسیګانې بیاکتنې ته اړ دي لکه د ښوونځیو د جوړونې پالیسي او د څارنې او ارزونې پالیسي.

**ستراتيژيک او عملياتي پلان جوړونه:**

د پوهنې ملي ستراتيژيک پلان د لومړي ځل لپاره په ۱۳۸۵ل او ۱۳۸۹ل کلونو لپاره برابر شو. د دې پلان د پايلو له جملې څخه د پوهنې وزارت په فعاليتونو کې د دوام ، مؤثريت او همغږۍ لامل شوی دی. د پوهنې لومړنی ملي ستراتيژيک پلان د تر لاسه شوو تجربو په رڼا کې له درې کاله تطبيق وروسته په ۱۳۸۸ کال کې بياکتنې لاندې راغئ او د پوهنې دوهم ملي ستراتيژيک پلان د ۱۳۸۹ او ۱۳۹۴ کلونو لپاره چمتو شوی دی. همدا راز عملياتي پلانونه هم په مرکز او ولايتونو کې د ستراتيژيک پلان په اساس د ۱۳۸۶ کال څخه پيل شوی دی.

د پوهنې په وزارت کې د پلان جوړونې سيستم اوس هم ډېر مرکزي دی، د پوهنې مرکزي رياستونه او همدا راز د ولايتونو د پوهنې رياستونه د ستراتيژيک او عملياتي پلان په برابرولو کې کافي رول نه لري .

ددې سره سره ، د وزارت منظور شوی او نهايي پلان او بوديجه په وخت سره د مرکزي رياستونو او د ولايتونو پوهنې رياستونو ته په واک کې نه ورکول کيږي او هغه فعاليتونه چې په مرکز او ولايتونو کې ترسره کيږي په بشپړه توګه له کلنې عملياتي پلان سره همغږي نه لري او اوس هم فعاليتونه او بوديجه نه ده سټنډرډ شوې.

**د معلوماتو، څارنې، ارزونې او راپور ورکونې سيستم:**

د افغانستان د پوهنې د اداري معلوماتي سيستم EMIS په مرکز کې وده موندلې او د ولايتونو په سويه د معلوماتو سيستم وده نه ده کړی. د احصايوي معلوماتو سيستم مرکزي دی او دا د دې لامل شوی چې ډيټابيس ته د معلوماتو ورکولو او راټولولو پروسه ډېر وخت واخلي او معلومات په وخت د پلان د پروګرامونو د چارواکو په واک کې ورنکړای شي. دا ستونځه ددې لامل شوی چې معلومات په وخت سره د پروګرامونو او پلان جوړونکو مسؤلينو په اختيار ورنکړل شي. دا مسئله ددې لامل شوی چې يوازې د پلان رياست دغه سيستم او معلوماتو ته لاسرسي ولري او نور رياستونه هغه ته لاسرسي ونلري او په نتيجه کې ونشي کولای چې د څارنې او ارزونې د معلوماتو د عملکرد څخه ګټه واخلي .

د پروسې د اوږدوالي يو بل لامل له اغيزمنې اړيکتيايي او معلوماتي ټکنالوجۍ د استفادې نشتوالی دی.

همدارنګه هغه راپورونه چې ددې سيستم لخوا توليد کيږي ډېر پيچلي وي او نشي کيدای چې د ټولو لخوا د کار وړ وګرځي. نو لازمه ده چې د نورو رياستونو د اړتياو پر اساس ځانګړي بخشونه پراختيا ومومي او د مرکزي سيستم سره توحيد شي.

په ۱۳۸۶ل کال کې د پوهنې له ټولو ښونيزو مؤسسو څخه ټوليزه لومړنۍ سروې تر سره شوه او را ټول شوي او راپور يې خپور شو. د ۱۳۸۷ل کال شميريزه سروې هم بشپړه او راپور يې خپور شوی دی. که څه هم د پوهنې او روزنې معلوماتي سيستم په وروستيو کلونو کې پراختيا موندلې خو بياهم د راټول شوي معلومات د قبول وړ ندی.

د هڅونکو او مرستو ويش د ولايتونو د پوهنې په شميرنو باندې منفي اغيز کړی، ځکه د ښوونځيو چارواکي د ښوونځي د زده کونکو شمير له واقعيت څخه زيات ښيي څو ډېر هڅونکي او مرستې تر لاسه کړي. همدا راز د زده کونکو د شمير د زيات ښودلو بل لامل له درې کاله ښوونځي پرېښودلو وروسته د ښوونځي په حاضرۍ کې د زده کونکي د نوم د پرېښودلو پاليسي ده

**کورني (داخلي) پلټنه او څارنه:**

اوسمهال کابو ۱۶ روزل شوي مفتشين په مرکز کې دي، چې ۱۳۸۷ل کې کابو ۷۵سلنه د پوهنې اداري واحدونه د دې مفتشينو لخوا په منظمه توګه څارل شوي دي. په ۱۳۸۷ل کال کې کابو ۱۵سلنې شکايتونو ته رسيدنه شوې.

**ستراتيژيکې اړيکې :**

د پوهنې رياستونوسره د منظمو اړيکو د جوړولو لپاره د ولاياتو سره دهمغږۍ د چارو دفتر د وزارت د رياست دفتر د تشکيلاتو لاندې رامنځته شوی دی . دې اداري له ولايتي چاروالکو سره منظمې غونډې کړې او له پاليسی، پرېکړو او پروګرامونو له اجرا سره سمې موضوعات يې له هغوی سره شريکې کړې او د هغوی غوښتنې او وړانديزونه يې اورېدلي دي او د هغوی د ستونزو د له منځه وړلو لپاره لازمې لارې چارې لټوي.

د پوهنې د پرمختيا د تولنې په تعقيب او له مرستندويانو او بهرنيو پرمختيايي همکارانو سره د همغږۍ په موخه د پوهنې پرمختيايي بورډ يا EDB په ۱۳۸۷ل کال کې رامنځته شو. دا بورډ هره مياشت منظمې غونډې جوړوي او د پوهنې د پرمختګ په اړونډو مسايلو بحث کوي. د دې بورډ د جوړېدو اصلي موخه د وزارت له مقام سره سلا مشورې او د پوهنې وزارت او مرستندويانو سره د همغږۍ رامنځته کول دي.

د پوهنې د پراختيا، پلانونه، پرمختګونه او ستونځې اړونده موضوعات د سيمې د خلکو، مشرانو، سياستوالو، مرستندويانو او نورو ته ورکول کيږي.

همدا راز د رسنيو او ډله ايزو خپرونو خپرونې د پوهنې د وزارت په اړه ارزول کيږي او د پوهنې وزارت اړوندو چاروالکو ته يې په اړه معلومات ورکول کيږي.

# دریم څپرکي: لومړیتوب لرونکي پروګرامونه

دا ستراتیژیک پلان پنځه لومړیتوب لرونکي پروګرامونه لري, نوموړی هر یو پروګرام د اړوند معینیت تر څارنې لاندې پر مخ وړل کیږي او فقط د استراتژیك مدیریت پرمختیائي فرعي پروګرامونه(په دي ځاي كي د پنځم پروګرام لاندي دي) د وزیر صاحب د نېغې څارنې لاندې اداره کیږي.

د دې څپرکي په اوږدو کې به، کلي موخي، فرعي موخي، برخو او د هر پروګرام فعالیتونه تشریح کیږي:

۱. عمومي او اسلامي زده کړي

۲. د ښوونکي د روزني او نصاب پرمختیا

۳.تخنیکي او مسلکي زده کړي

۴.د سواد زده کړي

۵.د پوهنني مدیریت

## لومړی پروګرام: اسلامي او عمومي زده کړې

دا پروګرام دوه فرعي پروګرامونه لري: عمومي زده کړې او اسلامي زده کړې. د دې فرعي ~~پلانونو~~ پروګرامونو بشپړ تفصیل وروسته راغلی.

## فرعي پروګرام ۱,۱: عمومي زده کړي

**کلي موخه**

د ښوونځي عمر لرونکي ټول ماشومان له انډول پرته او په مساوي توګه په ټول ~~هېواد~~ هیواد کې ~~باکېفیته~~ باکیفیته ښوونې او روزنې ته لاسرسی ولري، څو د فردي، کورنی او ټولنیز سالم او بریالي ژوندانه وړتیا او د لوړو زده کړو تحصیلاتو ته لار پیدا کړي.

### راتلونکي پنځه کلن پلان

**عمومي ستراتیژی:**

د پوهنې وزارت په پام کې لري چې عمومي زده کړو ته لاسرسي د ښوونځي او الحاقیه ځانګو د جوړولو له لارې د هیواد په کچه زیاتوالي ورکړي .د الحاقیه شعبو په نیازمندو سیمو او په ځانګړې ډول په لرې پرتو سیمو کې چې پکې د ښوونځي د جوړېدو شرطونه برابر نه وي په هغه سیمه کې د ښوونې او روزنې اړتیا پوره کول، د پوهني وزارت له اصلي او اساسي ستراتیژیو څخه ~~شمېرل~~ شمیرل کیږي. په هغه صورت کې چې له ښوونځي څخه یو کلی د دری کیلو مترو واټن هومره پروت وي، وزارت هلته الحاقیه شعبه پرانیزي. دا شعبه د یوه بست استحقاق لري او همدا ښوونکی کولای شي له لومړي تر دریم ټولګي درس ورکړي. د پوهني وزارت مرستندویه مؤسسي د دې ستراتیژی

عملي کولو ته هڅوي. او د امکان په صورت کې، دغه ښوونځي د هیواد د پوهنې په رسمي سیستم کې شاملوي.

په ښوونځیو کې د نجونو د داخلیدو او شمولیت کچه په ځانګړي ډول په کلیوالو سیمو کې د پوهنې وزارت یو له لمړیتوبونو څخه دي،بناپردي د عمومي زده کړو له مهمو استراتیژیو څخه به دا وي چې د نجونو د منځنیو ښوونځیو او لېسو لیسو جوړول او لوړوالي پراختیا او د ښځینه ښوونکو لېږد لیږد لهد تشویقي پروګرامونو له لاري کلیوالو سیموته.څهرنګه چه د ښوونکو د روزنې په فرعي پروګرامونو کې راغلي دي ، دا وزارت به ډیره هڅه وکړي چه د انجونو شمولیت ته د ښوونکي د روزنې په پروګرام کې زیاتوالي ورکړي . همدا راز وزارت د نجونو له ښوونې او رزونې څخه په منظمه توګه څارنه کوي.

عدالت او مساویتوب او د عمومي زده کړو د پراختیا په برخه کې، په ځانګړي ډول د ښوونځیو په ارتقا او تاسیسس، د نوي ښوونکو لپاره د بستونو تخصیص او په ولایتونو او ولسوالیو باندې د امکاناتو او سرچینو وېش به رعایت شي.

د پوهنې وزارت به خصوصي سکتور د خصوصي ښوونځیو د تاسیس او نادولتي مؤسسې د عمومي زده کړو د پروګرامونو د تطبیق په برخه کې هڅوي او ورته به د ثبت، راجستر او نورې اسانتیاوې برابروي، لکه د درسي کتابونو او د ښوونکي درزونه هغوي ته. البته چې د ولایتونو د پوهنې ریاستونه پر خصوصي مؤسسو د څارنې دنهده په غاړه لري.

د پوهنې وزارت هڅه کوي څو د هر اړخیزه ښوونې او روزنې اصول په ټولو ښوونځیو کې تطبیق کړي او د ټولو زده کوونکو لپاره مناسب صنفي چاپېریال چاپیریال را منځ ته کړي. د دې ستراتیژۍ په پلي کولو سره به د معلولو او معیوبو په ګډون ټول ماشومان په ګډه له ښوونې او روزنې ګټه پورته کړي. دا ستراتیژي به په تدریجي ډول پلي شي او ښوونکي به یې په اړه اړې زده کړې تر سره کړي څو وتوانیږي د هر راز غوښتنو ماشومانو ته د مؤثر تدریس جوګه شي.

د پوهنې ریاستونو او د ولسوالیو د پوهنې مدیریتونو ته به د ښوونځیو د ادارې اړوند مسؤلیتونه او واکونه ورکړل شي. د ښوونکو ګمارنه او تبدیلي او د زده کوونکو اړوند کارونو لکه د شهادتنامو چمتو کول او داسې نور د ټولو ولایاتو په سطح.

همدا راز د ښوونې او روزنې غښتلي او ښه کیفیت ته د رسېدو په موخه د پوهنې وزارت په پام کې لري، چې د سیمې د مخه ورو، د زده کوونکو د والدینو ګډون د ښوونځیو په چارو کې په ځانګړي ډول د ښوونځیو د ساتنې او له هغو د څارنې په برخه کې د سیمه ایزو شوراګانو له لارې لا پیاوړی کړي، همدا راز وزارت غواړي د همدې پروسې د پرمختګ په موخه یوه ځانګړې او خاصه بودیجه د سیمه ایزو شوراګانو په واک کې ورکړي، چې د ښوونځیو د وضعیت د ښه والي په برخه کې تری کار واخیستل شي، او وزارت به دې شوراګانو سره همکاري وکړي تر څو دوي د ښوونځیو په څارنه کې ډیره برخه په غاړه واخلي.

د پوهنې وزارت د ناامنه سیمو ماشومانو ته د ښوونې او رزونې زمینه برابروي، چې په دې لړ کې د بیلابیلابېلو ستراالرتیژیو څخه کار اخلي لکه د سیمه ایزو شوراګانو او مخه ورو په مرسته د تړل شوو ښوونځیو پرانیستل او د محلي ښوونځیو او مدرسو جوړول. سربېره سربیره پر دې په پام کې دیې چې د ناامنه سیمو د ښوونیزو فعالیتونو د همغږۍ په موخه د اساسي زده کړو په ریاست کې یوه ځانګه لو واحد تاسیس کړي.

د ښوونځیو د کېفیت د ښه والي او د پالیسیو د سمې تطبیق او د وزارت د مقام د لارښوونو د اجرا په موخه به له ښوونځیو د څارنې او نظارت سیستم لا پیاوړی او په اړه به یې اړوندې اسانتیاوې برابرې شي.

**موخې:**

- په اساسي دوره کې د شمولیت زیاتوالی
  - o تر ۱۳۹۳ ل کال پورې به ~~پهر~~ اساسي دوره کې د شمولیت سوچه کچه د هلکانو لپاره ۷۵سلنې او د نجونو لپاره۶۰سلنې ته ورسیږي، او نا سوچه کچه به په ترتیب د هلکانو ۹۰سلنې او د نجونو ۷۲سلنې ته لوړه شي
  - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې به پر اساسي دوره کې د معلولو، معیوبو او کوچي ماشومانو نا سوچه کچه د هلکانو ۶۰سلنې او د نجونو ۵۰سلنې ته رسیږي.
- په ثانوي دوره کې د شمولیت زیاتوالی
  - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې به په ثانوي دوره کې د هلکانو داخله ۶۰سلنې او د نجونو به ۴۰سلنې ته ورسیږي
  - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې به په ثانوي دوري کې د معلولو، معیوبو او کوچي ماشومانو ناخالصه داخله د هلکانو ۳۵سلنې او د نجونو ۳۰سلنې ته رسیږي.
  - o تر ۱۳۹۳ کال پورې به د ښوونځي پرېښودل او تکرار به په ترتیب سره تر ۳٪ او ۱۱٪ ته کم شي.
  - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې، په ټولو عمومي ښوونځیو کې د زده کوونکو د ذهني، فزیکي او رواني پراختیا په موخه د زده کړې مناسب چاپېریال جوړیږي
  - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې، د څارنې د سیستم او د عمومي زده کړو د ښوونځیو د نظارت د غړو روزنه غښتلې کیږي
  - o تر ۱۳۹۳ل کال پورې، د اولیاوو او د سیمې د مخه ورو په ګډون د ادارو او د ښوونځیو په لاربښونې کې د شوراګانو د جوړېدو او روزنې له لارې د عمومي زده کړو په ټولو ښوونځیو کې غښتلې کیږي

**د پروګرام څانګې:**

1) عمومي زده کړو ته لاسرسی
2) تر تعلیمي نصاب اخوا فعالیتونه
3) د زده کوونکو لپاره خدمتونه
4) له لرې ~~لاري~~ زده کړې
5) ښوونیزه څارنه
6) مدیریت او همغږي

**لومړۍ برخه: عمومي زده کړو ته لاسرسی:**

**جزئي موخې**

- په ښوونځیو کې د ماشومانو داخلېدل په ځانګړې توګه د نجونو او احتیاج مندو ماشومانو د داخلېدو د زیاتوالي په اړه د عامه پوهاوي د پروګرامونو کلنې تطبیق،
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې پر اساسي زده کړو کې د اته میلیونو او اوه سوه زره(۸،۷۰۰،۰۰۰) زده کوونو د شمولیت زیاتوالي،
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې په ثانوي زده کړو کې د یو میلیون او درې سوه زرو زده کوونکو د شمولیت زیاتوالي،

- د پلان رياست په مرسته د ۱۳۸۹ل کال تر پايه د هغو سيمو چې نوو ښوونځيو ته اړتيا لري، د ښوونځيو د ځايونو د ټاکلو د سروې بشپړول.
- تر۱۳۹۳ل کال پورې په ټول هېواد کې د۴۶۹۰ نويو ابتدايه ښوونځيو جوړول.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ۳۰۰۰ ابتدايه ښوونځيو لوړتيا منځنيو ښوونځيو ته او د ۲۲۰۰ منځنيو ښوويځيو لوړتيا ليسو ته.
- د ۱۳۹۳ل کال تر پايه د سيمو د خلکو او نادولتي مؤسسو په همغږۍ د ۴۸۰۰الحاقيه ټولګيو جوړول.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به له ښوونځي پاتې ماشومانو ته ۳۲۰۰د زده کړې مرکزونه جوړېږي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د معلوليت لرونکي ماشومانوته(ړندو، کڼو، ذهني ناروغانو او تيز هوشه) ۱۶ او د کوچېانو کوچيانو ماشومانو ته ۵۰۰ ښوونځي جوړېږي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې، به د ښوونځي يو نمونه پهر هر ولايت کې جوړه شي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې، په ۵ ولاياتو کې د ښوونځي نه مخکې يوه يوکلنه تعليمي دوره په امتحاني ډول سرته رسيږي.
- په افغانستان کې د خصوصوي ښوونځيو او په پاکستان او ايران کې د مهاجرينو د ښوونځيو د ثبت او راجستر اړوندې اسانتياوې برابرول.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د اساسي زده کړو د دورې لپاره د ۱۰۰زره(۶۰ سلنه ښځينه) او د ثانوي دورې لپاره د ۱۹ زره (۶۰سلنه ښځينه ښوونکې) نويو ښوونکو ګمارونه.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د عمومي زده کړو د ښوونځيو لپاره د ۲۸زرو غير تدريسي کارمندانو ګمارنه.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د هغو ماشومانو لپاره چې د نا امنيو له کبله له درس او ښوونې پاتې دي د ښوونې او روزنې زمينه برابريږي.

د ښوونځي عمر لرونکو ماشومانو ته د متوازني ښوونې او روزنې زمينه برابرول، د پوهني وزارت له اساسي پاليسيو څخه دي. چې په دې توګه وزارت په پام کې لري څو تر ۱۳۹۳ل کال پورې شاوخوا اته ميليونه او اوه سوه زره(۸۷۰۰۰۰۰) زده کوونکونو ته د اساسي زده کړو کې او يو ميليون او درې سوه زره زده کوونکو ته د ثانوي زده کړو زمينه برابره کړي.د پوهني وزارت د نورمونو مطابق د ښوونې او روزنې د برابرولو په منظور (هر ښوونکي ته ۳۵ زده کوونکي او ۱۶ ټولګي په هر ښوونځي کې) وزارت بايد تر ۱۳۹۳ کال پورې ۴۶۹۰ زره نوي ښوونځي تاسيس، او د ۳۰۰۰ لمړني ښوونځيو لوړتيا منځني ښوونځيو او د ۲۲۰۰ منځني ښوونځيو لوړتيا ليسو ته ورکړي.

په عمومي زده کړو کې د نجونو د داخلې د کموالي لاملونه بېلابېل بيلابيل دي، لکه د ښځينه ښوونکو نشتوالی، امنيتي، فرهنګي او ټولنيزو ستونزو شتون دی. د دې ستونزو د حل په موخه د پوهني وزارت پلان لري، چې نجونو ته د ښوونې او رزونې روزنې د زده کړو په اړه د هېواد هيواد په کچه د عامه پوهاوي پروګرام پهر لاره واچوي. په دې پوهاوي کې د اسلام له نظره د نجونو د ښوونې او روزنې د اړتيا او د هېواد هيواد په پراختيا او بيا وداونولو کې يې د رغنده رول په برخو بحث کيږي او خلک به وهڅول شي چې د نجونو د ښوونې او روزنې لپاره لاره برابره کړي .

په هغو سيمو کې چې پکې ښوونځيو ته لاسرسی نشته د ښوونځيو جوړول او تاسيس، د وزارت يو له اصلي پاليسيو څخه ګڼل کيږي، له همدې کبله وزارت د ټول هېواد هيواد په کچه د ښوونځيو د تاسيس د موقعيت معلومولو لپاره يوه هر اړخېزه اړخيزه سروې سروی پيل کړې، چې د ۱۳۸۹ل کال تر پايه به سرته ورسيږي. له دې سروې موخه د هغو سيمو په ګوته کول دي، چې ښوونځيو ته اړتيا لري او

اوسمهال پکې نشته، څو وزارت وتوانیږي د همدې معلوماتو پر اساس اړونده ښوونځي تاسیس او پراختیا ورکړي.

په لرې پرتو سیمو او کلیو کې چې د ښوونځیو د جوړولو جوګه نه دي، د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو لپاره د متوازنې ښوونې او روزنې د لاسرسي په موخه پکې د الحاقیه ټولګیو جوړول د وزارت له یو لړ کړنو او اقداموتو څخه شمیرل کیږي، چې په دې توګه به د پوهنې وزارت د ۱۳۸۹ل کال تر پایه د سیمو دخلکو او نادولتي ارګانونو په همغږۍ او مرسته ۴۸۰۰الحاقیه ټولګي جوړ کړي.

هر اړخیزه ښوونه او روزنه روزنه او د ښوونځي عمر لرونکو ماشومانو ته د ښوونې اوروزنې خدمات وړاندې کول د پوهنې وزارت له مهمو پالیسیو څخه دي، وزارت په پام کې لري څو دا پالیسي په تدریجي توګه دا پالیسي پر مخ بوځي څو وکولای شي د جوړو، معلولو او معیوبو ماشومانو په ګډون ټول ماشومان په یوه ټولګي کې زده کړې سرته ورسولای شي، دا پالیسي د نصاب د جوړونې، ښوونکي د روزنې ، اداري هیات او د ښوونځیو څارنه ده خو د دې پالیسی بشپړه تطبیق هغه مهال شونی دی چې وزارت د ړندو، کڼو او ذهني وروسته پاتې ماشومانو لپاره ۱۶ښوونځي جوړ کړای شي. همدا راز د کوچیانو د چارو د ریاست سره په تفاهم د پوهنې وزارت په پلان کې لري د ۱۳۹۳ل کال تر پایه شاوخوا ۵۰۰د کوچیانو ښوونځي جوړ کړي.

اوسمهال شاوخوا ۴۶سلنه د ښوونځي عمر لرونکي ماشومان له ښوونځي بې برخې دي، نو د دوی د جذب او روزنې په موخه به د نادولتي سازمانونو په مرسته ۳۲۰۰ د روزنې روزنې چټک مرکزونه جوړ شي، چې وزارت به یې بشپړه څارنه کوي.

دغه مراکز به د داسې ټولګیو لرونکي وي چه وکولي شي کارګر ماشومان هم په ښاري سیمو کې شامل کړي شي. چې دا وزارت به یې د تاسیس او فعالیت نه بشپړه څارنه کوي.

وزارت په پلان کې لري، چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې په هر ولایت کې حداقل د ښوونځي یو نمونه د لیلیۍه د امکاناتو په درلودو سره تاسیس کړي. دغه ښوونځي به په زده کړه نیز ښوونیزو توکو توکو او نورو لازمو توکو لکه سمعي- بصري او ارتباطي او معلوماتي تکنالوژي مجهز شي، او پروژه او تحقیقاتي مراحل به یې په ۱۳۹۳ کال کې وشي. په ۱۳۹۰ کال کې به په دوه ولایاتو کې دوه ښوونځي په تجربوي ډول تاسیس شي . او د دغه تجربوي ښوونځیود تجاربو بیلتاو او نتایجو پر اساس به په نورو ولایاتو کې هم د ښوونځیو نمونه تاسیس شي. د ۹ ټولګي غښتلي یا برجسته زده کوونکي او د امکان په صورت کې د ۵ ټولګي د لمړي نمبر لرونکي زده کوونکي به د دې ښوونځي د شمولیت لپاره وروپیژندل شي او هوښیاره ماشومان به هم دې ښوونځي داخل شي او د هوښیارو ماشومانو د پیژندلو لپاره به د پرمختیا د سنجش تخصیصي سیستم جوړ کړي .

وزارت په پام کې لري، چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۱۰۰زره نوي ښوونکي د اساسي دورې لپاره او ۱۹زره د ثانوي دورې لپاره وګماري، چې ښوونکي به د ښوونځیو د اړتیاوو او اړوند څانګو د تخصص په پام کې نیولو سره وګمارل شي. ۶۰سلنه به د ښځینه ښوونکو وګمارل شي.

د زده کوونکو معیار نسبت ښوونکي ته _ د نوو ښوونکو جذبولو لپاره به په چټکتیا سره د توجه وشي. د وزارت له پالیسیو یوه دا هم ده، چې ښځینه ښوونکي زیاتې کړي څو د نجونو په داخله کې زیاتوالی رامنځته شي( د لا نورو معلوماتو لپاره د ښوونکي د روزنې فرعي پروګرام ته رجوع وکړي.)

وزارت په پلان کې لري څو د ښوونې او روزنې د خدمتونو په چمتو کولو کې د عامو خلکو ونډې ته پراختیا ورکړي، نو په همدې موخه یې د خصوصي ښوونځیو د جوړولو مقرره جوړه او تصویب کړې او د دې پروګرام د لا پراختیا په موخه غواړي دا لړۍ د ولایتونو په کچه پراخه کړي، وزارت غواړي چه له دې ټولو ښوونځیو څارنه او نظارت وکړي، څو ډاډمن شي چې د پوهنې نصاب او مقررات پکې په سمه توګه مراعات شوي.

وزارت په پام کې لري څو د هغو زده کوونکو لپاره چې د ناامنيو له کبله يې په سيمو کې ښوونځي تړل شوي او له زده کړو پاتې دي د ښوونې او روزنې زمينه برابره کړي. په دې لړ کې وزارت له ~~بېلابېلو~~ بيلابيلو ستراتيژيو ګټه اخلي لکه د محلي شوراګانو له لارې، د سيمې د مخه ورو او سپين ږيرو په ملتيا، د تړل شوو ښوونځيو د بيا پرانيستلو او د محلي ښوونځيو او مدرسو د جوړولو له لارې به دا کار تر سره کوي.

**دوهمه برخه: له تعليمي نصاب اخوا فعاليتونه:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۸۰سلني ښوونځيو ته د لوبو اړوند توکي او تجهيزات برابرېږي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۸۰سلني ښوونځيو ته لازم او مجهز ځارندوی ځواک چمتو کيږي
- د ۷۰۰ لوبغاړو زده کوونکو ته په سيمه ايزو او نړيوالو تورنمنټونو کې د ونډې اخيستو زمينه برابريږي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ټولو ښوونځيو په کچه به د زده کوونکو انجمنونو يا ټولنې وهڅول شي تر څو درسي ماورايي فعليتونه لاډير وهڅول شي.

وزارت په پلان کې لري د زده کوونکو د هر اړخيزه روزنې په موخه د تعليمي نصاب د پلي کولو سربيره له نصاب اخوا فعاليتونه په ټول ښوونځيو کې عملي کړي، چې په همدې موخه تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۸۰سلني ښوونځيو ته به د لوبو توکي او اسانتياوې برابرې شي. همدا راز وزارت په پام کې لري څو ۷۰۰زده کوونکو (۱۴۰تنه هر کال) ته په سيمه ايزو او نړيوالو ټورنمنټونو کې د ونډې اخيستو زمينه برابره کړي، چې په دې سره به زده کوونکو ته د نورو هيوادونو د کلتوري او فرهنګي راکړې ورکړې او په دې لړ کې د هغوی له نورو تجربو د ګټې اخيستنې زمينه برابره شي.

په ۸۰سلنه ښوونځيو (۱۴۴۰۰ ښوونځيو) کې له زده کوونکو د منظم ځارندوی ځواک چمتو کول د وزارت بله پاليسي ده، چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې به يې تر سره کوي، څو په دې سره وتوانيږي د ښوونځيو د نظم او ديسيپلين په برخه کې د زده کوونکو ونده اخيستنه او رول اغيزمن او مؤثر ثابت کړي.

دغه درسي ماورايي فعاليتونه به د موجودو مشاورينو د نظر لاندې جوړيږي. دغه فعاليتونه به د زده کوونکو د مختلفو انجمنونو له خوا چه د دې جملې نه علمي انجمنونه، شعر، فرهنګي او ټولنيز انجمنونه جوړيږي ، په دارنګه انجمنونو کې ګډون په هنر، خطابه او نورو فعاليتونو چه په نصاب کې ندي راغلي د استعداد په پياوړتيا کې ورسره لوي مرسته وکړي.

**دريمه برخه: د زده کوونکو خدمات:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به په ۳۲۰۰ښوونځيو کې د مشورې او لارښوونې پروګرام پلی کړای شي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د لومړنۍ دورې ټولو زده کوونکو ته د قرطاسيې د وېش لړۍ تر سره شي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د لومړنۍ دورې د ټولګيو پر ټولو زده کوونکو خوراکي توکي وويشل شي

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به ۸۰سلنې زده کوونکو ته روغتیايي خدمات برابر کړای شي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به ۳۵ګرځند روغتیايي کلینیکونه له ښوونځیو څخه د میاشتنۍ کتنې په موخه وګومارل شي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به ۱۰سلنې د ثانوي دورې زده کوونکو ته د اعاشې او هستوګنې اسانتیاوې برابرې شي.

د ښوونیزو او روغتیايي مشورې او لارښوونې د خدمتونو د چمتو کولو په موخه وزارت تصمیم لري څو تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ټولو ښوونځیو په کچه د مشورې او لارښوونې پروګرام پلی کړي، نو له همدې لامله وزارت په پام کې لري څو شاوخوا ۳۲۰۰ د سلاکار او لارښود ښوونکو روزنه او ګمارنه تر سره کړي.

تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د لومړنیو ټولو ښوونځیو د زده کوونکو لپاره د قرطاسیې د وېش پروګرام پلي شي. د دې پروګرام د پلي کولو موخه ښوونځیو ته د زده کوونکو د داخلیدو هڅونه او له غریبو کورنیو سره د زده کوونکو د قرطاسیه د توکو د برابرولو په برخه کې مرسته ده. همدا راز د ماشومانو د صحي وضعیت بهبود او ښوونځیو ته د غریبو کورنیو د ماشومانو د هڅونې په موخه به تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ټولو لومړنیو ښوونځیو پر زده کوونکو خوراکي توکي وویشل شي.

۸۰سلنې زده کوونکو (۸میلیونه زده کوونکو) ته د روغتیايي خدمتونو چمتو کول د وزارت د موخو یوه برخه ده، چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې به پلې کیږي. همدا راز وزارت په پام کې لري چې ۳۵ګرځنده روغتیايي کلینیکونه د ولایتونو په مرکزونو کې له ښوونځیو په جمله د کابل د منظم صحي کتنې په موخه وګماري، چې دا کلینیکونو به یو ډاکټر او د اړتیا اړوند روغتیايي توکي لري.

او د زده کوونکو اړونده کتنه او محیطي مسایل لکه د فاصلاب سیستم کتنې به په ښوونځیو کې تر سره کوي د دغې څارنو نتایج څخه به د ښوونځیو مدیریت ، د ولسوالیو د پوهنې مدیریتونه او د ښار پوهنې ته راپور ورکول کیږي چه لازم اقدامات د ښوونځي د محیط په اړه سرته ورسوي . او همدا راز به د ښوونځیو د ادارو او کلینیکونو تر منځ پیدا شي تر څو د دې کلینیکونو مسئولینو په منظم ډول ښوونځیو ته مراجعه وکړي او زده کوونکي معاینه کړي او د بیمارو زده کوونکو په موجودیت کې به د هغوې تداوي وشي او که اړتیا ولیدل شي نورو روغتونونو ته به یې د درملنې لپاره استوي.

د ثانوي دورې ۱۰سلنې زده کوونکو ته د اعاشې او هستوګنې د امکاناتو برابرول د وزارت له موخو څخه شمیرل کیږي، چې په دې سره وزارت وکولای شي د کلیوالو سیمو د ټولو هغه زده کوونکو لپاره چې ثانوي زده کړو ته لاسرسي نه لري، اسانتیاوې برابرې کړي.

**څلورمه برخه: له لرې زده کړې:===**

**جزئي موخې**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ۳۴ولایتونو په کچه له لرې زده کړو د ریاست او د ښوونیز او روزنیز راډیو او تلویزون د پروګرامونو پراختیا
- د تعلیمي رادیو تلویزیون د ۱۸ساعته خپرنیزو پروګرامونو پرمختیا د ښوونیزو پروګرامونو د خپرولو لپاره د لرې لارې نه او نورو پروګرامو سره په نږدې همغږۍ سره د ۱۳۸۹ل کال تر پایه پورې.
- د عمومي او اسلامي زده کړو، د ښوونکي د روزنې، لیک لوست، تخنیکي او مسلکي، د ماشومانو د روزنې په اړه د والدینو لارښود او د کورني ژوند د ښه کونې په برخو کې د راډیویي او تلویزوني ښوونیز او روزنیز پروګرامونو چمتو کول .

- د پالیسیو، پلانونو، لاسته راوړنو اود ښووني او روزني د پروګرامونو پر وړاندې د شته ستونزو په اړه د عامه پوهاوي د پروګرامونو چمتو کول .
- د تعليمي راډيو او تلويزون له لارې د خپرو شوو پروګرامونو ارزونه.

تعليمي راديو تلويزيون به په مياشتنى ډول د ټولو ولاياتو لپاره ښوونيز او روزنيزپروګرامونه خپاره کړي . يوه ۱۸ ساعته خپرونه به پرمختيا وکړي ترڅو د وزارت ټول اصلي او فرعي پروګرامونه چې د لرې لارې ښووني سره په اړيکه کې دي رفع کړي. د پوهنې د نورو رياستونو له لارې به ښوونيزه سمعي او بصري پروګرامونه پراختيا ومومي . دا پروګرامونه شامل د مختلفو ښوونيزو پروګرامونو د عمومي او اسلامي زده کړو، د ښوونکي روزنې، د ليک لوست زده کړې، تخنيکي او مسلکي زده کړې، او د خلکو د خپراوي زياتوالي د پاليسيو په اړه ، پلانونو او د وزارت د کړنو څخه کيږي، دغه پروګرامونه کولای شي چې د ټولو خلکو لپاره په ځانګړي ډول هغه خلک چې په لرې پرتو سيمو کې دي د ښووني او روزنې لاره برابره کړي. همدا ډول روزنيز پروګرامونه به د پوهنې وزارت د ښوونيز او روزنيز راډيو او تلويزون د نورو محلي راډيوګانو او تلويزونونو په مرسته تر سره شي. له لرې لارې د زده کړې د پروګرام د کچې د لوړولو اوپرمختګ په موخه يو څارونکې سيستم په کار اچول شوی، چې ورته به نوره پراختيا هم ورکړل شي.

**پنځمه برخه: ښوونيزه څارنه:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۰ل کال پورې د څارنې د نوي سيستم تطبيق او پراختيا د عمومي زده کړو د پروګرامونو فعاليتونو تطبيق
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۳۶۰۰ تنه له ښوونځي د څارنې غړي، د څارنې په نويو لارو چارو کې روزنه تر لاسه کوي
- ټولو لومړني او منځني ښوونځي په منظم ډول (په کال کې ۳ وارې ) د ښوونيزو مسايلو په اړه د څارنې لاندې نيول کيږي .

له ليسو او اساسي ښوونځيو ښوونيزه څارنه، د ښوونځيو د کيفيت د ښه والي لپاره، د نصاب او پاليسيو د سهي تطبيق او د وزارت د لايحو او مقرراتو لپاره اړينه ده، خو له بده مرغه اوسمهال د دې کتنې لپاره يو منظم سيستم نشته او د پوهنې وزارت يې د پيدا کولو په لټه کې دی، چې په لومړيو کې به ازمايښتي بڼه ولري او د هېواد په کچه له اړوند اصلاحاتو راوستو وروسته په ملي سطح پلی شي.

تر ۱۳۹۳ل کال پورې د څارنې ټول غړي به د څارنې د سيستم د ښه تطبيق په منظور ښوونيزه زدکړې وګورې ، او زده کړنيز ټوکې به يې د نوي سيستم پر اساس تيار شي. د دې سيمينارونو د روزنيزو توکې به د ښوونيزې څارنې او د ښوونځيو د ادارو په اړه وي.

د څارنې غړي دنده لري، چې په منظمه توګه (په کال کې درې ځله) له ښوونځيو ليدنه وکړي او پر اړه يې د ښوونځيو تدريسي اواداري مفصل راپور برابر کړي. او د معيارونو په تطبيق کې نابرابري او د سرچينو تخصيص ځانګړي شوي ښوونځيو ته او هغې ته د رسيدلو په منظور د ټولو ښوونځيو مديرانو او نورو اړونده مديرانو ته .

**شپږمه برخه: همغږي او مديريت:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د ټولو ښوونځيو لپاره مشورتي او حمايتي شوراګانې جوړېږي او غړي يې روزل کيږي .
- تر۱۳۹۳ کال پورې به ټول ښوونځي د کلني مرسته شوي وجې نه برخمند شي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د عمومي زده کړو ټولې پاليسی، لايحې او مقررات بيا وکتل شي او د اړتيا په صورت کې به يې په اړه بيا ځلې نظر ورکړل شي.
- د ۱۳۹۱ل کال تر پايه پورې به د نهم ټولګيو لپاره د ملي معياري ارزوني سيستم تر سره شي.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې لږ تر لږه ۵۰سلنې کارمندانو ته د مناسبې کاري فضا برابرول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د زده کوونکو سوانح او نومرې پر کمپيوټري سيستم برابرې شي
- د کلني عملياتي پلان برابرول او خپرول او د ربعوار او کلني ګزارشونو د بوديجې سره
- د پرګرامونو، پروژو او د فعليتونو اصلاح د پروګرامونو شپږ مياشتيني ارزوينه او مرور د ضرورت په صورت کې او تعيين شوي موخي ته د لاسرسي په منظور
- د عمومي زده کړو په پروګرامو د ښکېلو ارګانونو د همغږۍ په موخه ځلورمياشتنۍ ناستې جوړول.

د ښوونې او روزنې په اړه د خلکو ګډون د پوهنې وزارت له عمده پاليسيو څخه شميرل کيږي، د همدې پاليسی د پلې کولو په موخه تر اوسه پورې د اته زرو ښوونځيو لپاره شوراګانې جوړې شوې دي او وزارت په پام کې لري، چې د ۱۳۹۳ل کال تر پايه د هيواد ټولو ښوونځيو ته د ښوونځيو د ساتنې او مشورتي شوراګانې جوړې کړي چه تر اوسه ۸۰۰۰ شوراګانې جوړې شوې دي او د ۱۳۹۳ کال تر پايه به ۶۴۰۰ نوري شوراګانې جوړې شي دا شوراګانې به د سيمو له خلکو او د ښوونځيو له مسؤلينو څخه جوړې شوې وي، چې اصلي دنده يې له ښوونځيو ملاتړ، د هغې ساتنه او له اداري سره يې مرسته ده. دا شوراګانې د ښوونځي په امنيت او اداره کې رغنده رول لري. همدا راز د ۱۳۹۳ل کال تر پايه به د دې شوراګانو ټول غړي په دې اړه وروزل شي. د لوايحو او طرزالعملونو قانوني اسناد تل تر ارزونې او مشورې لاندې وي، چې د اړتيا پر مهال پکې اړوندې سمونې کيږي، چې دغه ارزونې او مشورې د نورو هيوادونو د تجربو او د دې اسنادو د پخوانې تطبيق پر اساس تر سره کيږي، چې دا ټول اسناد به د وزارت د رسمي ويبپاڼې له لارې د خلکو او کتونکو لپاره خپريږي.
تر ۱۳۸۹ل کال پورې د ملي معياري ارزوني سيستم د ښوونيز پرمختيائي نصاب له خوا پرمختيا وکړې او په ۱۳۹۰ل کال کې په ازمايښتي ډول تطبيق کيږي او د څارنې لپاره به ئي يو بورډ تاسيس شي. په ۱۳۹۱ل کال کې به د دې د تطبيق مسئول به د عمومي زده کړو رياست د ټول هيواد په کچه وي. او د دې معلوماتي ارزوني د نتايجو تحليل د ښووني او روزني په اړه د هيواد په بيلا بيلو برخو کې به برابر شي.

او همداراز د دي‌دې ارزوينـي د نتـايجو نـه بـه د زده کوونکو د ښووني ښوونې او روزني روزنې د مخکې مخکې وړلو لپاره د عمومي زده کړو په ښونځيو او يا د تخنيکي او مسلکي کې کار واخستل شي.
بنا پر دي د عمومي زده کړو رياست د ښووني د پراختيا نصاب د رياست، د ښوونکو د روزني رياست او د تخنيکي او مسلکي زده کړو رياست پـه مرسته يو مکانيزم تـه د تخنيکي او مسلکي زده کړو د مستعدو زده کوونکو د تعيين او تشخيص لپـاره د ۷ نـه تـر ۹ ټـولګي پـوري پراختيـا ورکـوي. د زده

کوونکو د کلني زده کړه د لاښه پرمختګ د ارزوني په منظور د موجود شپږ میاشتي ازمویني سیستم د بیا کتني لاندي نیول شوي او معیاري کیږي

هڅه کوي چي د مؤثرو فعالیتونو او مناسب کاري چاپېریال په موخه به د عمومي زده کړو پروګرام به خپلو کارمندانو ته لږ تر لږه د ۵۰سلني لپاره چمتو کیږي او له کاري مناسب چاپېریال څخه موخه د تولو تجهیزاتو او اړندو اسانتیاوو سره، سره د کار پوره او مناسب ځای شتون دی.

د ښوونځیو د اداري د پروسي د اسانتیا د ډیټابېس لپاره د معلوماتو د غونډولو، زده کوونکو ته د اسنادو د وېش او د متعلمینو د نورو اړتیاوو د حل په موخه وزارت په پلان کې لري څو د زده کوونکو نومرې او سوانح د پلان ریاست د **EMIS** څانګې په مرسته په کمپیوټري سیستم چمتو کړي.

د وزارت د نورو پروګرامونو لکه د وضعیت د څېړني پر اساس، د فعالیتونو د پرمختګ او اغیز، د پوهنې د ستراتیژیک ملي پلان سره سم، دا پروګرام هم کلني عملیاتي پلانونو ته پراختیا ورکوي او د هرو دریو میاشتو د پرمختګ د راپور او د پروګرام د ستونزو پر اساس عملیاتي پلانونه چمتو او د پلان او د ارزونې د عمومي ریاست او د وزارت د رهبرئ په واک کې ورکوي. همدا راز د پروګرام شپږ میاشتني فعالیتونه به تر دقیقي کتنې او ارزونې لاندې رازي، چې له نتائجو به یې د عملیاتي پلانونو په بیا کتنه او پراختیا کې ګټه اخیستل کیږي.

## فرعي پروګرام ۱,۲: اسلامي زده کړې

**کلي موخه**
د بشري سرچینو د ښې روزنې په موخه، چې وکولای شي په تدریس، تبلیغ، امامت، د مامور او کارمند په توګه په دولتي، نادولتي او خصوصي مؤسسو کې د جذب او د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د تحصیل په دوام کې ښه جوګه شي، د اسلامي زده کړو پراختیا او غښتلي کول

### راتلونکي پنځه کلن پلان

**عمومي ستراتیژی:**
د اسلامي تعلیماتو د سیستم سمونه او غښتلي کول د اسلامي تعلیماتو د پروګرام د لومړیتوب لرونکو پروګرامونو څخه دي. د هېواد مدرسي باید باارزښته اسلامي زده کړې وړاندې کړي. د اسلامي زده کړو د سیستم د لا پیاوړتیا او ښه والي په موخه له دیني عالمانو سره سلا مشورې په دوامداره توګه تر سره کیږي، چې په دې لړ کې یې له اندونو ګټه واخیستل شي.

په اسلامي زده کړو کې د نجونو شمېر کم دی او د پوهنې وزارت پالیسي دا ده چې په مدرسو او دارالعلومونو کې یې شمېر زیات وي، په ځانګړې ډول په راتلونکو پنځو کلونو کې به په دارالعلومونو کې د نجونو داخلې او جذب ته ځانګړې پاملرنه کیږي، څو د مدرسو لپاره ښځینه ښوونکې ورزول شي.

د اسلامي زده کړو د پرمختګ په برخه کې د خصوصي سکتور ونډه او پام د قانون په چوکاټ کې تشویق او هڅول کیږي. همدا راز شته نادولتي مدرسې دې ته هڅول کېږي څو خپل فعالیتونه د پوهنې له وزارت سره همغږي او ثبت کړي، چې ټولې دیني مدرسې یو ډول تعلیمي نصاب پلې کړي، چې په پایله کې به د ټولو مدرسو د فارغین اسناد  وزارت تاییدوي .

له هغه ځایه چې د اسلامي زده کړو نصاب د نصاب د پراختیا په عمومي ریاست کې جوړېږي او د ښوونکو مسلکي روزنه او پرمختګ د ښوونکي د روزنې د عمومي ریاست له لارې پلې کیږي، نو له همدې کبله د اسلامي زده کړو د ریاست، د تعلیمي نصاب د ریاست او د ښوونکي د روزنې د ریاست تر منځ همغږي د ګډو ناستو له لارې پیاوړې کیږي.

**موخې:**

- په کال ۱۳۹۳ل کې تر ۱۹۰زرو تنو پورې د اسلامي زده کړو د مدرسو د زده کوونکو متوازن زیاتوالی
- په کال ۱۳۹۳ل کې تر ۱۰زرو پورې د دارالعلومونو د ۱۳م او ۱۴م ټولګیو د زده کوونکو متوازن زیاتوالی
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې په مدرسو او دارالعلومونو کې د ښځو د داخلې زیاتوالی تر ۴۰سلنې پورې
- تر ۱۳۹۰ل کال پورې د مدرسو او دارالعلومونو څخه د څارنې د سیستم پراختیا او وړتیا

**د پروګرام برخې:**

1) اسلامي زده کړو ته لاسرسی
2) د زده کوونکو خدمتونه
3) ښوونیزه څارنه
4) مدیریت او همغږي

**لومړۍ برخه: اسلامي زده کړو ته لاسرسی:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- په اسلامي زده کړو کې د نجونو د داخلې په اړه د عامه پوهاوی کلني تطبيق
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ۲۸۰نويو مدرسو جوړول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ۷۷نويو دارالحفاظونو جوړول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې په ۳۲ولايتونو کې دنجونو لپاره د۳۲نويو دارالعلومونو جوړول
- تر ۱۳۹۳ کال پوري په مدرسو کې د ۱۹۰زرو زده کوونکو او د دارالعلومونو په ۱۳م او ۱۴م ټولګيو د ۱۰زرو زده کوونکو جذبول او روزنه
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې په دارالعلومونو، مدرسو او دارالحفاظونو کې د ۶زرو ښوونکو ګمارنه (چې لږ تر لږه ۴۰سلنه يې ښځينه وي)
- د ديني مدرسو د پراختيا او ورسره د مرستې په موخه د نادولتي او له پوهنې سره په دې لړ کې د مرستندويو بنسټونو او په ځانګړي ډول د ملي سوداګرو هڅونه او تشويق

په مدرسو کې د نجونو داخله ~~بېخي~~ <u>بيخي</u> کم دي، چې دا ~~بېلابېل~~ <u>بيلابيل</u> لاملونه لري، چې د همدې لاملونو د حل په موخه د عامه پوهاوي بېلابېل فعاليتونه او کړنې تر سره کيږي، چې د بېلګې په توګه يې دا يادولی شو: په مدرسو کې له اسلامي او شرعي حجاب سره د نجونو د اسلامي زده کړو په اړه په جوماتونو کې د امامانو تبليغ او د خلکو هڅونه، له عالمانو، مخه ورو، سپين ږيرو او د زده کوونکو د اولياوو سره د ولايتونو او ولسواليو د پوهنې د مسؤولينو پرله پسې ناستې او همدا راز په اسلامي زده کړو کې د نجونو د ګډون او پکې د داخلېدو او ورته د هڅونې په موخه د خلکو عامه پوهاوی خصوصآ د راديو او تلويزيو له لارې او په دې اړه اړوندې اسانتياوې برابرول او داسې نور فعاليتونه او کړنې، چې په ملاتړ يې کولای شو په مدرسو او دارالعلومونو کې د نجونو د داخلېدو شمېر زيات شي.

دارالعلومونو ته د نجونو جذب او هڅول د اسلامي زده کړو د رياست په کاري لومړيتوب کې دي څو د ښځينه ښوونکو شمېر زيات شي، چې په دې سره وکولای شو زيات شمېر نجونې مدرسو ته جذب کړو، نو په پام کې ده څو ۳۲ښځينه دارالعلومونه د ولايتونو په مرکز د هستوګنې د ټولو اړتياوو او امکاناتو سره جوړ شي څو وکولای شو د نجونو د مدرسو د غوښتنو او په عمومي زده کړو کې د ښځينه ښوونځيو د ديني مضمونونو په برخه کې د ښځينه مسلکي ښوونکو په روزنې سره ځواب ووايو، دا په دې مانا چې وزارت غواړي په هر ولايت کې لږ تر لږه يو ښځينه دارالعلوم د نارينه وو د دارالعلوم تر څنګ جوړ کړي.

وزارت په پام کې ده چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې په ديني مدرسو کې د زده کوونکو شمېر ۱۹۰زرو ته او په ۱۳م او ۱۴م ټولګيو د زده کوونکو شمېر ۱۰زرو ته ورسيږي. د زده کوونکو دا شمېره د دې غوښتنه کوي، چې د هېواد په کچه په ټولو ولسواليو کې ۲۸۰مدرسې جوړې شي څو ټول وکولای شي مدرسو ته لاسرسی پيدا کړي. د هغو ولسواليو لپاره چې وګړي يې ډېر دي د مدرسو د دارالحفاظ ټولګي يې زياتيږي چې په پايله کې دې ته اړتيا ليدل کيږي چې بايد د ټولګيو پر ځای بېل دارالحفاظ جوړ او ثبت کړل شي، نو له همدې امله په پام کې ده چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۷۷ بېل دارالحفاظونه جوړ شي.

د پوهنې وزارت پالیسی ته په کتو، په کال ۱۳۹۳ل کې د زده کوونکي نسبت د ښوونکي پر وړاندې باید ۲۵وي، نو له هغه ځایه چې د زده کوونکو شمېر زیاتیږي نو دي ته اړتیا لیدل کیږي چې ۲۸۳۰تنه نوي ښوونکي جذب کړي شي .

همدا راز وزارت هڅه کوي تر څو وکولي شي د اسلامي زده کړه نصاب د عمومي سره نږدي کړي نو له همدي کبله د اسلامي تعلیماتو ډیر شمیر مضامین د عمومي زده کړو کې او د عمومي زده کړو مضامین لکه ریاضیات، ساینس، اجتماعي علوم، دري| پښتو او انګلیسي ژبه د اسلامي تعلیماتو په نصاب کي ورزیات شي.

اوسمهال د دیني زده کړو مدرسي د ودانۍ، درسي کتابونه، لابراتوار، روغتیایي مرکز، د لوبو د میدانونو او نورو اړو امکاناتو د اسانتیاوو د نه شتون سره مخ دي، نو له دي کبله وزارت پلان لري چه تر ۱۳۹۳ل کال پوري په دارالعلومونو او مدرسي په دي امکاناتو مجهز کړي څو د اسلامي زده کړو د اغیز کچه لوړه شي، چې په دې سره ځوانان نورو هېوادونو ته د دیني زده کړې په موخه اړ نه شي او په خپل هېواد کې ورته د اړو دیني زده کړو چاپېریال برابر کړل شي.

د اسلامي زده کړو په برخه کې د پوهنې وزارت د خصوصي سکتور، ملي سوداګرو او د خیر ښېګڼې د خلکو ونډه هڅوي، چې په همدې موخه یې د خصوصي مدرسو د ثبت او راجستر لړی پیل کړې او په اړه یې لازمې اسانتیاوې برابرې کړې. همدا راز د پوهنې وزارت په پام کې لري، چې په دې مدرسو کې د وزارت د نصاب د پلي کولو په موخه د بېلابېلو پروګرامونو لکه د درسي کتابونو د وېش او د خصوصي مدرسو د ښوونکي د روزنې لپاره د منظمو پروګرامونو جوړول له لارې له دې پروسې ملاتړ کوي.

**دوهمه برخه:د زده کوونکو خدمات:**

**جزئي موخي**

- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د صحي اسانتیاو برابرول د ټولو زده کوونکو لپاره
- د ۳۰زده زده کوونکو لپاره د اعاشه او اباتي د اسانتیاو برابرول

په اوس وخت کې ۷۷۶۰ تنه زده کوونکي د مدارسو او دارالعلومو کي شامل دي او د هغوي مصارف د خصوصي مرسته کوونکو او اسلامي زده کړو د بودیجي له خوا تآمین کیږي د زده کوونکو د لا ښه لاسري لپاره د مدارسو او دارالعلومو لوي کول او نوي لیلیه جوړیږي او تر ۱۳۹۳ کال پوري په شمیر د ۳۰ زره زده کوونکي ب په لیلیو کي جذب شي ، او په هماغه توګه چي د عمومي زده کړو د فرعي پروګرامونو په دریمه برخه کي راغلي دي د اسلامي زدکړو زده کوونکو ته به صحي خدمتونه هم برابر کړي شي.

**دریمه برخه: ښوونیزه څارنه:**

**<u>موخې:</u>**

- تر ۱۳۹۰ل کال پوري د اسلامی زده کړو لپاره د ښوونیزې څارنې د سیستم پراختیا
- تر ۱۳۹۰ل کال پوري د ولایتونو د مدرسو او دارالعلومونو لپاره د ۷۰تنو د څارنې د غړو روزنه
- د اسلامي زده کړو په مرکزونو کې د تعلیمي نصاب د پلي کېدو له پروسې څارنه دري ځلي په کال کي

له مدرسو ښوونيزه څارنه د اسلامي زده کړو د کېفيت، د نصاب او د وزارت د پاليسيو او لوايحو او مقرراتو د سم پلي کېدو لپاره اړينه ده، چې له بده مرغه اوسمهال د ښوونيزې څارنې يو فعال او رغند کاري سيستم نشته. وزارت په پام کې لري چې عمومي زده کړو سره په همغږۍ د اسلامي زده کړو لپاره يو نوي د څارنې ښوونيز سيستم ته پراختيا ورکړي. دا سيستم به په ۱۳۹۰ل کال کې آزمېښتي بڼه ولري، چې په ۱۳۹۱ل کال کې به په ملي کچه تطبيق شي.

د څارنې اوسني غړي کم دي او بايد ۷۰کسان زيات کړل شي. د دې سيستم د سم پلي کولو په موخه دا اړينه ده چې د څارنې غړي سم وروزل شي. د روزنې توکي به د نوي سيستم سره سم برابر کړل شي.

او د اداري او ښوونيزې څارنې دسالمو شيوو په اړه وي

د څارنې غړي دنه ده لري، چې په منظمه توګه (لږ تر لږه په کال کې درې ځلې) د اسلامي زده کړو مرکزونه وګوري د هغوی اداري او تدريسي چارې وارزوي او په اړه يې د مرکزونو مسؤولينو او ښوونکو ته سپارښتنې وکړي.

**څلورمه برخه: مديريت او همغږي:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د اسلامي زده کړو د پاليسيو او لوايحو بيا کتنه
- د عالمانو د سويې د ارزونې د پروسې په برخه کې بيا کتنه چې خصوصي تحصيل يې کړي دي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د دارالعلومونو او مدرسو ۷۲۲شوراګانې جوړول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د اسلامي زده کړو د رياست د کارمندانو او د دارالعلومونو او مدرسو د کارمندانو روزنه
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د اسلامي زده کړو د رياست ټولو کارمندانو ته مناسب کاري چاپېريال چمتو کول
- تر ۱۳۹۰ل کال پورې د اسلامي زده کړو د بورډ جوړول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د اسلامي زده کړو د اداراتو ټولو کارمندانو ته د مناسب کاري محيط برابرول
- د کلني عملياتي پروګرامونو ترتيب او خپراوی د کلني او ربعوارو ګزارشونو د بوديجې سره.
- تر ۱۳۹۰ل کال پورې د اسلامي زده کړو د ډېټابيس پراختيا

لکه څنګه چې د اسلامي زده کړو پاليسۍ او لوايح ډېر زاړه او پخواني دي نو اړينه ده چې د اوسني نوي حالت سره سم له بيا کتنې او دقيقې اروزنې وروسته پکې اړوند تغير راوستل شي

تر ۱۳۹۳ل کال پورې به په ټولو دارالعلومونو او مدرسو کې د اسلامي زده کړو شوراګانې د مدرسو او دارالعلومونو د پراختيا او پرمختګ او ورڅخه د ښې څارنې او د دې مرکزونو په چارو د خلکو د ګډون د زياتوالي په موخه جوړې شي

لکه څنګه چې د وضعيت په څېړنه کې راغلي دي، د اسلامي زده کړو د پروګرام له مخې هغه عالمان چې خصوصي تحصيلات لري د يوې ځانګړې آزموينې له لارې د هغوی د سويې ارزونه تر سره کېږي. د وړانه ديز شوو ستونز پر بنسټ اړينه ده چې د ارزونې دا پروسه بايد تر څېړنې لاندې او پکې اړوند او لازم تغيرات په دې موخه راوستل شي، چې هغه شمېر عالمان چې آزموينه ترې اخيستل کېږي ريښتا هم د دې کار جوګه دي.

د اسلامي زده کړو بورډ په ۱۳۸۹ل کال کې جوړېږي، څو د اسلامي زده کړو د مهمو مسئلو او د دارالعلومونو او مدرسو په اړه د تخنيکي ستونزو د حل په موخه څېړنې وکړي او په اړه يې خپل نظرونه د حل د مناسبو لارو چارو په وړاندې کولو سره يو ځای د وزارت محترم مقام ته وړانه ديز وکړي.

دا پروګرام د وزارت د نورو پلانونو په شان د پروګرام د وضعيت د څېړنې او د فعاليتونو د پرمختګ او اغيز د ارزونې او د پوهنې د ملي ستراتيژيک پلان سره سم کلنۍ عملياتي پلانونو ته پراختيا ورکوي او د پرمختګ او ستونزو د هرو څلورو مياشتو په ورستيو کې د راپور پر بنسټ عملياتي پلانونه ترتيب او د پلان او ارزونې عمومي رياست او د وزارت رهبرئ ته وړاندې کوي.

همدا راز به دا پروګرام شپږ مياشتني فعاليتونه د ارزونې او څېړنې لاندې نيول کيږي، چې په نتيجه کې به يې له پايلو د عملياتي پلانونو په پراختيا کې ګټه اخيستل کيږي

همدا راز يو هر اړخيز او جامع ډېټابېس به د اسلامي زده کړو د پروګرام د فعاليتونو لپاره جوړ کړل شي. دا ډېټابېس به د افغانستان د معلوماتي سيستم يوه برخه وي. او د اسلامي زده کړو ټول ارقام او د مرکزونو معلومات به پکې وساتل شي، چې د څارنې، ارزونې او پلان جوړونې په برخه کې به ترې ګټه واخيستل شي. د پروګرام معلومات به د ښوونيزې څارنې د غړو لخوا د اسلامي زده کړو له مرکزونو څخه مرکز ته ليږدول کيږي.

# دوهم پروګرام: د تعليمي نصاب او د ښوونکي د روزنې اوساينس او تکنالوژي پراختيا

دا پروګرام دري فرعي پروګرامونه لري، د تعليمي نصاب پراختيا ، د ښوونکي د روزنې پراختيا او د تکنالوژي او ساينس زده کړه ده.

### فرعي پروګرام ۲،۱:د تعليمي نصاب پراختيا

**کلي موخه**

د اسلام د اساساتو او ملي ارزښتونو پر بنسټ د نوي تعليمي نصاب سره سم د درسي کتابونو، د ممدو درسي او رزونيزو با کېفيته توکو داسې چمتو کول، چې د نوي ښوونيځ نصاب په اسلامي علمي معيارونو سره برابر وي

سرېزه

د تعليمي نصاب د پراختيا رياست، د ساينس او ټکنالوجی تعليمي مرکز او د خپرونو او کتابونو د وېش رياست، ټول په ګډه د تعليمي نصاب د پراختيا د پروګرام مسؤولين بلل کيږي.

### راتلونکي پنځه کلن پلان

**عمومي ستراتيژی:**

نوی نصاب به د اسلامي اصولو پر بنسټ او د ملي او سيمه ايزو معيارونو په ځانګړې ډول د فعالې زده کړې او د زده کوونکو د ورځني ژوند سره د نصاب د تړاو په موخه پراختيا ومومي.د دغې هڅو اصلي لامل د زده کوونکي عملي استفاده د زده کړي او زده کړل شو مهارتونو څخه دي، او د تلپاتي او پرمختللي نصاب په موخه به هر اړخيزه او عام شموله موضوګاني لکه: د بشر حقوق، جنسيتي برابري، له نشه يي توکو ، د ايډز د ناروغی په باره کي پوهاوي ، د چاپېريال ساتنې او روغتيا پالنې او داسې نور موضوعات به د درسي کتابونو په پاڼو کې ځای په ځای کړل شي. د ټولنې اوسنی او راتلونکې اړتياوې او غوښتنې په ځانګړي ډول ټولنيزې او اقتصادي اړتياوي به په نوي نصاب کې په نظر کې ونيول شي. د تعليمي نصاب د پراختيا به برخه کې به د مدني ټولنو، زده کوونکو او د والدينو سره يې مشورې تر سره کېږي.

د درسي کتابونو ازميښتي تطبيق کول، د تعليمي نصاب د اغيز څېړل او ارزول او د نورو هېوادونو له مثبتو تجربو ګټه اخيستل

د اسلامي زده کړو او عمومي زده کړو د نصاب محتواوې به سره نيژدې شي او ديني مضمونونه به په عمومي زده کړو کې او د عمومي زده کړو مضمونونه لکه رياضي، ساينس، ټولنيز علوم، پښتو، دري او انګليسي به د اسلامي زده کړو په نصاب کې ورزيات کړل شي.

د درسي کتابونو چاپ او وېش به خصوصي شرکتونو ته ورکول کيږي، چې دولت به هغه مهال پوازې د کار بهير څاري، او ټولو زده کوونکو ته به د کتابونو له رسېدو ځان ډاډمن کړي.

ولايتي لارښوونکي، د ساينس ولايتي سوپروايزران او د ښوونيزې څارنې غړي به د نوي نصاب سره سم روزل کېږي کيږي او دغه کسان مسئول دي څو نوي کتابونه ښوونکو ته ور وپېژني او د نصاب په سم پلي کولو کې ورسره مرسته وکړي.

همدارنګه د ښوونیزځ نصاب ریاست نصاب او نوي درسي کتابونه چه د عمومي زده کړو لپاره جوړ شوي دي د ښوونکي د روزني ریاست سره ئي شریکوي. او د دارالمعلمینونو ښوونکي د نوي ښوونیز نصاب په برخه کي زده کړي ګوري او نوي ښوونیز نصاب د هخوي په پروګرامونو کي شته دي او مخکي له خدمت نه به ځاي پر ځاي شي په واقعت کي د درسي کتابونو د تدریس شکل د ښوونکي د روزني د ښوونیز نصاب یوه بله برخه ده

که چیري د دارالمعلمینو زده کوونکو ته نوي ښوونیز نصاب د ښوونکو د روزني پروګرام د تطبیق کولو په جریان کي روزنه ورکړل شي ، ښوونیز نصاب به په ښه توګه تطبیق شي نو په دي توګه د ښوونکي د روزني زده کوونکي کولي شي چي په مکمل تیاري سره نوي کتابونه تدریس کړي او په محلي شرایطو او حاجتونو پلي کړي او سربیره پر دي د ښوونځیو مدیران او څارونکي هم په دي لاره کي زده کړي وګوري تر څو وکولي شي د نوي نصاب په پلي کیدو کي د ښوونځیو د ښوونکو سره مرسته وکړي.

د پرمختیایي ښوونیز نصاب د ښه کیفیت په اړه د وزارت د ټولو پروګرامونو لپاره په کال ۱۳۹۰ل کي د مستقل ملي پرمختیایي ښوونیز نصاب انستیتوټ جوړیري، دا انستیتوټ به د عمومي زده کړو د ښوونیز نصاب د لوي پالیسیو او د اسلامي زده کړو مسئول وي ، او د پرمختیایي نصاب پروسه به د ښوونکي د روزني، تخنیکي او مسلکي زده کړو او سواد زده کړو د پرګرامونو سره همغږي وکړي.

د تعلیمي نصاب د کارمندانو په ځانګړې توګه د ځوانو مؤلفینو د وړتیا لوړول د وزارت د کاري لمړیتوبونو څخه په راتلونکي ۵ کالو کي راځي.

**موخې:**

- د تعلیمي نصاب او عمومي زده کړو د ښوونځیو او مدرسو د درسي او روزنیزو توکو پراختیا او پرله پسي بیا کتنه
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې، د لومړنۍ او ثانوي دورې د ټولګیو د زده کوونکو د روزنې د پرمختګ په موخه په ټول هېواد کې د ارزونې د سیستم پراختیا او پلي کول
- هر کال د هېواد ټولو ښوونځیو او مدرسو ته له اوسنیو علمي معیارونو سره د درسي کتابونو چمتو کول
- تر ۱۳۹۰ کال پورې، ټولو ښوونکو ته د لارښود کتاب تیارول

**د پروګرام برخې:**

5) د تعلیمي نصاب، درسي کتابونو او د ښوونکي د لارښود پراختیا او بیا کتنه
6) د کتابونو او درسي توکو چاپ او وېش
7) د ښوونیز پرمختګ د ارزونې د سیستم پلي کول او پراختیا
8) د وړتیا لوړول
9) مدیریت او همغږي

**لومړۍ برخه: د تعلیمي نصاب، درسي کتابونو او د ښوونکي د لارښود پراختیا او بیا کتنه**

**جزئي موخې:**

- د تعلیمي نصاب په برخه کې د ټولنې د اړتیاوو او غوښتنو پرله پسي څېړنه او مطالعه، د ښوونځیو او مدرسو په تعلیمي نصاب کې د ښه او اغیزمن پرمختګ په موخه
- په ښوونځیو کې د نصاب د پلي کېدو د کچې ارزونه

- تر ۱۳۹۳ل کال پورېد نصاب او د عمومي زده کړو د مفرداتو بيا کتنه(د اساسي او ثانوي په ګډون)
- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د نصاب د چوکاټ او د اسلامي زده کړو د مفرداتو بيا کتنه
- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د عمومي زده کړو د درسي کتابونو بيا کتنه
- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د اسلامي زده کړو د درسي کتابونو پراختيا او بيا کتنه
- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د دريمي ژبو د درسي کتابونو پراختيا
- تر ۱۳۹۰ل کال پوري له ښوونځي مخکې او د ځانګړي يوکلنو زده کړو د زده کوونکو د نصاب پراختيا او روزنه
- د درسي کتابونو پراختيا په بريل خط
- د اشاروي ژبي لپاره د بصري- سمعي لغاتونو د فرهنګ پراختيا
- پر ۱۳۹۳ل کال پوري د خاصو احتياجمندو زده کوونکو لپاره د ښوونيزو توکو د نصاب پراختيا
- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د اسلامي او عمومي زده کړو د ښوونکو لپاره د ټولو مضامينو لارښود کتابونو پراختيا او بيا کتنه
- د افغانستان د شرايطو سره د يو متناسبه نسخي ( د تکثر او تنوع نه استقبال: د ماشومانو لپاره د هر اړخيز او مناسب چاپيريال لارښود)ښوونځيو لپاره
- تر ۱۳۹۳ل کال پوري، د اړوندو درسي توکو (جدولونو، نقشو، مودلونو ، د هر مضمون خاصي پوښتي او تشريحي ځوابونه...) پراختيا او بيا کتنه

با کيفيته تعليمي نصاب يوه اوږده او غزېدلي پروسه ده چې د ټولني د نويو غوښتنو او اړتياوو او معاصرو علمی پرمختګونو په رڼا کې پراختيا مومي او پکې اړوند بدلون راځي، نو په کار ده چې د ټولني غوښتني تل مطالعه او وارزول شي، موجود تعليمي نصاب شامل د يو مضمون کيږي چې حرفوي مهارتونه په عمومي توګه د ۷ څه تر ۹ ټوګي پوري زده کوونکو ته ورپيژني همداراز په ۱۰ او ۱۲ ټولګيو کې يو اختياري مضمون د حرفوي مهارتونو په اړه جوړيږي. د انتخابي کورسونو نصاب به د تخنيکي او مسلکي زده کړو په همکاري پراختيا وکړي ،د پراختيايي نصاب رياست به د حرفوي انتخابي مضامينو تدريسي ساعتونه د ارزويني لاندي ونيسي تر څو ځانګړي کړي چې دغه درسي ساعتونه شمير د دي مضامينو د تدريس لپاره کافي دي او کنه. ښوونځي کوولي شي هغه مضمون چې د سيمو د کاري بازار اړتيا ورته ليدل کيږي انتخاب کړي. او هغه حرفوي انتخابي مضامين چي په دي ښوونځيو کي تدريس کيږي هغه مضامين به وي چه په ورکشاپونو به يي د لوي سرمايه ګزاري حاجت نه وي لکه د محسابداري ، اداره او مديريت، زراعت، مالداري او توريزم .

د نويو کتابونو پلي کول، په ښوونځيو او مدرسو کې د تعليمي نصاب د پلي کېدو ارزونه، د درسي کتابونو په اړه د ښوونکو او زده کوونکو د مثبتو اندونو او نظرونو راغونډول د تعليمي نصاب په غښتلي کولو او پرمختګ کې اساسي رول لري، چي د دې په رڼا کې د تعليمي نصاب په چوکاټ، مفرداتو، درسي کتابونو، د لارښوونکي د لارښود په کتابونو او نورو درسي توکو کې بيا کتنه او لازمه سمونه او اصلاح تر سره کېدای شي، چې په نتيجه کې به زمونږ د هېواد پوهنه د ټولني د غوښتنو او شرائطو او د نړۍ د علمي معيارونو سره په تلپاتې او دوامداره توګه له باکېفيته درسي کتابونو او درسي توکو برخمند وي.

له اساسي قانون سره سم،هغه زده کوونکي چې مورني ژبه يي يو د دريمو ژبو څخه وي په هر ټولګي کي به د دريمي ژبي مضمون ولري نو په همدي توګه د تعليمي نصاب د پراختيا د فرعي پروګرام له

مخې په پاميري، ازبکي، ترکمني، بلوچي او نورستاني ژبو له لومړي ټولګي تر دولسم ټولګي د درسي کتابونو د تاليف چارې پيل شوې دي او تر ۱۳۹۳ل کال پورې به پورې شي

همدا زار د تعليمي نصاب د پراختيا فرعي پروګرام په پام کې لري، چې له ښوونځي مخکې زده کړو د ۴کلنو تر ۶ کلنو زده کوونکو او د ځانګړو اړتياوو لرونکو لکه ړانه ده، کاڼه او ذهني وروسته پاتې زده کوونکو لپاره يوه ځانګړي نصاب ته پراختيا ورکړي.

**دوهمه برخه: د درسي کتابونو او زده کړيزو توکو چاپ او وېش:**

**جزئي موخې**

- د زده کوونکو له شمېر سره سم د عمومي زده کړو د ۳۵۵عنوانه د درسي کتابونو او د اسلامي زده کړو د ۱۴۹عنوانه درسي کتابونو چاپ په هر دوه کالو کې
- د ځانګړو اړتياوو لرونکو (ړندو او کڼو) زده کوونکو لپاره د درسي کتابونو چاپ
- د ښوونکو له شمېر سره سم د ۵۰۴عنوانه د ښوونکي د لارښود کتابونو چاپ
- په ښوونځيو او مدرسو کې د درسي کتابونو وېش د هر کال په شروع کې
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ۶۰ فيصده عمومي ښوونځيو مدارسو او دارالمعلمينو مجهزيدل
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د معلوماتي بانک پراختيا (د درسي کتابونو د وېش او څارنې پلان)

په راتلونکي ۵ کالو کې،۳۵۵عنوانه د عمومي زده کړه درسي کتابونه او ۱۴۰عنوانه د اسلامي زده کړو د زده کوونکو د شمير مطابق په هر دو کالو کې يو ځل چاپ شي. هغه درسي کتاب چې د ګرافيک، ډيزاين او د کاغذ په غوراوي کې يې د ښه والي هڅه شوې وي زده کوونکي لوست ته هڅوي. چې دي مسئلي ته به جدي توجه وشي.

د هېواد ټولو ښوونځيو او مدرسو ته د درسي کتابونو او درسي توکو او د ښوونکي د لارښود وېش د دې پروګرام يوه سخته او مهمه مرحله ده، چې بايد د وزارت د جدي پاملرنې وړ وګرځي او د دې پروسې لپاره امکانات او اړوند توکي چمتو کړي، څو ښوونکي او زده کوونکي پر خپل وخت له درسي کتابونو او ملاتړو درسي توکو برخمن شي.

په دې لړ کې لازمه ده چې د زده کوونکو دقيقي شمېرې ته د ټولګيو او د لوست د ژبې پر اساس او نورو معلوماتو لپاره چې زده کوونکي ته د اړ درسي کتاب په ټاکلو کې اغيز لري، د خپرونو رياست لاسرسى ولري. او د معلوماتو له بانک څخه په مرسته د درسي کتابونو، ملاتړو درسي توکو او د ښوونکي د لارښود د چاپ او وېش پروګرام په عملي او منظمه توګه تر سره شي. څو ټول زده کوونکي د خپلو اړتياوو سره سم کتابونه تر لاسه کړي، او د هر نوع غلطۍ ګټې اخيستنې مخه به ونيول شي.

**دريمه برخه: د ښوونيز پرمختګ د څارنې د سيستم پلي کول او پراختيا:**

**جزئي موخې**

- تر ۱۳۸۹ل کال پورې د ښوونيز پرمختګ د ارزونې د سيستم پراختيا او د ازموينو د لوايحو او مقرراتو بيا کتنه
- تر ۱۳۹۰د ملي معياري ارزونې سيستم پرمختګ او بيا کتنه

د عمومي او اسلامي زده کړو د ښوونځيو د منظمي ازموينې د مؤثريت او ډاډ په منظور ، د بيا ليدل شوي ازموينې ته اړوند قوانين او مقررات او د ازموني لارښودنې د هر مضمون لپاره پراختيا کوي او په ښوونځيو کې تر ۱۳۹۰ل کال پورې توضيع کيږي چې دا کار به د عمومي زده کړو د پروګرام په نيږدې همکاري سره ~~وکړلي~~ وکړلی شي.

په ټولو هيوادو کې د زده کوونکو د زده کړو د متوازن او مساوي پرمختګ د ډاډ او د ښوونيزو او روزنيزو پلان شوو موخو د لاسته راوړولو لپاره اړينه ده، چې زده کوونکو ته د زده کړې د کچې د پرمختګ ارزونه د ملي او معياري ازموينو له لارې تر سره شي. د ارزوينې دا سيستم به د ازموينې د پوښتنو د جامع بانك پر اساس پراختيا وموعي همدارنګه د دې ارزونې پايلې د زده کوونکو د رشتې په انتخابولو کې د مرستې په منظور، په عمومي او يا تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د زده کړې د مخکې وړلو په موخه د ۹ ټولګې نه ورسته د ګټې وړ وګرځي

همدا راز دا پايلې کولای شي د تعليمي نصاب د ارزونې او د ښوونکې د روزنې د پروګرام د اغيز په برخه کې مرسته وکړي. ملي او معياري ارزونه د عمومي زده کړو د ۹ ټولګيو فاريغينو لپاره په لمړي مرحله کې پلې کړلې شي. په ۱۳۸۹ل کل کې به د ښوونيز نصاب پرمختيايي فرعي پروګرام دې سيستم ته پراختيا او په ۱۳۹۰ل کال کې به يې په امتحاني ډول پلي کړي . د ارزونې دغه سيستم به په دوهمه دوره کې د ۳ او ۶ ټولګيو لپاره هم پلي کړلې شي.

**څلورمه برخه: د وړتيا لوړوالي:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۸۹ل کال پورې د نصاب د پراختيا، د ساينس د مرکز او څېړونو د رياستونو د کارمندانو د وړتيا د لوړولو د هر اړخيز پلان ترتيب او پراختيا
- تر ۱۳۸۹ل کال پورې د نصاب د ښوونيز نصاب د پراختيا ټولو اصلي او فراعي برخو او درسي کتابونو ته د يو متخصص تيارول چې په مربوطه رشته کې ماستري ولري
- تر ۱۳۸۹ل کال پورې د څېړونو او د نصاب د پرختيايي رياست د اداري کارکوونکو د وړتيا لوړوالي د پلانجوړونې، څارنې، راپور ورکونې او نورو لازمو اداري مهارتونو کې
- د نوي نصاب په اړه د ښوونيز څارنې د غړو کلنې زده کړې .

د ښوونيز نصاب پراختيايي رياست د خپلو کارکونکو د وړتياو د لوړولو په موخه به يو پراخ پلان پر مخ يوسي. په لمړي قدم کې به د موجوده کارکونکو ارزونه او د زده کړې اړتيا په نظر کې ونيول شي. د نوموړو ارزونو د پيلو په بنسټ اوږد مهالي او لنډ مهالي روزنيز عملي او نظري پروګرامونه

د تعليمي نصاب د پراختيا، د کمپيوټرې، معلوماتي او ارتباطي تکنالوجيو او انګليسي ژبې جوړ کړل شي. نوموړي پروګرامونه به د هيواد په داخل ، خارج او يا په ګاونډيو هيوادونو کې پلې شي.

دغه رياست به د پوهنتونونو وړ فارغين په ګوته او د ضرورت وړ رشتو کې د ماستري درجې د لاسته راوړنې په موخه بهرنيو هيوادونو ته ولېږي. دغه ښوونيز پروګرامونه نوموړي رياست ته دا موقع ورکوي تر څو درسي کتابونه ، د ښوونکي لارښود او نور د ښه کيفيت لرونکي ښوونيز توکي توليد او د زده کوونکو او ښوونکو په لاس کې ورکړل شي.

د ښوونيز نصاب پراختيايي پروګرام ، لوړ پوړي او د ښوونې د څارنې غړو ته د نوي نصاب په اړه روزنه ورکوي تر څو هغو د ښوونځيو مديرانو او ښوونکو ته د نويو کتابونو، لابراتوارونو او نورو ګټورو درسي توکو څخه د ګټې اخستنې لارښوونه وکړي.

**پنځمه برخه: مديريت او همغږي:**

**جزئي موخې**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د نصاب د پراختيايي رياست د تقنيني (قانون ، لايحه او طرزالعمل) اسنادو جوړونه او بيا کتنه
- په ۱۳۹۰ل کال کې د پراختيايي ښوونيز نصاب د ملي انستيتوت جوړول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې، د پراختيايي نصاب د رياست د ټولو کارکونکو لپاره د مناسبې کاري فضا منځته راوړل.
- په هر کال کې د کلنيو عملياتي پلانونو سره د بوديجې، څلور مياشتيني او کلني راپورونو چمتوکول او خپرول
- د ضرورت په صورت کې په کلني توګه د پروګرام د فعاليتونو او پروژو شپږ مياشتنۍ کتنه او ارزونه.

د پروګرام تقنيني اسناد به له ټولو لوايحو او طرزالعملونو سره تل د ارزونې لاندې وي او په اړه به يې مناسبې مشورې کيږي، چې د اړتيا په صورت کې به اړوندې سمونې او بيا کتنې لاندې ونيول شي. دا ارزونې او مشورې به د نورو هېوادونو او د دې پروګرام پخوانيو تجربو ته په کتو سره سرته رسيږي. دا اسناد به د پوهنې وزارت د وېبپاڼې له لارې د خلکو او مراجعينو په واک کې ورکول کيږي.

تقنيني اسنادو د ارزونې پيلي به د نصاب د پراختيا د ملي انستيتوت د تاسيس د مرسته لپاره په ۱۳۹۰ل کال کې د ګټې وړ وګرځي. د غه انستيتوت به د اسلامي اوعمومي زده کړو د تعليمي نصاب د لويو پاليسيو مسئول وي او د نصاب پراختيايي پروسې به د ښوونکي د روزې، تخنيکي او مسلکي زده کړو او د سواد زده کړې سره همغږي رامنځته کړي

دا پروګرام د وزارت د نورو پروګرامونو په څېر د پروګرام د وضعيت د څېړنې او ارزونې پر بنسټ او د پوهنې د ملي ستراتيژيک پلان سره سم کلنيو عملياتي پلانونو ته پراختيا ورکوي. او د هرو دريو مياشتو په وروستيو کې به د پروګرام د پرمختګ او ور پېښو ستونزو پر بنسټ عملياتي پلان ترتيب او د ارزونې او پلان عمومي رياست او د وزارت رهبرۍ ته وړاندې کوي. همدا راز د پروګرام شپږ مياشتني فعاليتونه به د دقيقې ارزونې او څېړنې لاندې وي، چې له نتائجو او پايلو به يې د عملياتي پلانونو په بيا کتنه او پراختيا کې ګټه اخيستل کيږي.

## فرعي پروګرام ۲،۲:د ښوونکي روزنه

**کلي موخه**

په عمومي ښوونځيو او ديني مدرسو کې د زده کوونکو د روزنې او تدريس د کېفيت د ښه والي په موخه د نارينه او ښځينه ښوونکو د اساسي وړتياوو پرمختګ، او د زده کوونکو د رزونيزو پايلو او نتيجو لوړوالی

**عمومي ستراتيژی:**

د ښوونکو د ګومارنې پروسه په تدريجي ډول غير مرکزي شوې او د تحصيلي رشتې او اختصاصي، مسلکي، عمومي او انتخابي مضمونونو د وړتيا پر اساس تر سره کيږي. او د ثانوي دوري ښوونکي بايد د پوهنتون فارغان وي او هر ولايت د خاصو مضامينو ښوونکو ته احتياج لري نو له يو پلوه به پوهنتونونو ته خبرتيا ورکړل شي چې د دغې مضامينو په برخه کې د محصلينو داخليدو ته پاملرنه وکړي او له بله پلوه زيات شمېر ګومارل شوي ښوونکو ته د خپلو تحصيلي سويې د لوړولو په موخه لنډه مهاله فرصتونه د داخل خدمت د پروګرامونو له خوا برابر شي.

همدا رنګه د لرې پرتو او سختو شرائطو لرونکو سيمو کې د ښځينه وو لپاره د ښوونکي د روزنې ځانګړي پروګرامونه په پام کې ونيول شي.

په دارالمعلمينونو کې د محصلينو جذب اوروزنه، په دواړو پروګرامونو کې دا که له خدمت مخکې برخو کې وي او که د خدمت پر مهال برخو کې، د هر ولايت د ښوونځيو د اړتياوو او غوښتنو سره سم به تر سره شي . نو په همدې اساس د دولسم ټولګې فارغين چې په کانکور کې ګډون کوي د دې پر ځای چې د لوړو زده کړو د کانکور له خوا په دارالمعلمينو کې جذب شي، د پوهنې او لوړو زده کړو وزارت د ګډ هيئت لخوا د ولسواليو او ولايتونو دارالمعلمينونو ته د اړتياوو سره سم ورپېژندل کيږي

يو مشترکه کميټه به د پوهنې او عالي زده کړو وزارت تر منځ جوړه شي تر څو د کانکور پايلې وڅيړي او محصلين به يې د ولاياتو او ولسواليو احتياجونو په اساس دارالمعلمينونو کې جذب کړي چې دا پروسه شروع شوي ده او د پلان په دوره کې به وړتيا وکړي.

د وزارت يو له مهمو استراتيژي د نجونو د داخليدو زياتوالي او د ښځينه ښوونکو د کيفيت او شمير زياتوالي دي.په دي منظور ، وزارت لمړي د ښوونکو د وړتيا لوړوالي د خدمت پر مهال او وروسته د نجونو د داخيليدو زياتوالي د خدمت نه مخکې برخو کې ، خاصه توجه وکړي . د ښوونکي د زده کړې شعبې په ولسواليو کې پراختيا مومي، څوپه اوله مرحله کې د خدمت پر مهال پروګرامونه د ښوونکو لپاره تيار کړي او وروسته به د احتياج په صورت کې د خدمت نه مخکې پروکرامونه تيار کړي او د ښوونکي د رزونې پروګرامونه ښوونځيو ته نيژدې او د ښوونکو د هستوګنو ځايونه ته لنډ جوړ کړل شي او د ښځينه ښوونکو ګډون مخ په زياتېدو شي.

همدا راز د هغه ښځينه ښوونکو لپاره، چې له ۱۲ټولګي ټيټې زده کړې لري، د روزنې ځانګړي پروګرامونه جوړ کړل شي.

همدا راز د هغه ښځينه ښوونکو لپاره، چې له ۱۲ټولګي ټيټې زده کړې لري، د ښوونکو د روزنې ځانګړي پروګرامونه به ورته جوړ کړل شي.تر څو د ښځينه ښوونکو شمير په لرې پرتو سيمو کې ډير کړي

د پوهنې وزارت د دارالمعلمينونو د جوړېدو په موخه له خصوصي سکتور نه ملاتړ کوي چې دغه ملاتړ د ښوونکو د روزنې د خصوصي مرکزنو جوړولو د مالي ملاتړ او همکاري په موخه اود وزارت د تاييد وړ دي

او د ښوونکي د روزني نصاب د هغوی په واک کې ورکوي او لازمي لاربښووني به تر سره کوي. او د هغوی د روزنيزو پروګرامونو له کېفيت کيفيت څخه د ډاډ او د دارالمعلمينونو څخه د څارنې په موخه به ځانګړي معيارونو او منظم ميکانيزم ته وده ورکړل شي.

د ښوونکي د روزني د ټول پروګرامونه د کيفيت لوړوالي لپاره، د ښوونکي د ښووني رياست به په ۱۳۹۰ل کال کې د ښوونکي د روزني په ملي انستيتوت بدل شي. او د ښوونکو د روزني د عمومي زده کړو فرعي پروګرامونو او اسلامي زده کړو مسئوليت به په غاړه واخلي ، او د ښوونکو د روزنې، د تخنيکي او مسلکي زده کړو پراګرامونو او د ليك لوست واحدونو سره به نيږدې مرستي ولري . ټول دارالمعلمينونه به د ملي معيارونو سره سم د فعاليت جواز تر لاسه کړي.

د موخو، وړتياوو، سټندرډونو او د ښوونکي د زورني د ښوونيزو پروګرامونو په برخه کې به له لوړو زده کړو وزارت سره همغږي لا پياوړې شي څو په پوهنتونونو کې د ښوونکي د روزني پروسه د تعليمي نصاب او د پوهني وزارت د اړتياوو سره سمه تر سره شي.

د تمويلونکو، نادولتي مؤسسو او خصوصي برخي فعاليتونه به د پوهني د ملي ستراتيژۍ په رڼا کې په ځانګړي ډول د ښوونکي د روزني د ستراتيژۍ سره سم همغږي او تنظيم کړل شي.

همدا راز وزارت په پام کې لري چې د دريمي ژبې د ښوونکو د روزنې، ځانګړو زده کړو، له ښوونځي مخکې زده کړو، کمپيوټر، بدني روزنې او د ښکلو هنرونو پروګرامونه جوړ کړي. همدارنګه د ښوونکي د روزني په پروګرام کې به د پراخه زده کړو مناسبي استراتيژياني ځاي پر ځاي کيږي تر څو ښوونکي وکړي شي د ټولګي سيمه پراخه کړي، په دارالمعلمينو کې به د ښوونکو د وړتيا د لوړوالي په موخه په دو ژبو تدريس( پښتو او دري) په امتحاني توګه تطبيق کيږي.

**موخې:**

- د ښوونکو د ملاتړ په مرکزونو او دارالمعلمينونو کې له خدمت مخکې او د خدمت پر مهال چټکو رزونو او د هغوی د تحصلي سويې د لوړولو په موخه د موجوده ښوونکو او د ۱۲ټولګي د فارغينو لاسرسی.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د خدمت پر مهال پروګرام له مخې د موجوده ۶۰زرو ښوونکو جذب او رزونه، او د څانګو د اړتيا سره سم د ۱۴ټولګيو ته د هغوی د تحصيلي سويو لوړول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ۵۰زره د ۱۲ټولګي فارغينو (۴۵سلنه ښځينه) ته له خدمت مخکې پروګرام له مخې په اړو څانګې کې مسلکي روزنه، په ځانګړي ډول د هغو سيمو فارغينو ته چې د مسلکي ښوونکو له کمښت سره مخ دي
- تر ۱۳۹۲ل کال پورې لږ تر لږه ۷۰سلنه ښوونکي د وړتيا ازموينې په برياليتوب تر سره کوي
- ټولو ښوونکو او اداري کارمندانو ته د همېشني مسلکي پرمختګ د سيستم جوړول، د ښوونکي د مسلکي چټک پرمختګ (Teacher Career Ladder)په ګډون، چې د خدمت پر مهال د پروګرام له مخې د لنډ مهاله روزنو په رڼا کې مخ په تغير دي
- په ولايتونو او ولسوالي کې د ښوونکي د زده کړو په مرکزونو کې ډېرى محصلينو او استاذانو ته د اعاشي او هستوګني امکانات برابرول، چې ښځينه ؤ ته يي لومړيتوب په پام کې نيول شوی
- د تدريس د همېشني کېفيت د اوچتولو او غښتلي کولو او د زده کوونکو دزده کړو د پايلو د لوړولو په موخه، محصلينو او استاذانو ته د لنډ مهاله او اوږد مهاله زده کړو لپاره د درسي کتابونو او روزنيزو عصري باکېفيته توکو چمتو کول

- تــر ١٣٩٠ل کال پورې د استادانو پر وړتياوو، د تدريس د کيفيت د لوړولو او د محصلينو د زده کړيزو پايلو د ښه اغيز په موخه د دارالمعلمينونو د استاذانو او اداري کارمندانو او د ښوونکې د روزنې د کامندانو د وړتيا د لوړولو سيستم جوړول .

**د پروګرام برخې:**

1) د ښوونکې د روزنې لوړو زده کړو ته لاسرسی
2) د ښوونکو او اداري کارمندانو د مسلکي پرمختيا سيستم جوړول
3) د محصلينو او استاذانو هڅونه
4) د نصاب او ښوونيزو توکو پراختيا او بيا کتنه
5) د وړتياوو لوړول
6) مديريت او همغږي

**لومړۍ برخه: د ښوونکې د روزنې لوړو زده کړو ته لاسرسی:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- د هيواد د دارالمعلمينونو شمير به له ٣٨څخه په کال ١٣٨٨ل کې ۶٢ته په کال ١٣٩٣ل کې ورسيږي
- تر ١٣٩٣ل کال پورې به د هېواد په ټولو ولسواليو کې د دارالمعلمين څانګه د ولسوالۍ د ښوونکې د روزنې د مرکز په توګه پرانيستل شي
- تر ١٣٩٣ل کال پورې د ښوونکې د روزنې په مرکزونو کې د ١١٠زره ښوونکوو جذب او روزنه (۵٠زره له خدمت مخکې او ۶٠زره د خدمت پر مهال)
- د نوي جوړ او تاسيس شوو خصوصي دارالمعلمينونو ثبت کوول په وزارت کې، او ورڅخه ملاتړ او ورته د اړوندو خدمتونو وړاندې کول تر ١٣٩٣ل کال پورې
- تر ١٣٩٣ل کال پورې د ٢٢٠٠دائمي استادانو ګومارنه

د پوهنې وزارت بايد په پنځو راتلونکو کلونو کې لـه ١١٩زرو زيـات ښـوونکي وګومـاري، لـه بل پلـوه سـمهال د ١٢ټولګيـو د فـارغينو ښـوونکو شـمېر ۶٠زره دي او زده کـړي تـه ضـرورت لـري، چـې د هېواد اوسني دارالمعلمينونو يې د ځايولو جوګه نه دي، نو له همدې کبله د ښوونکې د روزنې پروګرام په پام کې لـري چـې د دارالمعلمينونـو شـمېر تر ١٣٩٣ل کال پورې ۴٢ بابوتـه ورسـوي. او دا امـر د ٢٢٠٠ دائمي استادانو ته په راتلونکي پنځه کالو کې نيازمند دي اوسمهال د هر ولايت په هر مرکز کې حداقل يو دارالمعلين فعال دي. په لومړۍ مرحلـه کې بـه پـه لويـو ولسـواليو کې اساسـي دارالمعلمينونـه جوړ شي، څو خپلو ګاونډيو ولسواليو تـه لـه خدمت مخکې او د خدمت پر مهال زده کړو پروګرام ورسوي. په دوهمه مرحله کې به د ټولو ولسواليو پـه کچه د الحاقيه څانګو پرانيستنه وغزيږي، څو د ليليو اړتيا راکمه شي. د هر ولايت د اړتياوو له تناسب سره سم بـه لـه خدمت مخکې او د خدمت پر مهال پروګرام به په منظمه توګه تر سره شي.

همدا راز په ولسواليو کې د دارالمعلمينونو د الحاقيه څـانګو د ښـوونکو د هميشـني پرمختـګ پـه موخـه د ښوونکو د ملاتړ مرکزونـه جوړيږي، د دې مرکزونـو اسـاس بـه د خدمت پـر مهـال د ملـي پروګـرام لـه مخې د لس کسيزه ليسانسه ډلې لخوا ايښودل کيږي.چې په لومړي سر کې بـه د خدمت پر مهـال او وروسته به له خدمت مخکې زده کړې د ښوونکو او د ښوونځيو د اداري کارمندانو لپاره برابروي. په مرکزونو کې به ښوونکي لـه ~~ښيلابېيلو سرچېنو سرچينو~~ لکه د ښوونکو لپاره د مطـالعې توکو، د درسي مرستې کتابونو او ښوونيزې سي ډي ګانو څخه ګټه اخيستلای شـي . همدا راز د پوهنې وزارت

د خصوصي دارالمعلمينونو له جوړولو ملاتړ کوي او هغو له کېفيت او کړنو به منظمه څارنه تر سره کوي.

**دوهمه برخه: د ښوونکو د همېشنی ~~هميشنی~~ مسلکي پرمختيا د سيستم جوړول:**

**جزئي موخې**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د ټولو ښوونځيو ښوونکي د انست(INSET ) په لومړي، دوهم او دريم پروګرام کې روزنه تر سره کړاي شي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د ټولو ښوونکو ۵۰سلنه د داخل خدمت دزده کړي په څلورم پروګرام کې روزنه تر سره کړای شي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به لږ تر لږه ۳۰سلنه ښوونکي له لرې د زده کړې له پروګرام څخه به په منظمه توګه ګټه پورته کړای شي او ۸۰سلنه به يې ملي ازموينه په برياليتوب تر سره کړای شي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به په مرکز او ولايتونو کې د ښوونځيو او مدرسو ټول اداري کارمندان د ښوونځيو د اداري په اړه وروزل شي او د ښوونکو لپاره به تخنيکي ملاتړونه مساعد کړي شي.

د ښوونکي د روزنې رياست د ښوونکو د مسلکي وړتيا او کچې لوړولو او له تدريسي خويونو، درسي نصاب له محتوا، د لومړي انست (د تدريس لارې چارې) او د دوهم انست (د مضمون محتوا) روزنيزو توکو ته پراختيا ورکړې او د دريم او څلورم انست لپاره د زده کړو د توکو پراختيا په جيريان کې ده .

د ښوونکي د روزنې د پروګرام له مخې به تر ۱۳۹۳ل کال پورې د عمومي او اسلامي زده کړو ټول ښوونکي د لومړي، دوهم او دريم انست په پروګرامونو کې روزنه تر سره کړي، چې لږ تر لږه د دې ښوونکو ۵۰سلنې به په څلورم انست کې روزنه تر سره کړې وي. د هرې ولسوالی د ښوونکو لارښوونکي به د ښوونکو د روزنې سربېره له ښوونځيو ليدنه هم تر سره کوي، چې ښوونکو ته د تدريس پر مهال عملي لارښووني وکړي، څو هغه څه يې چې په سيمينارونو کې زده کړي دي په ټولګي کې يې په عملي بڼه وړاندې کړي.

له لرې د زده کړې سيستم به د ښوونکو د مسلکي روزنې او وړتيا لوړولو په موخه جوړ کړل شي. تر ۱۳۹۳ل کال پورې به لږ تر لږه ۳۰سلنه ښوونکي له لرې د زده کړې له پروګرام برخمن کېدای شي. دا پروګرامونه به د راديو تلويزيو څخه په مخامخ بڼه يا هغې ته ورته په بله بڼه، په ځانګړي ډول د لرې او ناامنه سيمو لپاره ترې کار اخيستل کيږي(د عمومي زده کړو فرعي برنامو ته مراجعه وکړي).

تر ۱۳۹۳ل کال پورې به په مرکز او ولايتونو کې د ښوونځيو او مدرسو ټول اداري کارمندان بېلابېلې زده کړې سرته رسوي، د همېشنيو زده کړو په موخه به مسلکي حلقې جوړې کړل شي، چې په پايله کې به د ښوونځيو اداري پرسونل نه يوازې دا چې دا روزنې به ورسره د اداري کړنو په پرمختګ کې مرسته وکړي بلکې په تدريس او ښوونيزو چارو کې به يې هم اغيز پر خپل ځای وي. اداري پلاوی به کولای شي د ښوونکو تدريس وڅاري او ورته يې د پرمختګ او ښه والي په موخه د زده کړې حلقې جوړې او د زده کوونکو د رزونې په اړه لازم تدابير ونيول شي.

**دريمه برخه: د محصلينو او استاذانو لپاره مالي هڅونې:**

**جزئي موخې**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې ۲۰سلنه استاذانو ته په هغو ولايتونو او ولسواليو چې د دارالمعلمينونو د ټاکل شوو معيارونو له مخې پکې استاذان کم دي، سيمه ايزي تنخواګاني برابريږي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې په هغو سيمو کې چې د ښځينه ښووونکو له کمښت مخ دي ۲۵۰۰تنو ښځينه او کوچي محصلينو ته د مرستې په توګه تنخوا ټاکل کيږي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ولايتونو او ولسواليو د دار المعلمينونو ټولو ښځينه او ۹۰سلنه نارينه محلصينو ته د اړينو شرطونو په پام کې نيولو سره له خدمت مخکې د اعاشې او هستوګنې امکانات برابريږي.

په ۱۸هغو ولايتونو کې چې د مسلکي استاذانو کمښت پکې ليدل کيږي هر استاذ ته د سيمه ايز امتياز په توګه هره مياشت له ۸ تر ۱۰زرو افغانۍ ورکول کيږي. د دې پروګرام له مخې دا پروګرام په لاندې ولايتونو کې تر سره کيږي: کنه دهار، هلمند، ارزګان، زابل، پکتيا، پکتيکا، خوست، نيمرزو، فراه، دايکندی، باميان، بادغيس، لوګر، پنجشير، کنړ، غور، نورستان او سرپل. دا سيمه ايزه تنخوا به له کدري امتيازاتو څخه پرته وي.

د ۲۵ولايتونو په دارالمعلمينونو کې د هرې ښځينه محصلې لپاره۳۰۰۰ افغانۍ د مرستې په توګه مياشتنۍ تنخوا د نورستان، کنه دهار، هلمند، پنجشير، ارزګان، زابل، فراه، نيمروز، بادغيس، غور، فارياب، کندز، پروان، پکتيا، پکتيکا، سرپل، خوست، کنړ، لغمان، غزنی، وردګ، سمنګان، لوګر، باميان او دايکنه دي په ولايتونو کې منل شوې. دا مياشتنۍ تنخوا د محصلينو د ښې حاضرۍ او بريالیتوب سره تړلې، چې د دو کلونو د تحصيل دوري لپاره ادا کيږي. په هغه ولايتونو کې چې د د دولسم ټولګي ښځينه فارغيني کمي لري د نهم څخه تر دولسم ټولګيو پورې محصلينې په دې پروګرام کې داخلې دي. او د اصول صنفي د ښوونکو د روزنې له نوي چمتو شوي نصاب سره سم د لومړي تر دريم ټولګي د ښوونکي په توګه روزنه ورکول کيږي.

د تحصيل له بشپړېدو وروسته فارغان د خپلو کورونو او کليو سره نيژدې لومړنيو ښوونځيو کې د ښوونکي په توګه ګمارل کيږي او ورته د لومړي کال په پای کې د دوو مياشتو تنخوا د ډالۍ په توګه ورکول کيږي. په دې پروګرام کې ګډ دارالمعلمينونه د ښځينه محصلينو د ښه جذب په صورت کې په کال کې دوه ځلي فوق العاده بوديجه، چې له سل تر څلور سوو زرو افغانيو ده، په هر سمستر کې تر لاسه کوي، چې په دې سره د دارالمعلمين تحصيلي چارې لا پياوړې کړي شي.

د کوچيانو ګرځند ښوونځي د مسلکي ښوونکو له ډېر کمښت سره مخ دي. د مياشتنۍ مرستې په کومک به د دولسم ټولګي کوچي فارغين دارالمعلمينونو ته جذب او له فراغت وروسته به د کوچېانو په ښوونځيو کې د ښوونکي په توګه تدريس تر سره کړي.

په ولسواليو او لرې کليو کې د مسلکي استاذانو د کمښت د ستونزې د لرې کولو په موخه به د دولسم ټولګي فارغين د خپلو کليو او هستوګنو په نيژدې دارالمعلمينونو کې د ليليې، اعاشې او هستوګنې د شرائطو له چمتو کولو سره، سره داخليږي او ورڅخه به ژمنه اخيستل کيږي چې له فراغت وروسته به حداقل دري کاله په خپلو کليو کې د ښوونکي دنده تر سره کوي.

**څلورمه برخه: د نصاب او ښوونيزو توکو پراختيا او بيا کتنه:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د دارالمعلمينونو ټول درسي کتابونه د ښوونکي د روزنې د نوي نصاب او عمومي زده کړو د نوي نصاب سره په همغږۍ پراختيا ومومي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د ښوونکي د روزنې پنځه ميليونه توکه درسي کتابونه چاپ او ووېشل شي

- د ښوونکو او د ښوونځي د اداري کارمندانو د لنډ مهالي روزنې د ښوونيزو توکو بيا کتنه او پراختيا
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به نوي ښوونيز توکي د اړتياوو د پېژندلو او د ښوونکو د وړتيا د ټاکلو سره سم پراختيا ومومي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به لږ تر لږه ۲۴۰غږيز (صوتي) او ليديز (تصويري) پروګرامونو او۱۰۰له بهرنيو ژبو ژباړل شويو پروګرامونو ته پراختيا ورکول کيږي.
- هر کال د ښوونکو او اداري کارمندانو د تنخواګانو او قدم د لوړوالي لپاره د وړتيا د لوړوالي ازموينې تر سره کيږي.

د دارالمعلمينو د نصاب چوکاټ او درسي مفرداتو د عمومي زده کړو د نوي نصاب او د ښوونکي د روزنې د ملي سټنډرډونو پر اساس پراختيا ليدلې. اوسمهال درسي کتابونه د پراختيا په حال کې دي او تر ۱۳۹۳ل کال پورې به ټول درسي کتابونه د دارالمعلمينونو د ټولو رشتو لپاره پراختيا ومومي. په ټوليز ډول د دارالمعلمينونو د ټولو رشتو لپاره اوسمهال ۳۴۰عنوانه کتابونه (نيمايي په پښتو او نيم په دري) شته، چې دا شمېره به د نوي رشتو لپاره ۴۰۰ عنوانو ته ورسيږي. دا چې په کال ۱۳۹۳ل کال کې به شاوخوا ۱۱۰زره محصلني زده کړې تر سره کوي نو اړينه ده چې شاوخوا پنځه ميليونه توګه درسي کتابونه چاپ او ووېشل شي.

د عمومي زده کړو په ښوونځيو کې روزنيزه ژبه د زياتره زده کوونکو د ژبې په اساس په دري يا په پښتو ژبه وي ټول ښوونکي د دې وړتيا نه لري چې د هيواد په دواړو ژبو تدريس وکړي چې په ۱۳۸۹ل کال کې به د ښوونکو د ژبو د مهارتونو د وړتيا د څه رنګوالي په اړه د هيواد په دواړو رسمي ژبو لپاره تحقيقات وکړي شي، د ښوونکو د روزنې د تطبيق پروګرامونه به په امتحاني ډول غښتلي کيږي تر څو د ښوونکو د برياليتو په صورت کې دواړو ژبو ته پراختيا ورکړي شي.

د ښوونځيو د اداري کارمندانو د سيمينارونو لپاره ښوونيزو توکو پراختيا موندلې، چې د ښوونکي د روزنې فرعي پروګرام د دې سمينارونو له لارې پلي کېږي.وزارت په پام کې لري چې د دې پروګرام د ارزونې او د اداري کارمندانو د نورو اړتياوو پر اساس دا توکي بيا ځلې وکتل شي او د اړتيا سره سم نويو توکو ته په ۱۳۸۹ل کال کې پراختيا ورکړل شي.

د اوسنيو ښوونکو د وړتيا د لوړولو، د تدريس د لارو چارو د ښوونې او نورو اړوندو لارښوونکو د وړاندې کولو په موخه د لومړي او دوهم انست د ښوونيزو توکو سربېره به د دريم اوڅلورم انست ښوونيزو توکو ته پراختيا ورکړل شي. د دريم انست موضوع زده کړه او د مضموني جور مهارت دی او د څلورم انست موضوع ژبه او حساب دی. همدا راز د لومړي او دوهم انست ښوونيز توکي ارزول شوي چې بايد د سمينارونو د کېفيت او اغيزمنتوب په موخه بيا ځلي کتنه وشي.

د لومړي تر څلورم انسته د ښوونيزو توکو په څنګ کې د ښوونکي د روزنې پروګرام په پام کې لري څو ۲۴۰ غږيز او ليديز نوي پروګرامونه او ۱۰۰ له بهرنيو ژبو وژباړې، څو د دارالمعلمينونو استاذانو او ښوونکي ترې ګټه واخيستلی شي. دا پروګرام به د ښوونکي د رزونې د نوي نصاب او د لومړي تر څلورم انست د ښوونيزو توکو پر اساس پراختيا ومومي. سربېره پر دې د زده کړې يو هر اړخيزه سيستم به د واټن، سپوږمکۍ، انټرنېټ او تحريري توکو له لارې پيل شي(روزنيز راديو او تلويزيون د عمومي زده کړو فرعي پروګرام ته مراجعه وکړي).

د ښوونکو مطلوبې وړتياوې د هغوی د مضمون او هغه ټولګي چې پکې تدريس کوي پر اساس ټاکل کيږي، همدا راز د ښوونځي د اداري کارمندانو مطلوبې وړتياوې هم. نو د همدې وړتياوو پر اساس د وړتياوو ملي ازموينه د ښوونکو او اداري کارمندانو لپاره چمتو شوې، چې د ۱۳۸۸څخه تر ۱۳۸۹ل کال پورې پلې کېږي. د دې ازموينې پايلې او ارزونې نه يوازې دا چې د هغوی د رتبو او معاشونو په

برخه کې مرسته کولای شي بلکي د بېلابېلو ګروپونو د اړتياوو په ټاکنه کې رغنه ده رول لري، چې د روزنـې پـه برخـه کـې تـرې ګټـه اخيسـتل کيـږي. نـو لـه همـدې املـه ښـوونکي او د ښـوونځيو اداري کارمندان په سيستماتيک ډول او د ملي ازموينې د پايلو پر اساس او د لنډ مهاله زده کړو په پايله کې به يې رتبې لوړيږي او مسلکي پرمختګ به کوي.

**پنځمه برخه: د ورتيا لوړوالی:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به د دارالمعلمينونو او د ولسواليو د الحاقيه ځانګو ۵زره استاذان د ښوونکي د روزنې په ملي اکاډيمی کې زده کړې تر سره کړي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به لږ تر لږه د ښوونکي د روزنې د رياست د کارمندانو ۶۰سلنه په مرکز او ولايتونو کې اود دارالمعلمينو ۷۰سلنه کارمندان اړوندې زده کړې سرته ورسوي.

د ښـوونکي د روزنـې لـه اکـاډيمی موخـه د دارالمعلمينونـو، الحاقيـه ځـانګو، د ښـوونکي د روزنـې او د وزارت نورو کارمندانو ته د لنډمهال، منځمهـال او اوږدمهالـه پروګرامونـو د پروګرامونـو پلـي کـول او چمتووالی دی. د ملي مسائلو لکه د مسلکي ښوونکو په ځانګړي ډول ښځينه، د زده کونکو د زده کړې په پايلو کې د ښوونکي د زده کړو انعکاس او د ښوونيزو پروګرامونو د اغيز د ارزونې په برخه کې د ښوونکي د روزنـې اکـاډيمي د تحقيق، پاليسۍ جوړولو او د نويو پروګرامونو د چمتووالي مرکز بلل کيږي. همدا راز پـه دارالمعلمينونـو کـې د تـدريس او زده کـړې د کېفيت د اغيزمنتوب او د نويو زده کړو د اړتياوو سره سم به د ښوونکي د روزنې اکاډيمي څارنې تر سره کوي او لازمې کړنې به يـې پـه اړه تنظيموي.

د ښوونکي د روزنې د رياست د کارمندانو او د دارالمعلمينونو د اداري کارمندانو د وړتيا د لوړولـو پـه موخه به په مرکز او ولايتونو کې د انګليسي ژبې، کمپيوټر او اداري زده کړې تر هغه بريده پر مخ ځي، دا زده کړې بـه د اړتيـاوو او هرې برخـې او ديپارټمنټ د کارمندانو کـار او موقعيت پـه پـام کـې نيولـو سـره تنظيميـږي. لـه دې زده کـړو موخـه د ښـوونکي د روزنـې د ټولـو پروګرامونـو د پـايلو اغيزمنتوب دی.

**شپږمه برخه: مديريت او همغږي:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- د ښوونکي د روزنې د ريفروم سره سم د تقنينيي نويو اسنادو چمتو کول او د مقرراتو، لوايحو او طرز العملونو بيا کتنه
- د ښوونکي د روزنې د مؤسسو د سيستم د معياري کولو (Accreditation) پراختيا
- په ۱۳۹۰ل کال کې د ښووکي د روزنې د يو ملي اکاډمي تيارول
- تر ۱۳۹۸ل کال پورې د ښوونکي د روزنې د رياست ټولو کارمندانو ته د مناسب کاري چاپېريال برابرول
- په مرکز، ولايتونو او ولسواليو کې د ښوونکي د روزنې په ادارو کې د ۶۰۰نويو اداري کارمندانو ګومارنه
- د ښوونکو د ډېټابېس پراختيا او ورځخه د ښوونکو د مسلکي وړتيا او رتبو په برخه کې سيستماتيکه ګټه اخيستنه

- د ښوونكي د روزني د كلنيو عملياتي پلانونو چمتو كول د څلور مياشتينيو او ګلنيو ګزارشونو بوديجي سره.
- د پروګرام د فعاليتونو او پروژو شپږ مياشتنى كتنه او ارزونه او د اړتيا په صورت كې تعيين شوي موخو ته د لاسرسي په منظور
- د همغږي د څلور مياشتينيو غونډو دايرول د ښوونكو د روزني پروګرام ټولو برخه اخستونكو سره.

اوسمهال د ښوونكي د رزوني پروګرام د ښوونكي د روزنې د مؤسسې سټنډرډونه د پرمختللو هېوادونو د ښوونكي د روزنې د مؤسسو په مرسته پيل كړي، څو د هغې پر اساس دا مؤسسې وارزول شي او د اداري، اسانتياوو، استاذانو، درسي توكو او د زده كړې د پايلو د معياري كولو لپاره عملي تدابير چمتو او تر كار لاندې ونيول شي.

د تقنيني اسنادو پروګرام هغه لوايح او طرزالعملونه دي چې وخت په وخت د اړتياوو سره سم څېړل، او كتل كيږي. سره له دې چې يو شمېر له دې اسنادو څخه څېړل او بيا كتل شوي، خو بله برخه يې لا اوس هم تر كار لاندې ده. دا څېړنې او بيا كتنې د يوې ګډې پروسې او د نورو هېوادونو د تجربو او د همدې اسنادو د لومړي پلي كېدو پر اساس تر سره كيږي. دا اسناد د پوهنې وزارت د وېبپاڼې له لارې د خلكو او مراجعينو پروړاندې اېښودل كيږي.

د دي بيا كتنو او ارزولو له پايلو څخه به په ۱۳۹۰ل كال كې د ښوونكي د روزنې د يو ملي اكاډمي جوړول وي د دې اكاډمي اصلي دنده د اسلامي او عمومي زده كړو د پروګرامونو لپاره د ښوونكو روزنه ده، دا اكاډمي به د ښوونكي د روزنې واحدونو، ليك لوست او تخنيكي او مسلكي پروګرامونو سره هم مرسته وكړي .

د پلان جوړوني د وړتيا په منظور، مديريت او څارنه د ښوونكي د روزنې رياست پر فعاليتونو په مركز او ولاياتو كې تر څو په راتلونكو پنځو كلونو كې ۶۰۰دايمي كارمندان، نوي اداري اجيران د ليليو د مسؤولينو، مالي تداركاتو، د كمپيوټر او ساينس د لابراتوارونو، له لرې د زده كړې د مسؤولينو، د الحاقيه څانګو د مسؤولينو په ګډون په مركز او ولايتونو كې وګوماري.

. د ښوونكي د روزنې ډيټابېسونه به د وزارت د بشري قوا د اداري د معلوماتي سيستم د برخې په حيث( پنځم پروګرام ته مراجعه وكړي) پراختيا وكړي ، اود ښوونځيو د ښوونكو، محصلينو، د دارالمعلمينونو د استاذانو، اسانتياوو او نورو اړوندو معلوماتو د دقيقې شمېرې په اړه وي.

دا ډيټابيس به د پوهنې اداري معلوماتي سيستم سره مرتبط وي او د دې معلوماتو څخه بو د ښوونكو، استاذانو او اداري كارمندانو د مسلكي پرمختيا په ارصه كې ګټه واخستل شي دغه معلومات د تيار شوو زده كړو نوعيت ، تر سره شوي ازمويني او هغه امتيازيات چې تدريسي او غيري تدريسي كاركوونكي ئې مستحق دي په بر كې ولري. د بشري قوا د معلوماتي سيستم راپورونه د زده كړي د فعاليتونو د پلان جوړوني او ارزولو لپاره د ګټې نيول كيږي .

دا پروګرام د وزارت د نورو پروګرامونو په څېر، د وضعيت د څېړنې او د فعاليتونو د اغيز د ارزونې، د پوهنې د ملي ستراتيژيک پلان سره سم كلني عملياتي پلانونو ته پراختيا وركوي ، د وړتيا وړ امكاناتو او تجهيزاتو لپاره كلني بوديجه(چې كمپيوټر، پرنټر، انټرنيټ ، فرنيچر او قرطاسيه په بر كې لري) تياره شوي ده او د تداركاتو برخې ته تحويل كيږي او هرو څلور مياشتو په پاى كې د پرمختګ راپور او د پروګرام مشكلات به د عملياتي پلان پر اساس تيار او جوړ كړي شي او په پاي كې د پلان د عمومي رياست او د وزارت رهبرى په واك كې وركول كيږي. همدا راز به په هرو شپږو مياشتو كې شپږ مياشتني فعاليتونه تر څارنې او دقيقې ارزونې لاندې ونيول شي، چې له پايلو به يې د عملياتي پلانونو په پراختيا كې ګټه اخيستل كېږي.

## فرعي پروګرام۲,۳: د ساينس او تکنالوجي زده کړه

### کلي موخه

د ښوونځيو او ښوونکو د اساسي وړتيا پراختيا د اساينس او تکنالوجي د لابراتوارونو د توکو د ګټي اختني د رامنځته کولو په موخه د ساينس او تکنالوژي د کيفيت د وړتيا لپاره

### عمومي استراتيژي:

د ساينس او تکنالوژي يو ملي مرکز او شعبات ئي په ولاياتو کي جوړيږي تر څو د زده کوونکو د زده کړي وړتيا ته د ساينس او تکنالوژي په حوزوکي لازياته وړتيا ورکړي د هغه تجاربو چي په نورو هيوادونو کي تر سره کيږي چي د هغي ښهترينو د دوي لپاره په افغانستان کي ګټه اخستل کيږي.

د مرکزونه او شعبات د ساينس او رياضياتو د لابراتوارونو کي د ښوونکو سره په ښوونځيو کي مرسته کوي او د زده کړي د فعاليتونو جزوي عنوان ته د رياضياتو او ساينس په عرصه کي د ښوونکو سره د ساينس او رياضياتو د تجهيزي توکو او د معلوماتي او ارتباطي تکنالوژي په عرصه کي د ګټي اخستني په عرصه کي زده کړي ورکوي همدارنګه دا مرکز به يو منظم ميکانيزم د څيرني، د ساينس او رياضياتو د زده کړي د ارزولو به جوړ کړي . دغه مرکز به د نوي تحولاتو په عرصه کي د تدريس په روشونو کي او د ساينس او رياضياتو او د معلوماتي او ارتباطي تکنالوژي په يادولو کي لازم تحقيقات تر سره کړي او د تدريس او يادولو د امورو د ښه والي لپاره پيشنهاد تيار وي.

د ساينس د مرکز کارکونکي کولي شي د ساينس او تکنالوژي زده کړو د ملي مرکز د بستونو لپاره د ازاد رقابت له لاري شرکت وکړي د دي مرکز او کارکونکو ظرفيت په ولايتي مراکزو او د ښوونځيو د لابراتوارونو تکنيشنونو او د ساينس د ښوونکو ، رياضيات او ارتباطي او معلوماتي تکنالوژي د ساينس او ارتباطي او معلوماتي تکنالوژي په اړه زده کړي د با کيفيته زده کړو له پروګرامونو له لاري څخه به بهره مند شي.

د ساينس او رياضياتو د زده کړو او تحقيقاتو په اړه لازمي زيربياوي د پوهني د زيربناو د پنځم پروګرام فرعي پروګرام پراختيا له لاري به پراختيا وکړي نو د همدي کبله د ساينس او تکنالوژي د ملي مرکز لپاره يو وداني په کابل کي او شعبات به ئي د هيواد په ۳۴ ولاياتو کي او د ساينس او معلوماتي تکنالوژي يو يو لابراتوار جوړول په هر ښوونځي کي چي د ښوونځيو د مرکزي ودانيو برخه به نه وي ،کيږي. د لابراتوار تجهيزات، د زده کړي کيتونه د ټولو ښوونځيو لپاره تياريږي تر څو وکولي شي د ساينس او تکنالوژي روزنيز پروګرامونه په عملي او نظري توګه عرضه کړي.

### موخي:

- د اسلامي او عمومي زدکړو د ښوونځيو مجهزول په لابراتوارونو، روزنيزه کيتونو او نورو روزنيزه توکو باندي
- د ساينس ،رياضي او ارتباطي او معلوماتي تکنالوژي د ښوونکو زده کړه د لابراتوارونو او نورو سيميز مرتندويه توکو څخه د ګټي اخيستني په اړه د ساينس ، رياضي او لابراتواري ازمايشونو لپاره.

**د پروګرام برخي:**

۱ . د ښوونځيو مجهزول په لابراتوارونو او د ساينس، رياضي او ارتباطي او معلوماتي تکنالوژي په نورو توکو باندي

۲ . د ساينس، رياضي او تکنالوژي د ښوونکو زده کړه د لابراتوارونو او رونيزو توکو څخه د ګټي اخيستني په اړه

۳ .مديريت او همغږي

**لمړي برخه: د ښوونځيو مجهزول په تجهيزي او زده کړه نيزو توکو:**

**جزئي موخي**

- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د ۵۰سلنه عمومي او اسلامي ښوونځي مجهزول په د رياضي او ساينس په کيتونو باندي
- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د ۴۰سلنه عمومي ،اسلامي ښوونځيو او دارالمعلينونو مجهزول په د رياضي او د ساينس په لابراتوارونو باندي
- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د ۳۰سلنه عمومي او اسلامي ښوونځيو او دارالمعلمينو مجهزول په کمپيوتر لابراتوارونو باندي

يو جامع سروي د ښوونځيو د احتياج د لابراتوارونو په اړه د ساينس د څارونکيو له خوا په ولاياتو کي تر سره کړي شي د ساينس ، رياضي او د د ساينس د لابراتوارونو معياري کيتونو مخکي د ساينس د مرکز لخوا پراختيا پيدا کړي ده . د لابراتوارونو د کتابونو او نورو مطالعاتي توکي، او د ابتدايه ښوونځيو لپاره د رياضي او ساينس کيتونه ( د ۶-۴ ټولګي) او د ساينس او د معلوماتي تکنالوژي لابراتوارونه د ثانوي ټولګيو لپاره (۱۲-۷ټولګي) د يو رقابتي او داوطلبي پروسي له طريقه د ښوونځيو په اختيار کي ورکول کيږي. د لابراتوارونو لازم تجهيزات د ښوونځيو لپاره بوديجه د افغانستان د دولت له تياريږي او همدارنګه جنسي مرستي چه د ساينس ،رياضي او معلوماتي تکنالوژي لابراتوارونه په بر کي لري جذب او وهڅول به شي . د لابراتوارونو يو تکنيشن به موظف کړل شي تر څو د لابراتوارونو او موجوده توکو څخه مراقبت او مواظبت وکړي.

**دوهمه برخه: د ساينس او اړيکتيايي او معلوماتي تکنالوژي د ښوونکو زده کړه د لابراتوارونو څخه د ګټي اخيستني په اړه:**

**جزئي موخي:**

- تر ۱۳۹۰ل کال پوري د زده کړي د توکو اصلاح او پراختيا د لابراتوارونو د تکنيشنونو او د ساينس او معلوماتي او ارتباطي تکنالوژي لپاره
- تر ۱۳۹۰ل کال پوري د ساينس د ۳۴ مراکزو تاسيس په ولاياتو کي
- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د ۱۴۰۰۰ لابراتوارونو د تکنيشنونو زده کړه
- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د رياضي او د ساينس د ۵۰سلني ښوونکو روزنه د لابراتوارونو او سيميزو مرستندويه درسي توکو څخه د ګټي اخيستني په اړه د لابراتوارونو په عملي ازمايشاتو کولو سره.

د لابراتواري ازمايښاتو لارښود د رياضي او ساينس په مضامينو کې د ابتدايه ټولګيو لپاره پراختيا ورکول شوي. او د په لابراتواري ازمايښاتو په اصلاح او پراختيا باندي کار د ساينس او رياضي د مضامينو د منځني او ثانوي ټولګيو لپاره او د لابراتوارونو څخه د حفظ او مراقبت لارښوونه جريان لري او تر ۱۳۹۰ل کال پوري به مکمل شي. د ټولو ولاياتو لپاره د ساينس يو فرعي مرکز په عنوان د ساينس او تکنالوژي د زده کړو د ملي مرکز الحاقيو په ۳۴ ولاياتو کي پر ۱۳۹۰ل کال پوري جوړيږي دغه مراکز به د ولاياتو په يو د مرکزي ليسو کي تاسيس کړي شي دا مراکز د ساينس او تکناوژي په لابراتواري تجهيزاتو مجهز شوي او د تکنيشنونو او دساينس، رياضي او معلوماتي تکنالوژي د ښوونکو لپاره تري ګټه واخستل شي.

په ښوونځيو کي د لابراتوارونو د تيارولو نه مخکي، به يو تکنيشن استخدام کړي شي. هغه تکنيشنونو چه نو استخدام کيږي د ساينس په ولايتي مراکزو کي د رياضي او تکنالوژي د لابراتوارونو څخه د مراقبت په اړه به په ښوونځيو کي وروزل شي ښوونکي به د ولايتي ساينس او تکنالوژي مرکزونو ته دعوت کړي شي تر څو د لابراتوارونو او د لابراتواري ازمايښاتو په کولو کي چه د منځنيو ښوونځيو په نصاب کي راغلي دي زده کړه وکوړي .

**دريمه برخه: مديريت او همغږي:**

**جزئي موخي:**

- تر ۱۳۹۰ل کال پوري د ساينس او تکنالوجي د زده کړو د ملي مرکز تاسيس
- تر ۱۳۹۰ل کال پوري د ساينس او تکنالوجي زده کړو د ملي مراکزو کارکونکو ته د مناسب کاري محل تيارول
- ۱۳۹۰ل کال پوري د يو ملي کادر روزل د ملي ولايتي مربيانو څخه
- ۱۳۹۰ل کال پوري د ساينس د مرکز ديتابيس رامځته کول د پلان د جوړولو، او د ساينس د کيټونو او د لابراتوارونو د توضيع د مراقبت لپاره
- د کلنيو عملياتي پلانونو خپرونه او پراختيا ،او د ساينس او تکنالوژي د ملي مرکز لپاره د څلورمياشتنيو او کلنيو راپورونو بوديجه
- د پروګرامونو او پروژو شپږ مياشتني مرور کول او د پروژو د فعليتونو اصلاح او بياکتني تعيين شوي موخو ته د رسيدو په مخه

تر ۱۳۹۰ل کال پوري به د پوهني وزارت د ساينس مرکز د ساينس او تکنالوژي د ملي زده کړو په مرکز بدل شي يو پروپوزل د دي مرکز د جوړولو او وداني لپاره په کابل او د سرمربيانو روزني په اړه تيار شوي دي د چين دولت ته د تمويل لپاره ورکړل شوي . د ساينس او تکنالوجي دغه مرکز به په لابراتوار، د زده کړي تجهيزاتو، درسي توکو او ميزونو او چوکيو مجهز شي.

د افغان مربيانو يو اصلي ۲۴ کسيزه ټيم(چي د ليسانس تحصيلي سند او ۷ کاله کاري سابقه لري) ټاکل شوي او د شپږ مياشتو لپاره به د هيواد نه بهر زده کړي وکوړي ، دغه مربيان د ساينس او تکنالوژي په ملي مرکزکي ګومارل شوي او د بهرنيو متخصصانو په مرسته به، د زده کړنيزو توکو به د سرمربيانو او د ساينس د ښوونکود روزلو پراختيا ومومي دغه اصلي ټيم به د ۳۴ ولاياتو ۲۰۴ سرمربيانو ته زده کړه ورکړي او په ورستي مرحله کي به، د لابراتوارونو تکنيشنونو اود ساينس ښوونکو سرمربيانو ته په ۳۴ ولاياتو کي زده کړه ورکړي، د دي ښوونيزه دوري څخه ورسته به ، د ساينس او تکنالوژي ملي مرکز به د يو مشخص وخت لپاره په دوره اي توګه د ساينس او تکنالوژي ټاکل شوي شمير ښوونکو او

سرمربيانو ته به زده کړي ورکړي ، سرمربيان او د ساينس سر ښوونکي په هغه تحقيقاتو کي چې د مربيانو اصلي ملي ټيم له خوا واقع د ساينس او ملي تکنالوجي په مرکز کي به برخه واخلي .

تر ۱۳۹۰ل کال پوري، به يو ډيتابيس تيار کړي شي تر څو د هغي په مرسته مربوطه امور د لابراتوارونو په توضيع د پلان د لابراتواري ازمايشاتو د کاربرد په موخه مراقبت شي.

دا پروګرام د وزارت د نورو پراګرامونو په شان، د پروګرامونو د وضعيت تحليل او پرمختيا د ارزوني او د فعليتونو موثريت او د پوهني د ملي استراتيژيك پلان سر مطابق ، کلني عملياتي پلانونو ته پراختيا ورکوي. هر کال د ساينس او تکنالوژي ملي مرکز د ضرورت وړ تجهيزات او امکاناتو کلني بوديجه تياروي او د تدارکاتو برخو ته ئي تحويلوي. د هرو څلورو مياشتو کي د پرمختګ راپور او د پروګرام ستونزي د عملياتي پلان پر اساس تيار او جوړکړي او د عمومي پلان رياست او د وزارت د ارزيابي او رهبري په اختيار کي ورکړل شي. همدارنګه هر شپږمياشتي د پروګرام شپږميشتني فعاليتونه د جوري بررسي او ارزويني لاندي ونيول شي او دپايلو څخه به ئي د عملياتي پلانونو بهبود او تجديد نظر لپاره ګټه واخستل شي.

# دريم پروګرام: تخنيکي او مسلکي زده کړې

## کلي موخه

د مسلکي مهارتونو د تر لاسه کولو په موخه د هېواد هيواد او سيمې د بازارونو د سټنډرډ سره سم د ښځينه او نارينه وو لپاره د وړ او باکيفيته مسلکي او تخنيکي زده کړو برابرول څو د هېواد هيواد په انډوليز او عادلانه پرمختګ کې رول ولوبوي.

### عمومي ستراتيژی:

دا چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو موخه مهارتونه دي چې د بازار سټنډرډونه پوره کړي د مسلکي او تخنيکي زده کړو پروګرام د کار بازار څيړي او د هغې لپاره د کار د بازار له اړتيا سره سم نصاب او ځانګې تاکي او پرې بيا کتنه کوي او ډاډ تر لاسه کوي چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو د مرکزونو فارغين په کار بازار کې د جذب وړتيا لري

د دې پروګرام له سترو ټګلارو په تخنيکي او مسلکي زده کړو د پانګوني لپاره د خصوصي ځانګې هڅول دي. د کار د بازار د اړتياوو بې‌لابېلې او لوړو وړتياوو ته په پام سره خصوصي څانګه د دولتي څانګې په پرتله د کار د بازار له معيارونو سره په جوړولو کې پوره وړتيا لري.

د پوهنې وزارت په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د نجونو شموليت او د هغوی زياتوالي ته ځانګړی پام لري او د عامه پوهاوي د پروګرام له لارې د نجونو لپاره دوړ مسلکي او تخنيکي ښانګو د رامنځته کولو هڅه کوي او په دې زده کړو کې د هغوی ونډه پراخوي.

همدا راز د پوهنې وزارت په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د کليوالو سيمو د زده کوونکو شموليت ته ځانګړی پام کوي او له همدې امله د هغو سيمو د زده کوونکو لپاره چې له لرې سيمو راځي خصوصآ د انجونو لپاره د اسانتياوو، هستوګنې او اعاشې د برابرولو هڅه کوي او تخنيکي او مسلکي ښوونځي په ولايتونو کې پراخوي او په هرې ولسوالۍ کې يو يو تخنيکي او مسلکي ښونځي جوړوي تر څو انجونې او هلکان په اسانې سره مسلکي زده کړو ته لاسرسي ولري . د تخنيکي او مسلکي زده کړو پروګرام زياتره د اوږد مهاله وخت لپاره(دوه يا پنځه کاله) پاملرنه کوي.

تخنيکي او مسلکي زده کړې د اوږدمهال لپاره د لنډمهالو ښوونيزو پراوونو په وسيله غځوي، خو د امکان په صورت کې د لنډمهاله حرفوي کورسونو د ترسره کولو لپاره د ښوونځيو له تجهيزاتو او وړتياوو هم استفاده کيږي.

### موخې:

- د ښوونځيو د زياتولو له لارې د تخنيکي او مسلکي زده کړو لپاره د لاسرسي زياتوالي په موخه د سيميزو تخنيکي اکاډميو له ۱۶ څخه تر ۳۲ ته ، د ولايتو تخنيکي ښوونځيو شمير د ۳۸ نه ۱۰۲ وته او د ۳۶۴ تخنيکي ښوونځيو جوړول په ولسواليو
- په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د زده کوونکو جذب چې په ۱۳۸۸کال کې ۱۹۵۰۰تنه وه په ۱۳۹۳کال کې به ۱۵۰ زره تنو ته زيات شي .
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د نجونو د شموليت ۳۰سلنه زياتوالی
- په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ۱۰۰۰معلولو او معيبو زده کوونکو جذب
- د ښوونکو د اساسي وړتياوو لوړوالی او د زده کوونو د ښوونيزو پايلو په ښه والي کې هڅه

- له دې چارې څخه داده، چې لږ تر لږه ۴۰سلنه ښوونکي د وړتيا ازموينه په بريا ترسره کړي
- له دې چارې داده چي لږ تر لږه ۸۰سلنه د مسلکي او تخنيکي زده کړو ښوونکي له فعالو ښوونيزو رويو څخه استفاده وکولای شي
- د کار د بازار له غوښتني سره سم د زده کوونکو د پايلو د وړتيا او د تدريس د کيفيت ښه والی او له عصري ميتودونو او نصاب څخه ګټه اخيستنه
- د تخنيکي او مسلکي مرکزونو او ښوونځيو تجهيز پر اساسي عصري ښوونيزو مهارتونو
- تر ۱۳۹۱ل کال پورې د تخنيکي او مسلکي زده کړو د اداري د کارکونکو روزنه د پلان جوړوني،مراقبت ګزارش ورکونه او نورو ضروري مهارتونو په اړه

**د پروګرام برخې:**

1) د مسلکي او تخنيکي زده کړو لپاره لاسرسی
2) د زده کوونکو خدمات
3) د ښوونيزو توکو او نصاب بيا کتنه او پرمختيا
4) د مسلکي او تخنيکي ښوونکو روزنه
5) ښوونيزه څارنه
6) مديريت او همغږي

**لومړی برخه: مسلکي او تخنيکي زده کړو ته لاسرسی:**

**جزيي موخې**

- په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د جذب د زياتوالي لپاره د عامه پوهاوي د پروګرامونو جوړول د ۱۳۸۹ل کال څخه
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې له ۱۶څخه ۳۲ ته د تخنيکي او مسلکي انستيتيوټونو زياتوالی
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې له ۳۸ څخه ۱۰۲ته د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو زياتوالی
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ۳۶۴ بابو تخنيکي او مسلکي ښوونځيو جوړول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د زده کوونکو لپاره له ټولو اړتياوو ځانګو سره، سره د ۱۰ تخنيکي او مسلکي ښوونځيو جوړول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې په تخنيکي او مسلکي ښوونځيو کې د ۱۵۰ زره(۳۰سلنه ښځينه) زده کوونکو جذبول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې په تخنيکي او مسلکي ښوونځيو کې د ۸۸۰۰ ښوونکو ګومارنه
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د خصوصي برخو هڅونه په تخنيکي او مسلکي زده کړو د سرمايه ګزاري او حداقل د تخنيکي او مسلکي د ۵۰ اکاډميو فعالو لپاره
- د خصوصي صنعتي برخو سره د تفاهم او مقرراتو سره د ۹ ټولګي د فارغانو د تخنيکي زده کړو په موخه

د هيواد د اقتصادي پرمختګ او بيارغونې لپاره د مسلکي او کارکوونکي بشري ځواک د تامين په موخه د پوهنې وزارت غواړي تخنيکي او مسلکي زده کړو ته پراختيا ورکړي او په هغوی کې د شموليت کچه لوړه کړي. په دې برخه کې د پوهنې وزارت پاليسي دا ده چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې کابو ۱۲ او تر ۱۳۹۹ل کال پورې کابو ۹ سلنه د نهم ټولګي فارغين په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې شامل شي. وزارت همدا راز په پام کې لري د سيميزو تخنيکي او مسلکي ښوونځيو شمير (۱۰-۱۴ټولکي) ۳۲ ته او د ولايتي تخنيکي او مسلکي ښوونځيو شمير(۱۲-۱۰ټولکي) ۱۲۰ بابو ته زيات کړي همدارنګه وزارت په پام کي لري چي په هري ولسوالي کي (۱۰-۱۲ټولکي پوري) د تخنيکي او مسلکي زده کړو يو ښوونځي جوړ کړي. د غه ښوونځي به د تخنيکي او مسلکي زده کړو د لاسرسي په موخه زيات والي وکړي او د راتلونکو پنځه کالو په اوږدو کي به د ۵۴۰۰۰ تنه زده کوونکو لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړو لاره برابره کړي ، تخنيکي او مسلکي ښوونځي په دوه شفتونو کې فعاليت لري او هر ښوونځی په منځنۍ توګه شپاړس درسي ښوني ولري او په هر ټولګي کې د زده کوونکو منځنی شمېر پنځلس کسان وي.

په مسلکي او تخنيکي زده کړو کې د ښځينه وو د شموليت د زياتوالي لپاره به د عامه پوهاوي پروګرامونه له ښوونيز او روزنيز راډيو او تلويزون او نورو رسنيو څخه خپاره شي څو خلک د دې زده کړو په اهميت وپوهېږي. همدا راز به په ښوونځيو کې د پوهاوي پروګرامونه په ليسو او ښوونځيو کې په د هېواد د ټولنيزو او کلتوري شرايطو سره سم د نجونو لپاره جوړ او پياوړي شي.

د اساسي قانون او پوهني وزارت د قانون له مخې او همدا راز په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د خصوصي ځانګې د پياوړتيا د تګلارې له مخې پوهنې وزارت د دې ډول ښوونځيو د ثبت او راجستر لپاره ساده پروسه جوړوي او هغوی تر خپل ملاتړ لاندې راولي. د خصوصي ښوونيزو مؤسسو د ګډو کاري کمېټو جوړول، د خصوصي زده کړو لپاره د دونر مؤسسو د مرستې جذبول، د ښوونيز نصاب برابرول، د ~~بېلابيلو~~ بيلابيلو مؤسسو او ښوونيزو ځانګو لپاره تعليمي پلانونو او درسي مفرداتو راټولول نور پلانونه دي. د پوهني وزارت به هغه پاليسي غوره کړي چي د هغي په مطابق د ۹ ټولګيو زده کوونکي د تحصيل لپاره په خصوصي موسساتو کي د بورسونو څخه برخمند شي.

د ښوونځيو او انسټيټيونو د شمير زياتوالی د تخنيکي او مسلکي ښوونکو د شمېر زياتوالي ته اړتيا لري. د پوهنې وزارت د پاليسۍ له مخې په ۱۳۹۳ل کال کې بايد د زده کوونکي شمير د ښوونکو په پرتله ۱۳کسان وي. له همدې امله پوهنې وزارت غواړي په راتلونکو پنځو کلونو کې ۸۸۰۰ نوي ښوونکي استخدام کړي او بالاخره تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ښوونکو ټول شمېر تر ۹۷۴۶ کسانو پورې رسيږي. او ښوونکي د هغوی د تخصص له مخې په بېلابېلو ښوونځيو کې د اړتيا له مخې ګومارل کيږي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ښوونکو تنخواګانې به د کار له بازار سره په سيالۍ کې لوړې شي، که نه وي نو مسلکي ښوونکي نه شي جذبيدای.

وزارت به د تخنيکي او مسلکي استاذانو تنخواګانو ته د رتبو او معاش د سيستم د تطبيق له لاري زياتوالي ورکړي او د بعضي سيمو لپاره به د لري سيمو امتيازات تر سره او کدري تنخواګاني به ورته برابري کړي شي.

همدا راز وزارت غواړي چې د هر مرکز لپاره چې جوړيږي په اوسط ډول درې غير تدريسي کارکوونکي به پکې کار کوي، په پايله کې به په پنځو وروستيو کلونو کې لازمه وي چې څلور سوه شل کارکوونکي وګومارل شي.

په هر ولايت کې لږ تر لږه د تخنيکي او مسلکي زده کړو يو مرکز جوړيږي او په يو شمېر ولايتونو کې به د محلي صنايعو لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړو سيمه ايز مرکزونه له متناسبو اړتياوو او وړتياوو سره جوړ شي.

**دوهمه برخه: د زده کوونکو خدمات:**

**جزئي موخي**

- تر ۱۳۹۳ل کال پوري د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ۴۵ زره زده کوونکو ته د اعاشي او اباتي اسانتياوي برابري کړي

د ځوانانو د لاسرسي زياتوالي تخنيکي زده کړو ته د پوهني د وزارت يو د اصلي موخو څخه بلل کيږي د هغه ځايه چي په کليو کي د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو د جوړولو امکانات نشته ، د پوهني وزارت په پام کي لري تر څو د اعاشي او اباتي اسانتياوي د ۴۵ زره زده کوونکو لپاره (د تخنيکي او مسلکي زده کړو ۵۰سلنه زده کوونکي په سيميزو او ولايتي ښوونځيو کي) تياري کړي تر څو وکولي شي د روستايي سيمو د زده کوونکو شموليت ته زياتوالي ورکړي. د دغي اسانتياو زياتوالي کولي شي چي د انجونو شموليت ته په کليوالو سيمو کي زياتوال ورکړي.

**دريمه برخه: د ښوونيزو توکو او نصاب بياکتنه او پراختيا:**

<u>**جزيي موخي**</u>

- د کار د بازار په اړه څيړنه او د تخنيکي او مسلکي زده کړو لپاره د نصاب او څانګو ټاکلو په موخه.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د کمپيوټر، بانکدارۍ، سوداګريز اقتصاد او هوټلوالۍ لپاره د نويو څانګو د نصاب پراختيا
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ښوونيزو څانګو اداره او مديريت، راديو او تلويزيون، د سرك جوړني د ماشين الاتو جوړول ، حسابداري او انجينري د نصاب بيا کتنه
- د بيلابيلو تخنيکي او مسلکي څانګو لپاره د نويو ښوونيزو او درسي کتابونو تاليف او برابرول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ټولو زده کوونکو لپاره د ښوونيزو او درسي توکو چاپ او وېش
- د اړتيا وړ توکو برابرول، د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو تجهيز او له دې چارې ډاډ، چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې به لږ تر لږه ۳۰سلنه زده کوونکي تجهيزاتو ته لاسرسی ولري
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د تخنيکي او مسلکي څانګو د هر يوه لپاره د ملي سټنډرډ په سيستم د ازمويني تر سره کيدل

د تخنيکي او مسلکي پړاوونو د نصاب او څانګو د ټاکنې لپاره به ټوليزې څيړنې د کار د بازار په برخه کې د جتماعي امورو او کار وزارت او د مهارتونو د پراختيايي پروګرام په مرسته له اړتيا سره سم تر سره شي. څانګې به پر مخ لاړې شي چې فارغان يې وکولای شي د کار په بازار کې ځانونو ته کار ومومي. او د هغوي تخصص د بازار د ضرورت په اړه وي. همدا راز د څانګو او نصاب بيا کتنه به داسې وشي، چې د کار د بازار لپاره لازمې وړتياوې پياوړې کړي. د انسټيټيوټونو دوه کلنو او د ليسو درې کلونو پړاوونو ډله بندي به د کار د بازار له ټوليزې سروې او د زده کوونکو له علاقې سره سم تر سره شي. د څېړنو مرکز به په دوامداره توګه د کار د بازار اړتياوې او د تخنيکي زده کړو د فارغانو وضعيت وڅېړي او له پايلو به يې د پلان په برخه کې کار واخلي.

تـر سره شـوو څېړنـو تـه پـه پـام سره پـه د ټکنـالوجی او کمپيوټر، بـانکوالی، سـوداګريز اقتصـاد او هوټلداری په برخه کې د نصاب پرمختيا به د تخنيکي او مسلکي زده کړو په لومړيتوب کـي دي . همدا راز به د مديريت، راډيو تلويزون، د ماشين آلاتو ترميم او نورو مهندسي پروګرامونو په نصاب کي بـه په راتلونکو پنځو کلونو کې نوي اصلاحات راوړل شي. د ښوونيز نصاب په ۱۳ او ۱۴ ټولګيو کي به د ښووني طريقه زياتـه کړي شـي تر څو د دي ټولګيو زده کوونکي وکولي شـي پـه تخنيکي و مسلکي ښوونځيو کي د ښوونکو په حيث وګمارل شي د هري ځانګي نصاب بـه د مجربـو استاذانو لـه خوا يو د انستيتوټ کي پراختيا ومومي او وروسته به د ټول هيواد په کچه تر سره شي

د نصاب د پراختيا نه به ورسته درسي کتابونه او ښوونيز توکي به په راتلونکو پنځو کلونـو کـې د ټولـو تخنيکي او مسلکي زده کړو د ځانګو لپاره وليکل شي او له چاپ وروسته به پر ښوونځيو زده کوونکو وويشل شي

دې ته په پام سره چې تمه کېږي کابو ۶۰سلنه تدريس پـه تخنيکي او مسلکي مرکزونـو کـې پـه عملـي توګه تر سره شي. تر۱۳۹۳ل کال پورې کابو له دريو د يوې برخـې د تخنيکي او مسلکي ښوونځي بـه په مدرنو تجهيزاتو وپوښل شي. او د بوديجي د موجوديت په صورت کي به زيـات ښوونځي پـه مدرنـو تجهيزاتو وپوښل شي.

نو دې چارې ته په پام سره د اړتيا وړ وړتياوې په تخنيکي او مسلکي زده کړو کـې پـه هره برخـه کـې بې‌لابېلـې دي، د تخنيکي او مسلکي زده کړو پروګرام غواړي د هرې ځـانګي د نصـاب لـه پرمختيـا وورسته د هغې ځانګي لپاره د نصـابونو لـه مخـې سټنډرډ ازمويني تر سره کړي څو د زده کوونکو د مسلکي او تخنيکي زده کړو کيفيت هم معلوم شي او په لومړي کال کـې د زده کوونکو د جذب سلنه پـه اړوندو برخو کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو د معينيت څېړنه تر سره کړي. او د زده کوونکو څخه د تحصيل د فراغت په وخت کي غوښتنه کيږي چي د تحصيل څخه ورسته د کار د اشغال پـه صـورت کي د تخنيکي او مسلکي زده کړو رياست ته راپور ورکړي

**ځلورمه برخه: د تخنيکي او مسلکي ښوونکو روزنه:**

**جزئي موخې**

- د لنډمهاله روزنيزو پروګرام پرمختيا او د مسلکي او تخنيکي مرکزونو لپاره د تخنيکي ملاتړ سيستم
- د تخنيکي او مسلکي مرکزونو ټولو ښوونکو ته د تدريس د ميتود په اړوند د خدمت پر مهال لنډمهاله زده کړه
- د هېواد د پوهنتونونو له لارې د ليسانس په کچه له څوارلسم څخه د فارغينو، ۱۵۰تنو ښوونکو د تحصيلي سويې لوړتيا
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ښوونکو لپاره د ملي لياقت ازموينه تطبيقيږي.

د تخنيکي او مسلکي زده کړو پروګرام په پام کې لري چې د ښوونکو د وړتيا د لوړېدو په برخه کې لنډ مهاله روزنيز پروګرامونه تر لاس لاندې ونيسي. په هره ځانګه کې مسلکي استاذانو تـه د کابل پـه يوه انسټېټيوټ کې، چـې نصـاب پـه ځانګه او بيا کتنـه کـې د پراختيـا دنـه ده پـر غـاړه لـري دنـه ده ورکـول کېږي څو د يو شمېر ښوونځيو د ښوونکو له تدريس ليدنـه وکړي او د هغـوی کمزوری او ستونزې وپېژنـي او پر بنسټ يې لنډمهاله روزنيز پروګرامونه جوړ کړي

همدا راز د ښوونکي د روزنې د رياست په همغږۍ او د هغوی له تخنيکي ورتيا په کتې اخيستنې سره، تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ټولو ښوونکو لپاره د تدريس د شيوې په اړه لنډ مهاله کورسونه جوړېږي، څکه د روزنيز کيفيت ښه والی له سمون پرته شونی نه دی .

دې ته په پاملرنې سره چې د تخنيکي او مسليکي تعليماتو شاوخوا ۵۸ سلنه استادان له ليسانس ټيټه تحصيلي سويه لري او د دې پروګرام د ښوونکي د تربيې څانګه په پام کې لري چې د هېواد د پوهنتونو له لارې د ۱۴م فارغينو د ۱۵۰تنو استادانو تحصلي سويه د ليسانس په درجه لوړه کړي. همدا راز د تخنيکي او مسلکي زده کړو د کيفيت د ښه والي لپاره ۱۰۰تنه استادان د ليسانس له درجې ماسترۍ ته د له هېواده بهر د تحصلي بورسونو له لارې ارتقا ورکړي.

**پنځمه برخه: ښوونيزه څارنه:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د تخنيکي او مسلکي زده کړو له مرکزونو د ښوونيزې څارنې د سيستم سمون
- د ښوونيزې څارنې په نوي سيستم کې د ښوونيزې څارنې د غړو روزنه د ۱۳۹۳ل کال څخه
- د تخنيکي او مسلکي زده کړو له مرکزونو ښوونيزه څارنه لږترلږه په کال کې درې ځلي

د تخنيکي او مسلکي زده کړو له مرکزونو د ښوونيزې څارنې سيستم زوړ دی او سمون ته اړتيا لري څو د تخنيکي او مسلکي روزنې د کيفيت ښه والي ته پاملرنه وشي. ځانګړي شاخصونه او فورمې بايد جوړې شي، د څارنې نوی سيستم بايد د څارنې غړو ته روزنه ورکړي.

د څارنې غړي بايد په مرتب ډول لږ تر لږه په کال کې درې ځله له مرکزونو ليدنه وکړي، فورمې ډکې کړي، دغه څارونکي به اړين معلومات را غونډ کړي او ښوونکو او د مرکز مسوولينو ته لازمې لارښوونې وکړي. او د را غونډ شويو معلوماتو او ليدنو پر بنسټ کره راپور چمتو کړي او ستونزې په لنډ ډول د تخنيکي او مسلکي معينيت چارواکو ته د پروګرامونو د کيفيت د لوړولي لپاره وړاندې کړي.

**شپږمه برخه : مديريت او همغږي:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د تخنيکي او مسلکي زده کړو پروګرام طرزالعملونه او لوايح او ټولې پاليسۍ بيا ارزول کېږي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې ټول اداري کارکوونکي، د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو اداري کارمندان او د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو د څارنې ۵۰ تنه غړي د وړتيا د لوړېدو له پروګرامونو څخه برخمند شي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د تخنيکي او مسلکي زده کړو ټولو کارکوونکو ته مناسب کاري چاپېريال برابرېږي
- د تخنيکي او مسلکي پروګرامونو د کلني عملياتي پلانونو پراختيا او خپراوي سره د بوديجې ، د درې مياشتنيو او کلنيو راپورونو.

- د پروګرام د پروژو د فعاليتونو اصلاح او د پروژو او پروګرامونو شپږ میاشتینی ارزونه او بيا کتنه د اړتيا په صورت کې.
- د تخنيکي او مسلکي زده کړو لپاره د ډيټابيس پراختيا
- له ټولو هغو ارګانونو سره د دري مياشتنيو ناستو جوړل او همغږي کول، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو په پروګرام کې ښکېل دي.

د پروګرام په تقنيني اسنادو کې لوايح او طرزالعملونه تل تر ارزونې او مشورې لاندې نيول کېږي او د اړتيا په صورت کې به تر بيا له سره کتنې لاندې ونيول شي. دغه ارزونې او مشورې په مشارکتي پروسو کې او د ځينو هېوادونو د تجربو پر بنسټ او د دې اسنادو د تطبيق د مخينې له مخې به تر سره شي. دغه اسناد د پوهنې وزارت د ويبپاڼي له لارې د خلکو او مراجعينو په واک کې ورکول شي.

د تخنيکي او مسلکي څارونکو او اداري کار کوونکو، د دې پروګرام ټولو اداري کار کوونکو، د ښوونځيو مديرانو او د دې پروګرام ٥٠ څارونکو ته د زده کړې پروګرامو نه جوړيږي، دغه زده کړې د مديريت موضوعات او د څارنې د میتوډ پراختيا په برکې لري.

دغه پروګرام د وزارت د نورو پروګرامونو په څېر، د پروګرامونو د حالت او څېړنې او د پرمختګ د فعاليتونو د اغيزمنتوب او د پوهنې د ملي ستراتيژيک پلان سره سم، د کلنيو عملياتي پلانونو ته پراختيا ورکوي همداراز هر کال، تخنيکي او مسلکي معينيت د دغې امکاناتو او تجهيزاتو لپاره بوديجه تیاروي او د وزارت د تدارکاتو رياست ته ئې تسليموي. او په پای کې د کال په هره برخه کې د پرمختګونو او ستونزو پر اساس راپور چمتو کوي او د پلان او ارزونې د عمومي رياست او د وزارت د رهبرئ په واک کې يې ورکوي. همدا راز د پروګرام شپږ مياشتني فعاليتونه تر سره ارزونې او بيا کتنې لاندې نيول کېږي، چې له پايلو يې د عملياتي پلانونو په بيا کتنه او پراختيا کې ګټه اخيستل کېدای شي.

همدا راز ټوليز ډيټابيس د مسلکي او تخنيکي زده کړو د فعاليتونو لپاره تيارشي. دا ډيټابيس به د افغانستان د پوهنې د معلوماتي سيستم يوه برخه وي او ټولې شمېرې او معلومات به په دې ډيټابيس زيرمه وي او د ساتنې او ارزونې او پلان جوړ لپاره به تر ګټه واخستل شي. د پروګرام معلومات به د ښوونې د څارنې له غړو له خوا د تخنيکي او مسلکي مرکزونو څخه ټول او مرکز ته ليږدول کيږي.

له نورو ارګانونو سره د همغږئ لپاره بايد تخنيکي او مسلکي زده کړې په پروګرام کې وي او د کال د هرو دريو مياشتو په موده کې به همغږي کېږي. دا غونډې به د لوړو زده کړو، کار او ټولنيزو چارو، د مرستندويه مؤسسو او دونرانو او خصوصي تخنيکي مؤسسو د استازو په ګډون تر سره کيږي.

# څلورم پروګرام: د ليك لوست (د سواد) زده کړه

**کلي موخه**

له پنځلس کلنو د پورته عمرونو خاوندانو تـه د ليـک لوست (سـواد) خدمات د هغوي د بلقوه وړتيـاو او زده کړي لوړتيا په موخه تر څو هغو وکولي شي په جامعه او اجتماع کي يو فعال او ښه رول ولري .

**د پنځو راتلونکو کلونو پلان:**

**عمومي ستراتيژي**

د عمومي زده کړو له اوسنيو ښوونځيو څخه د سواد د زده کړې د فعاليتونو د ملاتړو مرکزونو په توګه د کورسونو د جوړولو او يا هم د بې سوادۍ د ستونزې د حل لپاره د مرکز په توګه ګټه اخيستل کېږي او د همدې ښوونځيو له ښوونکو څخـه بـه د ښـوونځي د درسـونو لـه خلاصـېدو وروسته د سواد د زده کړې پـه کورسـونو کـي د زده کـړي لپـاره پـه حق الزحمـي سره کـار واخيسـتل شـي .همـدا راز بـه لـه جوماتونو او تکيه خانو څخه هم د کورسونو په توګه او له ملا امامانو څخه د ښوونکو پـه توګـه استفاده وشي.

د سواد د زده کړې له سيمه ايزو مرکزونو څخه په د سواد د زده کړې د پروګرام د پلي کېدو لپاره کار واخيستل شي .دا مرکزونه د څو کارونو لپاره په کار وړل کېږي د ولسي غونډو د ځای په توګه به هم ترې ګټه اخيستل کېږي او هلته به د سواد د زده کړې زده کوونکي نور څه هم زده کوي.

د سواد دزده کړې د کورسـونو تمرکز بـه لـه ښـارونو څخـه کليوالـو سيمو تـه زيـات شـي او د معلولينـو، معيوبينو او کوچيانو په څير ګروپونو ته به ځانګړی پام وشي، او د سواد د زده کړې پـه کورسـونو کـي به زده کړې ته وهڅول شي.

د سواد زده کړو ته د خلکو د هڅولو او د زده کونکو د زياتولو په موخه به د عامه پوهاوي پروګرامونه پياوړي شي او له رسنيو څخه په تېره بيا ښوونيز او روزنيز تلـويزون، جومـاتونو، او ښـوونځيو څخـه به خلک وهڅول شي او له هغو به استفاده وشي.

د سواد دزده کړې د کورسونو د کيفيت د ښه والي او د شموليت د زياتوالي لپاره پـه ښـوونيزو توکو بيـا کتنه کېږي او د خلکو له ژوند سره نږدې او تړلـي موضـوعات پکـي ځـايږي او د بېلابېلـو ګروپونـو لکه کروندګرو يا نورو لپاره د هغوی د ژوند مهارتونو پـه پـام سره سم بـه پـه دې موضـوعاتو بيـا کتنـه کېږي.

د سواد د زده کړې پـه کورسـونو کـي د شموليت د زيـاتوالي لپـاره پـوهنې وزارت د خـوراک، روغتيـا ساتنې او د نباتاتو د تخمونو په څېر يو شمېر هڅونکي پروګرامونه هم د کورس غړو ته په تېره بيا ښځينه وو ته په پام کي لري او د هغې د ويش لپاره به هم روڼ او اغيزمن ميکانيزم رامنځته کړي.

د سواد د زده کړې پروګرام بـه پـه دولتـي او نـادولتي ادارو کـي د سـواد د زده کړې د کورسـونو د پلـي کولو لپاره وهڅول شي او په عين حال کي به د مشرتابه، همغږۍ او څار وړتيا هم لوړه شي . همدا راز په پام کې ده چې معلوماتي سيستم د سواد دزده کړې د پرمختيـا لپـاره د سـواد د زده کړې د معينيت او نورو دولتي او نادولتي مؤسسو لخوا هڅه وشي.

د سواد دزده کړې د کورسونو د اغيزمنتوب د ډاډ د تر لاسه کولـو او لـه دې چارې د ډاډ لپـاره چـې د کورس په پای کي زده کونکي په ليکلو او لوستلو او ابتدايي حساب پوهېږي که نه؟ معياري ارزونـه بـه تر سره کېږي او په پراخه پيمانه به پلي کېږي.

د پوهنې قانون ته په پام سره د بې سواد یا کم سواده دولتي او یا غیردولتي کارکوونکي لپاره د سواد زده کړه اجباري ده .له همدې امله پوهنې وزارت له دې وزارتونو او دولتي او نادولتي مؤسسو سره مرسته کوي څو د سواد د زده کړې د کورسونو د جوړولو لپاره اړوندې اسانتیاوې رامنځته کړي .خپله د پوهنې وزارت د بې سواد یا کم سواد قرار دادي کارکوونکي لپاره د سواد زده کړه په لومړیتوب کې ده.

د سواد د زده کړې ښوونځي چې پکې د عمومي زده کړو نصاب تدریس کېږي عمومي تعلیماتو ته وړل کېږي او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو تر څار لاندې د وزارت په مرکز کې فعالیت کوي.

د سواد د زده کړې د ښوونکو د وړتیا د لوړولو لپاره اغیزمن سیستم په بې‌لابېلو سویو جوړ شوی او پلی به شي څو د سواد دزده کړې د پروګرامونو کیفیت لوړ شي.

**د پروګرام موخې:**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د سواد دمیزان زیاتوالي ۱۵کاله او لوړ د ۴۸سلنې ته(۴۳سلنه ښځینه او ۵۴سلنه نارینه)
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې لږ تر لږه درې میلیونه او شپږسوه زره بې‌سوادو ته زده کړه
- د دې پروګرام لږ تر لږه ۶۰سلنه برخه بې سواده نجونې دي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې لږ تر لږه ۷۰سلنه زده کونکي ښوونیز پروګرامونه بشپړوي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د حرفوي زده کړو تیارول ۳۶۰زره کسانو ته (یا د سوادزده کړي ۱۰سلنه زده کوونکو ته)
- په ۱۳۹۳ل کال کې د سواد دزده کړو د فارغانو د پایلو ښه والی د ۵۰سلنې نه ۸۰سلنه ته

**د پروګرام برخې:**

1) سواد ته انډولیز لاسرسی
2) د ښوونیزو توکو او نصاب بیا کتنه او پراختیا
3) د سواد د زده کړې د ښوونکو او څارونکو روزنه
4) تعلیمي څارنه
5) د پروګرام همغږي او مدیریت

**لومړی برخه: سواد ته انډولیز لاسرسی:**

**<u>جزیي موخې</u>**

- د رسنیو، جوماتونو او ښوونځیو له لارې د سواد د زده کړې د ګټو په اړه د عامه پوهاوي کول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د څه د پاسه ۳،۶۰۰،۰۰۰ زده کونکو انډولیز جذب
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې په عمومي ښوونځیو کې د لس زرو سواد زده کړو مرکزونو او په جوماتونو کې د زرو سواد زده کړو مرکزونو جوړول

- تر ۱۳۹۳ال کال پورې د هيواد په ټولو ولسواليو کې د ۴۱۲ سيمه ييزو مرکزونو جوړول
- تر ۱۳۹۳ال کال پورې د ۱۴۰زره الحاقيه او د سواد د زده کړو د مرکزونو انډوليز رامنځته کېدل
- تر ۱۳۹۳ال کال پورې د ګټې وړ شل زرو مرکزونو د جوړول لپاره د نورو دولتي او خصوصي ارګانونو هڅول د هغوی د موجودو بيسوادو کارکونکو لپاره
- تر ۱۳۹۳ال کال پورې د ۲۸۵۰ تنه د نوي دايمي ښوونکي د يوولس زرو قراردادي ښوونکو ګومارل.

سواد د هر چا حق دی خو ډېری بې سواد خلک يې په اهميت او ګټه نه پوهېږي او بايد هغوی وهڅول شي څو د سواد د زده کړې په کورسونو کې شامل شي، د دې موخې لپاره لازمه ده چې د عامه پوهاوي پروګرامونه د رسنيو له لارې له راديو او تلويزون او د ديني علماوو، جوماتونو او تکيه خانو له لارې پلې شي څو خلک د سواد په ګټه وپوهېږي او په دې کورسونو کې د ګډون لپاره بشپړ پوهاوی ولري .همدا راز هغه کسان چې په کورسونو کې شامل شوي دي هم بايد وهڅول شي څو په منظم ډول په کورسونو کې ګډون وکړي او د ليک لوست او حساب وړتيا لوړه کړي.

همداراز وزارت په پام کې لري تر څو سواد زده کړي د پروګرامونو تطبيق د وزارت له همکارانو له خوا لکه( د سواد زده کړي ابتکار د ژوند د لوړ والي لپاره ",‟ د جامعي د وړتيا لپاره د سواد زده کړه" او نورو پروګرامونو(LIFE, ELA, LCEP) د زده کړل شو تجرباتو او درسونو څخه به د خلکو د سطح د لوړيدو لپاره ګټه واخلي .

همدا راز وزارت په پام کې لري چې د خلکو د هڅولو لپاره د لازمي بوديجې په صورت کې د خوراک په څير هڅونکې ټولګې هم د کورسونو د شاملينو په تېره بيا د ښځينه وو لپاره برابر کړي او د هغې د ويش د متاوزن او اغيزمن ويش لپاره هم روڼ ميکانيز رامنځته کړي څو داډ حاصل شي چې دا هڅونکې ټولګې په ريښتيا سره په کورسونو کې د شموليت د زياتوالي لامل شوې او هغه شاملين چې له دې هڅونکو توکو استفاده کوي ريښتيا هم په منظمه توګه په کورسونو کې برخه اخلي او نهايتاً باسواده کېږي کنه؟

د سواد دزده کړې د پروګرامونو وړتيا ته په پام سره کلي موخه چې ۴۸سلنې ته د کچې زياتوالی دی. د پوهنې وزارت بايد په پنځو کلونو کې لږ ترلږه دري ميليونه د سواد د زده کړې زده کوونکې جذب او ورروزي .بالاخره که په اوسط ډول په هر کورس کې پنځه ويشت زده کوونکې وروزل شي نو لازمه ده چې تر ۱۳۹۳ال کال پورې به ۱۲۰زره کورسونه جوړ شي .دا کورسونه به د عمومي زده کړو د ښوونځيو، جوماتونو او د خلکو د کورونو په ګډون په بېلابېلو ځايونو کې جوړ شي .د دې موخې لپاره په پام کې ده چې لږ تر لږه ۱۰زره د عمومي زده کړو ښوونځي په ټول هېواد کې او همدا راز زر جوماتونه د سواد د زده کړې د مرکزونو په توګه وکارول شي.

همدا راز د سواد زده کړي پروګرام په پام کې لري چې د معمولي کورسونو نه سربيره، د ۳۶۰زره سواد زده کړي زده کوونکو لپاره حرفوي کورسوه هم داير کړي د دغه کورسونو موخې د سواد او فرفه په يو وخت کې زده کړه ورکول دي تر څو له يو خوا د خلکو علاقه زياته شي او له بلې خوا د خلکو د کار موندلو د وړتيا موجب په بازار کې کيږي د سواد زده کړي کورسونه به هڅه وکړي تر څو د سواد زده کړي کورسونه د ټولو خلکو لپاره خصوصاً د خاصو احتياجمنو او کوچي زده کوونکو لپاره برابر کړي، همدا راز د پوهنې وزارت له قانون سره سم وزارتونه او نور دولتي او نادولتي ارګانونه هم بايد وهڅول شي چې مرسته وکړي څو د سواد دزده کړې کورسونه د د دې ادارو د کارکوونکو لپاره هم جوړ کړای شي. اټکل کېږي چې کابو ۵۰زره دولتي کارکوونکي بې سواده دي او بالاخره

کابو دوه زره کورسونه باید د هغوی لپاره جوړ شي . همداحال وزارت په پام کي لري چي د يو ملي مرکز پراختيا امکان د سيميزو سواد زده کړي پروګرامونو لپاره د ارزوني لاندي ونيسي.

که وغواړو چې په پنځو کلونو کې کابو ۱۴۰ زره کورسونه جوړ کړو او د کورسونو شمېر په پرله پسي توګه ډېر شي اټکل کېږي چې په ۱۳۹۳ل کال کې به کابو ۳۰ زره کورسونه فعال وي .دا چې هر قراردادي ښوونکی کولای شي په اوسط دوه کورسونو ته درس ورکړای شي په ۱۳۹۳ل کال کې به ۱۵زره ښوونکو ته اړتیاوي .په ۱۳۸۸ل کال کې د بست ویش ته په پام سره د سواد دزده کړې پروګرام ۴۲۵۰ رسمي ښوونکي لري د دې لپاره لازمه ده چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې کابو ۲۸۵۰ دايمي ښوونکي او یوولس زره قراردادي ښوونکي د سواد دزده کړې لپاره استخدام کړي.

**دوهمه برخه: د ښوونيزو توکو او نصاب بياکتنه او پراختيا:**

<u>**جزيي موخې**</u>

- په نصاب کې د بياکتنې لپاره د سواد د زده کړې د اغيزمنتوب په برخه کې څېړنه
- تر ۱۳۹۳ل کال کې د درسمي کتابونو او تعليمي نصاب د پراختيا په برخه کې بياکتنه
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د سواد دزده کړې د ۲،۷ زده کوونکو لپاره ، ۳۰ زره د ښوونکو لارښود او ۳۶۰زره د حرفوي کورسونو لپاره درسي کتابونو چمتوکول.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د لږ تر لږه پنځوس سلنې زده کوونکو لپاره د ښوونيزو توکو برابرول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د سواد د زده کړې د کورسونو فارغينو ته د شهادتنامو او د هغوی د استعداد د ارزونې د سيستم رامنځته کول

لکه څنګه چې د تګلارو په برخه کې ياد شول د سواد د زده کړې پروګرام په پام کې لري چې په پرله پسي توګه د سواد د زده کړې په نصاب کار وکړي څو د درسي کتابونو او ښوونيزو توکو کيفيت ښه کړي .وزارت ته به د نورو هيوادونو د صحيح ميتوډ او تجربو په کار واچوي او د هغي هيودونو څخه به د سواد د زده کړي په اړه تحقيق وکړي اودلازمه ده چې اوسنی ښوونيز نصاب وارزول شي او د څېړنو او ارزونو د پايلو له مخې د نصاب د ښه والي لارې چارې او د درسي توکو په اړه ګټه وخلې.

درسي کتابونه بايد د لوړ سن خلکو لپاره ډېر جذاب او ګټور وي .د همدې موخې لپاره درسي کتابونه بايد د لوړ سن خلکو د ورځني ژوند سره اړيکي ولري لکه بېلابېلې روغتيايي او مسلکي زده کړې او داسي نور .همدا راز د سواد د زده کړې پروګرام په پام کې لري چې د سواد د زده کړې بېلابېل درسي کتابونه د زده کوونکو لپاره برابر کړي د بېلګې په توګه د ښځو لپاره بېلابېل درسي کتابونه او د کروندګرو لپاره هم بېلابېل موضوعات .البته ټول درسي کتابونه به يو ډول درسي چوکاټ ولري .همدا راز ښوونيز درسي کتابونه به پراختيا ومومي او د ښوونکو لارښود کتابونه به هم په وړ بدلونونو سره بيا وکتل شي . او د داډ حاصلول ددي نه چې موجوده درسي کتابونه د زده کوونکو د احتياجونو سره نږدې والي لري او د هغوي زده کړې پياوړې کوي ، زده کوونکي به د درسي کتابونو په طراحي کې سهم واخلي. په هر کورس کې دوه کتابونه د زده کوونکو په اختيار کې ورکول کيږي، د همدې لپاره، په راتلونکو پنځه کلونو کې به څه دپاسه ۷۲۰۰زره درسي کتابونه چاپ او وويشل شي، انتظار وړلکيږي چې د لارښود کتابونو عمر دوه کاله وي . د ښوونکي د روزنې ۳۰ زره لارښود کتابونو ته اړتيا ده د سواد د زده کړې د معملوي کتابونو نه برسيره ، د سواد زده کړې د حرفوي کورسونو لپاره هم ۳۶۰زره درسي کتابونه چاپ او پر زده کوونکو به وويشل شي.

همدا راز د سواد د زده کړې پروګرام ته په پام کې ده چې درسي کتابونه او توکي چمتو او ۵۰سلنه زده کوونکو يعني ۱,۸ ميليونه کسانو ته وويشل شي .د دې موخه دا ده چې درسي توکي له سواد زده کوونکو سره مرسته وکړي چې ښه سواد زده کړي.

د سواد د زده کړې پروګرام په پام کې لري چې د سواد دزده کړې د فارغينو د سټنډرډ ارزونې او د هغوی د شهادتنامو د جاج لپاره هم پروګرام پلی کړي .د سواد د زده کړې له کورسونو د فارغينو لپاره که يې د اساسي تعليماتو شرايط پوره کړي وي کولای شي د اساسي زده کړو په څلورمو ټولګيو کې هم ځای ورکړل شي.

**دريمه برخه: د ليک لوست (سواد) د زده کړو د ښوونکو او څارونکو روزنه:**

**جزيي موخې**

- تر۱۳۸۹ل کال پورې د ښوونکو او څارونکو لپاره د نصاب او درسي توکو چمتو کول
- تر۱۳۸۸ل کال پورې د سواد دزده کړو د ښوونکو د روزنې انسټيټيوټ جوړول
- په هر کال کې په ولايتونو او ولسواليو کې د ۴۱۲ ترېنرانو روزل
- په مضمونونو کې او د تدريس د ميتوډ په اړه هر کال د ټولو ښوونکو کلنۍ روزنه
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ځانګړو لوي عمر لرونکو زده کوونکو لپاره د درې زرو ښوونکو روزل

دا چې د سواد دزده کړې د کورسونو زده کوونکي لويان دي او د لويانو د تدريس ډولونه د ماشومانو د تدريس له ډول سره توپير لري نو په کار ده چې د هغوی لپاره ځانګړی نصاب او ځانګړي درسي توکي او ښوونکي وروزل شي .دا نصاب به د سواد د زده کړې د پروګرام او د سواد د تدريس ميتودونه او تګ لارې او همدا راز د پرمختللې ښوونې ارزونې او ميتودونه هم ولري .هر کال د ښوونيزو څارونکو د څارنو د پايلو له مخې د نوې ښوونې لپاره ښوونکي بايد وروزل شي.

دا چې په پوهنتونونو او دار المعلمينونونو کې د لويانو د تدريس لپاره ځانګړی ميتود نشته نو اړتيا ده چې د ښوونکو د وړتياوو د لوړلو لپاره د سواد د زده کړې د روزلو يو انسټېټيوټ په ۱۳۹۰ل کال کې جوړ شي . او سربيره د نورو فعاليتونو، دا انستيتوټ د سواد زده کړي د ښوونکو سويه او وړتيا به هم وټاکي.

هر کال لومړی ۴۱۲ ترينران په ولايتونو کې د دې پروګرام له لارې روزل شي او بيا به هغوی د هېواد ~~بېلابېلو~~ بيلابيلو سيمو ته ځي او هلته به د سواد دزده کړې ښوونکو ته روزنه ورکوي .په دې توګه به هر کال يو ځل ټول ښوونکي د تدريس او پوهې نوي اصول او لارې چارې زده کړي کوري .

د معلولو زده کوونکو د سواد د لپاره لازمه ده چې کابو درې زره ښوونکي په ځانګړو لارو چارو سره پورته ګروپونو ته د زده کړې لپاره وروزل شي.

**څلورمه برخه: ښوونيزه څارنه:**

**جزيي موخې**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د سواد د زده کړې د پروګرامونو په پلي کېدو څار او د هغو پراختيا
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د سواد د زده کړې د نهه سوه څارونکو غړو روزل
- د سواد د زده کړې د کورسونو ښوونيزه څارنه

- هـر کـال د سـواد دزده کوونکـو د تعليمـي پرمختـګ د ارزونـه د سـتنډرډونو سيسـتم تطبيـق د کورسونو د تکميليدو نه وروسته.

دا چې د سواد په زده کړو د څارنې اوسنی سيستم پخوانی دی د سواد د زده کړې پروګرام په پام کې لري چې په نوي څارنيز سيستم کې نوي طرز العملونه او نوې فورمې ځای کړي څو سيستم پرمخګ وکړي او د څارنې ټولو غړو ته د نوي سيستم په اړه روزنه ورکړي. د پوهنې وزارت پـه نوي تشـکيل کـې شپږ مسلکي غړي شته او د ولسواليو د پوهنې مديريتونو کـې هـم شته چـې د سواد دزده کړو د کورسونو د جوړولو او د هغو د څارنې دنه ده په غاړه لري.

همدا راز په پام کې ده چې د سواد د زده کړې پروګرام تر ۱۳۹۳ل کال پورې نهه سوه د سواد دزده کړې د څارنې غړي ولري او په نوي ښوونيز څارنيز سيستم کې بـه روزل کيږي څو د سواد د زده کړې کورسونه د محتوا له نظره ښه پراختيا ومومي.

په ولسواليو کې د څار غړي په دري مياشتو کـې يوځل د سواد دزده کړې کورسـونه ګوري او لازمـي لارښوونې کوي او د ښوونکو او څارونکو کړنـې څـاري .همدا راز د سواد د زده کړې پروګرام هم د زده کوونکو د زده کړي د پرمختيا د ارزوني استنډرډ سيستم د کورس په پای کې تر تطبيق کوي

**پنځمه برخه: همغږي او مديريت:**

<u>**جزيي موخې**</u>

- د سواد د زده کړې د ستر کميسيون جوړول او د کال په هرو دريو مياشتو کې د هغوی دوامدارې غونډې
- د سواد د زده کړې د تقنيني اسنادو، لوايحو او طرز العملونو بيا کتنه
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې لږترلږه ۵۰ تنه تنه د معينيت کارکوونکو لپاره د اداري کار مناسب چاپېريال رامنځته کول
- د سواد د زده کړې د پروګرام د ټولو کارکوونکو د وړتيا او د ښوونې د کچې لوړول په کلني توګه
- د کلنی عملياتي پلان جوړول او خپرانوي د کلينيو او ربعوارو راپوړونو د بودجې سره .
- د پروګرام د پروژو د فعاليتونو اصلاح او د پروژو او پروګرامونو شپږ مياشتينی ارزونه او بيا کتنه د اړتيا په صورت کې.
- تر ۱۳۹۰ل کال پورې د سواد د زده کړې د ډيټابيس پرمختګ

د پاليسـيو او څـارنې د تعيينولـو پـه مـوخ د سـواد زده کـړي او همغـږي بانـدي د سـواد زده کـړي د پروګرامونو د تطبيق کوونکو ، د سواد زده کړي عـالي کميسـون د رئيس جمهور د معاون د رهبري لاندي او د لوړو زده کړو او پوهني وزارت د وزيرانو د اشتراك سره، داخله، ملي دفاع، حج او اوقـاف او علومو اکادمي، شاروالي، د بشري حقوقو مستقل کميسون او مدني جامع تر منځ جوړ کړي شـي . د کميسون سکرتيت د پوهني وزارت د سواد زده کړي معينيت په غاړه ولري.

تقنيني اسناد، لوايح او طرز العملونه تل څېړل کيږي او په اړه يې سلا مشورې کيږي او که اړتيا وه پرې بياکتنـه او پکـې بدلون راځـي .دا څيړنـې او سلا مشورې د نـورو هېوادونـو د تجربـو او پخوانيـو اسـنادو د تطبيـق لـه مخـې تـر سـره کيـږي .دا اسـناد د پـوهني وزارت د وېبپـاڼي لـه لارې د خلکـو او مراجعينو په واک کې ورکول کيږي.

د سواد زده کړي پروګرام په پام کي لري د سواد زده کړي د معينيت د ټولو کار کوونکو ظرفيت ته په مرکز او ولاياتو کي ورټيا ورکړي ، د پروګرم کارکووونکي به، د مديريت او اداري ، انګليسي ژبي او د سواد زده کړي په تخصصي موضوعاتو کي به زده کړه وګوري .

دا پروګرام د وزارت د نورو پروګرامونو په څېړ د پوهنې د ملي ستراتيژيک پلان له مخې د فعاليتونو د اغيزمنتوب او پرمختيا لپاره ارزونه او پروګرامونه څېړل کېږي او هر کال عملياتي پلانونه پرمختګ مومي او هر کال د پروګرام د پرمختيا او تجهيزاتو لپاره بوديجه تياروي او د تدارکاتو رياست ته يي تسليموي ،او د هرې څلورمې په پای کې د پروګرام پرختياوي اوستونزې د عمليات پلان له مخې په ګوته کېږي او د وزارت د ارزونې او پلان عمومي رياست ته سپارل کېږي . همدا راز شپږ مياشتني فعاليتونه هم ارزول کېږي او پايلې يې د عملياتي پلانونو د پرمختګ او بياکتنې لپاره په پروګرامونو کې کارول کېږي.

همدا راز د سواد د پروګرام لپاره به ټوليز ډيټابيس جوړ شي .دا ډيټابيس د افغانستان د پوهنې په برخه کې د معلوماتي سيستم يوه برخه ده او ټولې اړوندې شميرنې او معلومات به د دې پروګرام او نورو پروګرامونو په اړه پکې خونه دي وي او د ساتنې او ارزونې لپاره به يې هم ښه پروګرام جوړ شي .د پروګرام معلومات به د ښوونيزو څارونکو غړو لخوا د ولاياتو نه مرکز ته ليږدول کيږي.

# پنځم پروګرام :د ښووني او روزني مديريت

دا پروګرامونه دري برخي يو د پوهني د بيېخبينا پراختيا، د استراتيژيك پلان پراختيا او بله د پوهني د اداري پراختيا ده، لري

## فرعي پروګرام ۵,۱: د پوهني د بيخبينا پراختيا

### كلي موخه

د زده كوونكو او د ښووني او روزني د ټولو كاركوونكو لپاره د خونه دي توب،ښوونيزي اداري او ښي فضا برابرول د پوهني د بيخبناو د متوازي توسعه له خوا په ټول هېواد كي .

### د پنځو راتلونكو كلونو پلان:

### عمومي ستراتيژي:

د پوهني وزارت دنه ده لري چي په وړيا توګه د ښوونځي عمر لرونكي ماشومانو ته ښوونيز او روزنيز خدمتونه برابر كړي،د ښووني او روزني د ښه كيفيت لپاره دي ته اړتيا ده چي د زده كوونكو او ښوونكو لپاره يومناسب ښوونيز چاپريال تيار كړي . له دې امله د پلان وزارت پلان لري چي تر 1399كال پورې ټولې ښوونيزې مؤسسې له مناسبو ودانيو برخمنې شي .

پر اساسي او معياري توګه د دغو ودانيو د جوړولو او ترميم پروسه تاكل شوېده چي د وزارت د متخصصينو له خوا څارل كېږي .همدا ده چي د وزارت له مهمو تګلارو يوه دا ده چي ودانۍ په معياري سيستم پلان شي، ښه وڅارل شي او تطبيق شي .

د انجونو د شموليت د زياتوالي لپاره به د انجونو نويو ښوونيزو ودانۍ به داسې ودانۍږي چي د احاطي ديوال او د ابو امكانات به ولري او موجوده ښوونځي به هم په دي امكاناتو چمتو شي او د نويو ښوونيزو مؤسسو ودانۍ به داسې ودانۍږي چي د معلولو او معيوبو ماشومانولپاره هم مناسب وي، چي دوی ته هم په ښوونځيو كي د زده كړي زمينه برابره شي .

په ښوونه او روزنه كې د خلكو ونډه اخيستل يوه بله داسې تګلاره ده، چي وزارت يې څارنه كوي . وزارت كوښښ كوي چي د ښوونځيو د جوړولو لپاره خلک او ملي پانګوال وهڅوي چي د پوهني وزارت ته ځمكي وركړي او د ښوونځيو په ودانولو كي زياته برخه واخلي .ځكه چي وزارت په يوازې سر دا توان نه لري چي د پوهني ټول لګښت پر غاړه واخلي . له بلې خوا د ښووني او رزوني په برابرولو كي د خلكو ملګرتيا ډېره شوې او په دې اړه احساس زيات شوی او د ښوونځيو ساتني دود هم ډېر شوی دی.

د پوهني وزارت په مشاركت سره د خلكو ترمنځ د ښوونځيو د ودانيو په جوړولو كې د همغږۍ او همكارۍ راپيداكول، د پوهني وزارت يوه بله تګلاره ده .

د ښوونځيو د شوراګانو له وړتيا ګټه اخيستل، چې د خلكو ونډه پكې وي، په مستقيم ډول خلک په اداره او مديريت، ښوونه او روزنه كي ونډه اخلي( عمومي زده كړو فرعي پروګرام ته مراجعه وكړي).

د پوهني وزارت يوه بله پاليسي دا هم ده چي د ښوونځيو په ودانولو کي خصوصي سکتور برخه واخلي .خو د خصوصي سکتور له خوا د ښوونځيو ودانول د هغو انجنيرانو له خوا څارل کيږي چي په ولايتونو کي مېشت دي .له دې امله وزارت په هر ولايت کي د انجنيرانو يوه ډله لري.

له بل پلوه، د اغيزمنتيا په هدف، د پوهني وزارت پلان لري، چي تر ډېره حده د ځايي خلکو په مشارکت او مرستي سره تر خپله وسه د سيمي ښوونځي جوړ کړای شي .

د ښوونځيو ودانول اصلاً د توازن او ټولنيز عدالت د تطبيق پر بنسټ پر مخ ځي، هر هغه ولايت چي په ښوونځيو کي يې زده کوونکي د زده کړې لپاره پوره ټولګي نه لري، همدوی ته ډېر حق ورکول کيږی چي نوي ټولګي ورته جوړ شي چي په نتيجه کي به د وداني وضعيت د شاخص پر اساس د زده کوونکو نسبت د درسي خونو سره متوازن شي .

**موخي:**

- د پوهني د ودانيو د ساختماني کارونو د تګلارو پراختيا، معيارونه، ډيزاينونه، د کار د اندازې معلومول، د اجرا کولو لارښوونه او اټکلي لګښت
- د ټولو هغو ښوونيزو مرکزونو او پوهنيزو ادارو تثبيت، چي ترميم او يا ودانی ته اړتيا لري
- د پوهني د ادارو او ښوونيزو مرکزونو رغونه او مجهز جوړول
- تر 1393ل کال پورې لږ تر لږه بايد 75په سلو کي د اسلامی او عمومي زده کړو درسي شعبې ګټي اخيستو ته چمتو شي
- تر 1393ل کال پوري۱۰۰ سلنه د تخنيکي او مسلکي زده کړو درسي شعبې د ودانی لرونکې او ګټي اخيستو ته تيارې شي
- تر 1393ل کال پورې لږ تر لږه 75سلنه د دار المعلمينونو درسي شعبې درس ويلو ته چمتو شي
- تر 1393ل کال پورې به د پوهني ټولې اداري د ګټي اخيستو او د کارکولو ودانی ولري
- د جوړو شويو او يا ترميم شوو ودانيو ساتنه او څارنه
- د ښوونځيو د ودانولو لپاره له ټاکل شويو معيارونو او د هغي د عملي کولو ډاډمنتيا
- له اړوندو رياستونو او ادارو سره په همغږی سره د بېخبيناوو د پراختيا د پروګرامونو اداره کول، چي د پوهني د بېخبينا په پراختيا کي ښکېل دي

**د پروګرام برخي:**

1) د ترميم او يا ساختمان لپاره د ښوونيزو مرکزونو او يا د پوهني د دارو تثبيت
2) د عمومي زده کړو د ښوونځيو مجهزول او ودانول
3) د دارالعلومونو او مدرسو مجهزول او ودانول
4) د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو ودانول او تجهيز
5) د دارالمعلمينينو ، د ساينس مرکز او لابراتوارونو مجهزول او ودانول
6) په ولسواليو کي د دار المعلمينونو او د هغوی د شعبو ودانول او تجهيز
7) په ولايتونو او ولسواليو کي د پوهني د ادارو اعمار او تجهيز

8) د کیفیت څارنه او کنټرول
9) د جوړو شویو او یا ترمیم شویو ودانیو ساتنه او څارنه
10) مدیریت او همغږي

**لومړۍ برخه: د بیارغوني او ودانولو لپاره د ښوونیزو مرکزونو او د پوهنې د ادارو تثبیت:**

**جزئي موخې**

- تر ۱۳۹۱ل کال پورې د موجوده بېخبیناوو د وضعیت ارزونه
- د پوهنې د ودانیو لپاره د ځمکې تدارک او تثبت، څو تر 1393ل کال پورې د پوهنې ټول ادارات او لږ تر لږه ۸۰سلنه ښوونیزې مؤسسې د ملکیت سند ولري
- د نویو ودانیو لپاره د تثبیت شوې ځمکې او ځای ارزونه
- د ښوونځیو د جوړولو او یا ترمیم لپاره د پلان ترتیبول

د پوهنې د بېخبیناوو د پراختیا لپاره د واقع بینانه تطبیق پروګرام په موخه، وزارت په پام کې لري چې د موجوده بېخبیناوو وضعیت وارزوي .په دې پروسه کې د وزارت ټولې اړوندې ودانۍ، تدریسي ودانۍ او یا درسي ټولګي او یا هم د پوهنې اداري تعمیرات ارزول کېږي چې د هغوی اړتیاوې په ګوته شي او دا په ډاګه شي او د اړتیاوو پربنسټ راتلونکي پلانونه برابر شي .

د ودانیو لپاره د ځمکې د مالکیت تدارک او تثبیت لږ ترلږه باید ۸۰سلنه ښوونیزې مؤسسې، او د پوهنې د بېخبیناوو د پراختیایي پروګرامونو یوه برخه وي، چې تر 1393ل کال پورې به پلي شي.

بل خوا، وزارت پلان لري چې د نویو ودانیو د جوړولو په موخه د تعمیر لپاره مناسبه ځمکه او ځای وارزوي او وټاکي. د ټاکل شویو معیارونو پر بنسټ، د ښوونځیو د ودانیو ځای ټاکل کیږي. همدارنګه وزارت په پام کې لري چې هر کال د موجوده ښوونځیو د ودانیو د ترمیم لپاره یوکلني پلان جوړ کړي.

**دویمه برخه: د عمومي زده کړو د ښوونځیو تجهیز او ودانول:**

**جزئي موخې**

- د نویو جوړو شویو ښوونځیو لپاره د 65زره درسي ټولګیو جوړول او د موجوده ښوونځیو د عمومي زده کړو پراختیا
- د موجوده ښوونځیو 16زره درسي ټولګي ترمیمول
- د 2زره هغو نویو ښوونځیو لپاره احاطه جوړول، چې احاطه نه لري
- د 5زره هغو نویو ښوونځیو لپاره، چې د څښلو اوبه نه لري، د اوبو او روغتیایي اسانتیاوو برابرول
- د ساینس او معلوماتي او ارتباطي تکنالوژي د ۲ زرو لابراتوارونو جوړول
- د هغو 4زره موجودو ښوونځیو لپاره د میزونو او څوکیو برابرول
- د هغو 6600 نویو ښوونځي لپاره سپورتي اسانتیاوې برابرول، چې نه یې لري

- د ښوونځيو د محافظو ښوونکو د کورنيو لپاره د کورونو جوړول د ښوونځيو د جوړولو د ازمايشي پروګرام د برخي په عنوان.

وزارت پلان لري چي تر ۱۳۹۳ل کال پورې د موجوده ښوونځيو د توسعي په خاطر او د عمومي زده کړو د جديدالتاسيس ښوونځيو لپاره 65زره درسي ټولګي د ټول هېواد په کچه ودان کړي. همدارنګه وزارت پلان لري، چې تر 16زرو پورې موجوده درسي ټولګي ترميم کړي. د امنيت او ساتنې په موخه په ځانګړې توګه د ښځينه زده کوونکو لپاره د 2زرو ښوونځيو لپاره د محافظتي ديوال جوړول، چې وزارت غواړي د 1393ل کال تر پايه پورې دغه چاره تطبيق کړي.

د عمومي زده کړو ښوونځيو تـه ميزونـه، څوکې، د ښـاک اوبـه او روغتيـايي اسـانتياوې برابـرول د عمـومي تعليمـاتو د ښـوونځيو د جوړولـو د قـرارداد يـوه برخـه ده چـې د قراردادیـانو لـه خـوا د نويـو ودانۍدونکو ښوونځيو لپاره جوړېږي .

خو ډېر شمير ښوونځي د احاطې دېوالونـه او همدارنګـه د ښـاک اوبو سيستم نـه لـري، لـه همدې کبلـه وزارت پلان لري چي د 1393ل کال تر پايـه پـورې د دوو زرو ښـوونځيو لپـاره محـافظتي دېوالونـه، د څلورو زرو ښوونځيو لپاره مېز او څوکۍ(په اوسط ډول د ۱۰۰۰تنه زده کوونکو لپار) او د پنځو زرو ښوونځيو لپاره د اوبو او فاضلاب اسانتياوې برابرې کړي.

همدارنګه، وزارت په پام کي لري چې د 6600 ښـوونځيو لپـاره ورزشـي اسـانتياوي اود لوبوميدانونـه جوړ کړي. د ساينس او معلوماتي او ارتباطي تکنالوژي د ښه کيفيت په موخه ۲۰۰۰ودانې د ساينس او معلوماتي او ارتباطي تکنالوژي لابراتوارونو جوړول په هغه ثانوي ښوونځيو کي چي لابراتوارونه نه لري جوړيږي. سربيره پر دي وزارت په پلان کي لري د ښوونځيو د محافظو ښوونکو د کورنيو لپاره په ازمايشي ډول جوړ کړي د پوهني وزارت د دي طرحې د تـاثير او عملـي کولـو پـه موخـه د ښـوونکو لپاره د سکونت برابرول د ښوونځيو نه د ښه محافظت په اړه او د نورو ستونزو د کميدو پـه اړه تحقيق او څارنه کوي د دي د پيلو د مندلو څخه به وروسته کار پيژندونکي په دي اړه د وزارت د دي طرحي د پراختيا په اړه تصميم ونيسي.

**دريمه برخه: د مدرسو او دارالعلومونو سمبالول او ودانول:**

<u>**جزئي موخې**</u>

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د نويو مدرسو او دارالعلومونو د 3500 نويو درسي ټولګيو ودانول او موجوده مدرسو ته پراختيا ورکول
- د موجوده مدرسو او دارالعلومونو د ۱۰۰۰ درسي ټولګيو اساسي ترميمول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د 220 هغو مدرسو د دوانيو محافظتي دېوالونه جوړول، چې مخکې يې نه درلودل
- تر 1393ل کال پورې د 200 هغو مدرسو او دارالعلومونو لپاره د ښاک د اوبو او روغتيايي اسانتياوو برابرول چي دغه اسانتياوي نه لري
- تر 1393ل کال پورې د 380 هغو مدرسو او دارالعلومونو لپاره د څوکۍ او ميز برابرول چې څوکي او ميزونه نه لري
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د 450 هغو ښوونځيو لپاره سپورتي اسانتياوې برابرول، چې نه يې لري
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د 180مدرسو او 32 دارالعلومونو لپاره ليليې جوړول

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د 60 دارالعلومونو لپاره جوماتونه جوړول

د دیني مدرسو پراختیا د وزارت د پالیسۍ یوه برخه ده. د نویو مدرسو او دارالعلومونو لپاره د 3500 درسي نویو ټولګیو جوړول بشپړېږي. همدارنګه د موجوده مدرسې لپاره د یوه نوبتي (شېفتي) نظام پر بنسټ پراختیا مومي. د مدرسو زده کوونکو ته د امنیت د ټینګښت او مصونیت رامنځته کېدو په موخه د موجوده 220 مدرسو د محافظتي دېوالونو جوړول هم د وزارت په پلان کې راځي، چې د 1393ل کال تر پایه به تطبیق شي . همدا راز دغه وزارت په پام کې لري چې د 200 مدرسو او دارالعلومونو د زده کوونکو لپاره د اسانتیاوو د برابرولو په موخه د ښناک د اوبو، روغتیایي او نورو خدمتونو برابرول، 380 مدرسو او دارالعلومونو ته میزونه او څوکۍ ورکول (په اوسط ډول ۳۰۰تنه په هري مدرسي کي )د وزرات د اهدافو یوه بله برخه ده، چې تر 1393ل کال پورې به وزارت په کې خپلو موخو ته ورسېږي .

د 450 مدرسو او دارالعلومونو لپاره د لوبو اسانتیاوې برابرول هم د وزارت په پلان کې راځي، چې د زده کوونکو د فکري او بدني ودې او روزنې لپاره ډېر لازم دي .

همدارنګه، وزارت پلان لري چې اسلامي زده کړو ته په پام سره د لرې سیمو زده کوونکو لپاره د 180مدرسو او 32 دارالعلومونو لیلیې جوړې او فعالې کړي . د 60 دارالعلومونو لپاره 60 جوماتونه جوړول هم د وزارت د پلان یوه بله برخه ده، چې د 1393ل کال تر پایه به بشپړه شي .

**څلورمه برخه: د تخنیکي او مسلکي ښوونځیو سمبالښت او جوړول:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- د ۱۱۰ نویو تخنیکي او مسلکي ښوونځیو د کمپلېکس جوړول او سمبالول
- د ۳۶۴ تخنیکي او مسلکي ښوونځیو جوړول او سمبالول په ولسوالیو کې
- د موجوده تخنیکي او مسلکي ښوونځیو د۳۴ کمپلیکسونو اساسي ترمیم
- د 121 مسلکي او تخنیکي ښوونځیو د لیلیو سمبالښت او جوړول

په ټول هیواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پراختیا لپاره، وزارت پلان لري چې تر 1393ل کال پورې۱۱۰ نوې تخنیکي او مسلکي ښوونځې جوړ کړي. دا به په هرو لازمو توکو مجهز وي.

همدارنګه، د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښه لاسرسي لپاره پلان لري تر څو ۳۶۴ تخنیکي ښوونځې د ولسوالیو په سطح جوړ او سمبال کړي، دغه مجتمعې په ټولو لازمو امکاناتو او تجهیزاتو سره د تخنیکي او مسلکي ښوونځیو لپاره مجهز وي . همدارنګه، د ۳۴ تخنیکي او مسلکي ښوونځیو اساسي ترمیم، پراختیا او سمبالول د وزارت له موخو څخه شمېرل کیږي، چې تر 1393ل کال پورې به تر سره شي.

د پوهنې وزارت پلان جوړ کړی، د هغو مسلکي او تخنیکي زده کړو زده کوونکي چې د لرې پرتو سیمو دي، او زده کړې ته متوازن لاسرسی نه لري، دغو ښوونځیو ته۱۲۱ لیلیې جوړې کړي.

**پنځمه برخه: د ښوونکي د روزنې د مرکزونو جوړول او سمبالول:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د نویو دار المعلمینونو 48 کمپلېکسونه جوړول او سمبالول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ښوونکو د ملاتړ د ۳۶۴ مرکزونو جوړول

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د دارالمعلمينونو 55 ليليې جوړول او مجهزول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ساينس او تکنالوجي د ملي زده کړو مراکز او شعباتو جوړول په ۳۴ ولاياتو کې
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د ۳۶۰ سيميزو زده کړو مرکزنو جوړول

وزارت پلان لري چې په ټول هېواد کې تر1393ل کال پورې، د ښوونکي د روزنې 48 نوي مجتمعات جوړ کړي . دغه مجتمع ګانې به د لرې سيمو د زده کوونکو لپاره درسي تعمير، اداري او ليليې هم ولري .

د ښوونې او روزنې د کيفيت د لوړوالي او د لرې سيمو او ولسواليو د ښوونکو لپاره د لازم حمايت برابرولو په موخه وزارت پلان لري چې د 1393ل کال ترپايه د هېواد په ټولو ښارونو او ولسواليو کې د ښوونکو لپاره 412 ملاتړيز مرکزونه جوړ کړي . دغه مرکزونه به کثيرالاستفاده وي، او د ښوونکو لپاره به ملاتړيز مرکزونه وي، د سواد زده کړې سيمه ييز روزنيز مرکزونه به وي، او د ولسواليو د پوهنې د مديريتونو ګټه به هم ترېنه اخيستل کېږي .

**شپږمه برخه: د پوهنې د ادارو جوړول او چمتو کول:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- د پوهنې د ولايتي ادارو لپاره د 20 ودانيو جوړول او چمتو کول
- په 34 ولايتونو او 364 ولسواليو کې د کتابونو او درسي توکو لپاره د زېرمو او ګودامونو جوړول

د پوهنې د اداري کارکوونکو لپاره د مناسب کاري چاپېريال برابرول هم د پوهنې وزارت يوه تګلاره ده. د وزارت د دې پاليسي د تطبيق لپاره وزارت د پوهنې د ولايتي ادارو لپاره 20 ودانۍ جوړوي . همدارنګه، وزارت په پلان کې لري چې د هېواد په 34 ولايتونو او 364 ولسواليو کې د کتابونو او درسي توکو د خونه دي ساتلو په موخه کتابي زېرمې جوړې او چمتو کړي .

**اوومه برخه: د ودانيو د کيفيت څارنه او کنترول:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- په ولايتونو او ولسواليو کې د طرح او ډيزان او سټنډرډونو د انجنيرۍ د ډلې او د څارنې او کنټرول د انجينرۍ د ګروپ پياوړتيا
- د ودانيو د ودانولو، ساتنې او څارنې د تګلارو په اړه له سره کتنه
- د ودانيزو پروژو لپاره د معيارونو پراختيا او يا يې په اړه له سره کتنه
- د نقشو ترتيب او ډيزاين
- د کار اندازه او اټکلي بيه
- د قرارداد لاربښود ترتيبول
- د کيفيت څارنه او کنټرول
- د ودانيو د سپارلو او ثبت د تګلارې ترتيبول

- د وزارت او نورو مؤسسو له خوا د هغو پروژو څارنه چې کار پرې روان دی
- د څارنيزو رپوټونو ترتيبول
- د بشپړو شويو ودانيو ثبت او د سپارلو د پروسې اسانول
- د جوړوونکي ودانيز شرکت لخوا د ښوونځي د ودانۍ لپاره د يوه کلن ضمانت (ګرنټۍ) اخيستل

د ودانيو او تعميراتو د کنټرول څارنه، په ځانګړې توګه د هغو تعميراتو چې د خصوصي شرکت له خوا جوړيږي، هم د پوهنې وزارت له اصلي تګلارو څخه ده. له دې امله وزارت په مرکز کې د انجنيرانو يوه ډله لري، چې اصلي دنده ده يې د ښوونځيو او د پوهنې د ادارو لپاره د تعميرونو د جوړولو د داسي طرحې او ډيزان جوړول دي، چې پر معيارونو ولاړ وي . همدارنګه د پوهنې وزارت د هېواد په ټولو ولايتونو کې د انجنيرانو ډلې جوړې کړې دي، چې د پوهنې د دانيو د جوړولو او د وزارت له خوا د ټاکل شويو معيارونو د تطبيق او څارنې دنده ده پرغاړه لري . وزارت په پام کې لري چې دغو ډلو ته ترانسپورټي او يا د اړتيا وړ نورې اسانتياوې برابرې کړي . تر څو هغوي وکولې شي د ټولو ساختماني کارونو نه په ټولو ساحاتو کې څارنه وکړي.

همدارنګه، وزارت په پام کې لري چې د هغو ودانيزو پروژو د څارنې په برخه کې کوم معيارونه او سټنډرډ په کار اچول کېږي، له سره پرې کتنه وکړي. وزارت پلان لري چې د پروژو د اټکلي قيمت، نقشو، طرحو او د کار د اندازو په برخه کې معيارونه وارزوي. دغه نقشې او طرحې به د پوهنې د نويو ودانيو لپاره وي .

همدارنګه، وزارت پلان لري چې د تړونونو او د کيفيت د کنټرول او څارنې د اسانولو لپاره لارښود ترتيب کړي او د ودانيو د سپارلو او ثبت لپاره ځانګړې تګلاره ولري څو د سپارلو پروسه يې اسانه شي.

د وزارت د پاليسی له مخې د پوهنې د پروژو رغول چې د وزارت يا نورو ارګانونو لخوا کېږي د وزارت د سټنډرډونو له مخې په منظمه توګه څارل کېږي څو ډاډ تر لاسه شي چې ټاکل شوي معيارونه د کارېدونکو توکو او نقشې او طرحې په برخه کې په پام کې نيول شوي دي. د دې ټيمونو يوه دنده ده هم د څارنيز راپور چمتو کول او مرکز ته د هغه استول دي څو د تعميراتو رياست وکولای شي چې د ودانيزو پروژو پلی کول وارزوي او د اړتيا په صورت کې پرې بيا کتنه وکړي.

وزارت همدا راز غواړي چې ټول هغه ښوونځي او اداري ودانۍ چې د خصوصي ودانيزو شرکتونو لخوا رغول کېږي د هماغه شرکت لخوا د يو کال لپاره ضمانت هم ورکول کېږي څو د ستونزې يا نيمګړتيا پر مهال هماغه شرکت په ګرمه ورکولو اړ ايستل شي.

**اتمه برخه: د ودانيو ساتنه او پالنه:**

**<u>جزئي موخې</u>**

- د ساتنې او پالنې د ډلو جوړول او پياوړي کول
- د اداري او تدريسي خونو د ودانيو منظمه پالنه او ساتنه

د پوهنې د اداري او تدريسي ودانيو د پالنې لپاره وزارت پلان لري چې په ټول هيواد کې د ساتنې او پالنې ډلې جوړې کړي. دا ډلې به په منظمه توګه ودانۍ ګوري او د انجينرۍ ولايتي ډلو ته به يې راپور ورانديکوي څو هغوی د اړتيا پر مهال لازم اقدام وکړي. همدا راز به دا ډلې يو شمېر جزيي بيارغونې هم پخپله ترسره کوي. د ښوونځيو کميټې به هم وهڅول شي چې يو شمير جزيي بيارغونې پخپله غاړه واخلي.

**نهمه برخه: مديريت او همغږي:**

**جزيي موخې**

- د ودانيو د ساتنې او رغونې لپاره د کلنيو عملياتي پلانونو برابرول
- د تخنيکي ملاتړونو فراهمول د ځمکي په ويشلو کې د پوهنې کارکونکو لپاره
- د ساختماني پروژو له ډيټابيس ساتنه او د پوهنې د ملکيتونو او ځايدادونو په اړه د معلوماتو بياکتنه د پروژو د بشپړيدو نه مخکې
- د عملياتي پلانونو د پلي کيدو څارنه
- د اړوندو رياستونو او نورو چې د پوهنې د زيربناو د ښکيلو مؤسسو همغږي
- د کال د هرو دريو مياشتو او کلني راپور چمتو کول

د بيخبناو پراختيايي پروګرام د کلنيو عملياتي پلانونو د پالنې د پلي کولو او پرمختيا مسول دی چې د پوهنې ملي ستراتيژيک پلان پر اساس برابريږي.

همدارنګه د بيخبنا پراختيايي پروګرام د ځمکي د ويشلو د پروګرام په برخه کې د وزارت د کارکونکو سره هم مرسته کوي . دي پروګرام تخنيکي سروي په دي برخه کې ترسره کړي ده او ښاري پراختيايي وزارت سره لازمه همغږي په غاره لري او د ضرورت په صورت کې به تخنيکي مرستې تياره کړي .

وزارت پلان لري چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې د پوهنې وزارت د ملکيتونو او ځايدادونو د ثبت لپاره يو ډيټابيس ولري چې پکې به د وزارت د رغنيزو پروژو او ځايدادونو اړوند ټول معلومات ثبت کيږي.

څو د فعاليتونو د تکرار او په عين حال کې د رغنيزو لګښتونو د کموالي مخه ونيسي.

د پوهنې وزارت د بنسټونو د پرمختګ د فعاليتونو اړوند د کلنې او د کال د څلورو برخو د راپور چمتو کول د پوهنې وزارت بل پلان جوړوي. دا راپورونه د ودانيزو پروژو د ارزونې او اړوندو ارګانونو ته د وزارت د ښې حساب ورکونې په موخه ترسره کيږي.

## فرعي پروګرام ۲,۵:د پوهنې اداري پراختيا او ملاتړيز خدمتونه

**کلي موخه**

په ټول هيواد کې د پوهنې د خپرونو لپاره اقتصادي او روښانه ګټورو ملاتړيز خدمتونه او اسانتياوو برابرول.

**عمومي ستراتيژي:**

د پوهنې ادارو اوسنى لړى او کړنلارې ټول پخوانى، پيچلې او اوږد مهاله دى. د پوهنې وزارت د پوهنې اداري د اصلاح او پراختيا لپاره، اداري او مالي کړنلارى او لړى اسانه او لنډه وى. همدارنګه د اوريدونکو ښه رضايت ته خاصه کتنه او د هغه له مخى اسانتيا او خدمتونه تر سره کيږى او د مراجعينو شکاياتوته په دقت سره کتنه کيږي.

د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوجی څخه د پوهنې اداري د پراختيا او ګټورتوب په موخه لويه استفاده کېږي. اداري سيستمونه په مرکز او ولاياتو کې د امکان تر حد پوری کمپيوټری کېږی.

د پوهنې ادارو ته په ولاياتو او ولسواليو کې د تمرکزيت او د لا صلاحيت ورکول د خپرونې له غټو ستراتيژيو څخه دی. د هر کال په پيل کې د نوي ښوونکو لپاره استخدامي بستونه د ولاياتو د پوهنې رياست مقام په واك کې ورکول کيږي او د ښوونکو ګمارل او تبديلی د ولاياتو په سطحه به پلی شی او نهايي لست به يي د تآييد لپاره د وزارت مقام مرکز ته راوليږل شي.

د اصلی پراختيايی بوديجي له لاری د پوهنې د تمويل کوونکو د مرستو په اړه تشويق د بهرنی پراختيايی بوديجې په ځای د پوهنې له ستراتيژيو څخه دی، چې دا د دې لامل کېږی چې وزارت وکړای شی دغه مرستې د لومړنی خپرونو او د پوهنې وزارت ستراتيژۍ سره سم مصرف کړی او نابرابري کمې او د مرستو ګټورتيا لوړه لاړه شی.

وزارت به د اسانتياوو په ورانديې کولو او ملاتړيزو خدمتونو کې له خصوصي ځانګې او اولسي وړتياوو زياته ګټه پورته کړي. د پلي کوونکې مؤسسې يا شرکت ټاکل به ازاده او شفافه پروسه وي او وزارت به د مؤسسو يا شرکتونو په کړنو کلکه څارنه وکړی. وزارت به هڅه وکړي چې له ماليې او اقتصاد وزارتونو او نورو اړوندو ولايتی دولتي ارګانونو سره همغږي ته پراختيا ورکړي.

د ادارو د کارکونکو په ~~تېره تيره~~ بيا د ولايتونو په سويه به وړتياوې لوړې شي او د خدماتو د وړاندې کولو اغيز او کېفيت به په دوامداره توګه زيات شي او د کارکونکو د وړتيا ارزونه به هم په منظم ډول وڅارل شي. د پوهنې د اداري په پراختيا کې د عدالت د اصل مراعات به وشي او بې برخې ولسوالی او ولايتونه به د پام وړ وګرځي

**موخې:**

- د اداري، اجراييوي او استخدام د جوړښتونو، ښوونه، ارزونه د نوي مديريت او اداري سمونونو له معيارونو سره سم د بشري سرچېنو اغيزمن مديريت او هڅونې. د ښوونې او روزنې د پروګرامونو په پلي کولو کې د افرادو او ادارو د کاري وړتيا لوړول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې لږ تر لږه ۷۵سلنه د پوهنې وزارت کارکوونکي به د خپلې دندې د ترسره کېدو لپاره لازمي وړتياوې ولري
- د اغيزمن مالي سيستم د پراختيا له لارې د پوهنې د پروګرامونو د تطبيق لپاره د حسابداری او مالي خدمتونو برابرول او په مرکز او ولايتونو کې د بوديجې د جوړلو د وړتياوو رامنځته کول

  په وخت د مالي حسابونو ورکول او د پرېکړې لپاره د مالي او څېړنېزو راپورونو سپارل.
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د پوهنې د پروګرامونو د پرمختګ او عادي بوديجې لپاره د کافي مالي بوديجې موندل
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې به پر خپل وخت د پوهنې د کارکوونکو ټولې تنخواګانې به ورکړل شي
- په ټول هېواد کې د فعال او شفاف لوجيستيکي او تدارکاتي سيستم پراختيا د تدراکاتي او لوجستيکي پروخت خدمتونو وړاندې کول د پوهنې د پروګرامونو د تطبيق لپاره
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د پوهنې د ادارو د اړتيا وړ ټولو توکو په وړ بيه برابرول او رانيول
- د پوهنې په نظام کې د پوهنې د کارکونکود کار او اداراتو موثريت د لوړوالي لپاره د تعليم او تربيې د پروګرامونو په بريالي تطبيق کې د معاصرو اړيکتيايي او معلوماتي ټکنالوجی ګډول او پيژندل.

- تر ۱۳۹۳ل کال پورې په مرکز، ولايتونو او ۸۰سلنه د پوهنې مديريتونه په ولسواليو کې، او ۳۰سلنه ښوونيزه موسسات له معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجی څخه ګټوري استفادي کوي
- د پوهنې د ادارو او کارکوونکو لپاره د پروخت ملاتړيزو خدمتونو برابرول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې لږ تر لږه ۸۰سلنې د پوهنې د ادارو لپاره په ملي او ولايتي سطح د ترانسپورتي او لوجيستيکي اسانتياوو برابرول
- د ښونيزو مرکزونو او ښوونځيو د قانوني پراوونو سرته رسول او د ځمکې تر لاسه کول او د پوهنې د ټولو ملکيتونو او ځايدادونو ثبت کول په مرکزي ډيتابيس کې،
- د دفترونو، ښونيزو مرکزونو او کارکونکو او زده کونکو د خونديتوب او ساتنې لپاره له ولسي او امنيتي ارګانونو سره همغږي او د امنيتي پوهاوي سيستم جوړول او پياوړي کول

**د پروګرام برخې:**

1) د بشري سرچېنو پرمختيا او د اداري اصلاح
2) د مالي سيستم پرمختګ
3) معلوماتی او اړيکتيايی ټکنالوجي
4) تدارکات او لوجستيک، خدمات، املاک او ځايدادونه
5) ساتنه او خونديتوب
6) مديريت او همغږي

**لومړی برخه: د بشري سرچينو پرمختيا او د اداري اصلاح:**

**<u>جزيي موخې</u>**

- د مرکز، ولايتونو او ولسواليو په کچه د نوي پروګرام له مخې د عامه ادارو د سمونې د نوي تشکېل پلي کول
- د اړتياوو د پيژندنې او جاجونې له مخې د وزارت د سازماني جوړښت رغول
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د پوهنې وزارت د ټولو کارکوونکو لپاره د نوي سيستم او د رتبو او معاشونو د پروګرام پلي کول او د ازاد رقابت له لاري کمارل کيږي
- تر ۱۳۹۳ل کال پورې د کارکونکو د وړتياوو د لوړولو د تدوليز پلان پلي کول او د انګليسی،کمپيوټر، مديريت،حقوق بشر، جنسيت، چاپيريال ساتنې (محيط زيست) او له نشه يي توکو سره د مبارزې لپاره د ځانګړي سيستم پلي کول
- **تر ۱۳۸۹ل کال پوري** د ارزونو د پايلو له مخې د کارکونکو هڅونه، او د کارکونکو د وظيفوي اجرات او د کلني ارزونې د سيستم پلي کول او پراختيا
- تر ۱۳۸۹ل کال پوري د بشري سرچېنو د معلوماتي سيستم (HRMIS)پلي کول او پراختيا

د پوهنې وزارت نوی ~~تشکېل~~ تشکیل بيا کتل شوی او د معاشاتو او رتب سيستم سره په مرکز او ولاياتو ي د تطبيق په حال کې دی، دا تشکېل د پوهنې د ملي ستراتيژيک پلان له پروګرامونو سره زياته سازګاري لري. د پوهنې وزارت سازماني جوړښت په دوامداره توګه ارزول کېږي او د لزوم پر مهال به پکې بدلونونه راځي. د جندر پاليسي د وزارت او استخدامونو د جوړولو په بياکتنې ټولو پراوګرامونو کې په ونظر کې نيول شوي او د امکان تر حد پوري په ټولو مواردو کې دعايت کيږي.

د ۱۳۸۸ل کال تر پايه پوره به ۴۰۰۰کارکوونکې په مرکز او ۴۲۰۰۰ ښوونکې به په ولاياتو کې د معاشاتو د رتبې سيستم له لاري وګمارل شي او پاتي ښوونکي او ۲۵٪ اداري کارکوونکي به په ولاياتو کې په ۱۳۸۹ل کال کې د دې پروسې له لارې وګمارل شي او پاتي نور ټول کارکوونکي به د ۱۳۹۱ل کال تر پايه پوري وګمارل شي. هغه کارکونکې چې د معاشونو او رتبو د سيستم له لارې استخداميږي لوړ معاش اخلي او تمه کېږي چې دا سيستم د ښو کارکونکو د جذب او د پوهنې وزارت د غوره والي او اغيزمنتوب لامل شي.په کليوالو سيمو کې د اداري او تدريسي کارکونکو د تعيين او ګمارلو د هڅوني په منظور، خصوصاً ښځينه کارکونکو لپاره،وزارت د ملکي خدماتي کميسيون او ماليه وزارت سره همکاري کوي تر څو لا زياتې هڅوني د کليوالو سيمو د هڅونو په عنوان ، او په کليوالو سيمو کې د ښځينه ښوونکو لپاره اضافي تنخواګاني برابري کړي.

تر اوسه د وړتيا د لوړولو فعاليتونه نامنظم وو او په وزارت باندې يې اغيز لږ وو، وزارت د دغو فعاليتونو د تنظيم او د هغوی د اغيز د زياتوالي لپاره ټوليز پلان او تګلاره په پام کې لري او ۸۰سلنه د پوهنې کارکوونکي به د عمومي انګليسی، کمپيوټر، مديريت، د بشر حقوق، جنسيت، چاپيريال چاستنې او له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې وروزي.د کارکونکو د وړتيا لوړولو د نيازسنجي پر اساس ، د هغوي لپاره ښوونيزه تخصصي پراوګرامونه جوړ او سرته رسول کيږي. دغه ښوونيز پراوګرامونه د زده کړي او لارښووني په برخه کې مقررات ، لوايح،پاليسي په بر کې لري.

د مشاورينو او تخنيکي متخصصينو ګمارل د وړتيا د لوړولي د استراتيژيو يو برخه ده چې د سيستم د پراختيا ، ملکي کارکوونکو ښوونه، د خدماتو د عرضې پراختيا او د مشاورينو د کار د پای ټاکلي وخت په اړه د روښانه موخو لرونکی دی. چې د پوهنې وزارت د هغو زده کړو څخه چې د ملکي خدمتونو د کميسون له خوا برابريږي ګټه اخلي.

د کارکونکو له دندو او اجراتو څخه د څارنې او ارزونې سيستم به هم پلی شي، د وزارت د کارکونکو ارزونه به په کلنی توګه تر سره کيږي او د دغو ارزونو پر اساس به د پاسنيو ردو له خوا اصلاحي پيشنهادونه د کارکونکو لپاره په لاس کې ونيول شي. دا سيستم به مرسته وکړي چې د کارکونکو نيمګړتيا او کمزوريو معلومه شي او د دغو معلوماتو نه به د نورو ښوونيزو پروګرامونو په جوړولو کې کار واخستل شي .

د ښوونکو د ثبت او راجستريشن د ډيتابيس د پايلو پر اساس او د دی سيستم د پوره تحليل د پوره کېدو څخه ورسته د بشري سرچينو د معلوماتو مديريت يو جامع سيستم پراختيا مومي. دا سيستم به د کارکونکو د سوبقو ثبت او تعييناتو تشکيل، د وړتيا لوړول او د کړنو ارزوني لپاره خاص واحدونه ولري. دغه سيستم به د پوهنی وزارت د رياستونو خاص نيازونه حل او لازم راپورونه به د نورو وزارت خانو لپاره تيار او د پوهنې اداري معلوماتي سيستم سره به وصل کړی شي.

**دوهمه برخه: د مالي سيستم پراختيا:**

<u>**جزيې موخې**</u>

- د ولايت او پروګرام له مخې د عادي او پرمختيايي بوديجې يو ځای کول او وړاندې کول
- په مرکز او ولايتونو کې د مالي ورکړو په وخت ورکول

- په مرکز کې تر ۱۳۸۹ل کال پوې او ولايتونو د تر ۱۳۹۲ل کال پورې د لګښتونو او بوديجې جوړونې د څارنې سيستم يا BPET پلې کول او پرمختيا
- تر ۱۳۹۰ل کال پورې په مرکز او ولايتونو کې د AFMIS پروګرام عملي کول
- د ولايت او پروګرام له مخې د ربعوارى بوديجې د لګښت د څېړنيزو راپورونو وړاندې کول
- د ماليې، اقتصاد او بهرنيو چارو وزارتونو په تفاهم د مرستو د جذب د لړۍ همغږې کول

د پوهنې وزارت د بوديجې د برابرولو د سيستم په پلې کولو سره خپل کار پيل کړى چې د ماليه وزارت د غوښتنو په اساس وې او په راتلونکو کلونو کې به هم عادي او پرمختيايي بوديجه د پروګرام او ولايتونو له مخې برابره او وړاندې شي. په دې صورت کې هر پروګرام کولاى شي چې په ټوليزه توګه ځومره بوديجه د مرکزاو هر ولايت لپاره په واک کې لري او کولاى شي د هغې له مخې خپل فعاليتونه برابر کړي. د يادولو وړ ده چې پروګرام به د عملياتي پلان پر اساس برابر وي دا هريو پروګرام د پلان دعمومي رياست د څارنې او ارزونې لاندې تر سره کيږي.

د وزارت د فعاليتونو د اغيز او سموالي لازمه په مرکز او ولايتونو کې د مالي ورکړو د په وخت ورکول دي. هماغه راز چې د حالت په څېړنه کې راغلي په ولايتونو کې په ځانګړې توګه د پيسو اچول د بې‌لابې‌لو لاملونو له مخې ځنډيږي چې د پلانونو په تطبيق کې د ځنډ لامل کې‌ږي. د همدې موخې لپاره وزارت په پام کې لري تر څو يو ځانګړي ميکانيزم دمالي اوتدرکاتي کارکونکو د پرګرامونود زده کړو لپاره اړوند قوانين ، مقررات او پروسيجرونه تيار کړل شي او د مالي ورکول لپاره اسانتياوې را مينځته کړي. په عين حال کې د مالي ورکولو د کافي نقدي پيسو په اړه چې د مالي وزارت ته ورکول کيږي دغه کارکونکي اړتکل کوي چې په دى توګه به د وزارت د مالې ورکول په موقع سره تر سره شي.

د AFMIS د مالي معلوماتو سيستم د ماليې وزارت لخوا روزل شوى او تر ۱۳۹۰ل کال پورې به د هيواد په ټولو ولاياتو کې تطبيق شي اوس مهال دغه سيستم په مرکز او ۲۱ ولاياتو کې د تطبيق په حل کې دي . دې سيستم موخه په مرکز او ولايتونو کې د ټولو لګښتونو ثبتول دي څو د د لګښتونو په اجرا او د پلان په تطبيق څار وشي او په ځنډونو کې اصلي لاملونه څرګند او حل شي. همدا راز د BPET سيستم پلې کول څو په دقيقه او بشپړه توګه د وزارت د مالي سرچېنو د لګښتونو پايلې او څرنګوالى ثبت کړي.

د راټولو شوو معلوماتو له مخې مالي رياست بايد په ولايتونو کې د بوديجې د لګښت او حالت په اړه برابر کړي څو دا څېړنې د اوسنيو ستونزو په حل کې او يا هم د سيستم په اصلاح کې مرسته وکړي.

همدا راز به د دې پروګرام د مالي سيستم د ودې يوه برخه د پوهنې په وزارت کې د مالي مرستو د جذب د فعاليتونو د همغږي کولو دنه ده هم په غاړه ولري. له ماليې، اقتصاد او بهرنيو چارو وزارتونو سره همغږي او د مالي مرستيو را جذبول، يا په بل عبارت مالي رياست له دې وزارتونو سره د خبرو اترو پروسه د مرستو د جذبولو په موخه پر مخ وړي.

**دريمه برخه: معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجي:**

**<u>جزيي موخې</u>**

- له معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجى په ګټې اخيستو سره د نورو هې‌واد په دولتي ادارو کې تجربې څېړل او تر سره کول

- معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ ته د پوهنې وزارت او تعليمي ادارو اړتياوې په ډاګه کول، چې په هغه کې کمپيوټري سيستمونه، سافټويرنه ، د کارکوونکو ښوونيزي اړتياوی او د معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ توکي هم راځي
- د تدارکاتي پروسې په برابرولو کې د تخنيکي سلامشورو او څارني رامنځته کول ،اود اداراتو سمبالول په معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ او له هغه نه اغيزمنه ګټه اخيستنه
- د معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجي د شبکې د داخلي بېخبيناو برابرول او د پوهنې د ټولو اداراتو سمبالو په مرکز، ولايتو کې
- تر 1393ل کال پورې د مرکز، ولاياتو او ولسواليو په سطح د پوهنې وزارت د ټولو اداري کارکوونکو روزنه د معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ څخه د اغيزمني ګټې اخيستلو په موخه.
- د معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ سيستم تجهيزاتو ته وده ورکول، او ورڅخه ساتنه او څارنه
- تر 1393ل کال پورې له څلورمه تر شپږم ټولګي پورې د ۱۰سلنې زده کوونکو ته د زده کړې لپاره د لپ ټاپونو وېشل
- د پوهنې وزارت د معلوماتي ويبپاڼې ملاتړ او نوي کول د خپراوي په مخه

وزارت به د ارتباطي او معلوماتي تکنالوژي څخه د پراخه کار اخستي په مخه څارنه وکړي . او له پايلو څخه به ئي تصميم د معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ په اړه او د دي تکنالوجي څخه موثره ګټه اخستنه په دفاترو او د دي وزارت د مرکز او ولاياتو په بيلا بيلو برخو کي ترسره کړي .همدارنګه د ښوونيزو او روزنيزه مقاصدو لپاره د معلوما او اړيکتيايي تکنالوژي څخه د ګټي اخيستني په اړه هم لازمي څارني د ښوونيز نصاب د پراختيايي پروګرام ، د ساينس او تکنالوجي د زده کړو او د ښوونکي روزني د مرکز په همکاري ترسره شي .

د معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ رياست دي ټکنالوجيو ته د و لايتونو، ولسواليو، مرکز او ښوونيزو مؤسسو اړتياوې جاجوي او له مخې يې خپل پلان برابر او پلی کوي او همدا راز يې په تجهيز او کار هم څارنه کوي. تر ۱۳۹۳ل کال پورې د پوهنې وزارت په پام کې لري، چې د پوهنې په ټولو مرکزي ولايتو ټول ادارات او ۸۰سلنه د پوهني مديريتونه په ولسواليو کې او ۳۰ سلنه ښوونيزې اداري په معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ سمبال کړي . لکه څنګه چې په لمړي برخه کې راغلي دي کارکونکي به د معلوماتي او اړيکتيائي تکنالوجي په اړه لازمي زده کړي ترسره کړي

د معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ کارونه دې ته اړتيا لري څو ملاتړ او پالنه هم مطرح شي او همدا راز د پروګرامي ساتني او نورو کمپيوټري ستونزو له منځه وړلو لپاره ګام پورته شي. د معلوماتي او اړيکتيايي ټکنالوجۍ رياست په پام کې لري چې د دې تجهيزاتو د ساتني او پالني لپاره يو سيستم جوړ او پلی کړي، چې په منظم ډول به تجهيزات څاري او ستونزې به يې له منځه وړي او همدا رازبه د اړتيا پرمهال هم د هغوی د عدلون بدلون لپاره اقدام کوي.

د پوهنې وزارت به يو لپ ټاپ يو زده کوونکي ته د ارزوني لاندي ونيسي ( لمړي څپرکي ته مراجعه وکړي) د دي څارنو له پايلو څخه به د دی پروژو د لاپراختيا لپاره ګټه واخستل شي . وزارت په پام کي لري، چې د معلوماتي او اړيکتيايي تکنالوجي څخه په ښوونځيو او ښوونيزه موسساتو کاراخستني ته کي که د دی پروژي له لاري وي او که له کوم بلی پراختيا ورکړي ، د دې پروژې پلی کول به مور او پلار وهڅوي د خپلو نورو ماشومانو لپاره هم لپ ټاپونه برابر کړي .

د پوهنې وزارت ويبپاڼه د اطلاع رسوني او د خلکو د نظرونو د اخيستو لپاره فعاله شوې، او بايد وده ومومي . د پوهنې وزارت د خپلې ويبپاڼې په منظم ډول بيا کتنه کوي او دخلکو پوښتنو او نظرونو ته پرليکه ځوابونه وايي. خپل پلانونه، راپورونه، احصايي او د افغانستان د ښووني او روزني په برخه

کې ځېړنې او همدا راز نوي خبرونه به هم د دې ويبپاڼې له لارې په ملي ژبو او انګليسي ژبه خپروي.

**څلورمه برخه: تدارکات او لوجيستيک ، خدمتونه، املاك او ځايدادونهځايدادونه:**

**جزئي موخې**

- تر ۱۳۸۹ل کال پورې د تدارکاتو او لوجستيك د مرکزي او ولايتي واحدونو سمبالول او روزنه
- تر ۱۳۸۹ل کال پورې د پوهنې وزارت د پېرونو او ټولو تړونونو ، د خريداري او املاکو ، د ترانسپورتي امکاناتو د ساتنې او د وزارت د ټولو ځايدادونو او ودانيو د ثبت د ډيټابيس وده
- د ځمکې برابرول د ښوونيزو مراکزو، اداري او د ښوونکو د شهرکونو د جوړولو لپاره
- د معارف د املاکو او ځايدادونو قبض د بعضي ارګانونو او اشخاصو له خوا، د اړوندو منازعاتو حل
- د حمايوي خدمتونو برابرول (ترانسپورتي امکاناتو، د پروګرامونو لپاره توکي ، اداري تجهيزات او ودانيو او د ترميم او ساتنې خدمات) د اړتيا په صورت کې د کارکونکو ته په مرکز او ولاياتو کې

د پوهنې وزارت د لوجيستيک او تدارکاتو لپاره مرکزي رياست او دوهمې مرکزي او ولايتي تدارکات په ښو تجهيزاتو پسولل کېږي او کارکونکي يې روزل کېږي. همدا راز د پوهنې وزارت د ټولو اخيستونونو د تړونونو د ثبت لپاره د پرمختللي ډيټابيس جوړول او په هغه کې د هر رنګه مالوماتو خونه دي کول. همدا راز غوښتل شوو سيمو ته د اړوندو توکو رسول التبه د پوهنې وزارت له پاليسی سره سم د شونتيا تر حده به دا چاره د خصوصي شرکتونو لخوا کېږي.

اوسمهال د خدماتو رياست، د مامورينو لپاره د منظم ترانسپورتي خدماتو، نوري ترانسپورتي اړتياوي او د وزارت د نورو نقليه وسايطو د ترميم دنده په غاړه لري. د دغسې خدماتو د ښه کيفيت لپاره به يو ډيټابيس تيار کړي شي چې د وزارت د ترانسپورتي خدماتو اړوند معلومات پکې ثبت کيږي .

د وخت په تيريدو سره به وزارت ترانسپورتي خدمات او د نقليه وسايطو ترميمات به خصوصي سکتورونو ته ورکړي او په عين حال کې به د دی خدماتو له معياري کولو څخه به څارنه کوي .

اوسمهال د ۱۱ زرو نه زياتې ښوونيزي موسسي فعاله دي چې له نيمائي نه زياتی ئی د استفادي وړ وداني لري او ځمکه ئی د پوهنې وزارت د ملکيت لاندي ده او د نورو ښونځيو لپاره بايد هم ځمکه تياره کړي شي تر څو د مکاتبو د جوړولو پروسه شروع کړي شي . د وزارت د املاکو او ځايدادونو رياست د عماري کارونو او د ښوونکو لپاره د ځمکې د ويشلو لپاره د ځمکې د پيژندي دنده په غاړه لري .تر ۱۳۹۳ل کال پورې به دغه رياست د دی وزارت د ۷۵سلنې کارکونکو لپاره ځمکه وويشي. د پوهنې د ښوونيزو موسيسو لپاره د اختصاص شو او موجوده ځمکو د ملکيت د وضعيت په اړه د معلوماتو منظمول ، او کارکونکو ته د توزيع شو ځمکو لپاره، وزارت يو ډيټابيس ته پراختيا ورکوي او په مستمره توګه به ئی له معلومات څخه بياکتنه کوي . او د دغو معلوماتو څخه به د ښوونيزو مراکزو د جوړولو په تصميم نيولو کې ګټه واخستل شي . د دغو معلوماتو څخه به د ښونځيو د جوړولو د ځاي پيژندني لپاره هم کار واخستل شي. همدارنګه دا رياست د وزارت د غصب شو ځايدادونو د قضاياو حل او فيصل دنده په غاړه لري.

**پنځمه برخه: ساتنه او مصؤنيت:**

**جزيي موخې**

- د ساتنې او پالنې د ولايتي او مرکزي يونټونو تجهيز او روزنه

- د دفترونو او تعليمي مرکزونو د محافظتي سيستم وده د امنيتي نهادونو په همکاري
- د دفترونو او ښوونيزو مرکزو او همدا راز د دې مرکزونو ته د ښوونکو او زده کوونکو د تګ راتګ د لارو دوامداره څارنه او د احتمالي ګواښونو پېژندل
- له احتمالي ګواښونو د خبرتيا او لارښود د زمينې برابرول د خاصو کارکونکو لپاره او د هغوي له طريقه نورو کارکونکو او زده کونکو ته
- له پېښو د مخنيوي لپاره د ولسي او امنيتي ارګانونو د همغږۍ ټينګښت
- په ډېټابېس کې د ورځنيو پېښو ورځنۍ ثبت او د څېړنيزو راپورونو وړاندې کول

په تيرو کلونو کې د افغانستان د ملت دښمنانو څو ځله د هېواد د پوهنې په ادارو او ښوونځيو بريدونه کړي او ګڼ زده کونکي يې شهيدان يا ټپيان کړي او ګڼ ښوونځي يې هم له منځه وړي دي. د دې د مخنيوي لپاره پوهنې وزارت د امنيتي ارګانونو په همکارۍ سره د دفترونو او ښونيزو مرکزونو د ساتنې سيستم پرمخ بيايي او مرکزي رياستونه او ولايتي يونټونه به د خونديتوب او ساتنې په برخه کې سمبال او وروزي.

همدا راز به د ښونيزو مرکزونو د کارکونکو، زده کونکو او ښوونکو د تګ راتګ لارې په دوامداره توګه وڅارل شي او احمتالي ګواښونه به وپيژندل شي او د مخنيوي لپاره به يې وړ اقدام وشي. د کليدي کارکونکو د احتمالي ګواښونو د خبروني او لارښود او د دی کليدي کارکونکو له خوا نورو کارکونکو او زده کونکو لپاره بايد يو شمېر روزنې ترسره شي.

د ماين او چاوديدونکو توکو په ګواښونو سربېره د ملګرو ملتونو د ماين پاکې د مرکزونو په همکارۍ په ښوونځيو کې د زده کونکو، ښوونکو او نورو پوهنيزو منسوبينو لپاره د پوهاوي پروګرامونه ترسره کېږي.

پوهنې وزارت دنه ده لري چې د ښونيزو مرکزونو چاپيريال خونه دي او د ښوونې او روزنې لپاره وړ چاپيريال جوړ کړي. د دې موخې لپاره په پام کې ده چې تاوتريخوالی، جنسي بده ګټه اخيستنه، په نشه يي توکو د روږدي کېدو ستونزې او نور وپيژندل شي او مخه يې ونيول شي او د اړتيا پر مهال يې عاملين تعذيري ادارو ته وپيژندل شي.

د ښونيزو مرکزونو د امنيت خونه دي کول د خلکو او امنيتي ارګانونو له همکارۍ پرته شونې چاره نه ده. بلاخره وزارت هڅه کوي چې د ښوونځيو د شوراګانو او د خلکو د شوراګانو له لاره تر ډېرې کچې کار واخلي او په سيمه ايزو امنيتي ارګانونو او مرکزوو کې د ډېرې همکارۍ زمينه برابره کړي.

همدا راز د ورځنيو پېښو د ثبت لپاره به ډيټابيس ته وده ورکړل شي او د را ټولو شوو معلوماتو له مخې به څېړنيز راپورونه وړاندې شي له دې راپورونو څخه به د ناامنو سيمو د پيژندلو او د امنيتي تدابېرو د غوره کولو په برخه کې کار واخيستل شي.

**شپږمه برخه: مديريت او همغږي:**

**<u>جزيي موخې</u>**

- تر 1393ل کال پورې ټول تقنيني اسناد، د لايحو ادارو او مالي تګلارو د تدارکاتو د تجديد په اړه له سره کتنه
- په کلنۍ کچه د پوهنې د ادارو د عملياتي پروګرامونو او پلانونو ترتيب او برابرول
- په کلنۍ او څلورمياشتنۍ کچه د کاري رپوټونو چمتو کول
- د پوهنې د اداري پروژو د پروګرامونو د شپږ مياشتنيو فعاليتونو ارزونه او مرور.

د اداري ، مالي، تدارکاتي، خدماتي او نورو کړنو او لوايحو په ګډون ټول تقنيني اسناد، چې په مالي او اداري معينيت پورې اړه لري په دوامداره توګه بيا کتل کېږي. د تقنيني اسنادو د بياکتنې موخه د اداري سيستم د ساده کولو او کارندوالي او همدا راز د کړچارونو د لنډولو او ساده کولو لپاره پرمختګ دی. دا تقنيني اسناد منظمېږي او د پوهنې وزارت د ويب پاڼې په ګنو له بېلابېلو لارو تر خلکو ور رسول کېږي.

د وزارت د دې او نورو پروګرامونو په څېر د پوهنې د ملي ستراتيژيک پلان له مخې د فعاليتونو اغيز او د پرمختګ ارزونه د کلنيو عملياتي پلانونو د پرمختګ زمينه برابروي او د کال د هرو دريو مياشتو په پای کې به د عملياتي پلان له مخې د ستونزو او پرمختګ راپور وړاندې کړي او د پلان د عمومي رياست په واک کې به ورکول کېږي. همدا راز به په شپږ مياشتنيو فعاليتونو له سره غور کېږي او له پايلو څخه به يې د عملياتي پلان په وده کې ګټه اخيستل کېږي.

## فرعي پروګرام۳,۵:د ستراتيژيک مديرت پراختيا

**<u>کلي موخه</u>**

د هدفمندی زياتوالی، اغېزمنتوب، مفيديت، او د پوهنې وزارت شفافه حساب ورکونه، چې د ملي او نړيوالو قوانينو په چوکاټ کې پر ستراتيژيکه کچه برابر وي

**عمومي ستراتيژی:**

د پلانونې غير مرکزي والی، ساتنه او د ارزونې د سيستم تدريجی اجرا د پياوړتيا په حال کې ده او د ادارو د کارکونکو د وړتيا په غير مرکزي سويه په دې برخو کې لوړوالی مومي او ستراتيژيکي پلانونه به په ولايتونو کې هم پر مخ لاړ شي او ولايتي معلوماتي سيستم به غيري مرکزي والي روند ته وده ومومي.

د خلکو او مدني ټولنې او خصوصي ځانګي په ګډون د ټولنې د بېلابېلو ځانګو ګډون به په طرحو کې د پوهنې په مرکزي او ولاياتو کې د هڅونې او پياوړتيا لامل شي. تر څو د ښوونې او روزنې نظم وده ومومي. او خلک د پوهنې د پروګرامونو په نسبت د ملکيت احساس وکړي. همدارنګه د دی پروسې موخه د محلي خلکو د اړتياو لپاره د ښوونې او روزنې مناسب کول دي .

ټولې پاليسۍ، پروسيجرونه او کنټرولي ميکانيزمونه به په ولايتونو او ولسواليو کې د مالي او اداري فساد د کموالي لپاره سم او خپور شي او کارکونکي به وروزل شي. او د وزارت داخلي تفتيش پراخه کيږي.

د پوهنې وزارت ټول بهرنی او کورنی سرچينې به د ټولنيز عدالت او اندول د اصل له مخې د ولايتونو او ولسواليو تر منځ وويشل شي.

مرستندويان به وهڅول شي چې د اصلي پراختيايي بوديجې له لارې خپلې مرستې زياتې کړي او د وزارت د پروژو او پروګرامونو د اقتصادي اغيز په لا زياتوالي کې مرسته وکړي.

همدا راز به د ښونيزو مرکزونو، کارکونکو ښوونکو او زده کونکو معلومات او شمېرې د کمپيوټري کولو له لارې د ولايتونو په سويه د زده کونکو د سوانحو او اداري استخدامونو په برخه کې او همدا راز دا پروسه په ټولو ولسواليو کې پلې شي او بيا به پرې کتنه وشي څو ټولې شمېر ښې شي او د پروسې اغيز هم له اداري پلوه ښه والی ومومي.

همداراز د وزارت په ټولو برخو کې د معلوماتي سيستمونو او ډيټابيسونو په برخه کې به همغږي او دا ټول به د EMIS سيستم له لارې وتړل شي څو د وزارت بېلابېلې برخې له يو بل سره اړين معلومات شريک کړي او دا معلومات د پرېکړې پر مهال د ډېرې همغږۍ لپاره وکارول شي

ټولې پرېکړې او اقدامات به د دقيقو معلوماتو له مخې وشي او د اړتيا په صورت کې به د څارنې او بررسۍ لاندې ونيول شي او له ځايي او نړيوالو رسنيو سره به د پوهنې اړيکې استراتيژيو د پاليسو په چوکاټ کې برابرې او پياوړې شي.

**موخې:**

- تر 1393ل کال پورې د ټولو اسنادو تقنيني تګلارې، لايحې بيا کتل کېږي او له سره پرې غور ~~کېږي~~کيږي
- د پوهنې وزارت رول د بهرنې پراختيايي بوديجي له خوا د تمويل شو پروژو په همغږ کې د وزارت د لمړي توبونو پر اساس پاختيا مومي او مرستندويه هيوادونه هڅول کيږي چې خپلې مرسته شوي بوديجي د وزارت د اصلي بوديجي له طريقه اختصاص کړي.
- د تفتيش رياست وړتيا به پراختيا ومومي او د پوهنې د رياستونو کلنې تفتيش به تر سره شي او د فساد سره مبارزه وشي.
- د پوهنې وزارت به د مراجعينو ټولو شکايتونو ته پر وخت رسيدګي وکړي
- په ملي او ولايتي کلنۍ کچه د وزارت د سترو فعاليتونو د پراختيايي پلانونو د عملياتو ارزونه
- په مرکز او ولايتونو کې د پوهنې د معلوماتي اداري د سيستم پراختيا او غښتلي کول
- له ستنډرډ فارمټ سره برابر کلنۍ او څلور مياشتنۍ راپور ترتيبول او وېشل

**د پروګرام برخې:**

1) د پاليسيو اصلاح او وده ورکول
2) د ستراتيژيک او عملياتي پلان جوړول
3) د پوهنې اداري معلوماتي سيستم، څارنه، ارزونه او ريوټ ورکول
4) د بهرنيو سرچينو د مديريت وده
5) کورنۍ تفتيش او ارزونه
6) ستراتيژيکې اړيکې
7) مديريت او همغږي

**لومړۍ برخه: د پاليسيو اصلاح او وده:**

**<u>جزيي موخې</u>**

- تر ۱۳۹۰ل کال پورې به د پوهنې علمي شورا ته وده ورکول کېږي او غښتلې به شي
- تر ۱۳۹۰ل کاله به پاليسۍ، مقررات او د وزارت عمومي لايحې د اړتيا مطابق مشخص شي ملي او نړيوالې ژمنې به له سره وکتل شي او د پاليسو د اړتيا په صورت کې به نويو لايحو او مقرراتو ته وده ورکړل شي

- تر ۱۳۹۰ل کال پورې به د افغانستان د پوهنې ښوونځي او د پوهنې د تقنيني اسنادو کتاب وده وکړي چاپ به شي او د پوهنې د ادارو او ښوونيزو مؤسسو په واک کې به ورکړل شي .

وزارت په پام کې لري څو د وزارت علمي شورا ته د يوې تخصصي برخې په توګه پراختيا ورکړي او تقويه يې کړي. د دې ټولنې اصلي دنده، علمي کتنه او د ښوونې او روزنې وزارت لاربښووني د لوړو اکاديميک او اداري په سطحه، د ښوونې او روزنې د ښه کېفيت په موخه دې دغه شوراوې پاليسي، مقررې او نوی لوايحو ته پراختيا ورکوي تر څو باکيفيته ښوونې او روزنې ته برابره لاسرسي تضمين شي او د اداري فساد په خاطر وزارت مبارزه وکړي، او داخلي او بين المللي تحقيقاتي مراکزو او اړوندو رياستونو سره په نيږدې همغږې کې به د پاليسو څارنه او بيا ليدنه تر سره شي.

د افغانستان د پوهنې کتاب د پوهنې په هکله په عمومي معلوماتو، د وزارت سازماني جوړښت، د هرې برخې دندې، د وزارت لويې پاليسې او نورو ضروري معلوماتو کې شامليږي. او له پوهنې سره د خلکو پيژندنه او مراجعينو ته ښوونې په اړه پراختيا ورکړل کېږي .همدارنګه د پوهنې تقنيني اسناد په يوه کتاب کې راټول شوي له هغه څخه وروسته چاپيږي او د پوهنې ادارو او ښوونيزو مؤسسو ته ورکول کېږي .د تقنيني اسنادو د کتاب موخه، د پوهنې د کارکوونکو پيژندنه له پاليسيو سره، د پوهنې دندې او طرزالعملونه ووسيږي.

**دويمه برخه: ستراتيژيک او عملياتي پلان جوړونه:**

**<u>جزئي موخې</u>**

1) د ۱۳۹۰ل کال تر پايه به د وزارت ټول لوی فعاليتونه به ستندرد شي او د لګښتونو استندردنه پراختيا مومي
2) د ۱۳۹۳ل کال تر پايه پورې ولايتي ستراتيژيک پلانونه پراختيا مومي
3) د هر کال تر پايه پورې ملي او ولايتي عملياتي پلانونو ته د راتلونکي کلونو لپاره پراختيا ورکول کېږي او په هر شپږ مياشتو کې يو ځل تر بيا کتنې لاندی راځي.
4) تر ۱۳۹۳ل کاله پورې، کلنيز عملياتي پلانونه د پوهنې ټولو مديريتونو او ولسواليو ته پراختيا ورکول کېږي
5) تر ۱۳۹۳ل کاله پورې، د ولسواليو، ولاياتو او مرکز د پلان۵۰۰ تنه مديران د پلان جوړونې، ساتنې او ارزيابی په برخو کې ښوونه تر سره کوي

د پوهنې وزارت خپل ټول لوی فعاليتونه، او د هغه د ترسره کولو نحوه او هغه ته اړونده بوديجه په استنډرده توګه تعريفوي . دغه پروسه به د پلانونو او استنډردو پروپوزلونو پراختيا او د فعاليتونو ترسره کول به اسانه کړي . استندرد قيمتونو د سيميزو تفاوتونو مطابق عيارريږي . د فعاليتونو او قيمتونو استندرد جوړول د ماليه وزارت رياستونو او پروګرامونو سره په نږدې همکاري کې ترسره کيږي.

د هر کال په دريمه ربع کې د پوهنې د ملي ستراتيژيک پلان د پلي کېدو په مقصد د راتلونکي کال عملياتي پلان د ستراتيژيک پلان پر بنسټ پراختيا مومي. او د هرکال په منځ کې د هغه پلي کول تر بيا کتنې لاندې راځي. د هري بيا کتنې په پای کې د اړتيا او د بيا کتنې پر وړاندې او د پلان د ښه تطبيق په موخه، عملياتي پلانونه بيا کتل کيږي . د پلان جوړوني عملياتي پروسه په مرکز او ولاياتو کې پيل شوی. د پلان جوړوني د دوري په وخت کې به ،د وزارت د بيالا بيالو برخې ظرفيت پراختيا وکړي تر څو هغوي وکولي شي د پلان او ارزوني مرکزي رياست د ترون نه غير د خپلو پلان جوړوني د عهدي نه ووځي. د مالي ، پلان او ارزويني رياستونه به د ۱۳۸۹ل کال نه د ولاياتو د پوهنې رياستونو سره مرسته وکړي تر څو خپل عملياتي پلانونو او بوديجي ته پراختيا ورکړي.

د۱۳۹۱ل کال نه، به د ارزوني او پلان رياست د ولسواليو سره د تخنيکي نګاه نه مرسته وکړي تر څو کلني عملياتي پلانونه او بوديجه ئی تياره کړي دغه پروسه د غيري مرکزي پلان جوړوني ته پراختيا ورکوي . د وزارت د ټولو سطوح د پلان جوړوني د وړتيا د پراختيا په موخه ۵۰۰ تنه د مرکز ، ولايتونو او ولسواليو مديرانو ته د پلان جوړونې ، ساتني ، ارزيابی او راپور ورکوني په برخو کې زدکړه ورکړي.

**دريمه برخه: د ساتنې، ارزونې، د راپور ورکونې او معلوماتي سيستم:**

**<u>جزئي موخې</u>**

1) تر ۱۳۹۳ل کال پورې، د وزارت خاص معلوماتي سيستم د بېلابېلو پراختيايي خپروونو لپاره په مرکز او ولاياتو کې پراختيا ورکول کېږي او د معلوماتي سيستم له لاري د پوهنې اداره له مرکز سره به ونښلي .
2) تر ۱۳۹۳ل کال پورې، ټولې مرکزي اداري او د پوهنې وزارت ولايتي رياستونه د ښوونې او روزنې معلوماتي سيستم ته لاسرسی مومي.
3) تر ۱۳۹۳ل کال پورې، لږ تر لږه ۶۰سلنه د پوهنې مديريتونه په وسواليوکې او لږ تر لږه ۲۰سلنه بېلابېلې ښوونېزي مؤسسي په ټول هيواد کې د ښوونې او روزنې معلوماتي سيستم ته لاسرسی پيدا کوي.
4) تر ۱۳۹۰ل کال پورې، د پوهنې وزارت د پرمختيايي خپرونو د پلي کېدو راپور ورکوني ميکانيزم پراختيا موندلي او په ټولو ولاياتو او ولسواليوکې پلي کېږي او د ټولو پروګرامونو لپاره منسجم او واحد راپورونه برابيږي.
5) تر ۱۳۹۰ل کال پورې، د ساتنې او ارزيابی سيستم د پوهنې وزارت لپاره پراختيا موندلې او پلې کېږي.
6) تر ۱۳۹۱ل کال پورې،د مرور او څارل شوي ملي استراتيژي پلان پلي کول او په ۱۳۹۴ل کال کې به د پلان څخه يو اخري ارزونه تر سره شي.

تر اوسه په وزارت کې د تصميم نيونو ، د پاليسيو پراختيا او دپلان جوړوني پر وړاندې ، يو له لويو چلنجونو څخه د معتبرو معلوماتو کموالی ؤ .د معلوماتي سيستم له پراختيا سره په کال ۱۳۸۶ل دغه ستونزه تر يوه بريده حل شوې ده، خو تر اوسه هم دغه سيستم پراختيا او لا ښه والي ته اړتيا لري .د دي لپاره و زارت پلان نيولی څو اختصاصي معلوماتي سيستمونه مختلفو ښوونېز او روزنېزو خپرونو ته په مرکز او ولاياتوکې پراختيا ورکړي . دغه سيستمونه د ښوونې او روزنې له معلوماتي سيستم سره يو ځاي کېږي.

د اړتيا وړ معلوماتو د لاسته راوړل ټولو ښووني او روزنېزو ټولنوته د پوهنې د اداري معلوماتي سيستم په ټول هيواد کې پراختيا مومي . په دي برخه کې يو له اصلي موخو څخه د ولايتي پوهنې رياستونو ګټه اخيستنه د معلوماتي تکنالوژي او د پوهنې د ځايدادونو او د زده کوونکو او کارکونکو په اړه د معلوماتو دننه کول او راټولول په دي سيستم کې ده . نو له دي امله، تر ۱۳۹۳ل کال پورې ټولې مرکزي اداري، د پوهنې رياستونه په ولاياتو کې،۶۰سلنه د ولسواليو د معارف مديريتونه او ۲۰سلنه ښوونېزي مؤسسي د پوهنې معلوماتي سيستم سره سمباليږي.

د راپور ورکوني د ښه والي لپاره، اړينه ده چي د راپور ورکوني سيستم په د ګټې اخستنې په مخه په مرکز او ولاياتوکې پراختيا وکړي، د راپور ورکوني مسئولين په ملي او ولايتي سطح د پروګرمونو په اړه ، د پروګرام برخو او د اصلي پروژو د فعاليتونو لپاره د راپوررونو جوړول تعيينيږي . دوره ئي راپور د د راپور جوړوني د مسئولينو له خوا تياريږي. او د راپور جوړوني مسئولينو ته په مرکز کې تسليميږي . د مرکزي راپور ورکوني مسئولين ولايتي راپوررونه توحيدوي او د پلان او ارزوني ريست ته ئي تسليموي. دا سيستم وزارت ته امکان ورکوي څو وزارت څلور مياشتنی او کلنی توحيدي

راپورونه په ښه توګه تيار کړي. برسيره پردي به د ښوونې او روزې اداري د معلوماتي سيستم کارکوونکي ته به روزنه ورکول شي تر څو وکولاي شي د بيلابيلو دخواست کوونکو د اړتياو په اساس لازم راپورونه تيار کړي.

وزارت په پام کې لري چې تر ۱۳۹۳ل کال پورې د بين المللي سازمانونو په همکاري د ارزيابۍ او ساتني سيستم ته پراختيا ورکړي. او په دومداره توګه د پوهنې د ملي استراتيژيك پلان له ترسره کيدو څخه ساتنه وکړي او د داخلي او بهرنې سازمانونو له مرستې سره د پوهنې ټولې اصلي او مهمې پروژې ارزيابي کړي .ددغو پروژو د ارزيابۍ اصلي موخه د پرمختګ سنجونه ، د پوهنې د پروژو د پلي کولو په لاره کې خنډونه او ددغو ستونزو د حل لاري لټون دي .د پوهنې د ملي استراتيژيك پلان د وزارت د پراختيائي همکارانو په هملاري ، په منځني وخت او د ترسره کيدو د پاي په مرحله کې به وارزول شي.

**څلورمه برخه: د بهرنيو مرستو مديريت:**

**جزئي موخې**

1) تر ۱۳۹۰ل کال پورې، بهرنې پراختيايي مرستندويي اداري په مرکز او ولاياتو کې جوړې او تقويه کېږي او ارتباطي مسئولين به د مرکز او ولاياتو په سطح توظيف شي.
2) د تمويل لپاره د پروژو تثبيت د بهرني پراختيايي بوديجو له لاري په کلني توکه.
3) په ۱۳۹۰ل کال کې ، وزارت به په دې وتوانيږي څو د ټولو مالي او بودجوي کمښتونو لپاره مناسبي تګلاري جوړي کړي.
4) تر ۱۳۸۹ل کال پوري د نظارت د سيستم پراختيا د جوړونې په پړاو او د بهرني پراختيايي پروژو د قرار داد لړۍ .
5) تر ۱۳۸۹ل کال پوري ، ډيټابېس يا کړني د تمويل لپاره، تطبيق، هغو پروژو ساتنه او ارزيابي چي د بهرني پراختيايي بودجو څخه تمويل کېږي.
6) د بهرني پراختيايي پروژو تنظيم او ترتيب د ملي او ولايتي ستراتيژيکو پلانونومطابق سره سم.

د مالي سرچينو تامين د وزارت پروژو لپاره او همدارنګه د بهرني تمويل کوونکو او فعاليتونو تر منځ هم غږي تر ۱۳۹۰ل کاله پورې د بهرني پراختيايي مرستو اداري په مرکز او ولاياتو کې جوړيږ .او ارتباطي پرسونل به په ټولو ولاياتو کې مقررېږي . او د پراختيائي همکارانو سره ، به د پوهنې وزارت ډاډ حاصل کړي ټول هغه پروګرامونه چې د بهرني پراختيائي بوديجي له خوا تمويل کيږي د پوهنې د ملي پراختيا استراتيژيو د موخو په راستا کې طرح او تر سره کيږي.

دغې اداري اصلي موخه ددغو مرستو جلب او جذب او همغږي د وزارت پروژو لپاره په مرکز او ولاياتو کې اوسيږي، څو د وزارت د پروژو تمويلي خلاوو د دغو مرستو له لاري جبران شي .له دې امله وزارت پلان نيولی چې تر ۱۳۹۳ کاله پورې دغه وزارت به وکړاي شي څو هغه پروژې چې تمويل شوې نه دي مناسبې تګلاري ورته برابري کړي او لازمي بوديجي ورته جلب کړي .

د وزارت ، تمويل کوونکو او بين المللي همکارانو تر منځ لومړۍ ناسته په ۱۳۹۰ل کال کې د خبرو اترو په مقصد د مرستو د جذب او جلب لپاره د وزارت د پروژو لپاره منځ ته راځي .په دې ناستو کې به د پروژو د مالي او تخنيکي اړتيا او ضرورتونو په اړه د همکارانو او بين المللي تمويل کوونکو تر منځ بحث وشي .نو له دې امله ، د پوهنې پروژې د بهرنې پراختيايي پوديجي له لاري تثبيت کيږي ، څو د خبرو اترو زمينه د دې پروژو پر سر له همکارانو او بين المللي تمويل کوونکو سره جوړه شي.

د تمويل پورې اړو معلوماتو د ساتني او حفظ لپاره، د هغو پروژو د تطبيق، ساتني او ارزيابۍ چې د بهرني پراختيايي بوديجو له لاري تمويل کېږي ، يو ډيټابېس يا کړنلاره پراختيا مومي .همدارنګه د

تمويل په مقصد يوه کړن لاره، د تطبيق ، ساتني او ارزيابۍ لپاره جوړه کړي. د دي کړنلاري لـه پراختيا سره به د پروژو د تمويل ، تطبيق ، ساتني او ارزيابۍ لړۍ به اسانه شي.

د پروژو د ختم په وخت کي يو نهايي راپور تيار او په دی ډيتابيس کي ساتل کيږي. د وزارت د اصلي پروژو مشترکه ارزونه د پوهني د پراختيائي بورد لـه خوا تر سره کيږي. او تحليل د ترسره شوو مسائلو، چالشونو او د پيشنهادي لارو د حل څخه تياريږي.

**پنځمه برخه: داخلي تفتيش او بيا کتنه:**

**<u>جزئی موخې</u>**

1) تر ۱۳۹۳ل کال پورې، وزارت به وتوانيږي څو د پوهنې له ټولو ادارو څخه تفتيش او بيا کتنه وکړي.
2) تر ۱۳۹۱ل کال پورې ، وزارت د مفتشينو او د مالي بيا کتنې يو متخصص کدر به وروزي .
3) تر ۱۳۹۰ل کال پورې ، ټول لاسته راوړل شوي قضيي په يوه ډيټابېس کې ثبت او تري ساتنه کېږي.
4) تر ۱۳۹۳ل کال پورې ، د لاسته راوړل شو تفتيشو او د ترسره شوو څارنو په مخه د راپور ورکوني يو شفاف سيستم برابرول او پراختيا ورکول کيږي.

وزارت پلان لري چي تر ۱۳۹۳ کاله پورې د بيا کتنې يا تفتيش يو داخلي سيستم د نړيوالو معيارونو پر بنسټ پراختيا او تطبيق يي کړي. تر ۱۳۹۳ل کال پوري به د پوهني وزارت وکولي شي څو په کلنۍ توګه د پوهني ټول رياستونه تفپيش او وڅاري د سيستم د پراختيا اصلي موخه، په سيستماتيک ډول د مالي کارونو ، تدارکاتو ، ګمارل ، اداري ، خپروني او د اداري فساد پر وړاندی په مرکزي اولايتي سطحو کې تفتيش او بيا کتنې دي .وزارت په پام کې لري څو د ترسره شو څارنو پر اساس يو شفاف سيستم د راپور ورکوني د تفتيش د پيلو لپاره تيار کيري. چي د تفتيش لاسته راوړني به د دی لـه خوا د پوهني وزير يا ټاکل شوي شخص تـه تياريږي او لازم اقدامات بـه تر سره کيږي. ممکن ده چه قضيه څارنوالي پوري ورسيږي او يـا د خفيفه تخلفاتو پـه صـورت کـي خـاطي شـخص تـه هشداريه ورکړل شي او دوسيه ئی د بشري نيرو په ډيتابيس کي درج شي .

**شپږمه برخه: ستراتيژيکي اړيکي:**

**<u>جزئی موخې</u>**

1) تر ۱۳۸۹ل کال پورې د پوهنې وزارت د ستراتيژيکو اړيکو پراختيا او پلي کول
2) د عامه خپراوي لپاره د پاليسيو ، پلانونو ، پرمختګونو او شته مسايلو په اړه اړين مواد جوړ او په مطبوعاتي کنفرانسونو کي په مرکز او ولاياتو او همدارنګه په معتبرو نړيوالو خپرونو کي خپاره شي.
3) تر ۱۳۹۳ل کال پورې ، د همغږي او مشورتي ورکشاپونو خپروني په لار اچول د ولاياتو له مسؤلينو سره به په هرو دريو مياشتو کي سرته رسيږي.
4) د ربعوارو همغږۍ ورکشاپونو طرحه د ولاياتو او ولسواليو د پوهنې مسئولينو سره هر کال پر مخ وړل کيږي.

د ښوونیزو خدماتو کیفیت د وزارت د صحیح اجرا کولو پلانونو پورې اړیکه لري . د تعیین شو موخو ته او د مرستو په تیارولو کې هم ستونزې موجود دي ، نو له همدی امله یو اریکتیائي او اطلاع رساني یو مکانیزم تـه اړتیا لیدل کیږ. څو وکړي شي لازم معلومات د پالیسیو، پلانونو، پرمختګونو ، او د پوهنې د ښته مسایلو په اړه د زیربط ارګانونو د لاسرسي لپاره تیار کړي . د دی میکانیزم د جوړیدو موخې د زده کوونکو ، ولیدینو، خلکو، مرستندونه هیوادونو د اعتماد جلب کول او د افغانستان د پوهنې څخه د هغوي د ملاتړ جلب کول دي نو له دي امله وزارت په پام کې لري څو اړین مواد د پالیسیو ، پرمختګونو ، او د ښته مسایلو په اړه په پوهنې کې د عامه پوهنې لپاره جوړ او په منظم ډول په مطبوعاتي کنفرانسونو کې په مرکز او ولایاتو کې خپاره او په معتبرو بین المللي چاپیزو خپرونو کې چاپ شي.

همدارنګه، وزارت پلان لري څو د همغږي او مشورو په مقصد د پوهنې له غیر مرکزي، ولایتي او ولسوالیو په سطحو کې منظم څلور میاشتني ورکشاپونه ترتیب کړي ، څو غیر له همغږي جوړوني د پوهنې په اړه په تصمیم نیولو کې ، د وزارت پالیسی او ستراتیژي له غیر مرکزي سطحو سره ګډ کړي .

**اوومه برخه: همغږي او مدیریت:**

**<u>جزئي موخې</u>**

1) تر ۱۳۹۳ل کال پورې له ټولو تقنیني اسنادو، لایحې، اداري کړنلارې، مالي او تدارکاتو څخه بیا کتنه وشي
2) د پوهنې وزارت د پراختیائي بورد منظمو دورئي ناستو جوړیدل سازماندهي کیږي
3) جوړونه او بیا کتنه د ستراتیژیک مدیریت د پراختیایي خپرونو په عملیاتي پلانونو کې په کلني ډول
4) د څلور پوړیز او کلنیو راپورونو ترتیبول
5) د ستراتیژیک مدیریت د پراختیایي پروژو او فعالیتونو شپږ میاشتینۍ مرور او ارزیابي.

ټول تقنیني اسناد سره له اداري لوحې او کړنلارې ، مالي ، تدارکاتي ، خدماتي او داسې نور، چې اداري او مالي مدیریت پورې اړ کیږي په روانه توګه تر بیا کتني او لیدني راځي .د تقنیني اسنادو بیا کتني څخه موخه ، د اداري سیستمونو اهمیت او د کړنلارو ساده کول او لنډول دي. دغه تقنیني اسناد منظم کېږي او له مختلفو لارو سره د پوهنې وزارت له وېبپاڼې څخه به د خلکو پر وړاندې خپرېږي.

د پوهنې پراختیائي جلسې په میاشتنۍ توګه ترسره کیږي څو د پالیسو اړوند مسایل، د پروګرامونو اړونده نوي مسایل ،د مالي او بودیجوي اړتیاوې او د پوهنې د د سهم اخستونکو تر منځ همغږي تر څیړنې لاندې ونیول شي. د دی بورد د نظر لاندې به کارې تخنیکې ګروګانې جوړې شي او په منظم ډول به جلسې تشکیلوې څو د تخنیکې مسایلو اړوند پروګرامونه د بورد په جلسو کې تر خبرو اترو لاندې ونیول شي . او په اړه ئی لازم تصمیمونه ونیول شي.

د پوهنې مالي او بودیجوي فعالیتونه په بین المللي سطح لکه ( د چټکو فعالیتونو د وارسیو ابتکارات) FTI د پوهنې د پرمختیایي بورډ د ملاتړ لاندې د افغانستان د پوهنې د پروګرامونو د بسپنه ورکولو لپاره د پام وړ ګرځي.

دغه خپرونه لکه د وزارت د نورو خپرونو په څیر، د خپروني د وضعیت د تحلیل پر بنسټ د پرمختګ او د فعالیتونو د ګټې او د پوهنې ملي ستراتیژیک پلان سره سم ، کلنیز عملیاتي پلانونو ته پراختیا ورکوي ، او د هرو دریو میاشتو په پاي کې د خپروني د پرمختګ او ستونزو راپور د عملیاتي پلان

پر بنسټ جوړ او ترتیب او د پلان او ارزیابۍ عمومي ریاست او د وزارت مشرۍ ته سپارل کېږي. همدارنګه د خپروني شپږ میاشتني فعالیتونه تر دقیقي ارزیابۍ او بیا کتني به راشي. او د هغه له پایلي څخه به د بیا کتني او دعملیاتي پلانونو په پراختیا کې ترې استفاده وشي.

# ځلورم څپرکې: تطبيق، څارنه او ارزونه

روښانه ده چې د پوهنې وزارت په هغه صورت کې کولای شي په دې ستراتيژيک پلان کې يادو شويو موخو ته ورسيږي چې فعاليتونه په ښه توګه تطبيق شي او پروژې د دې موخو په لوري اندازه او اټکل شي .د هغه پر وړاندې ستونزې او ننګونې وپېژندل وپيژندل شي او د امکان تر کچې هوارې شي .

## تطبيق :

### د تطبيق مسئوليتونه او جوړونه :

د پوهني ملي استراتيژيك پلان د پراوګرامونو او د هغو د ترسره کيدو ځانګري ساختار په ملي او ولايتي سطح ځانګړي کړي دي.

چي پنځه پرګرامونه(شامل د ۱۰فرعي پروګرامونو ) کي ځاي ځای پر ځاي ځای شوي دي.

چي ځانګري اهداف او مقاصد په مربوطه فعاليتونو کي ټاکل شوي دي چي په معلومه توګه يوبل سره اړيکه لري او که په پوره توکه تمويل او ترسره کړي وي وزارت کولي شي چي خپل لوي او متوسط اهدافو ته په ملي او ولايتي سطح لاسرسي پيداکړي.

د اصلاحات اداري د پروګرام د پلي کيدو له خوا ،د وزارت ساختار باندي غور او بيا کتل شوي دي تر څو وکولي شي د کارونو له تقراره څخه مخنيوی وشي او په ملي او ولايتي سطح همغږي پراختيا ومومي .او طرحه شوي پراوګرامونه په استراتيژيك پلان کي هم د موجوده ساختار سره پوره سمون لري .

د پوهني د وزير د نظر لاندي، پنځه معين صاحبان د پلان ۵ احتوا شۇ پروګرامونو د پر مخ وړلو مسئوليت په غاړه لري او د هر معين د ۳ نه تر ۸ رياستونو پوري د نظر لاندي لري. چي هر يو رياست د اټکل شۇ فعليتونو ترسره کيدل په يو د فرعي پروګرامونو يا د يو پروګرام يوه برخه پر غاړه لري. او په هر ولايت کي د ولايت د پوهني رئيس د نظر لاندي ۵ خاص مديران (۶)مسئوله د پلان د پنځه پروګرامونو د تر سره کيدو لپاره لري. او بلاخره ښونځی د روزنيزو پراوګرامونو د عملي ترسره کيدو مسئول د ښونځيو د شوراو په همکاری سره دي.

غيری دولتي سازمانونه هم په قانوني چوکاټ کی موجود او د پوهنی وزارت د همکاري موافقه ليك د امضا او تائيد ورسته به د استراتيژيك پلان په پلي کيدو کي ونده واخلي. او خصوصي سکتورونه هم د قرارداد د امضا له طريقه د خاصو خدمتونو په جوړولو (۷) د موجودو مقررو چوکاټ کی ونډه واخلي.

(۴) د زده کړي د پراختيائي نصاب او ښوونکي د روزني ، تخنيکي او مسلکي زده کړو، سواد زده کړي اداري او مالي، د عمومي او اسلامي زده کړو معينان.

(۵) وزير د اړيکو يو مسئول ټاکي، چی د پوهني اداری پروګرام د دريم فرعي پروګرام مسئول به وي(د استراتيژيك مديريت پراختيا)

(۶) د عمومي او اسلامي زده کړو مديران، د دارالمعلمين رئس، د تخنيکي او مسلکي زده کړو مدير، د سواد زده کړي عمومي مدير ،او اداري او مالي عمومي مدير.

(۷)د خصوصي ښونځيو د مخکي وړلو او تآسيس مثال لپار، د ښونځيو د جوړولو د اجناسو او خدماتو مساعدول .

## عملياتي پلانونه او کلني بوديجه:

دا ستراتيژيك پلان به په عملياتي او کلني بوديجوي پلان چي د هغي کال ځانګړي موخي په بر کي لري بدل شي. دغه پلانونه د يو مشارکتی پروسي له لاري د ولايتي پوهني رياست او د ولسواليو دمديريتونو او د مرکزي رياستونو په حضور کي تياريږي. هغوي به مسئوليت ولري څو د هغي کال پروګرامونه تعيين او فعاليتونه ئي ځانګړي کړي. د پلان او ارزوني رياست هم په دی برخه کی، زده کړه نيزه او وړتيا جوړوني پروګرامونه، چوکاټونه، فرمتونه او نور لازم لارښودونه تياروي.

عملياتي پلانونه او کلني بوديجه مخکي له دی نه چي د ماليه وزارت ته تسليم کړي شي. د پوهني د پراختيائي بورد له لاري د بين المللي همکارانو سره د پوهني په ساحه کي په اشتراك ابينودل کيږي. د ماليه وزارت له خوا د بوديجي د تعيين څخه وروسته ، ولايتي او ملي عملياتي پلانونه دوهم ځل لپاره د تعهد شوي بوديجي پر اساس پري غور کيږي. او د وزارت د تائيد څخه وروسته د پروګرامونو مسئولينو ته په مرکزي او ولايتي راستونو کي خپراوي ورکول کيږي.

## د پروګرامونو او فعاليتونو تطبيق:

د پلان د موفقانه تر سره کيدو لپاره لمړي ګام صحيح درك د هغي نه او د هغي د ترسره کيدو د موجودو سرچينو څخه دي. د پلان او ارزونی رياست استراتيژيك پلان په ملي ژبو تيارکړي او د مرکزي او ولايتي روساو لپاره زده کړه نيزه جلسی برابروي. او د يو پراختيائي سيستم له لاري ، د وزارت ټول کارکونکي هم د هغوي د روساو له خوا زده کړه ګوري. د دي څخه داډ تر لاسه کول چي ټولو رياستونو او کارکونکو ئي د محوله دندو څخه صحيح درك لاسته راوړي دي، د عملياتي پلان د پراختيا څخه وروسته هم مشابه زده کړه نيزه پروګرامونه په لاره اچول کيږي.

د استراتيژي او عملياتي پلانونو د ښه پلي کيدو لپاره به، د ولاياتو او ولسواليو د پوهني اداراتو ته لا دير اختيارونه ورکړل شي او سمحال به د څارني ظرفيتونه په مرکز کي وړتيا وکړي . هر څو چي د پروګرامونو مجرايان د لا زياتو تصميمونو په نيولو کي ونده واخلي ، د هغوي د مسئوليتونو احساس زياتيږي او د ستونزو د حل لپاره به زياتي هڅي وکړي.

د پلان د ترسره کيدو په برخه کي مهمترين عمل، د مرکز، ولاياتو، ولسواليو او ښووځيو په سطحه د خدماتو د تيارولو پياوړتيا ده. د پوهني وزارت د سيستمونو د پرمختيا لپاره، د ولسواليو او ولايتي دفترونو لپاره د کافي کارکونکو برابولو، د وزارت د کارکونکو او د ښونځيو د مسئولينو روزنه په اړوندو موضوعاتو کي، او د تخنيکي مرستو څخه زياته ګټه واخلي . په مرکز او ولاياتو کي به د مالي، لوژيستيك او تدارکاتو سيستم ته خاصه توجه وشي او د پروګرامونو د موخو او د ښه وړتيا په مخه به د کمپيوټري سيستم او پياوړوکارکونکو څخه کار واخستل شي .

د غيري دولتي سازمانونو او خصوصي سکتورونو د وړتيا لويه ګټه اخستنه يو اصلي عمل د استراتيژيك پلان د پلي کيدو بريالیتوب لپاره دي. همدارنګه د پوهني وزارت تمويل کونکي هڅوي تر څو سيميزو ظرفيتونو ته پراختيا ورکړي او د هغو نه د تمويل شؤ پروژو د پلي کيدو لپاره د بهرنيو پرمختيائي بوديجي له لاره ګټه واخلي. د پوهني وزارت ځانته په استثنايي او زماني شرايطو کي چي په افغانستان کي دننه لازم تخصص وجود ونه لري، د بهرنيو شرکتونو له خوا د پروګرمونو ترسره کيدل تأييد وي.

همدارنګه د پوهني وزارت د داخلي پراختيائي بوديجی له کانال څخه او د قراردادونو، خصوصي سکتورونو او غيری دولتي سازمانونو له لاري د زده کړه نيزه خدماتو د برابرولو لپاره تری ګټه اخلي.

د دی پلان د ښه پلی کيدو لپاره، د پوهني وزارت د بيالا بيلو برخو تر منځ ، د پوهني وزارت او همکارو موسساتو ترمنځ په مرکزي او ولايتي سطحه همغږي د مشترکو جلساتو له لاري زياتيږي.

دننه د پروګرامونو او بيلابيلو پروګرامونو تر منځ همغږيزه هفتواری ناستی په مرکز اولاياتو ترسره کيږي. د ښوونکي د روزني او او د تخنيکي او مسلکي زده کړو رياست، د لوړو زده کړو وزارت، کار او اجتماعي امورو، شهدا او معلولينو او همدارنګه مستقل رياستونه چي د پوهني په سکتور کي دي د نيږدي همغږي سره به دغه پروګرامونه پلي کړي.هری مياشت او هر څلور مياشتو کي به د پروګرامونو همغږيزه ناستي د ټولو دخيلو ارګانونو په اشراك سره ترسره کيږي.

## رسکونه او کمښتونه:

**ناامني** د پروګرامونو په پلي کيدو په بعضي ولاياتو د په پلي کيدو کي او د ماشومانو لاسرسی ښووني او روزني باندي رسماً منفي تأثيرات اچوي. او وزارت به په دوامداره توګه د ښوونځيو شوراګانو ته پياوړتيا ورکوي. او ځايي خلکو ته به د ښونځيو په امنيت کي ونده ورکوي سيميزه ښوونيز پروګرامونه هڅوي او په ناامنه سيمو کي د ښوونيزه پروګرامونو څخه ملاتړ کوي تر څو د ماشومانو لاسرسي پوهني ته تضمين شي.

**سياسی بی ثباتي** په ټولو خصوصاً د وزارت په رهبريي کي مسلسله تغيرات او منفي تاثيرات په اداری او د پلان د پلي کولو پرمخ اچوي. د وزارت توانمندي او د سيستم پياوړتيا کولي شي چي په دی برخه کي موجوده خطری مخ په کميدو کړي.

**ټولنيزه فضا** او د ښځينه ښوونکو کمښت خوصوصاً په جنوبي سيمو کی د انجونو شموليت ته خصوصاً په منځنيو دورو کي کمښت ورکوي. د انجونو د زده کړو په اړه د عامه خبراوي پروګرامونه د مذهبي سيميزو خلکو له لاره د انجونو د ښووني او روزني او په ښونځيو کی د لا زياتو ښځينه ښوونکو د ګمارلو د اهميت په اړه د خلکو خبراوي د هغو استراتيژيو څخه بلل کيږي چي وزارت به ئي د خطرو د کمولو لپاره په لاره واچوي.

**اقتصادي شرايط** به بعضي فقيري کورني دی ته واداري کړي تر څو خپل ماشومان د ښوني پر ځاي کارکولو ته وهڅوي او ماشومان ئي د ښوني د نعمت نه محروم شي. وزارت د ماشومانو د حقوقو په اړه عامه خبراوي پروګرامونه په لاره اچوي او د مور او پلار په همکاري به هغوي لپاره قرطاسيه او خواړه برابر کړي تر څو بي وزله کورني وهڅول شي څو خپل ماشومان ښونځيو ته وليږي.

**د ماهري بشري قواو نشتوالي** او د هغوي ميل نه درلودل روستايی سيمو کي د تدريس سره ، په هغي سيمو کي د ښوونيزه پروګرامونو برابرول د تاثير لاندي راولي. نوله دی کبله به د پوهني وزارت د ماليه وزارت او اداري اصلاحاتو کميسون په نږدي همکاري سره هڅه وکړي علاوه د زياتي تنخواګانو نه ولايتي تشويقي تنخواګاني او نوري تشويقي پيسي د ښځينه ښوونکو لپاره برابري کړي.

د دولتي بوديجي محدوديتونه او د دولتي بوديجي نه د بهر د اتکل وړ تمويلات، به د باکيفيته زده کړو ته په لاسرسی باندي منفي تاثيرات واچوي. د پوهني د پراختيايي بورد له لاري به، د پوهني وزارت په پارالمان کي هڅه وکړي او د ماليه وزارت او دونرونه به وهڅوي چي د پوهني او لمړيتوب لرونکو پروګرامونو لپاره په د عرصه کي کافي سرچيني برابري کړي.

## څارنه او ارزونه:

د ارزونـي او فعـاليتونو د ترسره کيدو څخـه د لاسته راوړل شـو پـايلو سـاتنه د پـلان د پروسـو نـه او د پروګرامونـو او د اصـلي او پرمختيـايي پـروژو د جـزو لاينفکـي څخـه ده. مراقبـت او ارزونـه بيلابيـل نقشونه مګر پوره هم دي .

د پوهني وزارت د ساتني او ارزوني څخه د همکاري سازمان او اقتصادي پراختيا OECD او پراختيايي مساعداتو کميته تعريفDAC غوره کړي او د هغي نه کار اخلي:

**څارنـه** دوامداره فعاليت دي چي د ځنګړي شؤ شاخصـونو پـه اړه مديرانو او اړونـده جوانبو لپاره د سيستماتيك ارقامو او معلومات د راټلولو له لاري ، خصوصاً د پرمختيا برابري او لاسرسي پرمختيا او موخو ته په استفاده د تخصص شوي بوديجي څخه معلومات برابر وي.

**ارزونه** او منظمه څارنه د غيري جانبدارانه پروژو، پروګرامونو يا پاليسيو څخه د ترسره کيدو يا پوره کيدو په حال کي په شمول د طراحي، پلي کيدو، او د هغو د پايلو څخه ده. د اړتيـاو د اهدافو د اړيکو برابروالي موخه ، موثريت ، اقتصادي صرفه، د پروژو اوږدمهاله او دمداره تاثيرات،يا پاليسيو څخه ده. ارزونه بايد معتبر او د ګټي وړ معلومات برابر کړي تر څو وکولي شـي د تصـميم نيولـو پـه پروسـه کي د زده کړه شؤ تجاربو څخه د ګټي اخستني لاره برابره کړي.

د استراتيژك پلان څخه ارزونه او څارنه درى اصلي عنصر په بر کي لري:

د پرمختيا څخه څارنه د ځانګړي شؤ موخو په مقابل کي . د راپوروڼو د برابرولو لـه لاري پـه طـول د کال او پای د کال کی چي پکي د پروګرام د هري برخي د عملکرد په لاره کي معلومات ځنګړي شؤ موخو ته په توجه سره په بوديجه او کلني پلان کي وي دغه کار د پوهني ملـي استراتيژيك پلان دلويو موخو په رڼا کي ترسره کيږي چي په لمړنيو پايلو، فعاليتونو او اړتياو باندي د هر مالي کال لپاره تبديل شوي دي.

د سرچينو د کار اخستني څخه څارنه يا بوديجي ته توجه ، د لګښتونو پـه اسـاس نسبت د پروګرامونـو د عادي او پراختيايي بوديجي ته ، جمله د هغو ډونرانو د تمويلاتو څخه ګټه اخستنه چي خپل تمويلات د پراختيايي بوديجي له لاري اعمالوي.

د دولت د بهرنی بوديجي له لاري د پراختيايي همکارانو د ونډه اختسنو څخه څارنه. د پـوهني وزارت د پـوهني د پراختيـايي بـورد د غړو پـه همکـاري د پـروژو او هغـه تمـويلات چـي د بهرنيـو پراختيـايي همکارانو له لاري د دولت د بوديجي نه اعماليږي د دوی لپاره د څارني او راپور ورکوني فرمتونـو تـه پراختيـا ورکـوي، راپـور ورکونـه بـه د افغانسـتان د ملـي پراختيـايي اسـتراتيژيك پـلان د پروګرامونـو د ساختار سره همغږي وي. هغه راپورونه چي د پراختيـايي همکارانونـه د پـوهني پراختيـايي بـورد لاسته راوړي دي توحيد ورکوي.

## راپور ورکونه

د پروګرامونو مسئولين او رؤسا او د هغی نوری بيلا بيلی برخی د څارنی پلانونه او د اړتيا وړلستونو چک کول برابروی . څارونکی د ښونځيو د کتنو په وخت کی ، اجرايی مديران د څارنی لاندی نسی . او داډ حاصلوی چی پرسونل د پلان ټولی سطحه په صحيح توګه درک کړی دي . او هغه په خپل وخت

او د موجوده لاربښودنو سره سم تر سره کوي. او وروسته د پرمختګ چالشونو به اړه يو راپور چمتو کوي. او په وروستی ليدنو کی هغوی د کار کړنو څخه داړ حاصلوي ، پرسونل ته خپل نظر وړندی کوی او اړونده مديرانو ته راپور ورکوي. مياشتنی راپورونه د پروګرامونو او فعاليتونو د پوهنی د ولايتی رؤساو له خوا چمتو شوی او د پروګرامونو مسئولينو ته په ملی صطحه تسليمېږی. او د پروګرامونو رؤسا هم راپور خلاصه کوی او د پلان او ارزونی رياست ته يی تحويلوی . واحد راپورونه په مياشتنی توګه تيارېږی او د ټولو پروګرامونو په لاس کی ورکول کيږی .

دری مياشتنی پراختيايی راپور د هر پروګرام لپاره تيار او د يو واحد راپور سره متحد او يوځای کيږی . مالی رياست هم خپل څلور مياشتنی راپور د پروګرامونو د لګښتونو په برخه کی تياروی . او دغه راپورونه ځانته د کورنی ګتی اخستنی لپاره تيارېږی.

دويم دری مياشتينی راپور هم د يو شپږ مياشتنی راپور به توګه د پرمختګونو او لګښتونو څخه تيارېږی . د وزارت رهبر او د پروګرامونو، پلانونو او د بوديجی لګښت رئسانو ، چالشونه او پيشنهادی حلونو لاری د څارنی لاندی نيولی او پلان او کلنی بوديجه اصلاح کوی . په دی څارنو کی د راتلونکی کال د عملياتی پلان د جوړولو لپاره هم پيشنهادونه تيارېږی. دا شپږ مياشتينی راپور د ټولو اړيکتيايی خواو سره شريکيږی .

د پلان او ارزوني رياست هم د څارني او ارزوني يو مرکزي تيم برابروي. دغه تيم به په دري مياشتنيو توګه د خاصو پروژو د څارني ماموريت لپاره لاړ شي څو د فراهم شؤ راپورونو د واقعي پلي کيدو پايلی دپروګرامونو د مسئولينو له خوا بررسي او تاييد کړي. د تايي او څارني راپورونه به د تيم له خوا تيار او د وزارت په رهبري برابريږي. همدارنګه دغه راپورونه د پروګرامونو مديرانو ته هم ليږل کيږي تر څو د پروګرامونو د ښه پلي کيدو لپاره د دی نه کار واخلي.

وزارت به د پوهني اداري معلوماتي سيستم ته (EMIS) پراختيا ورکړي چې د دويم استراتيژيك پلان د پراختيا لپاره د کاراخستلو وړ وګرځي. دا يو مهم ګام د څارني او ارزوني د يو جامع سيستم د پراختيا په مخه دي او هڅه کيږي تر څو د معلوماتو کيفيت او په وخت وړاندی کول په دی سيستم کی پراختيا وومي. همدارنګه په ۵ پروګرامونو کی تذکر ورکړل شوي دي چې د پوهني اداري معلوماتي سيستم به د ولايتو په سطح هم پراختيا وومي تر څو معلوماتو د راټولو پروسه لا غښتلی کړي او پراختيا ورته ورکړي. همدارنګه، د دی سيستم نه به خاصي برخي د خاصو رياستونو لپاره پراختيا وکړي. د افغانستان د مالي معلوماتو د مديريت سيستم(AFMES) او د پلان جوړوني د پيګيری سيستم او د بوديجی لګښت(BPEST) هم يو بل ابتکار دې چې د ارزښت وړ معلومات د څارني لپاره برابروي.

خاص تحليلي ګزارشونه به د دی سيستم د معلوماتو پر اساس تياريږي چې د تصميم نيولو او بررسي په اړه به تری کار واخستلي شي.

د کلنی لګښتونو يو جامع تشريحی راپور به جوړ شي چې د پلان د پلي کيدو پراختيايي برابروالي به د هر پروګرم د مخو په مقابل او هم چالشونه، درسونه او د پلي کيدو څخه حاصله تجربات به په برکي ونيسي. د کړنو کلني راپور به ، رامنځته شوي تغيرات په ځانګړي شؤ موخو کی لکه شموليت ، د ښوونکو نسبت – زده کوونکو ته، د زده کوونکو نسبت- درسي خونو ته، د ازمويني پايلي او د زده کوونکو د ښونيزو پراختيا ته به نور اړوند معلومات راوښائي. د دی راپور نه به په عنوان د اصلي لارو چارو د څيرني، د فرعي او اصلي پروګرامونو د کړنو د ټولو ارزونو د سنجيش په منظور د کار وړ ګرځي. دغه ګزارش د ونډه اخستونکو لپاره لکه د پوهني همکاران، د اقتصاد وزارت، ماليه او پارلمان ته برابريږي. دا راپور به د پوهني وزارت د ويب سايټ له لاري د خلکو په اختيار کي ورکړل شي. همدارنګه وزارت به د تحقيقاتو او

مطالعاتو د اړتيا په صورت کي د ښووني او روزني د لازياتو کارکړنو د ارزوني او څارني په منظور د اړوند ځانګړي شؤ موخو به په دويم استراتيژيك پلان کي تر سره کړي.

د افغانستان دولت د عمومي تفتيش او کنترول اداره به کلني تفتيش تر سره کړي. دا تفتيش به د مالي او تفتيش ټول مسايل په برکي ولري. د تفتيش کلني راپور به د شيږمياشتو په وخت کي وروسته دمالي کال د پاي نه برابرشي.

## جلسی:

د پوهني د پراختيائي بورد مياشتنی جلسی سازماندهي شوي او د پلان د پلي کولو تازه راپور به د پوهني د همکارانو لپاره برابر کړي . همدارنګه وزارت به د دی بورد د همغږي لپاره شپږمياشتينی جلسي جوړ کړي. دا جلسات به د پوهني پوهني وزارت د پروګرامونو، غيری دولتي سازمانونو، خصوصي برخو او خارجي تمويل کونکو د کړنو د عمومي څيړنو په عنوان ترتيب کړي شي. شپږمياشتيني جلسات به متشکل د يو جلسی د مخکيني مالي کال د پراختيائي څيړنو په منظور او يو جلسی د راتلونکي کال د بوديجي او کاري پلان د څيړني په منظور څخه وي. د پلان د پرختيائي او څيړنو شپږمياشتي جلسات به د ميزان او عقرب په مياشتو کي تر سره شي تر څو وکولي شي د پوهني وزارت د بوديجي د برابرولو په اړه متخذه تصميمونه د ماليه وزارت ته او په تعقيب د هغی پارلمان د دولت د کلي بوديجي د برخي په عنوان پارلمان ته شامل شي په دی جلسه کي کلنی کاري پلان او د استراتيژيك پلان بوديجه، د مخکيني کال د تفتيش راپور او د څارني هيئتانونه د څارنو لسته راوړني او د څارني تحقيق او مرور کيږي.

## د څارني د وړتياو لوړتيا :

د پلان د پلي کولو د ارزوني او څارني سيستم وړتيا په بيلابيلو سطوحو د عملي لاربښودنو او ښوونيزو پروګرامونو له لاری وړتيا وومومي. علاو د هغو نه ، د پلان او ارزوني رياست د وړتيا د پراختيا او څيراوي په مخه د ارزوني او څارني د پايلو څخه د کار اخستني لپاره يوه برخه د نورو رياستونو او د تصميم نيونکو په منځکی فعاليت وکړي.

همدارنګه به د پلان او ارزونی رياست د نورو پروګرامونو سره مرسته وکړي څو خپل د ارزوني او څارني سيستم غښتلي کړي. متوقعه پايلي، بلافاصله پايلي او ځانګړي شوی فعاليتونه د ۲ منطقي استراتيژك پلان په چوکاټ کي په منظمه توګه د ګټي اخستي وړ وګرځي تر څو وزارت وکولي شي مفيد او په وخت معلومات د تطبيق د ښه والي او د پروګراونو د پلانونو د بيا ليدنو لپاره د استفادي وړ ونيسي.

### مرور او وارسی:

په شپږ مياشتينيو جلسو کي د پلانونو ، د نظر وړ بوديجو او راپورونو ، او هغه څه چی مخکي برابر شوی اؤ په اړوند به ئي بحث او څارنه وشي. علاوه د دی نه، د پوهني وزارت د مخکينی کلنی جلسی د تصميم پر اساس او د پوهني د پراختيايي بورد په همکاري د شپږ مياشتيني جلسي څخه مخکي به څارنی او مطالعات ترسره کړي تر څو استراتيژيك پلان اصلي متوقعه پيلی ارزيابي کړي او يا د پلان نوری خاصی برخی د څارني لاندي ونيسي، د مثال په عنوان، د زده کوونکو د زده کړي د موقعه پايلی،د پوهني د خدماتو د پوښښ ميزان، د بوديجي کارايی او مؤثريت تخصيص شوي، د پروژو د اقتصادي صرفه والي په بهرنی بوديجی چی د تمويل کونکو له خوا اداره کيږي او.....). دغه څارنی د

وزارت نه بهرني نهادونو له خوا پلي کيږي او پای کی د معلوماتو د بيروني سرچينو په عنوان تر د وزارت له خوا کتِه اخستل کيږي. همدارنگه د دی څارنو پايلي د نورو مواردو د پيژندنی په منظور د څارني او مراقبت لپاره او همدارنگه د معلوماتو د برابرولو لپاره د وزارت او تمويل کونکو د استفادي وړ گرځي.

## ارزونه:

### منځمهاله ارزونه:

د پوهني وزارت د بهرنی منځمهاله ارزونی ارزوني د دندو لايحه د پوهني د پراختيايي بورد په نږدی همکاري تياره کړي او بهرني مشاوران(بيرون د وزارت نه) به وکماري تر څو منځمهاله ارزونه تر سره او د ارزونی راپور چي شامل د پراختيايي ارزونی، تطبيق چالشونه توصيو او نظراتو کيږي تيار به شي. د ارزونـي او پـلان رياست بـه د پوهني يو مراختيـايي مجتمع (EDF) بـه د ايستراتيژي پلان د تطبيق په نيمه دوره کي داير کړي څو د پلان د پلي کيدو منځمهاله ارزونه تر سره کړي. دغه جلسی د پوهني د وزير رياست ته دايريږي اوپه هغي کي د وزير معيينـان، د پوهني د رياست رئيسان ، تمويل کوونکي نماينده گان، غيري دوالتي او عمومي نهادونه او تمويل کوونکي به اشتراك وکړي. د حاصله پايلو پر اساس د استراتيژيك پلان د اصلي او فرعي موخو په مقايسی، د پلان د تطبيق د نيمه وروستی دوری لپاره د اړتيا په صورت کي به د بيا ځيرنـي وړ وگرځي او د وروستني استراتيژيك پلان جوړوني لپاره به د استفادي وړ وگرځي.

### وروستی ارزونه:

د ستراتيژيك پلان د پلي کيدو وروستی ارزونه د پلان دپلي کيدو دوری په پای کی د پوهنی پراختيايي مجتمع له خوا تر سره کيږي. د دی ارزونی د ترسره کيدو لپاره بهرنـي مشـاوران گمارل کيږي.په دی ارزونه کی د استراتيژيك پلان متوقعه پايلی په ارتباط د ښووني او روزنـي کلي وضعيت په افغانستان کي بررسي شي او د استراتيژيك پلان د پلي کيدو څخه حاصله تجربی او درسونو د څارنه او امعان نظر لاندی نيول شي. د ارزونی پايلی به عملاً په منظور د پراختيا، د وروستني استراتيژك پلان څخه د پلي کيداو څارني په اړه د استفادي وړ وگرځي . د ارزوني وروستي راپو د دوری په پای کی پلي چي شامل د پايلو د څارنی، د پلان د پلي کيدو د دوه اخري کلو مقايسه، او د تر سره شؤ تحقيقاتو پايلی کيږي. دغه راپور شامل د پروگرام د پلي کيدو د پراختيا خلاصی، چالشونو ، درسونو او حاصله تجربو کيږي. دغه راپور به د متوقعه پايلو د لاسته راړني او د استراتيژيك پلان لوړ مدته تآثيرات به منعکس کړي. که چيری يوه برخه د موخو او متوقعه پايلو څخه لاسته نه وي راغلي، علت به ئي تشخيص او لازمی د حل لاری به ورته برابری کړي. دا راپو د خلکو د (فيد بك)،مدني تولنی،تمويل کوونکو او د پلان د پلي کيدو همکاران په بر کي لري.

### موردي مطالعات او ځيرنه:

د پـلان او ارزونـی رياسـت د پوهنتونونـو او د ملـي او بينـالمللی تحقيقـاتي نهـادونو پـه همکاري د پلان فعاليتونه يا برخه د بخشونونه چي وزارت تـه خـاص اهميت لـري د څـارنو او تحقيق لاندی ونيسي. دغه ارزونه به مؤثريت، کارايی او ثبات او د دی فعـاليتونو د پـايلو دوام بـه د توجـه لانـدي ونيسـي. دا پـايلی پـه منظـور د پاليسيو څـارنی، د وزارت د اړونـدو

استرتيژيو د موخو په مخه د استفادي وړ وګرځي. تحليلي پايلی به دغه رنګ ارزوني د وزارت د رهبري په لاسرسی کي ورګړي.

# پنځم فصل: لګښتونه او بوديجه

مصارف: د پوهني وزارت د ۱۳۹۳ل کال د ملي ستراتيژئ پلان اهداف، ستونزو او چيلينجونو ته د لاسرسی او د ( ښوونه او روزنه د ټولو لپاره) موخي ډيرو لګښتونو ته اړتيا لري.

د پنځه کاله پخوا په پرتله د زده کوونکو د شمير د ډيروالي فشار او د پوهني د کيفيت او تناسب د لا ښه والي غوښتني ډيري شوي دي.

د خلکو غوښتني د پوهني وزارت د وس څخه لوړې دي ، همدارنګه د اوسنيو زده کوونکو څخه په راتلونکي کې توقع درلودل ډيرې پانګې اچوني ته اړتيا لري.

وزارت ته پکار ده چې د نوو زده کوونکو لپاره مناسب ښوونيز چاپيريال برابر کړي، نوي ښوونځي جوړ کوي او لا ډير ښوونکي په دندو وګوماري، او بيا دا ټول ورو زي ترڅو د پوهني لوړ معيارونه د تدريس لارې چارې ، زده کړې ، او همدارنګه داسي لنډمهاله بدلونونه رامنځته کړي چې اوږدمهاله اغيزې لري.

د ښووني او روزني د کيفيت لوړول بې له دې چې د لايقه او په شرايطو پوره ښوونکو ته د جلبولو او ساتني لپاره کافي معاش ورکړل شي هيڅ امکان نه لري، د هيواد په کچه د معاشونو ډيرول او د رتبو او معاشونو سيستم پلي کول ډيرې پانګې ته ضرورت لري.

په ښوونه او روزنه کې ډيره پانګه اچونه ددې لپاره اړينه ده چې د لويانو او کوچنيانو لپاره د ښووني او روزني د لومړيتوبونو، د ډيموکراسۍ د پروسې او د خلکو د ټولنيز ګډون لپاره ځانګړی اهميت او ارزښت لري.

ښوونه او روزنه د هغه بشري سرچينو اساس جوړوي کوم چې د هيواد د اقتصاد د ودې لپاره ډير اړين دی او کولای شي چې د سولې په رامنځته کولو کې او ټينګولو کې مهم رول ولوبوي.

### عادی بوديجه:

د معاشاتو محاسبه د موجوده کارکوونکو شمير د ضرب په اساس په ۱۳۸۸ ل کال کی د تنخوا به اوسط کی د رتب و معاش سيستم به اساس د کارکوونکو هری مجموعی ته ( ښوونکو، مديرانو، او اداری کارکوونکو) لپاره وړکول کيږي. په تنخواګانو کی زياتوالی د رتب او معاش سيستم به خاطر په جداګانه توګه محاسبه کيږي. موجوده کارکوونکی به د راتلونکو څلور کالو به اوږدو کی د رتب او معاش سيستم تر پوښښ لاندی راشي . چی د ۱۳۸۸ل کال نه دا پروسه شروع شوی ده. ۱۳۸۸ ل کال کی په حدود ۴۲ زرو تدريسی کار کوونکو په ټول ولاياتو او ۴ زره غيری دولتی کار کوونکی په مرکز کی د دی سيستم د پوښښ لاندی راغلی دی. متباقی ۱۳۲ زره ښوونکی او ۱۲۵۵۴ تنه غيری تدريسی کارکوونکی به تر ۱۳۹۳ کال پوری او ۲۵۱۰۸ تنه غيری دولتی کارکوونکی به د ۱۳۹۰ل کال نه تر ۱۳۹۱ل کال پوری د دی سيستم تر پوښښ لاندی راشی . د ښوونکو نسبت- زده کوونکو ته او د زده کوونکو د شموليت د زياتوالی په اساس به د راتلونکو ۵ کالو په وخت کی ۱۶۵ زره نوی کار کوونکي وګمارل شی.

د نوی کار کوونکو د ګمارنی هزینه په جداګانه توګه د رتب او معاش سیستم پر اساس محاسبه شوی ده.

جدول ۸: د نوي کارکوونکو د ګمارنی پلان

| لنديز | ۱۳۸۷ واقعي | ۱۳۸۸ اټکل شوی | ۱۳۸۹ اټکل شوی | ۱۳۹۰ اټکل شوی | ۱۳۹۱ اټکل شوی | ۱۳۹۲ اټکل شوی | ۱۳۹۳ اټکل شوی | مجموع ۱۳۸۹-۱۳۹۳ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ښوونکی | | | ۱۰,۶۱۳ | ۲۹,۰۰۴ | ۳۰,۴۳۴ | ۳۲,۳۸۰ | ۳۳,۲۱۵ | ۱۳۵,۶۴۶ |
| مديران | | | ۵۸۳ | ۲,۰۱۷ | ۲,۰۸۰ | ۲,۱۹۳ | ۲,۲۴۱ | ۹,۱۱۲ |
| اداری کارکوونکی | | | ۱,۷۰۹ | ۴,۳۹۲ | ۴,۶۳۹ | ۴,۹۲۲ | ۵,۰۵۴ | ۲۰,۷۱۶ |
| مجموع ۴-نوی ګمارنی | ۱۲,۵۰۰ | ۱۲,۵۰۰ | ۱۲,۹۰۳ | ۳۵,۴۱۳ | ۳۷,۱۵۳ | ۳۹,۴۹۵ | ۴۰,۵۱۰ | ۱۶۵,۴۷۴ |

د (کد ۲۲ او ۲۵) تنخواګانونه غیر هزینو په سهم کي زیاتوالي د ښوونځیو او زده کوونکولپاره د تدریسي او ښوونیزو توکو د برابرولو لپاره، ساتني او څارني او د جوړ کړي شوُ ښونځیو د ودانیوترمیم د انکشافي بودیجي له خوا او د کارکوونکو سفریې او ساتني او څارني سیستم د پراختیا لپاره په نظر کي نیول شوي دي.

۹جدول: د غیرمعاشاتو او معاشاتو د هزینو پیشنهاد شوي نسبتونه

| د هزينو لنديز | ۱۳۸۷واقعي | ۱۳۸۸ اټکل شوی | ۱۳۸۹ اټکل شوی | ۱۳۹۰ اټکل شوی | ۱۳۹۱ اټکل شوی | ۱۳۹۲ اټکل شوی | ۱۳۹۳ اټکل شوی | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عادي بوديجه | | | | | | | | |
| تنخوګاني(۲۱) | 86% | 90% | 82% | 80% | 78% | 77% | 75% | 78% |
| اجناس او خدمات (۲۲) | 11% | 9% | 15% | 16% | 17% | 18% | 19% | 17% |
| اخيستني(۲۵) | 3% | 0% | 3% | 4% | 5% | 6% | 6% | 5% |
| مجوع ۲-د عادي بوديجه نسبت | *100%* | *100%* | *100%* | *100%* | *100%* | *100%* | *100%* | *100%* |

پیشنهاد شوی بودیجه یو شمیر مزایاوی لري. د عادي بودیجي د میزان ترسره کیده موفقیت امیزه وه. ځکه چي د وزارت دایمي کارکوونکي چي د مدیریت په مدیریت بودیجه او پروګرامونه په غاړه لري د دولت د عادي بودیجي سیستم سره اشنا دي. علاوه د دی نه ، دا میتود د عادي او انکشافي بودیجي د یوځاي کولو او توحید لپاره لاره مساعدوي.

## پراختیائي بودیجه :

د افغانستان حکومت د داخلي بودیجي د سرچینو د کمبود په خاطر قادر نه دي څو د ښووني او روزني بودیجه د عادي بودیجي له لاري تآمین کړي. د تمویل کوونکو او مرسته کوونکو مشارکت د ستراتیژيك پلان موخو ته، زره دریم پراختیائي موخو ته ، او ښوونه او روزنه د ټولو لپاره ، د موفقیت او لاسرسي شرط دي. د پراختیائي بودیجي عمده برخه په دغو مواردو کي لګول کیږي. د ښوونځو د ودانیو جوړول، د تخنیکي همکارانو د تنخواګانو په برخه کي تخنیکي همکاری، د پروګرامونو پراختیایي بودیجه او نوری خدماتي مشاوري(لکه د ښوونکو سریع ښوونیز پروګرام، محلي ښوونه او روزنه،

فراګیره ښوونه او روزنه او برخې) یادی شوی بودیجي او هغوی ته مشابه موارد د دی بودیجي له لاري نه په دی مرحله کی قابل د تآمین نه دي.

۱۰ جدول: د پوهني د ملي استراتیژیك پلان لګښتونه(۱۳۸۹-۱۳۹۳)

| د پوهني وزارت | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د پوهني ملي استراتیژیك پلان (1389 – 1393)** | | | | | | | | |
| **ټول ۵ پروګرامونه** | **مليون افغانی (000,000)** | | | | | | | |
| ***د لګښتونو لنډيز*** | **1387 واقعي** | **1388 اټکل شوي** | **1389 تخمين شوی** | **1390 تخمين شوی** | **1391 تخمين شوی** | **1392 تخمين شوی** | **1393 تخمين شوی** | **مجموع 1389-1393** |
| **عادي لګښتونه** | | | | | | | | |
| تنخواګاني (21) | 11,307 | 12,749 | 21,262 | 26,980 | 31,408 | 35,892 | 40,407 | 155,948 |
| اجناس او خدمات (22) | 1,465 | 1,319 | 3,827 | 5,396 | 6,910 | 8,614 | 10,506 | 35,253 |
| اخيستني (25) | 338 | 42 | 850 | 1,349 | 1,885 | 2,512 | 3,233 | 9,829 |
| *د تولو پروګرامونو د عادي بوديجي مجموعه* | *13,110* | *14,110* | *25,940* | *33,725* | *40,203* | *47,018* | *54,145* | *201,030* |
| **پراختیایي بودجه** | 3,030 | 9,929 | 35,802 | 37,318 | 41,761 | 44,749 | 45,128 | 204,758 |
| **د ټولو ۵ پروګرامونو مجموع** | **16,140** | **24,039** | **61,742** | **71,043** | **81,964** | **91,767** | **99,273** | **405,788** |
| | | | | | | | | |
| **1 پروګرام: عمومي او اسلامي زده کړي** | **مليون افغانی (000,000)** | | | | | | | |
| ***د لګښتونو لنډيز*** | **1387 واقعي** | **1388 اټکل شوي** | **1389 تخمين شوی** | **1390 تخمين شوی** | **1391 تخمين شوی** | **1392 تخمين شوی** | **1393 تخمين شوی** | **مجموع 1389-1393** |
| **عادي لګښتونه** | | | | | | | | |
| تنخواګاني(21) | 10,266 | 11,548 | 19,328 | 24,671 | 28,722 | 32,752 | 36,711 | 142,184 |
| اجناس او خدمات (22) | 594 | 405 | 3,479 | 4,934 | 6,319 | 7,861 | 9,545 | 32,137 |
| اخيتني (25) | 34 | 13 | 773 | 1,234 | 1,723 | 2,293 | 2,937 | 8,960 |
| *د تولو پروګرامونو د عادي بوديجي مجموع* | *10,894* | *11,966* | *23,580* | *30,838* | *36,765* | *42,905* | *49,193* | *183,281* |
| **پراختیایي بودجه** | 330 | 1,332 | 2,052 | 1,668 | 1,830 | 1,783 | 2,107 | 9,440 |
| **د 1 پروګرام د بوديجي مجموعه: عمومي او اسلامي زده کړي** | **11,223** | **13,298** | **25,632** | **32,506** | **38,595** | **44,688** | **51,300** | **192,721** |
| | | | | | | | | |
| **2 پروګرام: د نصاب ، ښوونکي د روزنه او ساينس او تکنالوژي د زده کړو پراختيا** | **مليون افغانی (000,000)** | | | | | | | |
| ***د لګښتونو لنډيز*** | **1387 واقعي** | **1388 اټکل شوي** | **1389 تخمين شوی** | **1390 تخمين شوی** | **1391 تخمين شوی** | **1392 تخمين شوی** | **1393 تخمين شوی** | **مجموع 1389-1393** |
| **عادي لګښتونه** | | | | | | | | |
| (21) تنخواګاني | 257 | 334 | 617 | 691 | 732 | 784 | 835 | 3,658 |
| اجناس او خدمات (22) | 340 | 267 | 111 | 138 | 161 | 188 | 217 | 815 |
| خريداريي‌ها (25) | 21 | 6 | 25 | 35 | 44 | 55 | 67 | 225 |
| *د تولو پروګرامونو د عادي بوديجي مجموعه* | *618* | *608* | *752* | *863* | *937* | *1,027* | *1,119* | *4,699* |
| **راختیایي بودجه** | 643 | 3,606 | 6,455 | 5,833 | 6,532 | 7,581 | 5,705 | 32,106 |
| **د 2 پروګرام د بوديجي مجموعه: د نصاب ، ښوونکي د روزنه او ساينس او تکنالوژي د زده کړو پراختيا** | **1,261** | **4,213** | **7,207** | **6,696** | **7,469** | **8,608** | **6,824** | **36,805** |
| | | | | | | | | |
| **برنامه 3: تخنيکي او مسلکي زده کړيکړي** | **مليون افغانی (000,000)** | | | | | | | |
| ***د لګښتونو لنډيز*** | **1387 واقعي** | **1388 اټکل شوي** | **1389 تخمين شوی** | **1390 تخمين شوی** | **1391 تخمين شوی** | **1392 تخمين شوی** | **1393 تخمين شوی** | **مجموع 1389-1393** |
| **عادي لګښتونه** | | | | | | | | |
| (21) تنخواګاني | 195 | 260 | 422 | 542 | 733 | 1,005 | 1,388 | 4,090 |
| اجناس او خدمات (22) | 114 | 174 | 76 | 108 | 161 | 241 | 361 | 948 |
| اخيتني (25) | 5 | 15 | 17 | 27 | 44 | 70 | 111 | 269 |
| *د تولو پروګرامونو د عادي بوديجي مجموعه* | *314* | *448* | *515* | *678* | *939* | *1,316* | *1,859* | *5,308* |
| **پراختیایي بودجه** | 133 | 832 | 622 | 905 | 1,067 | 1,135 | 1,150 | 4,879 |
| **د 3 پروګرام د بوديجي مجموعه: تخنيکي او مسلکي زده کړي** | **447** | **1,281** | **1,137** | **1,583** | **2,006** | **2,451** | **3,009** | **10,187** |
| | | | | | | | | |
| **۴ پروګرام : سواد اموزي** | **مليون افغانی (000,000)** | | | | | | | |
| ***د لګښتونو لنډيز*** | **1387 واقعي** | **1388 اټکل شوي** | **1389 تخمين شوی** | **1390 تخمين شوی** | **1391 تخمين شوی** | **1392 تخمين شوی** | **1393 تخمين شوی** | **مجموع 1389-1393** |
| **عادي لګښتونه** | | | | | | | | |

| | 1387 | 1388 | 1389 | 1390 | 1391 | 1392 | 1393 | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| (21) تنخوګانی | 215 | 251 | 475 | 585 | 654 | 720 | 785 | 3,220 |
| اجناس او خدمات (22) | 19 | 27 | 86 | 117 | 144 | 173 | 204 | 724 |
| اخيستنی (25) | 0 | 1 | 19 | 29 | 39 | 50 | 63 | 201 |
| مجموع بودجه عادي همه برنامه ها | 234 | 279 | 580 | 732 | 838 | 944 | 1,052 | 4,145 |
| بودجه د ټولو پروګرامونو د عادي بوديجي مجموعهانکشافي | 0 | 264 | 2,115 | 2,373 | 2,648 | 3,064 | 3,235 | 13,435 |
| **مجموع بودجه برنامهد -4۴ پروګرام د بوديجي مجموعه: سواد آموزيزده کړه** | **234** | **543** | **2,695** | **3,105** | **3,486** | **4,008** | **4,287** | **17,580** |
| | | | | | | | | |
| **5 پروګرام: د پوهني اداره** | **مليون افغاني (000,000)** | | | | | | | |
| ***د لګښتونو لنډيز*** | **1387 واقعي** | **1388 پيش بيني شده** | **1389 تخمين شده** | **1390 تخمين شده** | **1391 تخمين شده** | **1392 تخمين شده** | **1393 تخمين شده** | **مجموع 1389-1393** |
| **عادي لګښتونه** | | | | | | | | |
| (21) تنخواګانی | 375 | 355 | 420 | 490 | 567 | 630 | 688 | 2,795 |
| اجناس او خدمات (22) | 398 | 446 | 76 | 98 | 125 | 151 | 179 | 628 |
| اخيستني (25) | 278 | 7 | 17 | 25 | 34 | 44 | 55 | 174 |
| *د ټولو پروګرامونو د عادي بوديجي مجموع* | *1,051* | *809* | *513* | *613* | *725* | *826* | *922* | *3,598* |
| **پراختيايي بودجه** | 1,924 | 3,895 | 24,558 | 26,539 | 29,684 | 31,186 | 32,931 | 144,898 |
| **د5 ۵ پروګرام د بوديجي مجموعه : د پوهنی اداره** | **2,975** | **4,704** | **25,071** | **27,152** | **30,409** | **32,012** | **33,853** | **148,496** |

توجع: د امريکايي دالرو د مبادله نرخ په افغانيو د بوديجي د تيارولو په وخت کي،۱ دالر برابر د ۵۰ افغانيو ؤ.

# مالي:

۱۰ ملم جدول تخمين شوی مالی اړتیاوی د استراتيژيك پلان د پلي کولو لپاره د هغي جملی نه کلنی عادي لګښتونه بنائي. دا جدول د پروګرامونو د لګښتونو د ميزان پر اساس تيار شويي او د بوديجي جوړونی په اصولو کی د پوهني وزارت سره د مشارکت د پروګرم په اساس تيار شوي دي. د ۵ کلنی دوری لپاره د اړتيا وړ بوديجي مجموعه د ۱۳۸۹ ل کال نه تر ۱۳۹۳ ل کال پوری ۴۰۵۷۸۸ مليارده افغانی (۸۱۱۶ مليارده امريکايي دالر) دي چي د هغی مجموعی نه ۲۰۴۷۵۸ مليارده افغانی (۴۰۹۵ ميليونه امريکايي دالر) د پراختيايي بوديجي له لاري او ۲۰۱۰۳۰ ميلياده افغاني(۴۰۲۱ مليون امريکايي دالر ) د عادي بوديجي له خوا نه دي. د ۹۱سلنی نه زياته بوديجه د اسلامي او عمومي زده کړو لپاره تخصيص شوي دي. په دی حال کي ، د غيري معاشاتو لګښت د ۱۴ سلني نه د عادي بوديجي په ۱۳۸۷ل کال کي ، ۱۸ سلني ته په ۱۳۸۹ل کال کي زياتيږي او اټکل کيږي چي په ۱۳۹۳ل کال کي به ۵۲ سلنی ته ورسيږي. د دی سرسره د معالمينو تنخواګاني هم د عادي بوديجي يوه عمده برخه تشکيلوي. د بوديجي لګښت د عمومي زده کړو لپاره د ۱-۱۲ ټولګيو په اساس محاسبه شوي دي.

د ۶۱سلنی نه زياته عادي بوديجه د پوهني د بيخبناو د پراختيا لپاره، ۱۶ سلنه د ښوونکي د ښووني او روزني د پراختيا لپاره ، ۸ سلنه په ښوونځيو او اداراتو کی د معلوماتي او اړيکتيايي تکنالوژي لپاره ، او ۷سلنه د سواد اموزی لپاره په نظر کی نيول شوي دي. د وزارت د ورتيا پراختيا د وزارت د لمري توبونو څخه ګڼل کيږي. څکه چي بدون د هغي نه به وزارت قادر نه وي چي د راتلونکو چالشونو سره د مرکز، ولاياتو او ولسواليو په سطح مبارزه وکړي.

دغه جدول د تمويل کوونکو د مالي تعهداتو اړوند معلوما د ۵ راتلونکو کلو لپاره د وزارت د پراختيايي بوديجي له لاري تياروي.

۱۱جدول: د تمويل کوونکو تعهدات د وزارت د اصلي پراختيايي بوديجي له لارى د ۱۳۸۹-۱۳۹۳ کلو لپاره

| **ټول پروګرامونه** | **مليون افغاني (000,000)** | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ***پروګرم/کل*** | **1387واقعي** | **1388 اټکل شوي** | **1389 تخمي شوی** | **1390تخمي شوی** | **1391تخمي شوی** | **1392تخمي شوی ه** | **1393تخمي شوی** | **مجموع 1389-1393** |
| **د عمومي او اسلامي زده کړو پروګرام** | | | | | | | | |
| دنصاب پراختيا، تربيه معلم، د ساينس او تکنالوژي زده کړي | | | | | | | | |
| تخنيکي او مسلکي زده کړي | | | | | | | | |
| سواد زده کړهآموزي | | | | | | | | |
| د پوهني اداره | | | | | | | | |
| *مجموع (فرعي)* | 3,030 | 9,929 | | | | | | |

۱۲ جدول: د تمويل کوونکو مالي تعهدات د وزارت د خارجي پراختيايي بوديجي له لاري د ۱۳۸۹-۱۳۹۳ کلو لپاره

| **ټول پروګرامونه** | **مليون افغاني (000,000)** |
|---|---|

| پروګرام/کل | 1387واقعي | 1388 پیش بیني شده | 1389 تخمین شده | 1390تخمین شده | 1391تخمین شده | 1392تخمین شده | 1393تخمین شده | مجموع 1389-1393 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **عمومي او اسلامي زده کړو پروګرامونه** | | | | | | | | |
| انکشاف د نصاب پراختیا، د ښوونکي روزنه تربیه معلم، آموزش د ساینس و تکنالوژي روزنه | | | | | | | | |
| تخنیکي او مسلکي زده کړي | | | | | | | | |
| سواد زده کړه آموزي | | | | | | | | |
| د پوهني اداره | | | | | | | | |
| *مجموع (فرعي)* | | | | | | | | |

## د ماخذونو لړليك:


**۱ :** د کلو د بیارغوني او پراختیا وزارت. ۱۳۸۴ل . د آسیب پذیری او خطرونو ملي څارنه. کابل: د کلو د بیارغوني او پراختیا وزارت.

۲: اسلامي جمهوري افغانستان او د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام.۱۳۸۴ل . د افغانستان د پرمختګ راپور د دریمه زریزه پراختیایي موخو په لور. کابل: اسلامي جمهوري افغانستان او د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام

۳: د بشري سرچینو او پالیسیو د پراختیا مرکز. ۱۳۸۶ل. د افغانستان د بشري سرچینو د پراختیا راپور. کابل: اسلامي جمهوري افغانستان

۴: د ډافا ټیم ( شا، ف. هینډ، ج.) ۱۳۸۷ل. د افغانستان د پوهنې د وزارت د څارنې او ارزونې چوکاټ. کابل: د پوهنې وزارت.


Download from:aghalibrary.cm